# دمیرنی اولسن ادبیات

لیکوال

ګ. ف. کیرس

مترجم

سرمحقق معتمد شینواری

١٣٢٤

# دمیړنی اولس ادبیات

(دلرو پښتنو ادبیات)

لیکوال

**گ. ف. گیرس**

مترجم

**سرمحقق محمد اکبر معتمد شینواری**

مهتمم: بیدار

خپروونکی

**دقومونو او قبایلو وزارت**

دنشراتو او تبلیغاتو ریاست

۱۳٦٤ ش

۱۳٦٤-۱۲-۱٦

# دمیړنی اولس ادبیات

دغه وړه مجموعه چې (دمیړنی اولس ادبیات) نومیږي دلر ی پښتنو نخوا دمعاصرو ادبیاتو دڅپاند سمندر په ځینو مهمو څپو رڼا اچوي. په‌دغه مجموعه کې په‌زیاته اندازه دپښتنو په هغو ادبیاتو رڼا اچوله شوي چې دانګریز دنړیخور امپریالیزم د توری دوری پوری مربوط دی.

دانګریز ی استعمار دظاهری‌پای ته رسیدو اود پاکستان دشنو جامو دواکمنو اومار شکلا یانو په‌توره اوزندی کوونکی مرحله کې دقهرمانو میړنوپښتنو لیکوالو اوشاعرانو مری داسی خپه شوه چې‌ویی نه‌کړای شول‌خپل غږدنړی نورو برخو ته ورسوي، نوکه ددغی دور ی‌ادبیات کم خپاره شوي وی ستر علت‌یی همدا دی .

دپاکستان زیار کښ مظلوم‌او ځپل‌شوی اولس په‌خپل تو ل تاریخ کې یوداسی ناروغ دی‌چې ستونی یی‌دمار شلا پیریانو خپه کړی اوپه مغزو کې‌یی دجرنیلا نو میرګیو ځای نیولی دی اودوی ته‌یی‌لږ امکان‌ورکړی‌دی چې دخپلو اجتماعی ناروغیو په‌باره کې څه وویلی شي .

دانګریز داستعمار ی کمپلی‌په تولیدو اود پاکستان په جوړیدو سره دپښتنو په ادبی‌سنګر کې ددغو پیریانو او میر ګیو دفشار سره سره د سختی‌مبارزی یوه نوی سرکښه او طوفانی دوره پیل شوه. څرنګه‌چې دپاکستان په جوړیدو او پښتنو باندی دهغه په‌تپلو کې‌له پښتنو څخه چاخو ښه نه‌وه اخیستی (په ۱۹۴۷ کال‌کې په ریفرنډم کې دوه،

طرح وی: په‌هند کی گـــډون‌غواړی اوکه په پاکستان کـــی

پښتنو چی جلاهیواد غوښتـه په‌دی باب پوښتنه نه‌وه اودپښتنو

اکثریت له‌دغه په اصطـــلاح ریفرنډم سره مقاطعه وکړه )

نو پښتنو دانګریزانو دد غـــــو ګوډاګیانو په مقابل کی سختـه

اجتماعی او سیاسی مبارزه پیل کړه. پښتانه مبارزین یاقتل‌عام

شول اویا خولی تر‌لږه په‌وحشیانه‌توګه په پوره بیرحمی ســـر ه

بندیان شول چی‌ډیر ښه مـــثـال‌یی دبابړی پیښه ده‌چی‌دپاکستان

دجوړیدو په‌دویم کال یعنـــی د۱۹٤۸ کال داګست په ۱۲ نیټه

وشوه اوپه پښتو ادبیاتو کی یی‌انګازی لاتراو سه پوری انسانی

زړونه لړزوی. دهمدغی پیښـــی‌انعکاس دمرحوم عبد المـــا لك

فدا په‌یوه تاریخی حماسه کـــی‌وګوری چی‌یوه برخه یی داده‌چی

دپاکستانیو مارشلا یانو د ریـــاکارانه او منافقانه مسلمـــا نـــی

حقیقت رابښیی :

کفن‌په سرخ کی دسیا لـــی‌میدان ته ځمه

مرګیه مه را ځـــه در ځـــمه

په‌چار سده کی کر بـــلاده

دغدارانو پـــــری ســـلاده

په سرفرو شو وا ویلا ده

زه دخپل قام سره په‌مرګ‌سیالی کومه

مرګیه! مـــه را ځــه در ځـــمه

دپاکستان وړو پو ځو نو

مره زخمیان کړل په‌زرګونو

دوی دخندا شول دقومو نو

یو ظلم نه‌دی زه یی کو م کوم یادو مه

مرګیه! مـــه را ځـــه در ځـــمه

جلسی ته‌راغـــی دا خبـــر

چی په‌هرپول په هرګو در

ورچی نیولی دی بـــا ډر

ر ځوی سین‌ته سرخ‌پوشان زلمی په‌جمه

مرګیه! مـــه را ځـــه در ځـــمه

ښوک اباسین ویوړل په ښکته
دچا ترا وسه نشته پته
وکړی تپوس له حکومته
دپښتنو بچی دی مړه کړل په څه تمه
مرګیه! مه را ځه در ځمه

په دغه توګه دپاکستان مستبدومارشلا یانو له‌خوا دپښتنو د
عامه قتلونو په برخه کی ډیر ی حماسی موجودی دی چی تل تر
تله به‌دپښتنو دادب په تاریخ کی‌په سره رنګ لیکلی وی اودلته
یی دیوی بیلګی یوه‌وړه بر خه‌وړاندی شوه .

دروانی پیړی پنځمه لسیزه‌دپښتو ادب په‌تاریخ کی یو
روښان پړاو دی چی‌دمستبدا نودهیلو په‌خلاف ډیرو مجلو او
جریدو په خپرولو پیل وکړ اودحاکم مستبد نظام په‌خلاف یی
قلمی مبارزه روانه کړه .

ددغی دوری په ادبیاتو کی‌ترهرڅه دمخه په‌ښنه څادر کی د
پاکستا نیو واکمنو دتور ومخونو دلوڅولو او افشاء کولو
له‌پاره مبارزه کیده او ددی په‌څنګ کی دهغو کسانو تو جه
یی هغو خپلو تیرو اشتباه ګانو ته اړوله چی‌دهند دنیمی وچی
دویش په‌وخت کی‌دمسلم لیګیانوداسلام اسلام په منافقانه چیغو
غولیدلی‌وو. دمثال له‌پاره دلته‌داروا ښاد طوفان دغه شعر
وګوری .

ګلونه کوم‌دی سور انګاردی چی‌پری وغولیدی
په‌سرو داهم‌څه بهاردی چی پری وغو لیدی
پوه‌هم پری نه‌شوی تیز اندی مودرپه غاړه شوله
تاسو هم داګانه‌یوهاردی چی‌پری وغولیدی
نن په‌دامونو کی‌هم تاسو ته‌دانی ایښی دی
داپرو نی هغه‌مالیار دی‌چی پری وغولیدی
دانقلاب په‌سور سیلاب کی‌مو په لاس راغی
دمار ماهی هیله‌کی ماردی چی‌پری وغولیدی
دغه ګلدانګ چی مودخونی‌څو کیدار ونیوه
ستاسو دغو ښوپامته داردی چی‌پری وغ لیدی
اوپه دغه توګه ددغه وخت‌په‌ادبیاتو کی دزیات فشار

دپاکستان دمستبد نظام د رسوا کولو په برخه کی ادبی مبارزه
په شدت روانه وه. ددغو کینه‌وال مترقی خپرونو په جمله کی
دغه لاندی مجلی او جریدی د یادونی وړدی چی بیا د ۱۹۶۱ـ
کال مارشلا هغه پای ته ورسولی.

۱ـ پښتو مجله دالفلاح د ورځپاڼی له‌خوا ۱۹۵۵ـ ۱۹۵۶
ددی مجلی په تندی به‌دغنی خان داشعر لیکل شوی و :

چی خازی شنی می به‌قبر وی ولاړی
که غلام مړوم راځی توکی پر لاړی
یا به دابی ننگه ملك بـاغ عدن کړم
یا به کړم دپښتنو کوځی ویجاړ ی

۲ـ لار ـ پیښور ـ میاشتنی ۱۹۵۶ ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه
۳ـ رهبر ـ پیښور ۱۹۵۷ ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه ٠
۴ـ جمهوریت ـ پیښو ر ۱۹۵۷ ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه
۵ـ گلستان ـ پیښور ۱۹۵۷ـ ۱۹۶۰ دافلاس له امله ٠
۶ـ ننگیالی ۱۹۵۷ـ .....
۷ـ دوران ـ پیښور ۱۹۵۸ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه ٠
۸ـ ژوند ـ پیښور ۱۹۵۸ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه ٠
۹ـ ظفر الاسلام ـ کوټه ۱۹۵۹ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه.
۱۰ـ غونچه ـ پیښور ۱۹۶۰ـ ۱۹۶۱ مارشلا ختم کړه ٠

ددغسی مجلو په مقابل کی د پاکستان ارتجاعی رژیم بلی
خواته دپښتنو داړولو په غرض ځینی مجلی راوویستی چی‌ځینی
یی لاتراوسه دوام لری ( لکه جمهور اسلام پیښور ۱۵۹۱ ـ
اباسین کراچی ۱۹۵۲ پښتو ـ دپیښور دپښتو اکاډمی له خوا
۱۹۵۶، رڼا او نوری ٠

په ۱۹۶۱ کال کی دپاکستانی مار شلایی ظالم نظام له خوا
ددغو مترقی کینو مجلو په بندولو سره نور په پاکستا ن
کی دپښتنو قلمی مبارز ی ته اجازه ورنکړه شوه چی‌دنړیوالو
ته خپلی انگازی ورسوی او د هغو په باب دیوه پرله پسی
ستماتیك ادبی جریان په توگه ځیړنه وشی ٠

دلته یو بل ډیر مهم ټکی هم دخاصی یادونی وړدی او هغه داچی دانتقادی ریالیزم په څنګ کی دعصر انقلابی روح هم په دغو ادبیاتو کی خپلی غـزونـی کړیدی یعنی اجتماعی ریالیزم ورو په ورو دغـو ادبیـاتو تـه لاره مونده لی، وده یی کړی چی په دی جمله کی اروا ښاد صنوبر حسین کاکاجی دخاصی یادونی وړ دی ددغه ریالیزم مشهور انځـو رګران اجمل خټک، سیف الرحمن سلیم ،سعدالله جان برق، فضل شیدا، قلندر مومند او احمدشاه سایل دخاصی یادونی وړ دی .

چا دبډایانو په هغه وطن کی چی خوارانو ته دوزخ ګرځیدلی دی ددوی له پاره دجنت جوړولو غږ پورته کړ :

لویان لویان غټان غـټا ن پیدا دی
دوی خـو له اصله جنتیان پیدا دی
ځی چی دی خوارو ته جنت وګټو
ځوك چی له موره دوز خیان پیدا دی

(اجمل خټك)

څوك دیوه انقلاب له پـار ه خوارا ن او مزدوران راټولوی :

زما خوارانو مـزدورا نـــو ورو نو
ای محکو مانو مظلو مانو ورو نو !..
زیری چـــی موږه اتحـا د وکړو
په خپل تنظیم مو اعتماد وکړو
موږه منزل ته ډیر قریب را غلـو
موږه رفتار لـکه دبـاد و کـړو
اوس به که خیروی خپل جهان جوړ کړو
مو ږه تقدیر به دانسان جوړ کړو
ستوری به زمکـی تـــه پخسیږی زموږ
موږ به دی زمکی نه آسمان جوړ کړو ..
دصبر جام زموږه توی شو لو بس
دانقلا ب بچی ښـه لـوی شولو بس
اوس دوینا څه ضرور ت نه ګـنم
زما یقین دی خلق پوی شولو بـس

زماخورانو مزدورانـو ورو نهو
ای محکومانو مظلومانو ورو نهـو

(سلیم)

ځینی حتی دعیا شانو په جامو نو کی دمزدور وینه گوری :
دا دانه دانگور نه‌ده دا په‌اصل کی یوزړه دی
پکی وینه دمزدورده چی عالم یی شراب بولی
دغوتهی په‌شانی سور دی‌خوخیرلی دی غتیا نو
دازړگی خود مزدوردی عالم یی گلاب بولی ..

( فضل حق شیدا )

دلته دسایل دیوه بیت پـــه‌وړاندی کولو سره دغی موضوع ته خاتمه ورکوم !

چی هر لوښ مو پکی پټ‌شی اوهرووږی پکی موړشی
خدایه !څه کفر بـه‌وشی که‌یوداسی جهان جوړشی

په‌دغه توگه د لرو پښتـــنوادبیاتو دهند دنیمی و چـــی د خپلواکی نه وروسته ډیری لوړی‌او ژوری وهلی دی خود مستبد ینو دفشار له‌امله یی‌لږ امکـان‌پیدا کړی‌چی دخپل مظلو میـت غږ ورسوی ځـــکه نوددوی د ادبیاتو دخیړنو له پاره همدومره مواد دبهرنیو محققینو لاس تـه‌نه‌دی ورغلی .

سرمحقق دوست شینواری

## يو څو خبري

په ۱۹٦٦ کال کی دشوروی اتحاد دعلومو اکاډمی د ختیځ پیژندنی دانستیتوت لهخوا په مسکو کی یو کتاب خپور شو چی نوم یی دی :

(دمیړنی اولس ادبیات) داکتاب دلری پښتو نخوا ادبیات، په دغو ادبیاتو کی استعماری او انګلیسی ضد غور ځنګو نه، د آزادی لهپاره دپښتنو هلی ځلی اود سرخپو شانو مجاهدی، ددوی انقلابی خپی، ددوی مشران او نشرات ،معرفی کوی .

کتاب دموادو له حیثه پور ه غنی دی اود روا نـی پیـړی د لوړیو څو لسیزو تنو یری او انقلابی اشعار دلو ستونکی پـه اختیار کی ورکوی اوهم هغـه اولسی اشعار په ګوته کوی چی په نولسمه پیړی کی دپښتنو او انګلیس جګړی پکی ترسیم شوی دی اود پښتنو میړانه مقاو مت اود آزادی غور ځنګونه پکی له ورایه بریښی .

کتاب اساسا پښتو ادبیاتو ته وقف شوی دی اوپه تیره بیاهغو ادبیاتو تهچی دسرخپو شا نـو او خدایی خدمتګا رانو اد بـی فعالیت ګنډل کیږی، مګر ضمنـا سیاسی پیښی، دپښتنی نـړ ی واقعات ،دتاریخی ذواتو معرفی دتاریخی او نامداره ځایو نـو

ترسیم، دپښتو داوسنی هنر ی نثر موسسین اود دوی خدمتونه او ځینی حیاتی لنډی قصی هم پکی راغلی دی .

خبره دخیبر دعظمت نــه راشروع شوی‌ده اود هرکال پــه منی اوپسرلی کی‌په دغه ځــای دپښتنو کوچیانو تگ راتــگ‌ته داسی اشاره کوی :

کله تنها اوگونبی گوبنی روان کله په‌لویو لویــو ډلو کاروان
تړو شیلوکی دکوچانو کــډی په‌هل هل ځی دسیلابونو په‌شان

دخیبر نه خبره همداسی پــه‌طبیعی سیر (تخت سلیمان) ته رسیدلی ده، دایو لوړغردی چی‌ډیره اسماعیل‌خان دښارلویدیځ ته واقع دی اوډیری خیالـــی‌افسانی ، فولکلوری روایات او واقعی پیښی ور پوری مربوطی‌دی، مولف همداسی دپیښــو د بیان په سلسلــه اود طبیـــعی‌ځأیونو دترسیم په‌لړ کی(مهابڼ) ته رسیږی، داغرله ډیره حیثه‌له‌عظمت نه‌ډك دی اود اباسین په څنگ کی‌په ډیرغرور ولاړ دی‌ددی تاریخی غره جنوب خوا ته هواره اوپسته ځمکه همدا ســی‌ډیره لری غځیدلی ده، دمهابــڼ شمال ته بیاطبیعت بل رنـــگ‌دی، نااواره ځمکی اودری، څړه اوسخت غرونه اوتیری تـــړی‌واقع دی او همدا وجه ده‌چی‌ددی ځای خلك سرکښه او سخـــت‌طبیعته اوقوی دی، داخلك‌هماغه پښتانه دی‌چی دتاریخ دشهاد ت له‌مخی یی‌په مهابڼ بانـــدی د انگریز منظم پوځونه مات کړل. که‌دی غرونو خبری کولای موږ ته به‌یی ډیر څه بیان کړی وای‌نوځکه موږ تاریخ اود هغه ځای دخلکو ویناته اعتبار ورکوو .

ددغو پیښو باوری تاریخ په‌حقیقت کی هماغه داو لســی شاعرانو سندری دی‌چی دکلا سیك ادب په‌خلاف دخلکو په‌ژبه بیان شوی‌دی. دډار مستتر پــه‌قول ملی شاعرانو په‌دی باره کی خپله غاړه خلاصه کړی او پوره‌ملی خدمت یی‌کړی دی .

مولف څرګندوی چې پښتـو ادبیا تو تل استعمار تـه خو له ماتوو نکی ګوزار ورکـړی دی اود استعمار داپلمه یی په کلکه ردکړی ده چې موږ هیوادونه ځکه نیسو چې آباد وویی .

مولف په ډاګه کوی چې دلرواوبرو پښتنو ادبی عنـعنه او کلتوری اړیکی سره یودی، خیراوشریی یودی او افتخارات یی سره ګډدی اوپه دی یو شاهـد دارو ا ښاد الفت دابیتونه بولی:

په کندهارکی که میرویس او احمد شاه بابادی

په پیښور کی خـوشحال خان عبدالرحمان بابادی

یوشان ښکارین ی پښتنو ته که هغه که دادی

چې اباسیند ابـاسیند بولی ددوی یوآبادی

ددی له پاره چې خبره رانـه اوږده نه شی په کتاب بیخی یـو ځغلند نظر اچوم، دادبیا تـو دمعرفی اوبیان په سلسله کی مولف دقصه خوانی ادبیات هم په نظر کی نیولی دی اوپوره شرحه یی ور کړی ده .

همدا راز په کتاب کی مولف دانګریزانو هغه کوښښو نه یاد کړی دی چې غوښتل یی انجیـل په پښتو ترجمه کړی، د پښتنو په سیمه کی یی خپور کړی او دخلکو اذهان اوعقاید منحـر ف کړی، مولف زیاتوی چې انګریزان په دی خپل کارکی موفق نه شول اودا پروژه یی داوبو په سـر نقش شو .

وروسته بیا دروښانفکرا نـو په ادبی فعالیت اوږده اومفصله رڼا اچول شوی ده. دلته دلـو یو او مشهورو لیکوالو په آثـارو باندی خبری شوی دی، ددو ی ادبی فعالیت ستایـل شـوی دی مګر ددوی په آثارو کی استعماری ضد غور زنګ سست اوکمزوری په ګوته شوی دی .

وروسته بیا بل بحث را ځـی ( لومړنی دطوفان مرغان)، په دی بحث کی په سیاسی جر یا ن باندی زیاتی خبری شوی دی او

په پښتنو کی دلوړی ځل له پاره دسیاسی پارټیو تاسیس تـــه اشاره شوی ده اوهم په دغه وخت کی هغو مدرسو ته پـام اړو ل شوی دی چی پهٔ راتلو نکی کـــی یی شاگردان زبردست لیکوا لا ن شاعران او ادیبان شول، هغـــه شاعران چی په خولو کی یی اور گرځاوه او آثار یی انقلا بـــی ، تو ند اود وطن دمینی نه ډك وو او استعمار ضد غورځنگ پکـی داباسیند غوندی څپی وهلی .

وروسته بیا په کتاب کی هغه واقعات او ادبیات څیړل شویدی چی ددوهم لوی جنگ نه ورو سته منځ ته راغلی دی، په دی سلسلـه کی دباچا خان لنډه پیژ نـــد نـــه او دده ځینی مبارزی بیان شوی دی، داهم یو په زړه پوری بحث دی اود بلوچستان پښتانه پکی ذکر شوی دی اود خان عبدالصمدخان پیژندنه پکی شته .

وروسته بیا په بل بحث کـــی چی ډیر په زړه پوری دی دپښتـــو ادبیاتو مهم پړاو ښودل شویدی او تقریبا ټولی هغه مجلـــی او اخبارونه په گوته شوی دی چی دپښتنو دسیاسی غورزنگ سره یی مرسته کوله اوپه دی لارکی یی ستر خدمت کړی دی، البتـــه ددغو مجلو په سر کی د(پښتون )مجله واقع ده .

په بل بحث کی بیاد پښتنو دخاوری نه دانگریزوتـــــل او د پاکستان خیټه اچول بیان شوی دی اوپه وروستی بحث کی بیا دپښتو ادبیاتو په انکشاف کـــی دادبی ټولنو رول ته گوته نیول شوی ده اوپه دی باره کی یـــی د پښتنو ادیبانو هڅی ښودلی دی.

تر دی ځایه پوری په کتاب یوه لنډه رڼا واچول شوه اوس غواړم چی دکتاب مولف تاسی ته په لنډه ول در وپیژنم :

**دمولف لنډه پیژندنه :**

ددی کتاب دمولف پوره نـــوم گیورکی فیودو رو ویچ گیر س دی، دی د ۱۹۳۸ کال داکتو بر په (۱۱) دمسکو دښار دیو دولتی مامور په کورکی وزیږیـــد، دمنځنی ښوونځنی دپـا ی تـــه رسولو نه وروسته په ۱۹۴۷ـ کال کی دمسکو دختیځ پیژندنی دانستیتوت په پښتو څانگه کی شامل شو کله چـــی دی محصـــل و نود پښتون اولس له ادبیا تـــو سره یی ډیره مینه پیدا شوه اود لوی شوروی افغان پیژندو نکی م ـ گ اسلانوف په لار ښودنه یی

په ۱۹۵۵ کال داسپیرا نتور ی دوره پای ته ورسوله او ( پـه افغانستان کی دپښتو او سنـی هنری نثر) ترعنوان لاندی یـی دخپل اثر نه دفاع وکړه اود فیلالوجی علومو دکاندیدات درجه یی وګټله .

په دغه اثر کی دپښتو پـه معاصر نثر علمی څیړنه شوی ده اود پښتو دلویو لیکوالو آثـار تحلیل شوی دی. دا اثر په مسکو کی په ۱۹۵۹ کال کی چاپ شوی دی اود پښتو ټولنی له خوا پـه مستقل ډول ترجمه شوی دی خولاچاپ نه دی .

ښاغلی ګیرس لس نورچاپی آثار لری چی ټول یی دافغانستان دملی ژبی په بـاره کـی دی . برسیره په دغو تالیفاتو ملګر ی ګیرس دپښتو ژبی او پښتنـی ادب په باب ډیری مقالی لیکلـی دی چی وخت په وخت د شورو ی اتحاد په مطبوعاتو کی خپر ی شوی دی. ده په ډیرو کتابو نـو کی دنورو سره یو ځای بـر خه اخیستی ده اوپه دی لارکی یـی هم ګټور کارکړی دی .

په ۱۹۶۳ کـال کی ده تـه د( مشر علمی کار کوونکی) لقب ورکړی شو، د ۱۹۶۷ کال نه راپه دی خوا ښاغلی ګیرس دشوروی اتحاد دعلومو داکاډمی د ختیـځ پیژندنی دانستیتوت دنـژ د ی او منځنی ختیځ د ادبیا تـو دعلمی سکرتر حیثیت لری .

په ۱۹۶۸ کال کی ښا غلـی ګیرس افغانستان ته راغی، دری میاشتی یی دلته تیری کړی، په ی موده کی یی دپښتو ادبیا تو په باره کی په پښتو ټولنه او د کابل پوهنتون دادبیاتو پـه پوهنځی کی مطالعات کړی دی اود لویو پښتنو لیکوالـو او پوهانو نه یی استفاده کړی ده .

ښاغلی ګیرس دکابل نه پرته ننګر هار، کندهار، هـرا ت، بلخ او بامیانو ته هم مسا فر ت کړیدی .

اروا ښاد استاد قیام الـدین خادم دښاغلی ګیرس په باره کی یوه یادونه په ۱۳۴۷ کال کـی کړی ده چی دادی په ډیر افتخا ر سره یی ستاسی حضور تـه وړاندی کوم : (ګومان کـوم لس کاله به کیږی چی د مسکـو نه کابل ته دشرق پیژندنی یـوه ډله عالمان چی ښځی اونرینه ګی ؤراغلل ، په دی ډلی کی زما نظر په

یوه ښکلی زلمی ولگید چې سپینی سترگی یی په ستر گو لگولی وی. خورا مینه ناك او دپښتو داد ب او لیکوالو سره یی توده مینه لرله. ماچی دده نه پوښتنه وکړه دهویل زما نوم گیرس دی اود مسکو دعلو موا کاډمی دختیځ پیژندنی په انستیتوت کی دپښتو ژبی اوادبیاتو په څیړنه بوخت یم .

رښتیا چی دی زلمی ډیرزیار ښکلی واو ډیر معلومات یی لرل، تردی چی زما هغه آثار چی ما نه ورك وو ده ته په یاد وو.

ښاغلی گیرس دپښتو ژبی او ادب هرپل اوقدم تعقیبوی مگر داکاردی څنگه کوی؟


داخبارونو، مجلو، کتابونو او اثارو له لوستلو څخه. زما پخپله دښاغلی گیرس کار ځکه خوښ دی چی صاف، ستره، بی ریا او صریح دی، کومه لیکوالی چی انتقاد نه لری نوهغه مگر د خوشامند گرو ادب وی.) داوه دار وا ښاد استاد خادم یادو نه چی ما را نقل کړه .

الله ده داچی ملگری گیرس یوزیار کښ، په کارمین، پوه او مستعد شخص دی او پرا خه مطالعه لری او ډیر کار کوی .

(مترجم )



لیکوال



مترجم

مطبعه دولتی

لمبر: ۱۰۹

دچاپ شمیر : ۳۰۰۰

دچاپ کال : ۱۹۸۵

PROPERTY ACKU 5505

# که چیری غر و نو خبری کولای...

دپخوانی برتانوی هند دلویی نقشی په کینړ پاسنی کونج کی هغه ځمکه په نښه شوی ده چی پښتانه وربانڼدی اوسیږی، دغه ځمکه په کږی وږی لیکی سره له جنوب لویدیځ نه شمال ختیځ خواته غزیدلی ده، دلته دهغو افسانوی غرونو اشباح اواشکال لیدل کیږی چی په خپلو شنو لمنو اونریو شنو درو کی یی دپښتنو دښارونو اوکلیو سلسلو تـــه ځای ورکړی دی .

**خیبر :**

هر څوک که یو ځل دغی غرنی سیمی ته راشی نود ځان سره به ددغه لوی هیواد په باره کی نه هیر یدونکی خاطرات یوسی ، دروانی پیړی ددیرشمو کلو نو په منځ کی دخیبر مشهوره دره هیو مانست شاعر محمد اقبـــال افغانستان ته دخپل تګ په لاره کی ولیده، په لنډ ډول مګر پـــه پوره احساسانو اوبلاغت ســـره یی په خپل کتاب (مسافر) کـــی ددغه ځای ښایست او عظمــــت بیان کړی اود هغه خواص یـــی ځان ته معلوم کړی دی او داسی یی ښودلی دی :

خیبر ازمردان حق بیگا نه نیست
در دل او صد هزار افسانه ایست
سرزمین کبك و شـــا هین مـــزاج
آهوی اوگیرد از شیران خـــرا ج
در فضایش جره بـــا زان تیز جنگ
لرزه برتن از نهیب شان پلنگ

دخیبر تیرو تړو او تـــو روغرونو دهغو اوښانو دژر نـــګو

(جر سونو) آوازونه اوجړنګهار په‌خپله سینه کی‌ساتلی او ثبت کړی چی دلته‌یی ځوپیړی‌قدمونه‌وهلی اوبخارا، هرات، لا هور اوډیلی نه‌یی مالونه وړی دی. کله کله به غرنیو مشرانو جوپی بندولی نو پوسته چیانو بـــه‌منډی وهلی اوپه خپلو اوږو به یی پوستی کابل اوپیښور تـه‌وړلی .

په پیړیو پیړیــو په‌مسلسـلډول دخیبر لار په‌کا ل کی دوه ځلی شور ماشور نیوله، دا پــوونده (پښتنی کوچی قبایل) وو چی دخپلی خوښی موسمی‌ځایونوته به‌تلل راتلل. په پسرلی کی به ایلبندو نوته ختل اوپه منی‌کی به‌تودو سیمو ته کیو تل .

په ۱۹٤۹ کال کی چی(ن،تیخونوف) دخیبر په‌لار کی‌دکوچیانو سره یو ځای شونو دی وضعیت‌په‌ده ژوره اغیزه وکړه اوددغی اغیزی لاندی یی داشعر و لیکــه‌چی پښتو ترجمه یی داده :

کله تنهااوګوښی ګوښی روان    کله په‌لویو لویو ډلو کاروان
تړو شیلوکی دکوچیانو کډی    په‌هل‌هل ځی دسیلا بونوپشان

* * *

لکه بیو زلی او غریب‌کورو نــه
دډیګ ښانك‌اود لیمځو بــا رو نه
خــو د نځــا اود سند روســره
چیر ته چی‌ځی دمستـــی ډك سرو نه

(ترجمه ددوست ده)

مګر داسی وخت‌هم راغی چی‌دخیبر په غرونو کی‌نور نــور غږونه هم‌اوریدل‌کیږی، دپرد یوعسکرو خبری، دبرچو آوازو نه اود وسلو دباړونو انعـــکا س‌غوږو ته رسیږی .

دنولسمی پیړی په آخر کــی‌دخیبر په دره‌کی داسی یوانګریز لیدل کیده چی دبر تانوی هنداستعماری دستګاه دنورو کار کوونکو نه‌یی څه توپیر نه لاره(داانګریز ډیورندو) ده‌ته یــوه حساسه وظیفه ور سپارل شوی‌وه چی په‌تهدید اوزور ســـر ه دافغانستان پاچا (امیرعبدالر حمن خان) مجبور کړی چی هغه موافقه لاسلیك کړی‌چی په‌هغی‌سره دهیواد دخاوری یوه زیاته

برخه په برتانوی امپرا توری کی ورگډه شی. ډیورند دغه ور سپارل شوی وظیفه په ډیر تکلیف سره اجرا کړه دلته دخیبر په غرونو کی په حقیقت کی دملت په ژوندی تنه په ۱۸۹۳ کال کی دډیورند کرښه (دچړی په شان )رانښکل شوه، داکرښه دافغانستان او برتانوی هند (سرحد )ونوموله شو.

مگر وروسته له هغی چی ډیورند دنوی اسارت کوو نکی موافقی سره دخیبر لهلاری نه تیرشو ، سمدستی د انگلیسی توپونو ډزو دخیبر دغرونو لمنی ولړزولی ،دخیبر په سرونو کی دسختو جگړو غږونه ختل او په آزادی مینو پښتنو دډیورند اجباری موافقی ته په ملی قیامونو ځواب ورکاوه. ددغو پیښو یو شاهد او کتو نکی ( ادوارډمیرفی )و، دی په خپله رسا له (دخیبر لار) کی په ډیر افسوس سره دپښتنو په غرونو کی دانگریزانو دبی شماره پوځیانو دشرم نهډکه مړینه یادوی اوداسی لیکی :
(دهند دسرحدو نو نه دباند ی داسی کوم بل جغرافیایی نوم نه شته چی زمونږ دختیځی امپراتوری فکریی ځان تهدومره اړولی وی څومره چی خیبر ځان ته جلب کړی دی. خیبر دپیښور او افغانستان ترمنځ واقع دی، دده له زیږ اوسخت ظاهری طبیعت سره دمصورو مجلو لوستو نکی آشنادی مگر دوی دده په وچو ډاگونو اوکانکرو کی دهغو سختو جنگونو مشاهده نه ده کړی په کومو کی چی دانگلستان شاهی لښکرو خړی تیری په خپلو اود پښتنو په وینو سری کړ ی اولړلی دی، دلته انگریزا نو یاجنگ گټلی دی اویا دلته دتل له پاره په داسی قبرونو کی اچول شوی دی چی یادگارنه او شا می (شناختی )هم نه لری ).

دپښتنو په هیواد کی ډیری تړی اود غرونو سلسلی داسرا - رونه ډکی دی او شاعرانه اواحساساتی خاصیت لری دتیر و ورځو ،پیړیو اود زرگو نو کلونو دپیښنو شاهدان کولای شی چی دهغه ملت دتعجب نه ډک تاریخ په باره کی حکایت وکړی چی تاتوبی یی دپامیر، هندوکش اود سلیمان دغرونو سلسلی دی دوی کولای شی چی دغرنیو اوپه آزادی مینو پښتنو د تینگی میړانی په باره کی خبری وکړی اوهم کولای شی چی دهغو جنگونو

په باره کی قصی وکړی چــی پښتنو پهٔتش لاس دغاصبا نــو دبی شمیره او منظمو لښکــرو سره کړی دی، هغو غاصبا نــو سره چی دی هیواد تهٔیی لاس راوړد کړی دی، داهیواد له ډیر پخوا راهیسی دهند محکـــمه او تړلی دروازه ګڼل کیږی او هم دهند دحصار ددیوال په نـا مهٔ یادیږی

**تخت سلیمان :**

ته بهٔ تعجب وکړی چی څومره ډیری لویی اوطوفانی پیښی چی په تاریخی لحاظ باوری، خیالیٔ او افسانوی بڼه لری پهٔ دغــه سیمه پوری اړهٔ لری، ددی سیمی لهٔ جملی نهٔ چی پیښی ورپوری ربط لری یوه هغه څړه هــواره هیوادله چی دډیره اسماعیل خان دښار لویدیځ ته لوړه ولاړه دهٔ یعنی لوړ غردی اوتخت سلیمان نومیږی، فولکلوری روایت وایی کله چی دهنددسفرنهٔ سلیمان(ع) بیرته را وګرځید اود غرو نــوددغی هواری سلسلی لمن تــه را ورسید نوددهی لهٔ پاره یــی ددغهٔ لوی غره هوار سرانتخاب کړ، دلته دده مخی ته دعجایبــو هیواد واقع او وبریښید، دد غه ځای نهٔ ده دوروستی ځل لهٔ پاره پهٔ تول هند یو نظر واچاوه اود همدغه غره دسرنهٔ هغی هندی شهزادګی چی ده دځــان ســره راوستی وه دخپل هیواد ســره وروستنی وداع وکــړه، داؤ افسانوی روایت. هو !دسلیمان تخت ډیر رښتیانی حقایق هــم پهٔ خپل زړهٔ کی دیادګار په ډول ساتلی دی مثلا د ۱۸۸۳ کــا ل پهٔ نومبر کی دپښتنو دشیــرا نی قوم اود انګلیسی عسکرو پهٔ منځ کی دلته خونړی او سخته جګړه وشوه، دغه جګړه دانګلیس پــه سخته ماته تمامه شوهٔ انګلیسا نپه داسی حال کی چی پهٔ غر نیــو وسایلو یی ځان تهٔ لار جوړو لهٔ دغره سرته وختل خود سر پــه لوی قیمت یی داکار انجام کړ .

**دمهاڼ غر :**

آیا دلرغونی مهاڼ پهٔ باره کی څه بحث ته ضرورت نه شته ، دی داباسین په څنګ کی دخیبرشمال ختیځ ته یوازینی لوړ غر دی، دهغهٔ چاپهٔ قول چی دلته وو (دمهاڼ قیافه او منظره متنوعه اوله ډیره حیثه مهاڼ دعظمــت نهٔ ډك دی. دمهاڼ جنوب تــه دپنجاب ستره هواره آباده پرتهٔ ده اوبی اندازی لری پسی تللی

ده، اباسین چې دغره نه‌جنـوب‌خواته را کرځیدلی دئ ډیرزیات
پراخ شوی‌دی اود کال په‌معلو م‌وخت‌کی ددریاب غوندی یـاغی
کیږی اوزور کوی، دجنـو بی‌منظری مشخص صفت دادی چې
آباد پټی لری اود لویو خوړونواو رودونو څخه اوبیږی او پـه
آرامو او سوکالو کـلیو ډك دی‌خوشمالی منظره اودده یی بیـا
بیخی بل خصوصیت لری، دلته‌لادشمالی لمنی سره‌د چملی دره
ښښتی دچې په‌هغه بل‌اړخ‌کی یی‌دکورو دغره څوکه آسمان تـه
ختلی ده، داغر چمله دبونیر له‌دری نه‌بیلوی دی دری نه‌هغه
خوا شمال اولویدیځ ته دسوا ت‌دسرحدو نو په لور ډیر لوړلوړ
غرونه واقع دی‌چې سلسلی یـی‌هندوکش، ته رسیږی .

مهابن په‌خپل عمرکی ډیر څـه‌لیدلی دی، دی د ۱۸۶۳ کـا ل
دپیښنی هم‌شاهد دئ، په‌دغه‌وخت‌کی دانکلیس استعماري پوځونه
دلوړی ځل له‌پاره دبونیـر ،سوات اوباجوړ دپښتنو قومونو
دمتحدی جـبهی سره مخامخ‌شول‌په‌هغو جنګونو کی‌چې په مهابن
اود امبیلی په‌دره کی وشـو ل‌پښتنو چې دسوات صا حـب
عبدالغفور تر مشری لاندی ووپه‌داسی حال‌کی چې دښمن ورنه
پـه جـنګـی تجهیزا تو کی لوړ تیاهم الله انګریزا نـو
ته ملا ماتوونکی ګوزار ورکـړ،دغه پیښه دهغه وخت پښتـون
شاعر نور شالی په‌چار بیته کی‌ښه ترسیم کړی ده :

تګر له‌ورته راغی سوا تصاحب په‌ډیر شتاب
دیره په امبیلـه‌ؤیکی نه وایم کـذاب
لنګر یی جاری کړی ښی‌نری وریجی کباب
خوراك‌ؤ دغازیانو دروغ نه‌وایم باور که
کسکریی فرنګی کړ پسـی‌راتال بونیر وال
جلی به‌یی وښکی‌توری کړی به‌منګول ډال
شاګرده غوږ پری کیږ دمدر ته وایمه داحال
جاهل به‌کا قایل‌ښن به‌خالی ترینه سنګر که

دامپیښی جګره تار یخ تـه‌دادکلمن داستعماری سیا ست
دیوی لویی ماتی په‌حیث‌ورداخله‌شوی ده، دبری دمجسمی غوندی
دمهابن غره دامبیلی ددری ذپاسه‌سر آسمان ته جګ نیولی دی او

اخلافو ته د اسلافو د آزادۍ غوښتونکي جګړې یادونه کوي، دغو ترږنو به موږ ته ډېرې قصې کړې وای مګر افسوس دوی غلي او چپ ولاړ دي، دغو خاموشو لویو غرونو نه یوه کلمه هم نه اورېدل کېږي، دلته باید اولسي یادداشتونو، د لیدونکو لیکل شویو اسنادو، د هغو موادو ته مراجعه وشي چې په ادبیاتو کې ترسیم شوي دي.

آیا د دغه نسبتا واړه او لس (پښتون) ادبیات به په څه حالت کې وو چې د خورا سرابښ امپریالیستي، سړي خور د محکومیت لاندې راغلي و او په دغه حالت کې یې یوه ورځ هم خپله د قهرماني جګړه پرېښې نه وه، آیا دغو ادبیاتو وکړلای شول چې د پښتنو ژوند او مبارزې او د دوی افکار، هیلې، آرزوګانې او آرمانونه ترسیم او څرګند کړي، (لاریسه ریسنر) شوروي لیکوالې په یوه وخت کې د پښتنو د کلتوري عنعنو په باره کې ویلي و «په هغه ځای کې چېرې چې یو وړوکي ملت بې د نورو د مرستې او بې د قطعي بري د هیلې نه څه د پاسه سل کاله خپله خپلواکي د نړۍ د خورا غښتلي غاصب نه وساتله، هلته دې خبرې امکان نه لاره چې د ژوند د نظام سره برابر حماسي ملي هنر او ادب یو ځای منځ ته راشي».

شوروي افغان پېژندونکي چې د پښتو د مختلفو ادبي پدیدو په مفصلې زده کړه کې یې پوره موفقیت په برخه شوی دی او ور سره ور سره په افغانستان کې د اجتماعي پرمختګ د مشخصو دورو سره آشنا دي ترننه پورې د هغه څه نه بې خبره پاتې دي چې د خیبر نه هغه خوا په پښتو ادبیاتو کې څه واقع کېږي او کوم خصوصیت لري، که څه هم د (م.ګ. اسلانوف) او د ده د شاګردانو له خوا په دې باره کې څه لومړني پلټنې او څېړنې شوي دي مګر د دوی د غو څېړنو او تماسونو ضمني او اتفاقي رنګ لاره او دا امکان ور نه میسر نه و چې په اصلي موضوع باندې پوره رڼا واچوي او د پښتنو ادبیاتو د انکشاف خصوصیت څرګند کړي زموږ ادب پوهان د هغو عالمانو مورخینو او څېړونکو زیات مرهون دي چې یوه سلسله ګټور علمي آثار یې پښتنو ته وقف کړیدي، دغه آثار د هغه چا سره مهم او زیات ته مرسته کوي چې پښتو

ادبیات زده‌کوی اوهغه ځیږی .

دپښتنو په باب د لـــویـــی ( استعماری کتابخا نی) نه په پټه خوله تیریدای نه‌شو، ددغوکتابونو مولفین اســـا ســـا د استعماری دستگاه مامور ین ،عسکری منصبداران ،جاسو ـ سان اومسیحی مذهبی مبلغیـــن‌دی، ددغو آثارو زیاتره بر خـه بی شکه دغرض نه‌ډکه ده .

قوماندان (گیـــر بیـــر ت‌ادوار دس) چی پښتانه یی ښه پیژنی اود سرکوبی او ټکو لـوټ‌په غرض یی په‌ښنو البنکر کشی کړی وه اولا تراوسه پوری په‌انگلستان کی لومړنی سړی گڼل کیږی چی دپښتنو په‌سخت هیوادکی یی پلټنی او تحقیقات کړی دی، ده په‌خپلو یادداشتو نو کی(یو کال دپنجاب په‌سرحد کی ) په ښکاره ډول لوستو نکو تـه‌اخطار ورکړی دی « که چیر ی خوك په گور نر، نظامی‌قوماندان‌په سیاسی جاسو سانو، دکنترول په شورا او نورو رسمی مقاماتو باندی انتقاد ونه وکړی هغه به حتما دیاس سره مخامخ شی ».

لکه (گیر بیرت) نوروزیاتره‌انگلیسی مولفانو هم په ټینگـه سره دبرتانوی حکو متونو دهغورسمی اصولو او دوکتو ر ینـو حمایه کوله چی په پښتنو باندی‌یـی استعماری چورو چپاو روا کار گڼه اود دوی له‌پاره یـــی‌دتمدن په غرض اوبـهانـــه د انگلیسی مامورینـو و جـو دضروری باله .

ټیپل چی وروسته ورو سته‌دبر تانوی هند په‌حکومت کـی دوزارت چوکی ته ورســـید دپښتنو په‌باره کی داسی ویلـی دی: (دوی یوازی شاړ او شډ ل‌دی خو البته دافتخار نه ډك‌شډل چی ځینی ښه صفات هم لری .شجاعت اونفسی مناعت اولـوړ همت لری، په هر صورت پـــه‌دی کی شك نه‌شته چی شاړ اوبی علمه دی) .

کوم فکر چی دپښتنو په باره‌کی دانگلیسی وزیر په‌وینا کـی موجود دی هماغه فکر دکیپلینگ‌په مشهوره منظومه کی هم‌پروت دی او ورنه را معلومیږی :

ختیځ ختیځ دی او لوید یځ لویدیځ دی
دوی نژدی کیدای او دوستان کیدای نه شی

اوسنیو پښتو ادبیاتو دغی استعماری تیوری ته چی (دشرق او لسونو ته په کمه ګوري) کلك خوله ماتوو نکی ځواب ورکړی دی : «په ټوله لویه وچه کی امپریالیستی سیاست داسی دی چی ملتونه دآزادی دحق نه په دی پلمه محرو موی چی دوی وروسته پاتی دی اوهغو ښکاره حقایقو ته اعتنا نه کوی چی په شرق کی دپخوا نیو کلتوری عنعنا تو په موجودیت باندی شهادت ورکوی او لههمدی کبله پښتانه نوری نړی ته داسی معرفی کوی چی دوی هیڅ تمدن نه لری اود نړی په یوه غلی او ځنګلی سیمه کی اوسیږی ځو په دغه سیمه کی داستعمار دبقاله پاره پلمه موجوده وی ».

داستعمار دایدیالوجی د غهبی بنیاده ستهه پخپله پښتو ادبیاتو تکذیب کړی ده .

**دپیریو په تل کی :**

( هیڅ ونه بی ستنی نه وی ) ددغه متل نه چی په اولس کی شهرت لری کیدای شی هغه وخت هم استفاده وکړو چی پښتو ادبیات معرفی کوو، دغه اد بیات هم بی ستنی نه دی ستنه اوریښه یی لرغونی کلاسیك تحریری ادب او فولکلور دی چی دپیریو تل ته رسیږی .

دافغانانو او پښتنو داد بهنری عنعنه چی دډیرو پیریو په اوږدو کی منځ ته راغلی ده یوه ده اوحتی په دی ورځو کی دا دعنعنی اتحاد دپښتون اولس استاز ومنلی اوتایید کړی دی.
مثلا دغه دیووالی فکرافغانی مشهور شاعر ګل پاچا الفت هم په ګوته کړی دی :

په کندهار کی که میرویس او احمدشاه بابادی
په پیښور کی خوشحال خان عبدالرحمن بابادی
یوشان ښکاریږی پښتنو ته که هغه که دادی
چی اباسیندا باسیند بولی ددوی یو آبادی

مکر دپښتنو دادبیاتو په انکشاف باندی دپښتون ملت

خپل مخصوص تشکیل اوجوړښت مهم تاثیر کړی دی، د پښتنو ډیر مسایل لاتر اوسه پورې لاینحل پاتی دی، دتاریخ علم دا ثابتوی چی په ۷–۱۰ پیړیو کی چی دپښتنو داقتصادی ،سیاسی او کلتوری ودی لومړی مرحله وه دپښتنی ټولنی په منځ کی دطبقاتی مناسباتو انکشاف اودمختلفو قومونو په منځ کی د رنګا رنګ ارتباطاتو استحکام دپښتون ملت دتمرکز سره مرسته وکړه اوهم دپښتو ژبی دانکشاف په جریان کی مهم تغییرات رادمخه شول. د یری محاوری، لهجی او اصطلاحات منځ ته راغلل او په تدریج سره دوه لویی لهجی پیداشوی، یوه لویدیځه لهجه چی اساس یی درانی لهجه تشکیلوی او د ودی ځای یی دکندهار سیمه ده اوبله ختیځه لهجه ده چی خلیل مونديی وایی اوټاټوبی یی دپیښور سیمه ده، په راتلونکی کی دغو دواړو لهجو ادبی شکل غوره کړ او تراوسه پوری همدا دوه ادبی شکله منل شوی دی .

دپښتنو قومونو داقتصادی او کلتوری یووالی استحکام ددوی دسیاسی تمرکز له پاره ډیره حیثه زمینه برابره کړه چی داکار بیا داحمد شاه بابا له خواداتلسمی پیړی په منځ کی عملی شو، ده دپښتنو خاوره سره یوکړه اویو مستقل دولت یی جوړ کړ .

ژبنی سیمه ییز اشترا کیت اود عنعنو اوتاریخ یووالی داټول باعث شول چی پښتو ددوی دهنری څرګندونو اودایډیا لوژی او تجملی آرمانونو داظهاریوازینی وسیله وګرځی او په پښتو ادبیاتو کی ګډی خوا وی منځ ته راشی .

دپښتو بډای او رنګا رنګ فولکلور ته ډیرو څیړو نکو په خپلو آثارو کی زیات شهرت اوتعمیم ورکړی دی، دفولکلوری آثارو په وسعت او انتشار کی مهم رول پوونده قبایلو لوبولی دی چی دپیړیو پیړیو پوراهیسی په قافلو اوډله ایزډول تجارت کوی. دفرانسوی عالم(دار مستتر) په عقیده «دپښتنو دټول اولسی ادب او فولکلوری آثارو یوازینی ممثلین هغه څلویښت زره پوونده دی چی په کال کی دوه ځلی دخپلو کاروانو

نو سره دسلیمان غرونه طـــی‌کوی اود منځنی آسیا نه‌مالو نه راوړی ».

لکه په‌نور ختیځ کی دپښتنوپه ښارونو او آبادیو کی هم ، بازار یوپه زړه پوری ځـای‌دی‌دلته په‌بازار اود تجارت په‌محل کی‌پوونده کولای‌شی چی دد غـه‌ځای داو سیدونکو توجه ځان‌ته راوګرځوی او څه‌یی چی د ځان‌سره نورو ځایونو نه راوړی وی هغه دوی ته ووایی او خصوصاکه دغو پوونده ګـانو دغــه روایتونه، قصی ،شعرو نــه اوسندری دپښتنو دداسی لــرو سیمو نه دځان سره راوړی وی‌چی هلته ددغه ځای خلك تلای‌نه شی نو ددغو خلکو فکر بیازیات‌جلبولای شی، په‌دغه وخت کی‌تر واړه سلیمانه پوری تــول وربانه‌دی را تولیږی اود دوی پـه قافیه والو او فصیحو خبـر ومستیږی اود قصو دقهر مانانو فوق العاده اوغیر عادی چارو ته‌حیرانیږی اود مینانو د زغمــ، تحمل ،اخلاص، هیجا ناتــو اواحساساتو داغیزی لاندی راځــی خلك ددی سره مینه‌نه‌لری‌چی‌دغه‌قصی ،روایتونه، شعرو نــه او سندری په‌کومو او ضـا عواو شرایطو کی منځ‌ته را غلــی او چیری پیدا شوی‌دی مثـــلاکندهار یان په‌دی عقیده‌وو چی دآدم خان اودرخانی مشهــــوره‌قصه په‌کندهار کی تیره شوی‌ده اود محلی قصه ویونکو اثر دی‌حــال دا چی دا قصه‌په‌حقیقت کی دیــو سف زیو پـه قـوم کـــی‌پیـدا شوی ده، د کـــند هــار نه دیرلری پــه سوات کـــی‌منځ ته راغلی ده او له دغــه ځایه دپښتنو نورو سیمو تــه‌دیر ژر خپره شوه .

فولکلوری آثار چی زیاتره‌یی‌دبی سوادانو له‌خوا جوړ شویدی اوله یوی خولی نه‌بلی خولی ته‌دهغه چاپه ذریعه نقل شــوی‌دی چی په‌خپل ژوند کی‌یی قلم پــه‌لاس کی‌نه دی نیــولی دغــه فولکلوری آثار له‌پیړیو راهیسی‌دټولو پښتنو دیوازینی ګډ مال په خیر دملت په‌حافظه کی‌ساتل‌شوی دی .

دپښتو دتحریری اد بیا تـوعنعنی دیرو پخوانیو پیړیو تــه رسیږی ددغو تحریری آثـــاروځخه چی موږته رارسیدلی د ی یو هم (دشیخ ملی دفتر) دی ،داکتاب دسوات دودانی اوښکلی

دري مسايلو ته وقف شوي دي چي ديوسف زيو لهخوا نيـول شوي وه، داكتاب د پنځلسمـې پيړۍ پهسر کي ليکل شوي دي.

دپښتو ادبياتو اجتما عـــيوظايفو او ددوي عمومي ارزښت دهغو پيښو پهتناسب انکشا فکاوه چي په پښتني جامعه کـي واقع کيدلي، په کومه اندازه‌بهچي فيوډالي مناسبا توانکشا ف کاوه پههماغه اندازه به طبقاتيمبارزو کلکوالي موند اود صفو يانو او مغولو پهمقابل کـي بهدپښتنو دآزادي يون قوت پيدا کاوه او ورسره سم‌به په هماغه‌اندازه پښتو ادبياتو وده کو له اود پيښنو سره به څنگ پهڅنگ‌برابر روان وو .

په ١٦ـ١٧ پيړيو کي پښتـوادبياتو زيات اهميت پيدا کــړ اود مختلفو اجتماعي قشرو نـواستازو دوسلي په حيث استفاده تري کوله ،هم روښانيا نو چيدمحلي اومغو لي فيوډالا نو په مقابل کي دايمي اونه پخـــلاکيدو نکي مبارزين وو او هـم ددوي مخالفانو چي قومي مشرانرو حانيون اود نفوذ څښتنانوو قلم دتوري په اندازه موتـر اواغيزمن گانه اودواړو د لـــو کوښښ کاوه چي په هنـــريوسايلو او بديعي ادبياتو سره پښتانه اولسونه خپلي خـوا ته‌ور واړوي .

په پښتنو کي ترډيره وخته‌دبايزيد انصاري انقلابي او تيز تعليمات او تبليغات موجود ووچي دآساني لهپاره پهقافيه وال نثرليکل شويوو. دپښتو ادبياتوپه تاريخ کي مهم مواد د١٧ـ١٨ پيړيو له کلاسيکو شاعرانو نـهراپاتي دي، دغه دوره چينسبتا لنډه وه طلايي دوره گڼل کيږياو دپښتو اشعارو دغوړ يـد لو او انکشاف وخت حساب شويدي‌دخوشحال خانختك وطنپالو نکي اشعار، دعبدالرحمن ســاده اوروان غزليات، دمو شـگا ف عبدالحميد ناز کخياله آثار اودلوي احمد شاه ديوان دا تـو ل دپښتنو زړه ته نژدي آثار وو او وربانډي پوهيدل اود دو ي افکارو اوهيلو ته‌يي ځواب وايهاو پښتانه يي دآزادي مبارزوته ور هڅول .

په ١٧٤٧ کال کي دخپلوا كدولت دتشکيل سره سم د پښتو دادبياتو دعملي ودي لـه پارهښه شرايط پيدا شول مگر هغـو

پیښنو چې ډیر ژر دپښتنو دځمکوپه ختیځه خوا کې واقع شـوی دپښتون اولس لهپاره ډیر بـدعواقب له ځانه سره راوړل .

داحمد شاه بابا لهخوا ددرانیوددولت تشکیل پهداسی وقت کې منځ تهراغی چې دشرق پهملتونو کې دانګلیس دتجاوز او پرا ختیا غوښتنی تراژیدی پیل شوی وهدپښتنو سیمی هم دتهدیدلاندی راغلی اود خطر سره مخا مـخ‌شوی وی .

د ۱۹ پیړی پهسر کې‌دداخلی‌تشنج ، اخ‌وډب او اختلا فو نو په نتیجه کې درانی دولت پـــهبیلو بیلو ملك الطوایفیو باندی وویشل شو، دهیواد تو ټه کیدلوډپنجاب دسیکانو حکومت ته دا آسانه کړه چې داباسین په ښی‌غاړه دپښتنو دخاوری یوه برخه ونیسی .

په ۱۸۳۲ کال کی دسیکا نومشر رنجت سنګ چې انګریزانو لمسولی اوپه شاتپولی وپیښوروونیو، بیا په ۱۸٤۹ کال کـــی همدغه پښتنی‌سیمی چی‌دسیکانوپه لاس کی‌وی دبرتا نوی هندپه تشکیل کی ورګډی شـــوی، دانګریزانو دتجاوز او پراخـــتیا غوښتنی سیاست دپښتنو دسختمقاومت سره مخامخ شو. دپښتنو ټوله خاوره ډیر ژر اضطـــرا باو هیجان ونیوله اوغیر عـــادی وضعیت منځ ته راغی .

لکه انګلیس مولف (نیو یل)چې داجباری اعتراف په تـــو ګه پهخپل کتاب (په شمال غرب کی‌عملیات) کی داسی لیکی :

«په ۱۸٤۹ کال کی دپنـــجـــا ب‌الحاق دشمال غرب دپولو پـــــه اوږدو کی نا آرامی او اخ ډ ب منځ ته را ووست او تقر یبـــا دپښتنو هرقوم په عملیا تـــو اوتصاد ماتو پیل وکړ. »

په داسی حال کی چی‌استعمارچیانو دخپل تجربه شوی پرنسیپ په (نفاق واچوه حکومت وکړه)استفاده کوله کوښښ یی کـــاوه چی دپښتنو یووالی ګډوډ کړی‌اود دوی داتحاد پهلاره کی‌ډبری واچوی، دپښتنو په منځ کـــــی‌دښمنیو ته لمن ووهی اویوقوم له‌بل جلا اویوپه بل ووهـــی ،انګلیسا نو خپل‌تجاوز اودپراختیا غوښتنی سیاست ته ادا مـــــهورکوله اود ۱۹پیړی پهآخر کی یې دتفتین، توطئو او تهدیدونوپه ذریعه دیر، سوات، بـــاجوړ،

وزیر ستان ،دخیبر دره او دپښتنو داسې نورې ځمکې ونیولې دږیورنډ داجباری کرښې لهامله دپښتنو دمختلفو سیمو تر منځه داقتصادي او کلتوري چـــا روارتباط ګډوډ او ویجاړ شو اوپه نتیجه کې دډیورند دکـر ښــې په دواړو غاړو کې دپښتنوادبیاتو دانکشاف لاری بیلی شــوی اودهغه قوت نه ولویدل کوم چـــې په یوه لاره کې یې انکشاف کاوه.

**له کانی سخت له ګل نازک :**

پښتانه چې دډیورند دسیسی‌نه حبر شول نوډیر پهقهـــر او غضب شول اوکله چې پهپیښو رکې دبرتانوی هند دانګلیســـی حکومت دواکمن استازی (ریچاردداودنی) لهخوا دترون متن خپور شو اود خلکو لاس‌تـــه ورغــــی‌لازیات راو پاریدل او عمو می هیجان په خپو راغی. داسې ډیرقانع کوونکی دلایل او شوا هــد شته چې دپښتنو په خاوره کـــی‌دآزادی دجنګونو په وسعت‌شدت او پراختیا دلالت کـــوی اودډیورند د ۱۸۹۳ کال دتـــړو ن په مقابل کی‌چی دهغه له مخـــی‌دپښتنو خاوره په اجباری تو ګه دبرتانوی هند په قلمرو کـــی‌داخلیږی ددوی سخت مقاو مت او عمومی قیام ښیی دادی(یونګ‌هوسبند )چې دانګلیسی استعماـ ری سیاست فعال مبلغو پـــــه‌خپل کتاب ( دهند پهسرحدو نو کی جنګ) کی څه لیکی :«پدغی‌پراخی سرحدی خاوره کی هــر قوم ،هراولس، هره دره اوهرسړك دقیقه څارنه او عسکر ی مراقبت غواړی، دسرحد په هره‌ولیشت کی یوښکاره یاپټ‌دښمن ناست دی اویو کال لاتیر نه‌دی‌چی ددغی سیمی هره بـــرخــه وسلواله مداخله ایجابوی .»

لا د ۱۸۹٤ کال دسرنـــه دپښتنو په خاوره کی وسلـــوال تصادمات پیل شول اولکه‌دبرښناغوندی دقومونو دغه تیـــت او پرکی حملی اومحلی یرغلو نـــه‌ډیر ژرسره متحـــد شـــول اود ۱۸۹۷ کال په‌اوړی کی دسوا ت‌نه تروزیر ستانه پوری دغـــه یرغلونه په عمومی قیام‌واوښتل.

دآزادی دساتنی لـــه پـــاره‌اپریدی، اومومند، ور کـز ی اووزیر، مسود او سالار زی راپورته شول په هغو سختـــو او

خونړیو جنگونو کی چی پښتنــو دانگلیسی استعمار داویــا ز ره مجهز لښکر سره وکړل پښتنــو دمیړانی او شجاعت مــعجــزی ښکاره کړی، پښتنو په پــرا خ دول دپار تیزانی جنگونو نـــه استفاده وکړه، لاری به یـــــی بندولی، موانع به یی پیدا کول دځمکی لاندی مورچی بــه یــــی جوړولی او ناڅاپی یرغلونه به یی کول، استعمار چیان د ملت دقهر اوغضب ددا رنگ قــــوی انفجار اوعکس العمل په انتظا رکی نه وو ( ویلینستون چر چل) چی په ۱۸۹۷ کال کی یی دسوات په دره کی شخصا په عملیا تو کی گډون کړی و په خپل کــتا ب (دملکنډ دصحرایی عســـکر و تاریخ) کی کوښښ کړی دی چی هغه علل څرگند کړی چی پښتانه قومونه یی گډو وســـله والـــوجنگونو ته هڅول او پور ته کړی وو اوهم یی دآسیایی خلکــو دطبیعت دنه پیژندنی په باره کی دامپر یالیزم مشهور تیـــز س وړاندی کړی دی :

« دلویو پیښو مورخ ضرو رهغه وخت دمشکلا تو سره مخامخ کیږی چی هغه نامرییی اوضا ع څرگند کاچی دپښتنو پــه تړوله خاوره کی دپخوا نه مـــو جودوو اود ناڅاپو حملو اوقیا مونو له پاره یی زمینه برابرو لـــه،دا مشکلات دمورخ له پاره هغــه وخت لازیا تیږی چی دی د هغـــوعلتونو دمعلو مولو کـــو ښښ وکړی چی په ۱۸۹۷ کال کـــــی دپښتنو دټولو قومو نو د گـــډ قیام او غورځنگ موجب شول .

له دی کبله هیڅ یوارو پایی نه شی کولای چی دآسیایی خلکو دنظریاتو اوعقایدو په ما هیت باندی پوره پوه شی.»

دارنگ نظریات چی دانگلیس پــــه تــا ریخــو نو کـــــی ډیر زیات راغلی دی داستعـــــمار دغارتگری اوچپاول دسیاست د تبرئی کوښښ کوی داخبره اتفاقی نه ده چی چرچل په خپل نو موړی کتاب کی دسولسبیری لارډ وینارا اقتباس کړی ده: «دغه سرحد ی جنگونه او تصادمات د هغـــوساحلی موجونودسختو تصادمونو سره مشابه دی چی دځان سرده تمدن څپی راوړی ». وگور ی دعسکری عملیاتو څخه ورو سته په پښتنی خاوره کی څه منـــځ ته راغلل. دکورونو نه چی پــه اور سوی دی لوگی خیـــژی، د

یتیمانو او کونډو ژړا اوریدل کیږی، فصلونه سوی دی، ځمکی په وینو سری دی اوداسی یوعالم نوری بدبختی ورنه راپاتی دی او انګریزان وایی داجنګونه تمدن دځان سره راوړی .

سره ددی چی په ځینو قومونو کی دبیلتون غوښتلو فکر موجود وو او ځینو خانانو خیانت کاوه بیاهم د ۱۸۹۷ کال عمومی قیام دپښتنو دآزادی او ملی جګړو په تاریخ کی لوی نقش لوبولی دی، انګریزانو دخپل حکومت په ټوله دوره کی ونه شو کولای چی آزاد قبایل ځان ته تابع او ایل کړی اولا تراوسه د استعماری حکومتو نوله جغه آزاد او بی پروا دی .

دپرنګیانو په مقابل کی د پښتنی اولس تینګ مقاومت او خصوصا د ۱۸۹۷ کال عمومی قیام دپښتنو په اولسی شعر او ادب کی پراخ اوقوی عکس العمل ونډلی اوښه پکی ترسیم شوی دی او خاص په همدغه وخت کی فکلوری عنعنو نوی بنه پیدا کړه په دغو کلونو کی چی کوم شعرونه او سندری ویل شوی وی هغه په ممکن پخو اوتجربه کاروادیبانو ته دشعری کمال او شعری قواعدو څخه لری ښکاری ځکه مثلا په دغواولسی شعرو نو کی دبلاغت ډیر وسایل نه شته کوم چی دلیکلی ادب خواص دی لکه پیچلی سمبولونه ، غامض تیپو نه، بلیغی استعاری او تشبیه ګانی دناز کخیالی نه ډکی ظریفی قافیی اوداسی نورچی دمنځنیو پیړیو دکلاسیك ادب دقا عدومحصول دی. مګر ددغو کلو نو حماسی اشعار او سندری خپله مخصوصه سادګی او اختصار لری اوپه اوریدو نکو اغیزه کوی ددغو کلونو داشعارو دتیپ او جملی نه دنور صاحب شعر وړاند ی کولای شوو چی د ۱۸۹۷ کال دپاخون یوه مشر نجم الدین (هډی صاحب) ته وقف شویدی:

(شعر پیدا نه شو-مترجم)

نور صاحب اونورو په هیوادمینو شاعرانو له دی جملی نه د غازی محمد جانخان دمشهو ر ی څلوریزی مولف دټول پښتنی اولس شجاعت او میړانه ستایلی ده اود ټولو هغو خلکو صفت او قدریی کړی دی چی دپرنګیا نوپرضد یی په وسله واله مبارزه کی ګډون کړی و، دوی دځانګړواشخاصو او مشخصو قهرمانانو

زرور تیا نه‌ده ستایلی، (پـــه‌فیودالی اشعارو کی اسا ســـا بادشا هان، دقبایلو مشـــران ، خانان او ملکان ستایل کیږی ) اوپه دغو پورته بیتو نو کـــی‌اساسی اومهم قهرمان اولس دی هغه اولس چی دپرنگی پوځ یی‌دکمشنر په گډون لـــه خـــپله ځایه وشاړه .

په ډیرو اولسی حما ســـی‌اشعارو کی ددغو پیښو په باره کی مفصل معلومات‌وړاندی شوی‌او ډیر ژر دقبایلو اونورو خلکو په‌منځ کی تیت شوی‌دی چی دغه‌گټور آثار پښتنو ته داخبارو نو کار ورکوی اود ورځپاڼو ځـــای‌یی نیولی دی .

دقیام او پرنگی ضدغورځنگ‌آهنگونه اولسی‌خزانی (فولکلور) ته داخل شوی‌دی، تراو ســـــه‌پوری په‌پښتنو کی‌دهغی نیمکی (سندری) خوا شینوونکی نغمـــه‌اوریدل کیږی چی ممکن پـــه ۱۸۹۷ کال کی به‌جوړه شوی‌وی‌داسندره دپښتنی میرمنی له‌خوا ویل شوی‌ده چی دخپل مین پـــه‌مړی باندی ژاړی :

هډی صاحب‌په ملکنډ کاندی‌جنگونه
تالا شو زیړ گلو نه
جانان مـــی سر په وطـــن‌کیښود
تالا شو زیړ گلو نه
په تار دزلفو به‌کفن ورته‌کندمه
تالا شو زیړ گلو نه
گلان لـــه خاورو پیـــدا کیږی
تالا شو زیړ گلو نه
زما لالی ترگل نازك خاوروته‌ځیـــنه
تالا شو زیړ گلو نه

تالا شو زیړ گلونه. هډی صاحب .....

ددی نیمکی ساده الفـــاظ ،عادی اوبی تکلفه بندونه اوحتی روسی تحت الفظی ترجمه یـــی‌غم او خواشینی پیدا کوی، موږ ددغی وفاداری او پتمنی ښځـــی‌بی انتها غم اودرد حس کوو ، موږ ددی جذابه قیافه وینو اوددی خوا شینوونکی او غمجنـــی

ساندی اورو اوسمه نه‌ده چی‌د(تیخو نوف) له‌وینا سره موافقه وزه شی کومه چی‌ده د (پښتو شعرونه) دمجموعی په‌مقدمه کی لیکلی ده: «دادیوی مسلما نی‌ښځی غږدی چی ددی د محدو د ژوند دموانعو څخه په‌قوت سره‌بهرته راووځی او داسی قوی احساسات څرگندوی چی پټ‌ولیی امکان نه‌لری.».

د۱۹ پیړی په آخر کی وطن‌پالو اشعارو دآزادی بخښونکو آهنگونو په تشکل او جوړښت کی غوښ رول لوباوه اوخصوصا بیا دشلمی پیړی‌دلومړیو دیرشموکلونو نه وروسته به پښتو ادبیاتو کی دی آهنگونو په ډیرقوت سره خپل آواز پورته کړ د ۱۸۹۷ کال‌هیجانی پیښی‌اوس‌هم لیکوالو او شاعرانو ته‌الهام ورکوی چی داسی آثار ولیکی‌چی دهغو په ذریعه په حافظه کی بیابیا پړنگی ضد قیامو نه‌را ژوندی شی‌کوم چی دپښتنو په‌تولنه سیمه کی روان وو.

داچی دپښتنو دآزادی جنگونه‌عنعنوی او ارثی شکل لری په دی باره کی پښتانه شاعرعبدالقیوم کوثر(۱۹۳۷ زوکړی) (دتیرا لام ۱۸۹۷) په‌شعر کی‌وینا کړی‌ده، دا دغمخور پلار مونو لوك اوخطاب دی چی‌غواړی دده کمکی زوی په راتلونکی کی په‌هغه لار لاړ شی‌چی نن لویان په‌هغی روان دی. چی هغه دپرنگیانو سره په‌سختو جنگونو کی گډون دی.

دهیواد دمینی‌احساس اووطن‌او اولس ته‌دخدمت فکرهمداسی دیوه نسل نه‌بل ته لیږ دیده ،هغه مفکوری چی دشعر، سندرو اود اولسی ادب دنورو ژانرونوپه لباس کی‌نغښتی دی دادتیری اوږدی زمانی دسختو طوفانو نودمنځ نه راتیری شوی‌دی اوزموږ معاصرینو ته یی دزیات لالهانداولس دآزادی په‌باره کی دخپلو نیکونو آرزوگانی او آرمانو نه‌دځان سره راوړی دی.

« کله چی دجنگ رب النوع(مریخ) په خبرو شی نو دهنر رب النوع (موزی) ځان غلی‌نیسی»، داعقیده دپښتو داولسی اشعارو دانکشاف په جریان‌سره تکذیب‌شوی ده ځکه‌داولسی آثارو دغه انکشاف اوهنر دنولسمی پیړی په‌آخر کی چی دجنگونو ،قتل وقتال او هرج‌ومرج وخت‌ؤ منځ ته‌راغلی دی

مگر ترتولو دتعجب خبره داده‌چی دهمدغو سختو آزموینو په کلونو کی دپښتو په اولسی‌شعری آثارو کی عشقی اوتغزلی جریان یوبی مثاله پرمختگ ته‌رسیدلی دی. دهمدی خبری په ارتباط سری ته بی اراد ی دپښتو دا محاوره ور په‌یادیږی (له کانی سخت له‌گل نازك ) چی دا زموږ په‌فکر ترزیا ته‌حده دپښتو په اولسی اشعارو باندی‌تطبیق کیږی .

**اولسی شاعران :**

دنولسمی پیړی دپښتواولسی‌تغزل دحماسی اشعارو څخه ډیر توپیر لاره، دغه تغزل دبلاغت‌اود هنر اوتصویر په تولو وسایلو سنبال وو، له‌استعا رواوتشبیه گانو نه ډك ؤ، دشفاهی موزون کلام دفورمونو نه غنی‌ؤدشعری هنر دغه قوی مخزن ته دعوت ورکړی شوچی یوازی یوه‌موضوع ترسیم اوتجسم کړی‌چی هغه عشق اومینه ده .

مستانه یاره ستا یم — دیوانه یاره ستایم
بی له‌تا می ژوند خراب‌شو — اندرون زما کباب شو
عجب شور و دبلبلو — بورا ناست ؤ په غند لو
سبا کوچ کا په آگا یم — مستانه یاره ستا یم
دواړه سترگی راښکاره کړه — دزړه غم می آواره کړه
ستا په‌لږ نظر بادشاه یم — دیوانه یاره ستایم
وابه نه‌وړم ستا دلوری — که می سنگ‌په سینه اوری
یاره ستا ددر گدا یم — مستانه یاره ستا یم
زه توکل به‌ستا صفت‌کړم — څومی ساوی په بدن کی
زه غلام دشاهنشاه یم — دیوانه یاره ستا یم

(دلته له شاهنشاه څخه مرادمعشوقه ده. مترجم)

داولسی شاعر توکل ددغی‌پورته غزل احساساتی مو ضوع ممکن موږته بیخی مبتزله اوسرسری ښکاره شی اوله بلی خوا هنری سبکونه یکی هم‌هماغه زاړه او عنعنوی دی او نوښت یکی نه بریښی مگر که‌چیری موږ په‌هغه ماحول نظر واچوو چی داشعر یکی پیداشوی‌واو‌که هماغه اوریدونکی په نظر کی ونیسو چی دغه شعر به‌دهغوپه مخکی ویل کیده اود هغو ی

دطبیعت او غوښتنو سره سم جوړ شوی‌وو نو په‌دی صورت کی به‌پوه شو چی دپښتو دغه عشقی‌اولیریك شعر موږ ته په‌بل عالم او بل وخت کی رادمخه شوی‌دی.

هغه اشعار چی عشقی رنگ‌نه لری اود وصال او هجران او گل او بلبل نه‌خلاص دی، هغو دلمر دوړانگو غوندی د پښتنو ورځنی ژوند روښانه کړی دی، دپښتنو هغه ژوند چی دمحرو میتونو او بدبختیو انځور دی‌اودخپل موجودیت ،دخپل کور کلی اود خپل هیواد دسا تنی له پاره‌دجگړو نه‌ډك دی. هو! لیر یکو اوعشقی اشعارو چی ویونکی یی‌اولسی شاعران دی په دغه‌مبارزه کی یی مرسته کړیده اود ژوندکړاوونه او دردونه یی را کم کړی‌دی ،دملی شاعرانو په لیریکواو عشقی اشعارو کی‌چی وصا ل ستایی دعشق خوشحالی ښیی اودمینی خواږه رازونه ځرگندو ی دخپگان اوخواشینی آهنگونه ، دعشق سختی اوغمونه دهجرا ن کړاوونه او دردونه هم پسکی‌مجسم کیږی داکیفیت مثلادنوښار دمحمد دین غزل لری .

سرمی شه له تا قربان    زما جانانه پورته کړه چشمان
دیار په‌غم کی سترگی په نم    پری باندی لوند شو گریوان
گریوان می‌لوند دی‌په زړه‌می‌دوند دی (۱)

په مخ‌را پریږده تور زلفان
زلفانو نوش کړم دیریی بی‌هوش کړم
جانانه را کړه سره لبان
لب دی غونچی دی ځنگه چړچی دی
پر باندی‌زانگی سور پیز وان
له محمد دینه نشته ستامینه
تگی‌دی وگړه له جانا ن

دموسیقی کومی نوتی اوآهنگونه به‌دغه وخت په‌اولسی عشقی اشعارو کی نه غږیدل ؟ زیاتره شعری آثارو داوریدونکو احساساتو او غوښتنو ته ځواب‌وایه او ددوی دفهم او ذ و ق مطابق منځ‌ته راتلل، داکا رداشعارو دادا اوویلو په طرزکی

---

(۱) دوند ـ تیاره .

هم څرګندیده، دشفاهی آثـا رودودی سره ملی او احسا سـاتی نغمو هم کومك کاوه. (برسیره پردی پښتانه ادب پوهان پـه دی عقیده دی کوم اشعار چی په ټینګ ټکور او آهنګ سره ویل کیږي هغه بیخی ممتاز او غوره دی) په دی ډول لیریك اشعـا ر دسندرو او موسیقی بنه غـوره کوی اود پښتنودموسیقی دکلتور دپرمختیا سره مرسته کوی .

تاریخ دداسی ډیرو ملـــی شاعرانو نومونه ثبت کـړی دی چی سندری او شعرونه یی لاتراوسه پوری په اولس اوخلکو کی شهرت او محبوبیت لری. دپښتنی فولکلور دخیړونکو زیا تـــره کارونه دفرانسوی عالم ج. ډارمستتر په کارونو پوری مربوط دی، دی دیو اساسی اثر (دپښتونخوا دشعر هارو بهار) مـو لف دی چی دملی شاعرانو هنـــری نمونی پکی راغلی دی .

مثلا دا مشهوره ده چی (میرا) چی دمشهوری غزل (زخمی)(۱)

---

(۱) میرا ډیری سندری ویلی دی او ډیرښه اولسی شاعـر او بالبداهه دسندرو ماهرو، مګردده هغه سندره چـی (زخـمی ) نومیږی دده ترټولو سنـــد رومشهوره او غوره ده. دغه سندره دموسیقی او کمپوز مطابق پـه ښلور ډوله ویل شوی ده او هـر ډول یی مخصوص خوند لـر ی،دغه سندره حتی تاریخ ته داخله شوی ده اوپه خارجی ژبو هـــم ترجمه شوی ده، کله چی په راول پینډی کی دافغانستان امیر اودهند وایسرا خبری کولی نـــو دخبرو په آخر کی دمیرا دا نغمه او آهنګ واورول شو :

زخمی په غم کی ناست یـم د هجران په کټارو
زړه می یووړ پـه منګول کی چی نن راغله ښارو

خلکو ورته چکچکی و کـړی اومجلس یی داغیزی لاندی راغی. ددی مشهوری سندری یوبندداسی دی :

سینه ثمر لری — شونډی شکر لری
دندان ګوهر لری — زمـا دلـبر لری

زه یی وهلی په ضمیر څکـه ګډیم په نارو
زخمی په غم کی ناست یم دهجران په کټارو

مولف دی کومه چی لاتر او سه‌پوری دپښتنو په منځ کی په مختلفو شکلو نو مروجه ده اوپه‌اروپایی ژبو ترجمه شوی ده داپریدیو دقوم دغریبی طبقی نه‌راوتلی او ډیراعلی او بیجوړ ی سندر غاړی او موسیقی پوه‌ؤ، ده خپل زیات عمر په پیښور او ددغه ښار په شاوخوا کی تیر کړی دی، میرا دډار مستتر په قول «بیسواده شخص‌ؤ، دلیك‌اولوست نه محروم ؤ مگر دومره سندری یی په‌یادوی چی سړی‌ورته حیران پاتی کیده اوهم بالبداهه شاعرو، که‌چا به ورنه‌غوښتنه وکړه چی په‌دغه‌مشخصه موضوع کی سندره ووایه دی‌به‌سمدستی دخپلو سازیانو سره گوښه شو اود یوه ساعت نه‌وروسته به بیرته راغی اود ملگرو دگډ ساز او یا در باب‌دنغمی سره به‌یی ډیره بیجوړی اود تعجب نه ډکه سندره وویله‌دده شعر او سندره (زخمی) چی په هرځای کی اوحتی که په‌رامپور اود کن حیدر آباد کی وویل شی پښتانه په نڅا راولی‌اوملی اتڼ ته‌یی لمسوی » میرا په‌حق سره دعنعنوی او لسی‌قواعدو نوی کوونکی او مبتکر گڼل کیږی .

دغزل اوچار بیتو عام مقبو ل‌استاد محمددین‌ؤ دپښتو اد ب پوهانو په عقیده دده په اشعاروکی دقافیو خزانی پرتی دی مگر دپښتو دعشقی اولیریك اشعاروپه افق کی لومړنی ستر ستوری نوروز گڼل شویدی،دی دډیروشاعرانو دویاړنه ډك‌استاذاولا ر ښود دی، دده اشعار په دوه‌دیوانونو کی راټول شوی اود شلمی‌پیړی په‌سرکی په‌لاهور کی‌چاپ‌شویدی نوروز دفولکلوراود پښتو دکلاسیك ادب متخصص‌او عالم‌ؤ اوهم دپښتو او هندی موسیقی ستر پوه و.

دملی شاعرانو حماسی اولیریکو اشعارو ـ نه‌یوازی‌دا چی ادامه موندله اود پښتنوفولکلوری عنعنو ته‌یی انکشاف ورکاوه بلکی دپښتنو داو لسی‌آثارو دغو مشهور و انواعو دپیښور په‌ښار کی‌چی د لروپښتنو داقتصادی او کلتور ی ژوند مرکز دی. دنوو لیکلیوادبیاتو دودی له پاره ز مینه برابروله او مساعد شرایط یی‌ورته منځ‌ته راوړل .

## قصه‌خوانی یا دپښتو قصو تودبازار

**منظوم داستانونه :**

په شنو باغونو پټ ،میلـه‌دوست اود شورځوږ نه‌ډك پیښور دلری نه دشین ډنډ غونـــد ی‌ښکاری . هو! دخیبر دغرواو زیږو غرونو ځخه ورو ستـــه‌همداسی زیات‌ترپیر حس‌کیدای شی. تور یستان پیښور تــــه‌دپښتنو پاریس وایی اوکه د ی تشبیه ته دوام ور کـــړو نودپیښور دجم اوجوش نه ډکـــی قصه خوانی ته دپاریس دالیزی‌خیابان ویلی شو .

دپیښور دغه ځای ته دغـــه‌شاعرانه نوم (قصه خوانی) ښنه په ځای ورکړای شوی دی. دی‌ځای دپښتو ادب په انکشاف کی ستر رول لوبولی دی. داســـی‌معلومیږی چی دقصه خوانی نوم ډیر پخوا ایښودل شوی او یــولرغونی نوم دی. خلك وایی چی حتی دروانی پیړی په‌سر کی هم‌قصه ویو نکو په‌دغه ځای کـــی ډیر خلك په ځان راټولـــول اوقصی به‌یی ورته کولی .

په همدی ډول ف. مارتین‌په‌خپل کتاب کی (اته کاله دمطلق شاه په‌درشل کی) دقصه خـــوانی‌یوه په زړه پوری تابلو رسم‌کړی ده، په‌دغه بازار کی دخلکو بهیرډیر زیات وی، دننداړ چیا نـــو له پاره دغه یو مخصوص اوښکلی‌مرکز دی اود اولسی شاعرا نـــو قصه ویونکو او سازیانو له‌پاره‌یوپه زړه پوری بازار اوډگردی مارتین لیکی (بازاری قصـــه‌ویونکی عادتا دبازار په هغـــه برخه کی دریږی چی هلته گڼـه‌گونه زیاته وی اویوه قصه پیل کوی. په‌دغه ځای کی دده نـــه‌یوه لویه ډله را تاویږی او دده دقصی نه خوند اخلی. که ځـــوك‌غواړی چی اتیر یارا تیرشی نـــو

PROPERTY OF ACKU

په ډېرې سختې بېدرغې ډلـــې له منځ نه‌را ووځي ).

دښکلې او هنرې ادب دمینانوپه منځ کې قصه خوانې زیـا ت شهرت لاره اود شعر او ادب تـاتوبې ګڼل کېده. دا ځومره لویه خبره وه‌چې دپېښور دښارخاص‌په همدغه برخه کې په یوه‌دکان کې د ۱۹ پېړۍ په‌منځ‌کې لومړۍچاپي دستګاه ودرول شــوه ، ددغې دستګاه منځ‌ته را تـــګ‌دپښتو دتحریرې ادبیاتــو پــه انکشاف او پرمختګ کې مهـــم‌رول ولوباوه . دذکر شوې‌پېړۍ په آخرکې په‌قصه خوا نې کـــې‌دکوچنیو چاپي ماشینو نو شمیر ډېرزیات شواو ورسره پــــــه‌تدریجي ډول په‌قصه خوانې کې دادبیا تو جم وجوش منځ تــــه‌راغي اود کتا بــو نــو چاپ‌حتي تجارتي بڼه غوره کړه اوشخصي‌موسسو دپیسو له‌پاره هم ډېـر کتابونه چاپول اوډېر کتا بونـــه‌چاپ شول. کتابونه زیاتره هغو خلکو چـــاپول چې دادبیا تـــوله مسلك څخه لرې وو: دو ی اصلا تاجران او دکانداران وو اوپه دغه وخت کې چې ادبي‌آثار یې چاپول دنورو شیانو تجار ت‌یې هم‌کاوه. داطبیعي ده چـــې ددغو خلکو چې دچاپ کوچنـــي‌ماشینونه یې په‌خپلو دکا نـــونو کې نصب کړي‌وو، اصلي هدف‌یوازې پیسې ګټل‌وو. دد غـــو تاجرانو په منځ کې‌دګوتو پـــــه‌شمیر څو تنه مستثنی وو. ددوی مطلب یوازې پیسې ګټل نه ووبلکې دوی غوښتل چې ددغـــو ادبیاتو په ذریعه خپلې تـــو لنې‌ته خدمت وکړي اوداسې ادبیات به‌یې چاپول چې‌دټولنې په ګټــه‌به‌وو. ددوی دجملې نه نعمـان الدین احمد ته ګوته نیولې شو،دی په‌ختیه کــاکاخـــیل‌ؤ. ده د نولسمې او شلمې پېړۍ په منځ‌او حدودو کې په لیتو ګـــرا فې ماشین بانډې ډېر کتابونه پـــه‌پېښور کې چاپ کړل او په دې وسیله یې خپلې ټولنې ته پوره‌خدمت وکړ .

نعمان الدین احمد پـه خپـل‌ماحول کې په‌عالم سره شهر ت لاره او خلکو ورته دیو عا لـم‌په سترګه کتل. ده پـه ۱۹۰٤ کال دښځو دتربیې او تعلیم په‌باره کې یوکتاب چاپ او هـــم دابن بطوطه دکتاب پښتو ترجمه(دابن بطوطه سفر نامه) چې ده ته منسوب ده پوره شهرت لري.

هو ! پهٔدغه وخت کی دچا پلیتو گرافی دستګاوی پهٔابتدایی وسایلو سمبال وی. آثار زیاتره‌په زیږ کاغذ چاپیدل او طباعتی کیفیت یی ټیټ اوبی مزیٔ . دلوړی طبقی منورینو او تعلیم یافته ګانو چی دټولنی اقلیت‌یی‌تشکیلاوه دقصه خوانی دآثــارو سره علاقه نهٔښوده او ورته بی‌اعتناوو. دقصه خوانی د لیتــو ګرافی دآثارو سره دمنور ینــو بی اعتنایی تردی نژدی وختونو پوری وه یوازی دروانی پیړ ی‌په پنځو سمو کلونو کی دپیښور پښتو اکاډیمی وپتیل هٔچی‌د قصه‌خوانی آثار ټول او مطالعه کړی اودا کاریی مهم وګاڼه .

دقصه خوانی چاپ کوونــکواود کتابونو تاجرانو که څه هم ادبیات ښه نهٔشو تجزیه کو لی‌مګر دوی داخیستو نکو اومطالعه کوونکو غوښتنی ښی درك کړی‌وی اود خلکو په غوښتنو ښــه پوه‌وو. دوی پوهیدل چی خلــك‌هغه ادبیات غواړی چی افسانوی او اغراق آمیزه شکل ولـــری،دعاشق او معشوقی خبری پکــی وی، دفراق سختی پکی تــمثیل‌شوی وی اورنګ او روغن یــی ښه‌وی .دغو تاجرانو به شاعران‌تشویقول چی په زړه پوری‌قصی ورته پهٔشعر ولیکی او په عیــن‌حال کی بهٔیی دخپل هدف‌سره‌سم اعلانونه چاپول اوپه اعلا نــو نوکی بهٔیی داښوده چی فلا نـــی تاجر ښه کتابونه چاپوی، پــهٔارزانه بیهٔیـــی ورکـــوی اود مراجعینو سره ښه وضع کو ی‌چی ددی اعلانونو په نتیجه کـــی داسی بیتونه منځ ته راغلل چی‌هغه دپښتو ادب خاصه نهٔده‌بلکی تشویقی اود اعلان شکل لری‌مثلاهغه بیتونه دادی :

داکتاب می خاص وده لــر ه‌تیار کړو

آواره مــی‌ددنیا ټول کارو بار کړو

خاص دده قصه خوانی کی‌دی‌دکــان

پهٔهر ځای‌کی لګه نمر هسی عیــان

په هر ځای یی دنیکی تللــی‌آواز دی

خدایه ته‌کړی‌په جهان کی سر فراز دی

هم دچاپ نه شته بل چــا تهٔاجــازت

ده صرف‌کړی‌دی پری ډیرمال و دولت

چی یی نفع په نقصان نه‌شی بدله
ځکه‌ماو کړه خبره لــه او لــه

که دچاپی اخیستو ته‌کیږی‌مینه
په‌تلوار دده دکان ته دی را ځینه

په دکان دده ډیر نور دی کتابو نه
په ارزان‌قیمت موندی شی‌ای اخونه

طالبانو سره ډیر کـړی رعایـت
کتا بو نه‌ور کـوی په لږ قیمـت

که‌یی ماکړی په‌کتاب کی‌صفت دی
دلیدوداوریدو ډیر تفـاوت دی

چی یی ووینی پخپله بنه‌به خرگند شی
دتقریر به‌پیدا هله جوړی خوند شی

پسی شاکه څوك دچاستایی‌هنر
اوریدونکی‌پری هرگز نه کړی بـاور

داصفت پکی موجـود دی واړه خاص
هسی نه‌چی پکی شته څه‌کوزو پاس

دتعجب خبره داده چی دغـــه بیتونه دیو مشـــهور اولســـی روایت (قصه دفتح خان) کـــی‌راغلی دی، دغه‌قصه دملانعمت‌الله له خوا په‌پښتو شعر بیان‌شوی‌ده‌دی دیوه مخصوص سبك استاد دی او مخصوص ادبی مکتب لری‌ده دقصه خوانی دادبیاتو سـره نژدی ارتباط لاره او دده ډیـرآثار په قصه خوانی کی چـاپ شوی دی .

کوم اساسی‌آثار اومحصولات‌چی دنولسمی پیړی په نیما یی کی دپیښور په لیتو گـرافـــی‌ماشینونو چاپیدل هغه زیاتـــره منظومی حماسی قصی وی چی‌له‌ډیر پخوا څخه دمنځنی او نژدی ختیځ په ادبیاتو کی موجودی وی‌اوهم دهندی ملتونو په ادبیاتو کی لیدل کیدلی .

دپښتنو په‌نزد د(قصی)اصطلا ح‌په نثری آثارو هم صادقیږی چی له‌ډیر پخوا څخه منځ‌ته‌راغلی‌دی اویا زموږ په‌عصر کی جوړ شوی‌دی. پښتانه ادب پوهـــان‌عقیده ښکاره کوی چی قصه دیو

مستقل شعری ژانر په حیث پـه پښتو ادب کی په اووه لسم قرن کی ورداخله شوه. لومړنی پښتون شاعر چی دا رنګ منظومو قصو ته یی مخ اړولی دی هغه دخوشحال خان ختك معاصر فیاض ؤ. ده د روم دشهزاده (بهرام اوګل اندامی) قصـه په پښتو نظم لیکلـی ده دغه قصه په قلمی نسخو کی ساتل شوی ده اوهم څو ځلی په ډهلی، لاهور اود پیښور په قصه خوانی کی چاپ شوی ده.

کوم خصو صیتونه چی دپښتو تحریری ادبیات لری هغه دفیاض په دغه لومړنی قصه کی ځـا ی شوی دی. دعروض په علم برا بر بیتونه ویل شوی دی اود پیښتوله حیثه قصه پوره غنی ده .

لا دفیاض په ژوند کی ډیروشاعرانو د (قصی) ژانر ته مخـه کړی وه او دده تقلید ډیر وکاوه او منظومی قصی به یی لیکلی ، دفیاض ددغی قصی نه څو کالـه وروسته طالب رشید د قصیــــ همدغی نوعی ته هڅه وکړه اوپه ۱۶۹۲ کال یی دګل اوصنوبر مشهوره قصه په پښتو نظم کړه، دمنځنیو پیړیو دپښتو دکلاسیکو ادبیاتو لوی شخصیت عبدالحمیدهم دقصی له جذابیت خلاص شوی نه دی اود شاه اوګدا قصه یــــی په پښتو نظم کړه چی دغه قصه دلومړی ځل له پاره په پیښور کی په ۱۸۸۲ کال کی چاپ شوه. دغه نوی ژانر سره بل لوی شاعـــر عبدالقادر ختك دخوشحال خـان زوی هم خپله مینه وښـوده اودجامی (یوسف اوزلیخا) یی پــه پښتو نظم ترجمه کړه، دغه قصه په ۱۸۷۱ کال کی په پیښور کی چاپ شوی ده

دپښتو لومړنیـو قـــصو دا خصوصیت نه لاره چی دپښتنو دژوند نه به راوتلی وی، پښتنو مولفینو زیاتره عنعنوی موضوعا تو ته هڅه کوله چی هغه د ټول شرق ګډمال ګڼل کیږی .

په دی باب دنو ښار پروفیسر عبدالروف سمه وینا کړی ده،

دی وایی چی دنورو اشعارو څخه دمنظو مو قصـو فرق دادی چی ددغو قصو موضوعا ت د محلـی محدو دیتو نو نـه خلاص د ی او یوازی په پښتنو پــو ر ی انحصار نه لری. دپښتو د قصو زیاتره موضوعات چی چاپ شوی دی اویا په قلمی نسخو کی ساتل شوی دی دشرق دادبیاتو نــه را قتباس شوی دی. له عربی نــه

نیولی ترهندی ادبیاتو پوری .

دپښتو په تحریری ادبیا تــوکی دقصو دانکشاف مهم وخــت ۱۶۹۹ کالؤ. پهدغه کال کــــیصدر خان خټك دخوشحال خټك زوی د (دلی اوشهی) منظو مــهقصه پای ته ورسوله، دادپښتنو په منځ کییوه مشهوره قصه دهاوهم په ۱۷۰۵ کال کی صدرخان خټك یوه بله منظومه قصه(آد مخان او درخانی) تکمیل کـړه، پهدی ترتیب په پښتو کی دقصینوعه پهمحلیاو پښتنیموضوعاتو سره غنی شوه، پههغوموضوعاتوسره چی دشفاهی آثارو دخزانی نه راوتلی دی. یعنی په منظوموقصو کیخپل پښتنی سو چــــه روایات او موضوعات داخـــــل شول .

دصدر خان منظو مو قصو پهاول کی دخلگو پوره توجه جلب نه کړای شوه او ممکن علت بهیی داوچی پښتنی تحریری قصو لرغونی عنعنی ماتی کړی وی.دپښتو قصی پخوا معمولا دنثرپه ژبه وړاندی کیدی چیپهحماسیتصویر ونو ،نارو یاغړو نو به ښکلی شویوی، دوخت پهتیریدوسره دفیاضاوصدر خاندپلویانو شمیر زیاتیده اود ۱۹ــاو ۲۰ــپیړیو په حدودو کی دمنظو مو قصو فورم یو معتبر او حـا کمفورم وګڼل شواو هر شـا عــر کوښښ کاوه چی قصی په نظمولیکی اوخپل استعداد وښیی .

هو ! هغه پښتنی قصی چیپه نظم بیان شویدی دفصا حت او بدیعی شکل له حیثه د هغــوقصو نه وروسته پاتی دی چــی په نثر لیکل‌شویدی. دپښتونخواپه بازارونو کی تر اوسه پوری ډیر هغه کتابونه پیدا کـیږیچی دنولسمی پیړی په نیما یــی کی په قصه خوانی کی چاپ‌شویدی. حتی که څوك دقصه خوانی دآثارو سره لږ غوندی آشناشيډیر داسی کتابونه به ووینـــی چی افسانی روایتونه پکی پــهشعربیان شویدیاود ډیرولیکوالو او شاعرانو نومونه به ومــو میپهدغو نومونو کی دوا قعــــی استادانو ، ماهرو او رښتیا نیوشاعرانو نومونه پیدا کیږی چی ددوی اصلی وظیفه قصی نظــمکول نهدی بلکی ددوستانو او، کتابونو دتاجرانو دسپارښتو نوپه اساس اود پیسو دګټلو لــه کبله یی دغه کار کړی دی. لکهچی پښتون ادب پوهانو خیــال

بخاری همداسی و یلــــی دی (زیاتره شاعران چی دغه په نظم قصی یی لیکلی دی دملګـــرو دمشورو دتاثیر لاندی راغلی دی اویا دکتابونو تاجرانو فرمایش ورکړی دی ).

په‌دغو قصو کی بدیعی استعداد کم لیدل کیږی او څه چی دبلاغت له‌پاره ضروری دی هغه پکی‌نه‌لیدل کیږی مګر دپیښور دپښتو اکاډیمی دمشر مولانا عبدالقادر په‌عقیده ددغو قصو په‌منځ کی چی لا تراوسه دادبپو هانو لـــه‌خوا مطالعه شوی او تجزیه شوی نه‌دی کیدای شی چی دپښتـــون‌ملت دادبیاتو واقعی شهکـــاری ومونډلی شی .

**ملانعمت الله :**

دنولسمی پیړی ددو همـــــی‌نیمایی دپښتو دتحریری ادبیاتو ستر استازی ملا نعمت اللهٔ، ده‌مذهبی تحصیلات سرته رسولی‌و مګر دملا شغل یی پریښود او په‌راتلونکی کی‌یی خپل ځان‌بیخی هغو چارو ته وسپـــاره چی ده‌ورسره مینه لرله. دی دفولکلور او کلاسیک ادب مشهور استاد ؤله کومه ځایه چی ده دخپلو آثارو موضوعات را اقتباس کړی دی. دمستعد استاد او هنـــر منـــد نعمت الله نه‌په سلګونـــو زره‌بیتو نه په میراث راپاتی دی‌مګر دده ټول آثار په ارزښت کی‌سره‌برابر نه‌دی، ټیټ اوپاس پکـــی شته. نعمت الله یوه سلسلـــه‌منظومی قصی لیکلی دی چـــی‌د پراخو موضوعاتو او پیښو لـــه‌حیثه امتیاز لری، دده علا قـــه دافسانوی موضوعاتو سره زیاته‌وه اوهم عشقی شیانو اود عاشق او معشوقی راز اونیاز دده توجه‌جلب کړی‌وه . ده دعـــنعنـــوی آهنګونو حق ادا کړی‌دی اوپه‌دی‌سبک کی یی ډیر کارکړی دی، ددغه زورور شاعر داهنر بنـــه‌زده‌ؤ چی په څه‌ډول دلوستو نکو توجه خپل اثرته را واړوی، ده‌به دخپل اثر په لومړیو بیتو نو کی‌دطبیعت یوه پیښنه‌په خوږ‌واوزړه وړونکو الفاظو تر سیمو له چی‌دغی پیښی به‌داصل موضو ع سره سم ارتباط لاره اوبیا به‌یی په موضوع پیل کاوه. دنعمت‌الله‌په وینا کی داقوت شته ترڅوچی کتاب ختم‌نه‌شی ترهغی یی څوک‌دلاسه نه‌غور ځوی .

نعمت الله دهغو مولفینو له‌جملی نه‌دی چی‌مطلب یی‌په‌ساده،

فصیحه ژبه بیان کړیدی. ده‌منظومې قصې چې دنا لوستو (بیسواده) خلکو په‌منځ کې‌لوستل کیږی هغوی هم‌وربانلدی ښه پوهیږی .

دنعمت الله دشعر عالی‌صفات‌دده په‌هغو قصو کې ښه څر گند شوی دی چې په پښتنی اولسی‌روایاتو بنادی لکه دفتح خان کندهاری قصه، دموسی خان او گلمکی قصه اود جلاد خان او شمایلی قصه‌شوه. ددغو منظو موقصو په‌باره کې یوافغانی لیکوال داسې ویلی دی: «دغه قصې په‌خورا لوړ شعری هنر سره بیان شوی دی اود نظم د شهکار یونمونه ده .»

کومو پښتنو شاعرانو چې‌دمنظومو قصو ژباړته مرا جعه کړی وه دهغو ټولو معنوی پلاراو استاد نعمت‌الله گڼل کیږی اودده په‌شاگردانو کې وتلی اومشهور شاگرد ملااحدجان ناظم ؤ ده‌خارجی قصی په پښتو نظم‌را اړولی اوپه دی لارکې یې ډیر کار کړیدی. دملا احمد جان‌ناظم دغه منظومې قصې (شهزاده ممتاز ، یوسف اوزلیخا، طو طی‌نامه- چنبی او شهزاه) په‌پیښور کې په‌مکرر ډول چاپ شوی دی‌مگر دومره خبره ده‌چې دملااحمد جان ناظم اود منظومو قصودادبی مکتب دنورو شاعرا نو آثار د نعمت الله آ ثا رونه په بدیعی شکل کې ډیر وروسته دی اوسیالی ور سره‌نه‌شی کولای .

**مولوی احمد :**

دقصه خوانی دآثارو سره‌مولوی احمد هم خپل ټینگ مناسبات ساتلی‌وو اود پیښورپه‌دغه بازار کې به‌دده آثار چاپیدل او خرخیدل. دی دپښتوداوسنی هنری نثر له موسسینو څخه دی (۱)ده لومړی منظو موقصو ته مراجعه کړی‌وه او په دی لارکې یې پوره برخه‌اخیستی‌ده. په‌پیښور کی‌دمحلی شاعرانو په منځ کې دمولوی احمد آثارشهرت لری مگر دده په‌باره کې معلومات ډیر لږدی. ده په خپله‌قصه (غل اوقاضی) کې د خپل ځان په‌باره کې یودوه بیته‌ویلی‌دی چې دهغو نه یوازی دده

---

(۱) داموضوع دغور وړده ،دغه افتخار دراحت زاخیلی په نصیب دی .

دنسب سلسله معلومیږی د هغوبیتو نو مضمون داسی دی :

ز ه داشنغـر یـم　　اوکورمی دتنگی په کلی کی دی

زما قوم مسافر خیل دی　　او خاص بیاابراهیم خیل یم

له دغی بیو گرافی نه چی په شعر سره د(غله او قاضی) په قصه کی بیان شوی ده مـو ږیوازی دمولوی احمد نسـب معلومولای شو مگر دمولوی دلقب نه ښکاری چی دی روحـانـی شخصیت دی او مذهبی علوم یی حاصل کړی دی .

مولوی احمد ډیر منظوم کتابونه دپښتنی افسانو، روایاتـو او قصو په باره کی لیکلی دی. په ۱۸۷۳کال کی په پیښور کی دده منظومه قصه (آدم خـان او درخانی) چاپ شوه، په ۱۸۷۵ کال کی (باد شاه او جمجمه )، پـه ۱۸۷۷ کال (غل اوقاضی) او په همدغه کال کی په ډهلی کـی د(شهزاده بهرام )قصه دده له خوا چاپ شوی ده. ددغه لیکوال ځینی قصی تکرارا هم چاپ شـوی دی مگر دومره خبره ده چی دمولوی احمد په طبیعت منظومی قصـی برابری نه وی اونه ده داکـار پخپله خوښه کاوه. داکار ده د ملگرو په فرمایش کاوه. ده پـه هغه چاپاندی په مستقیمه توگه انتقاد ونه کړیدی چی دی یـی داسی منظومو قصوته اړ کاوه، دی داسی لیکی :

پیښورکی دی زمایودوه یاران　　مومنان سلمانان مـو حـدان

هغه یودی دمحمداکبر په نوم　　نوم دبل میامحمد ښکاره معلوم

وی چی دانښکلی قصه زموږ دپاره　　په پښتو ژبه آسانه کړه تیاره

ماچی فکر وکړ ډیر سـره ځان

پاتی شوم په دی خبره کی حیران

وی می دا قصـه هیڅ اصل نه لرینـه

چی سړی یری درښتیا گومان وکړینه

اوس که دا پښتو کوم کارخرابیږی

او که نه کوم یاران می خپه کیږی

مولوی احمد دنولسمی پیړی دپیښور دادیبانو په منځ کـی لومړی سړی دی چی لنډی لنډی فولکلوری قصی او حکایتو نـه یی په خواږه او بلیغ نثر سـره لیکلی دی اود پښتو د هنـری نثرونو دلومړیو مو سسینو څخه گڼل کیږی ، دده دحکایتو نـو

موضوعات دوخت په تیریدوسره‌دتول شرق عمومی مال‌گرځیدلی دی اوپه کوم مشخص قوم پوری‌ارتباط نه لری .

قصی ،حکایتونه ، نکلونه اوافسانی دپښتو په قصه خوانه ی کی ویل کیدلی اوګڼ شمیــــراوریدو نکی یی لرل، ددغـــو اور یدونکو له جملی نه‌یوپخپله‌مولوی احمدؤ ددغــو آثـــا رو خصوصیت داو چی اختصار یی‌لاره ، فصاحت یی‌لاره متلو نــه او محاوری پکی راتللی اوهمدغه‌سپک او ژانر مولوی احمد هـم دخپلو آثارو له‌پاره انتخاب کړ.

په ۱۸۷۳ کال‌کی‌په لاهور کی‌دمولوی احمد نهه ځلو یښتــــت حکایتونه په هغه کتاب کی چاپ‌شول چی (گنج پښتو) نو مېږی، دغه کتاب څوواره چاپ شــو ی‌دی، دغه کتاب تول په‌انگریزی ژبه د (ت. پلاو دین) له خـــواترجمه شوی او دوه ځلی په‌لاهور کی په ۱۸۷۵ـاو ۱۸۹۶ کلونو کی چاپ شوی‌دی اوهم ځینـــی برخی یی په‌روسی او ازبکی‌ژبو ترجمه شوی اوچاپ شوی دی . ددغو لنډو حکایتونو موضوعات‌دنورو ژبو په‌کلا سیکو ادبیا تو کی هم راغلی دی .

مولوی احمد دغه حکا یتو نه‌په‌داسی ماهرانه ډول سره‌لیکلی دی چی څوك ورته ترجمی‌نه شی‌ویلی، پښتون ادبپوه خـــیال بخاری ځنگه سمه وینا کړیده.(دمولوی احمد حکایتونه عـــادی ترجمی نه‌شی بلل کیدای) اویوافغانی لیکوال بیا ډیره غـــوره خبره کړیده : «په دغه کتاب‌کی‌یوه سلسله داسی فوق العاده او حیر تناکی قصی راغلی دی چــــی‌دپښتون ملت دفولکلور له منځ نه راوتلی دی، دغه قصی دپښتنوملی صفتونه بیانوی اوهمداوجه ده چی دغو قصوته دشناهی‌آثارونوم ورکړای شوی دی.»

گنج پښتو په‌ساده ژبه لیکل‌شوی‌دی، دپښتو محاوری تـــه نژدی دی اوپښتنی رنگ پکـــی‌برڅوت دی، دگنج پښتو زیا ترد قصی په‌یوه مقدمه پیل کـــیږی‌چی دامقدمه دیومتل اویا داسی مضمون نه‌عبارت وی‌چی داصــــل‌قصی سره اړخ لگوی. مثـــلا د (بوډی اوباز) حکایت په‌دی متل‌باندی پیل شوی‌دی ( دکم عقـــل سړی دوستی له دښمنی سره‌برابره‌وی) اوکله‌کله د قصـــــی

په آخر کی څو بیتونه را وړل کیږی چی دقصی روح پکښی بیانیږی اوقصی سره ارتباطلری اوداکار دسعدی په گلستان کی‌هم شوی‌دی چی نظم او نثرپکی گډوډ راوړل شوی دی ۰

دگنج پښتو په آخر کی‌مثنوی‌راغلی ده چی دڅږبی صفت پکښی شوی دی اوڅږبه دراشی اودر شی‌یوه مهمه وسیله بلل شویده، دگنج پښتو دحکایتونوموضوعات‌او مطالب بیخی مختلف دی او رنگارنگ موضوعات‌پکی ترسیم‌شوی دی او داسی حکایتونه پکی شته چی دفکاهی حیثیت‌لری‌او سړی خندوی لکه دبخیل سړی حکایت ، داحکایت په‌دی ډول‌دی چی دبخیل سړی‌هم مال زیانیږی‌او هم‌یی غم زیاتیږی یعنی دوه‌تاوانه‌ورته پیښیږی لکه یو بخیل سړی ؤ چی ډوډی یی دشاتو سره خوړه‌ناڅاپه په کوڅه کی‌کوم میلمه سړی ورته آواز وکړ، ده په‌تلوار سره هغه ډوډی لری کړه اوچی شات‌یی لری کول‌میلمه پری ورغی، شات‌یی لری نه کړای شول. دبخیل گومان‌داو چی دی‌به یوازی شات‌و نه خوری نو ورته یی‌وویل چی‌خوره کډنه! که شاتوته دی‌مینه کیږی ! میلمه وویل چی ښه ده‌ښات خوډیر ښه شی‌دی ولی به یی نه‌خورم نولاس یی وربانډی‌پوری کړ، شات‌یی ختل چی څه قدریی وختل نوهغه بخیل ته‌یی‌وویل چی‌بی شانه ښه خوند لری بخیل وویل چی رښتیا دی‌وویل‌مزه‌یی شته خوډیر یی‌مه خوره دسړی زړه سیزی. میلمه وویل‌چی بی‌شکه ډیر ښه‌وایی زړه سیزی خوستا زړه سیزی نه زما دپښتو گنج په ساده قصو کی پوخ فکر، زړور تیا، زیر کی‌اود اشخاصو نور په‌زړه پوری خصوصیات راغلی دی مثلا په‌یوه قصه کی راغلی دی‌چی‌څرنگه هوښیاری اوزړوری سویی خپل‌ماحول دظالم پړانگ له منگولو نه خلاص کړ، دحکایت روح‌داسی دی چی زور ورنه شی کولای چی دتل‌له‌پاره په‌کمزوری‌بری ومومی ۰

منظومو قصو او او لسی‌نکلونو سره لاتر اوسه پوری بیخی دلیکوالو علاقه نه ده‌شلیدلی ، دا کار اوس هم روان دی ۰

مولوی احمد دادب او متن‌پوه‌په حیث هم شهرت لری او

انتقادی متنونه یی تیار کړیدی مثلا د عبد الرحمان ټول دیوان دځو مختلفو قلمی نسخو نـــه ترتیب کړ، مختلفی نسخی یی مقابله کړی اویوه غوره نسخه یی ورنه جوړه کړی، ،دده دغــه مقابله شوی نسخه پښتون خطاط غلام جیلانی په ۱۸۷۲ کال کـــی پاکنویس او خطاطی کړه مګــر دغه مکمله نسخه انګریزا نـــو لندن ته ولیږله او لاتر او سه پوری دلندن په موزیم کی دنورو پښتو غصب شوو نسخو ســـره ساتل شوی ده .

مولوی احمد د (تاریخ فرشته) نه چی د ۱۷ قرن دمغولو دمورخ محمد قاسم فرشته تالیف دی یوه برخه یی په پښتو ترجمه کړه ، دغه برخه دلسمی او یوو لسمی پیړی واقعات بیانو ی مثـــلا دمحمود غزنوی دحکمرانی دوخت پیښی رابښیی، محمود دغزنی د حکمرانی موسس دی .

دپښتو دنوو تحریری ادبیاتو دتشکل، جوړښت او ترتیب لـــه پاره چی کومه پخوانی مــر حله پیل شوی وه هغه دمولوی احمد په آثارو سره تکمیل شوه یعنی په دغه لارکی چی کـــو مـــی نیمګړ تیاوی پاتی وی هغه ده پوره کړی هم یی دنظم خوا اوهم یی دنثر خـــوا بشپړه کړه دغـــی پخوانی مرحلی په فولکلور تکیه درلوده اود فولکلوری عنعنو نه یی الهام اخیست اودا بی علتـــه نه ده چی دپیښور قصه خـــوا نی داوسنی پښتو شعر او نثرزانګو ده ځکه چـــی د مـــولوی احمـــدغوندی ادیبان دغه ځای تـــه منسوب دی او آثارویی په دغـــه ځای کی انکشاف کـــړی دی او زیاتره یی همدلته چاپ شویدی، دقصه خوانی له برکته لومړ نی چاپی ماشینونه منځ ته راغلـــل اود قصه خوانی له برکته ډیرو هغو لیکوا لو نومونه را ښکاره شول چی دپښتنو دکلتور پـــه تاریخ کی مناسب مقام لری .

دقصه خوانی آثارو د پښتـــوداوسنیو ادبیاتو له پاره اســـاس اوښه زمینه برابـــره کـــړه اولیکوال او شاعران یی دعوت کړل چی خپل استعداد په کار واچوی مګر دنولسمی پیړی په آخر کی دقصه خوانی پـــه آثـــارو اومحصولا تو کی ښکاره تنزل او سقوط ولیدل شو. نوو ټولنیزو مناسباتو او نوو اجتماعی قوتونو

تقاضا کوله چی آثار دی پداسی‌سیستم ولیکل شی چی دو خـت غوښتنو ته ځواب ووایی. ددغوغوښتنو په‌مقابل کی لومړ نـی مترقی او تنویری ایډیا لـوژی‌منځ‌ته راغله چی په ادبیاتو کی یی ځان ښکاره کړ. دغه منوره‌ډله داستعمار او فیوډالیزم سره لاس په گریوان شوه اوپه ډیری‌سختی سره یی ځان‌ته لارخلاصه کړه .

## د ښځو په سيمه کې د انجيل تبليغ

مسيحي مبلغينو چې د شرق په هيوادونو کې کوم فعاليت کاوه هغه يې د استعمار چيانو په باوري تکيه او ډاډ کاوه او که دا ډاډ او حمايه ورسره نه واى د اکار کيدونکى نه و، په وروسته پاتې اولسونو کې د مذهبي تبليغ «د تمدن د تخم» د کرلو په پرده کې مسيحي مبلغينو په ښکاره ډول ورسره د خلکو په ورځنيو چاروکې مداخله کوله او بې تکليفه يې د محلي خلکو په ديني چارو کې ځان شريکاوه .

دغه مبلغين د هغو اولسو نو په ژبه او عاداتو ښه پوهيدل د کومو چې دوى غوښتل په خپله خوايي را واړوى او تير يې باسي. دوى په ډير ماهرانه ډول ورسره خپل هدف وړاندې بيوه او په يوه تياکلي لارکې يې خپل فعاليت ته دوام ور کاوه. د مذهبي مبلغينو فعاليت او کار نننيو د امپرياليستانو د نماينده گانو له خوا ستايل کيدلى. مثلا ونستون چرچل يوسيم اعتراف کړيدى او ليکي: «هر پول چې د مبلغينو په فعاليت باندې لگيږي هغه د ښې اداري زيرمه ده. په تبليغ هر لگول شوى پول هغه پونډونه زيرمه کوى چې د مرکزى ادارى په چارو کې پکاريږي ځکه چې دوى سوله غواړي، قانون ټينگوى او د اولسونو په منځ کې نظم او ترتيب قايموى» . هو ! د مسيحي مبلغينو ټول فعاليت دې ته متوجه و چې په مستعمره هيوادونو کې د استعمار چيانو قوانين او ترتيب قايم کړي او له دې لارې خپل حکومت ته خدمت وکړى .

د هند پراخه نيمه وچه او ورسره نښتې گاونډي سيمې لا د

ډیر پخوانه دمسیحی کلیسا پــه نظر کی‌وی او ددوی توجه یــی جلب کړی‌وه. دانګلیسانو لخــوادهند داشغال نــه وروســـته د مسیحی مبلغینو دفعالیـــت اوددوی دوظایفو دانکشاف له پاره ډیر ښه شرایط منځ‌ته راغلل .

داستعماری حکومتو نو له‌پاره‌مسیحی مبلغین دمهمی الی پــه حیث ګرځیـــدلی وو اود دوی‌سیاست یی عملی کاوه. دغـــو مسیحی مبلغینو دپښتنو له‌سیمی‌سره هم کمه علاقه نه لــر لــه «دباپتیت دمسیحی مبلغیـــنو دټولنی» استازی ویلم کیری په ۱۷۹۳ کال کی دلندن نه‌کلکتی‌ته راغی، دده په ابتکار پـــه ۱۸۰۰ کال کی دسیرا مپور په‌کلی کی (کلکتی ته نـــژدی) د مسیحیا ددکتو رین د فعـــا لو تبلیغاتو یوه ټولنه جوړه شـوه. کیری اودده ملګرو دهند یـانوله پاره په‌سیرامپور کی کـالج پرانیست اوور پسی یی‌ډیر زریوه مطبعه هم‌ترلاسه کړه. پــه دغه مطبعه کی مسیحی ادبیـات‌په ختیځو ژبو چاپیدل .

په ۱۸۱۸ کال کی ( دبرتانیی‌دانجیل دترویج دټولنی) پـــه غوښتنه او ددغی‌ټولنی په‌مصرف‌په سیرامپور کی‌په پښتو ژبـــه دانجیل ترجمه چاپ شوه چی‌نوم‌یی‌ؤ (دخدای تمامی خبری)، دا کتاب په ښکلی صحافت او اعلی‌کاغذ چاپ شوی‌دی اوطلا یـــی وقایی لری. وروسته‌ ورو سته‌مطبعی انکشاف وکړ اوپه پښتو ژبه خوکتا نه ووتل مګر پـــه‌صحافت او ښایست کی‌دغـــه لومړی کتاب سره سیالی نه‌شی‌کولای دانجیل په‌پښتو تر جمـه کی که څه‌هم دمشهور ختیځ‌پوه‌او افغان پیژندو نکی انـګریز (جان لیدن) ترلار ښودنی لاندی‌شوی‌وه خو دغی ترجمی نیمګړ تیا وی لرلی اوحتی دده هیواد والرا ورتی په‌دغه ترجمه اعتراضو نه کړیدی اولیکلی یی دی چی‌په دغه ترجمه کی‌خو دغر ضـــی اود اصالت څخه انحرافات شته‌چی دمقدسو لیکنو څخه ډیـری لری دی اوهیله یی ښکاره‌کړیده‌چی دنوموړی له‌خوا په پښتـــو باندی دانجیل په‌نورو تــر جمــوکی دا نیــمګـړ تیــاوی چــاپ نه شی. .لیدن داخوند دد ویزه‌کتاب مخزن الاسلام هم پـــه انګریزی ژبه ترجمه کړی دی‌چی‌په‌دی ترجمه کی‌هم دا ســـی

تحریفات اوخو دغرضی شوی‌دی‌چی‌داصل‌کتاب سره مطابقت‌نکوی
په ۱۸۸۲ کال‌کی په‌سیرامپور‌کی په پښتو ژبه یوکتاب (پنځه کتابه) چاپ شو. لــه‌دی نــه وروسته دسیرا مپور داد بیا تو په‌چاپ کی بندښت راغی او دغه‌بندښت ځولسیزی ونیولی. کله چی انګلیسانو پښتنی خــا وره‌ونیوله نو دمسیحی تبلیغ‌وظیفه هغو عسکری افسرانو په غــاړه‌واخیسته چی دکلیسا سره آشناؤ داموضوع چی دپښتنو په خاوره‌کی دمسیحیت او انجیل تبلیغ نظامیانو په غاړه اخیستی‌ؤ اودبرچی په‌زور یی غوښتل چـــی عیسویت خپور کــړی یــو ی‌سکاتلنډی لیکوالی (فــلور ی داوید سون) هم‌تایید کړیده ، داد (پتهی لاری) نوم کتاب مولفه اود سکاتلنډ دمسیحی تبلیغا تودتولنی استازی ده. هغه لیکـی «لومړی ځل پوځیانو په سر حدکی دتبلیغ په‌چارو او سمبا لـو لوکی قاطع رول‌لوباوه خودافغان‌دجګړی په‌وخت ۱۸۳۹ کال کی چی ډیری بدمرغی یــی راوړ ی‌په افغانستان کی دانجیل دتبلیغ وظیفه اساسا دبرتا نوی پــو ځ‌دعسکری روحانی پوځیانو پــه غاړه ولویده » او پــه دی توګه‌بی‌له مبالغی څخه ویلی شو چی انجیل دپښتنو سیمو ته‌دانګریزی‌ښکیلا ګګـرو دبرچی پــه زور ورسید .

دنولسمی پیړی په‌منځ کی‌په‌پښتنی خاوره باندی دانګلیسانو دحملی نه وروسته دعیســـو ی‌مبلغینو فشار اوقوت زیات شو. په ۱۸۵٤ کال‌کی په پیښور کی‌دمسیحی مبلغینو موسسه جوړه شوه، په ۱۸٦۲ کال‌کی په ډیره‌اسماعیل خان کی دارنګ‌موسسه جوړه شوه اوپه ۱۸٦٥ کال کــی‌په‌بنو کی تاسیس شوه مګردکابل دامیرانو دحکومت په‌وخت کــی‌مسیحی مبلغینو ته دفعا لیـــت اجازه نه‌وه .

په پیښور کی دلومړی ځل له‌پاره په ۱۸۵٤ کال کی روبیرت کلارك استوګن شو. دی‌دمسیحی‌کلیسا ګانو دټولنی له‌خوا رالیږل شوی‌ؤ داټولنه په ۱۸۹۹ کـا ل‌کی په‌لندن کی‌جوړه شوی‌وه اود آسیا او افریقا په‌هیواد ونو کی‌یی یو زیات شمیر مبلغین خپاره کړی وو . دغـــی تــو لــنی‌په پښتنی خاوره کی دهغــو

آسانتیا ونه استفاده کوله چی استعماری حکومت ورته برابری کړی وی. پادری کلارك د خپلو سیرا میوری اسلافو کارونو ته دوام ورکړ اوپه پښتو یی انجیل ترجمه کړ اوپه ۱۹۰۰ کال کی یی دلندن په مطبعه کی چاپ کړ. د۱۸۵۷ په سرکی په پیښور کی یو بل ستر مسیحی مبلغ ایسیدورلووینتال منځ ته راغی. ده پخوا په امریکی کی مسیحی پرسو نل چمتو کاوه ده د (نوو وصیتو نو) متن دچاپ له پاره تیار کړ اوپه ۱۸۶۳ کال کی په لندن کی چاپ شو. ده دمسیحی چارو سره یوځای څوځو ځلی په پښتنی سیمو باندی دانگریزی پوځیانو خونړی یرغلونه برابرول اوحتی په ځینو کوماندو یی عملیاتو کی یی پخپله هم فعال گډون کاوه. د ۱۸٦٤ کال دمارچ په میاشت کی لووینتال په خپل دفتر کی ووژل شو اوپه دی ترتیب په جزا ورسید.

دکلارك اولو وینتال په تعقیب دمسیحی مبلغینو څو نورنسلونه په وار سره راغلل. دوی زیاتره هغه کسان ووچی ځان یی خاص ددی له پاره وقف کړی ؤ چی مسلمانان عیسوی مذهب ته واړوی اوپه دی لارکی زیات حریص وو. ددغو مبلغینو څخه ځینو دانجیل دیوی برخی هغه پښتو ترجمه تکمیل اوسمه کړه چی په ۱۸۸۲ کال کی په لندن کی چاپ شوی وه. دا تکمیلی اوسمه ترجمه په ۱۸۹۰ کال کی چا پ شوه مگر په ۱۸۹۵ کال کی ددغو مبلغینو دزیار له امله دلومړی ځل له پاره دټو ل انجیل پښتو ترجمه چاپ شوه .

مسیحی مبلغینو نه یوازی داچی تبلیغ یی کاوه بلکی په ابتدایی مکتبو نوکی یی دمعلمی وظیفه هم اجرا کوله اوپه څنگ کی یی دطباعت چاری هم ورسره پرمخ بیولی چی ددی کار دوی ته دجاسوسی وظیفه آسانه کړی وه.

ځینو مسیحی مبلغینو شخو ته دا موقع هم په لاس ورغلی وه چی په پښتنی کورنیو کی داخلی شی او خپل معلومات پوره کړی. ځینی مبلغین دلباس په تغیر اود نو م په بدلولو په پښتنی سیمو کی گرځید ل او خپل فعالیت یی کاوه.

مگر سره ددی چی مبلغینو مختلف چلونه کول او مختلف

وسایل یې په کار اچول او سره ددې چې دوی زیات فعالیت کاوه بیا هم په پښتنو یې دومره اثر نه کاوه او د دوی هڅې بې ځایه تللې او په دې حقیقت باندې پخپله انګلیسي منابع هم شاهدي ورکوي دهغه وخت انګلیسي اخبارو نویوه داسې احصایه خپره کړې وه. د پښتنو په سیمه کې ۵۷۶۲ – عیسوي مبلغینو فعالیت کاوه، د دوی د فعالیت په اثر یوازې ۵۳۲ تنو عیسویت ته مخه وکړه او نورو ورنه ښکاره انکار وکړ ددې سیمې لومړی سړی چې د مسیحیت داغیزې لاندې راغی هغه دلاور خان نومیده چې د (پټې لارې) مولفي فلوري داوید سون یې بشپړه خصوصیات په خپل کتاب کې بیان کړي دي. دلاور خان په انګریزي استعماري نظامیه کې شامل شو او په دې رشته کې دافسرۍ مقام ته ورسید. کله چې ده په ۱۸۵۸ کال کې دانګریزانو د مشرانو ارد او د پیښور د مبلغینو د استاذ ی پغاندیر نشیش سره وکتل دده په فکر کې تغیر راغی. د داو ید سون د وینا له مخې په هغه وخت کې ډیرو پښتنو قسم خوړلی ؤ چې ترڅو دلاور خان کرشتیانی مړنه کړي ترهغې به خواړه و نه خوري او اوبه به و نه چښي. دلاور خان دچترال په غرونو کې ووژل شو. دی هلته دکوماندو یـــــی عملیاتو له پاره لیږل شوی ؤ.

عیسوي مبلغین د پښتنو په نظر کې بیخي پردي او بیګانه ښکاریدل، دوی پښتنو ته داسې معلومیدل چې داستعمار چیانو دلاس الي دي او د هغو له پاره خدمت کوي، څرنګه چې پښتانه داستعمار چیانو سره سخت مخالفت لري ځکه ددوی نه یې ازادي اخیستې ده نو دهغه چا سره هم کلک مخالف دي چې د استعمار چیانو له پاره خدمت کوي که څه هم داخدمت یې په هر لباس کې وي.

استعماري حکومت دمبلغینو نه دالې په حیث کار اخیست او غوښتل یې چې ددوی په ذریعه پښتانه ځان ته مایل کړي او ځینې منورین او تعلیم موندلي کسان په استعماري دستګاه کې دخدمت له پاره جلب کړي او په همدې منظور دادوارد په پیشنهاد په پیښور کې یو کالج د پښـــتنو د ټولنې دلوړې طبقې له پاره لکه

ستر زمکوال، تاجران، خانان ، دقبایلو مشران اودښار مخور جوړ شو، کالج چې دادوارد په نوم مسمی شوپه پیښور کی په ۱۸۵۵ کال کی تاسیس شو. د کالج ژبه اساسا انګلیسی وه مګر اردو عربی فارسی اوسانسکریت هم پکی په فرعی ډول شاملی شوی اود پښتنو سره دتعصب له مخی ددوی ژبه پکی شامله نه شوه .

دډیرو کلونو په ترڅ کی دادوارد کالج داستعمار چیا نو له پاره دپرسونل له حیثه خدمت وکړ. دکالج شاګردان داستعماری رژیم سره دوفا داری په روحیه روزل کیدل، دوی ته په استعماری دستګاه کی کار ورکول کیده مګر نه کوم موقر او مناسب کار په دی کار سره استعماری رژیم مادی ګټه کوله ځکه دغو محلی خلکو ته دکار په مقابل کی هومره پیسی نه ورکول کیدلی څومره چی اروپا یانوته دکار په عوض کی ورکول کیدلی. کالج ته دپښتنو ځوانانو د رانګ ښخه دیوی اغیز منی وسیلی په توګه استفاده کیدله اوهدف داو چی استعمار چیان دغه رشدته رسیدلی نسل دفکر له حیثه خپلی خوا ته واړوی. شاګردانو ته په کالج کی دادرس ورکول کیده ( ارو پا په تاریخ اودټول بشریت دکلتور او خصوصا انګلستان دنړی په انکشاف کی قاطع رول اولوی لاس لری.) دغسی دغرض نه دډکو خبرو سیوری دادوارد کالج په ټولو څانګو باندی پورتۀ او تبلیغ کیدلی لکه چی د مبلغینو په نورو تعلیمی مراکزو کی داتبلیغ په شدن سره روان و.

دمبلغینو سازمان دانګلستا ن له پاره دملیتونو په ایل کو لو کی یو آسان شکلۀ اوهم دغومتجاوزو اوپراختیا غوښتو نکوپه دی کار باندی ځان تبریه کاوه.دعیسوی کلیسا کانو دخدمت ګارانو په تبلیغ کی زیا تره داسی ویل کیدل (دهندو ستان نیول دانګلیسی عسکرو کارنه ؤددی کار افتخار دعیسو ی مبلغینو په برخه دی. دوی دا کاردخپل ستر مشر (مسیح)دمعنوی حمایی لاندی سرته رسولی دی.داوینا دنولسمی پیړی دپای یو هندی اجتماعی شخصیت کیتوب چانریر سیل ته منسوبه ده چی دعیسویت دتبلیغ او خپرو نی وظیفه یی په غاړه اخیستی وه ،

مگر دده‌نور هیواد وال اوهغه‌اخوك چی دانگلیسی عسکرو د مظالمو په‌وخت کی موجودوو بیاپه‌دی عقیده نه‌دی اونه داسی اظهارات کوی .

پښتنو دآزادی په جنگونو کی‌دانگریز دمنظمو عسکرو او عیسوی مبلغینو په منځ‌کی فرق‌نه کاوه بلکی ټولو سره یوشان لاس په‌گریوان وو اود ټولو سره یی واهه. پښتنودټولوبیگانه عناصرو سره (منظم عسکرووکه‌مبلغین‌وو) یورنگ ددښمنی نه ډکه مقابله کوله اوپه‌دی لړ کی‌یی دمکتبونو دجوړولو سره هم سخته دښمنی لرله .

په‌دی باره کی دشلم قرن دپښتنو دملی آزادی دحرکت ستر مشر خان عبدالغفار خان داسی‌یادونه کړیده : (داسی یوسخت وخت ؤ چی‌زما اولس‌په تیاره‌کی شپی سباکولی زمونږ په‌سیمه کی کوم مکتب‌نه‌ؤ اوکه چیری په‌کوم ځای کی‌به مکتب جوړشو دملا یانو له‌خوا به ورسره‌قاطع برخورد کیده ،دوی به‌خلکو ته ویل چی په‌دغو مکتبونو کی‌سبق ویل دکفر سره‌برابردی.)

دخان عبدالغفار خان همکاردیلو چستان دپښتنو دملی‌مبارزو مشر خان عبدالصمد خان اخکزی‌یوځل داسی ویلی‌وو:( په هغو کلونو کی معارف یو هدف لاره‌چی هغه دحکومت له‌پاره د پرسونل تیارول وو ).

مگر ددی ټولو خبرو سره‌سره‌باید وویل شی‌چی دمکتب بو تاسیس اود ادوارد دکالج منځ‌ته راتگ تریوی اندازی پوری دپښتنو په اجتماعی او کلتوری‌ژوند کی دراتلونکونو جریاناتو په استحکام کی مرسته وکړه.دعیسوی مبلغینو دغرض څخه ډك نیت سره‌سره ددوی‌دمکتبونوشاگردان داروپا دکلتور، تمدن اوعلومو سره آشنا شول چی دی‌کار دپښتنو دنړی لید په وسعت او پرمختگ کی‌کومك وکړ اوهم‌یی دمنځنیو پیړیو دناوړو بقایاو دلری کولو په‌لار کی ددوی سره‌مرسته وکړه .

دمبلغینو فعالیت دخپلو بادارانودآرزو اود استعمار د سیاست په خلاف په‌لومړی مرحله کی‌دپښتنو دفکری رشد له پاره تشویق شو، په‌دغه مرحله کی‌په پښتنو کی ملی منورین پیداشول چی په‌دوی کی شاعران او نثرلیکونکی منځ ته راغلل، دوی

دپښتو داوسنی ادب لـه پـاره‌اساس کیښود اوخپل کلتور او ژبې ته یې پوره خدمت وکړ .

**پتریك هیوز :**

دمبلغینو په منځ کې چې پـه‌پښتنی خاوره کې‌یې ډیره موده تیره کړی‌وه یوهم توماس‌پتریك‌هیوزؤ. دی دپیښور دمبلغینو مشر اود روبیرت کلارك ځـای‌یې نیولی‌ؤ. دده نوم دنـولسمې پیړی ددوهمې نیمایې په پښتـوادبیاتو کې ډیر زیات راځی. د انګلیسی مورخ ملیسون دوینالـه‌مخی (کوم مسایل چې‌په پښتـو پوری ارتباط لری په‌هغو ټولوکې هیوز معلومات لری). هیوز مسیحی تحصیلات په‌لندن کـــی‌سرته رسولی‌وو ،دی هند تـــه راولیږل شو اوبیا په ۱۸۶۵ کال کې پیښور ته راغی. په‌خپل شل کلنی تبلیغاتی فعالیت کې هیوزخپله ټوله قوه دپښتنو په منـځ کې دعیسویت دخپرولو په لارکی‌صرف کړه اوپه دغه ورسـپارل شوی وظیفه کې پوره جدی‌ؤ.ده‌انجیل دویم ځل‌له سره پـه پښتو ترجمه کړ اود تبصرو سره یـی‌چاپ کړ. ده‌خپله زیاته تـو جه معلمی ته اړولی‌وه اود ادواردپه‌کالج کې ښوونکی‌ؤ. خو ددو ی دهیلی په‌خلاف دهمدی کالج‌زده‌کوونکی په راتلونکی کې ستـر اجتماعی شخصیتو نه شول .

هیوز دشرق پیژندنی اوخصوصاداافغان پیژندنی سره زیاته‌علاقه اوشوق لاره اوپه‌دی ساحه کـی‌یو رسیدلی شخص‌ؤ. دده پښتو اردو اوعربی ژبی ښی‌زده وی .په پیښور کې دده ډیرو کلونو پاتی کیدلو ده‌ته دا امکا نـات‌ورکړل چې دپښتون اولس‌تاریخ ادبیات اوفولکلور په مفصلـه‌توګه زده کړی دده معلو مـات او څیړنی دده په ډیرو آثاروکی‌چاپ شوی‌دی اود ډیروتالیفا تو څښتن دی .په ۱۸۷۲ کال کـی‌دده له‌خوا دافضل خان ختـــك (تاریخ مرصع) چاپ‌شـو. دوه‌کاله وروسته بیاده په کلکته کې دپښتنو تاریخ په انګلیسی ژبـه‌چاپ کړ. هیوزپه‌اسلامی قوانینو او اسلامی چاروکی هم‌لوی لاس‌لاره اود اسلام په‌باره کی‌یی‌ډیر څه تالیف کړی اود علاقه‌مندانوله پاره یی وړاندی کړی دی.په پیښور کې دهیوز دراتګ سره‌سم ډیرپښتو آثار چاپ شـول،

دا وخت دقصه خوانی بازار دشعراو ادب له حیثه پــه‌جــوش او خروش کی‌ؤ. دلته به دمحلــی‌شاعرانو او لیکوالو آثار چاپیدل اودغه ځای نوم ویستلی‌ؤ.دغولیکوالو په منځ کی یوموڵــو ی احمدؤ ده‌په ډیرو کلتــوری اوعلمی چارو کی دهیوز ســـره مرسته کوله،دهیوز په غوښتنه‌مولوی احمد دانجیل ځینی ټوټی په پښتو اشعارو ترجمه کړی او(درمرجان) نوم‌یی ور بــا ندی کیښود اوپه ۱۸۷٤ کال کی په‌پیښور کی چاپ شو، هیوزدهغو انګریزانو له‌پاره چی پښتو یــی‌زده کوله درسی کتاب ( کلیــد افغانی) چاپ کړ او ددی کتا ب په‌مقدمه کی‌یی دچاپ باعـــث ښودل شوی‌دی اودایی هم‌واضحه‌کړی‌ده چی ولی داکتاب پــــه (کلید افغانی) سره‌مسمی شو. سره ددی چی هیوز سترانګلیسی نماینده اودکتنی وړ شخصیت ؤبیاهم ده‌په پښتو کی ښیر نــــی کولی. په‌دی ساحه کی‌یی ډیــرزیار ویستلو اود موادو پــه را غونډولو او ثبتولو کی‌یی ډیر تکلیف ګاله او ددی علت داوچی ده ستره ګټه په‌نظرکی نیو لــی‌وه چی مامورینو او انګلیســـی مبلغینو سره دپښتو په‌زده کړه‌کی مرسته وه. دی‌پوهیده چــی انګلیسان دپښتنو سره مستقیماپه تماس کی‌دی نودهر څه‌نه‌اول دوی ته دپښتو زده کړه‌ضروروده‌اودا کارده شخصا په‌غاړه‌اخیستی ؤ، دهیوز کلتوری اړخ دعلمــی‌اړخ نه‌قوی‌ؤ یعنی مبلغ هیــوز دعالم هیوز نه بریالی ؤ.

داچی دپښتنو په منځ کــی دعیسوی مبلغینو کوښښو نــــو څومره نتیجی ورکړی ځواب رت‌منفی دی اود دوی کوښښو نــو اوزیار هیڅ ځای ونه نیو. کــه‌څه هم په‌آخر کی دمبلغینو د مرکزونو شمیر ډیر زیات شــو.خو ددی سره‌سره یی څه ګټه‌ونه کړه. دمبلغینو یو مشهور شخص‌ماکلیس ددغو مرکزو نو په‌باره کی دغه لاندی معلومات وړاندی کړی دی .

په ۱۹۳۰ کال کی‌په پیښــور کی دمبلغینو ۲۱مرکزونه، پـــه ډیره اسماعیل خان کـــی ۱۲ـمرکزونه، په‌بنو کی ۱۰مرکزو نه ،په هزاره کی ۹ مرکزو نـه‌او په‌کوهاټ کی ۲ مرکزو نـه موجود وو.

دوخت په تیریدو سره چـی‌دپښتنو دآزادی ملی حرکت پـه غورځنګ راڅی اود خپلوا کـی‌احساس پکی قوی کیږی په‌دغـه وخت کی مبلغین خپل ځان بیخی‌ناکام وینی اوخپله لمنه ټولوی اود پښتنو دخاوری نه خپلی‌پښی‌وباسی .

## ظاهرته بې مه ګوره ايمان ته بې وګوره

داچې دامتل يادا محاوره کله اوچيرې پيدا شوې ده دې پوښتنې له پاره فعلا کوم مشخص ځواب مشکل دی. خو که ووايو چې داسلام دراتګ نه وروسته دامتل په پښتنې ټولنه کې پيدا شوی دی غلطه خبره به نه وی. پښتون ليکوال سردار اقبال عليشاه سمه وينا کړې ده چې دپښتنو نرې ليد په اسلام بنادی. دپښتنو په ورځنې ژوند، ددوی په اجتماعي رژيم، کلتور او عاداتو باندې اسلام ډير قوی تاثير کړې دی. مذهبی صبغه دپښتنو په ټولو تاريخي نهضتونو کې ليدل کيږي اوددوی ټولې تاريخي وينا وې داسلام دتاثير لاندې ويل شوې دی.

دفيو ډالانو په ضد دبزګرانو مبارزې زياتره داسلامی شعار لاندې روانې وې اود اسلام اغيزه پکې ليدل کيږي. ددې مدعا په مثال کې دروښانيانو بز ګرې حرکت ښودلې شوچې دبا يزيد روښان په مشرې په شپاړ سم قرن کې منځ ته راغلې او په پښتو ادبياتو کې يې قوي انعکاس مو ندلی دی.

بايزيد خپل نظريات په خپل کتاب (خيرالبيان) کې بيان کړې دی، داکتاب په مخصو ص مذهبی رنګ ليکل شوی دی. دبا يزيد په مقابل کې فيوډالی طبقه پورته شوه اوخاص ايډيالوژيکې اختلاف ورسره اخوند در ويزه لاره چې دمشهور کتاب ( مخزن الاسلام) مولف دی. دمذ هبې ډلو ترمنځ اختلافات همدا سې زياتيدل او خصوصا بيادنولسمې اوشلمې پيړيو په منځ کې دا اختلا فات اوتضادونه په آزادوقبايلو کې زيات شول چې دغې سيمې ته په ادبياتو کې ياغيستان هم وايي.

دغو قبایلو دډیرو پیړیو په‌جریان کی خپله واقعی خپلواکی ساتلی ده. له‌دغو سیمو سر ه‌مجاور هیوادو نه دادعوی کوی چی قبایلی سیمی ددوی دتسلطلاندی دی مگر دا یوازی دعوی ده نور څه نه‌دی. درانی دولتونو او هم مغلی امپراطوری دغه‌منطقه په خپلو قلمروونو کی راوستی‌ده مگر حقیقت دادی چی ددی منطقی اوسیدونکی د بل هیچا دمقرراتو ایل نه‌دی ،دوی خپل مقررات لری چی حتی ځینی‌یی له ابتدایی تولنو نه راپاتی دی. دغه عادات او مقررات چی‌دوی وربانډی سخت پابند دی‌او مراعات یی ددوی په‌نزد ضروردی (پښتونولی) نومیږی. داکار چی پښتانه په پښتونولی ټینگ‌ولاړ دی ددی مانع شوچی ستر فیوډالان په قبایلو باندی خپله‌حکمرانی وکړی مگر مذهبی مبلغینو په ځینو موارد و کی‌وکولای شول چی‌په دغو آزادو قبایلو باندی نفوذ ولری،دروحانیو نو تبلیغ اونفوذ کله داسی شی چی دقومونو په منځ کی نفاق اودښمنی زیاتی کړی او کله‌کله دغه روحانی نهضت‌دبزگرانو په گټه‌هم تما میږی لکه دروښان نهضت .

دانگریزانو په ضد د پښتنو دایمی مبارزی په پښتو ادبیاتو کی‌هم منعکس کیدلی او په‌ادبیاتو کی یی نفوذ کړی‌ؤ او خصوصا بیا داشعارو په نوعه‌کی دارنگ آهنگونه ډیر اوتیزؤ دپښتنو فولکلور داستعمار ضدمبارزو نه‌ډك دی. اسلا می آهنگونو په‌هغو اشعارو کی هم‌نفوذ کړی‌دی او ورداخل شوی‌دی کوم چی‌په ۱۸۶۳ کال‌کی په‌امبیلی کی دپښتنو او استعمار چیانو دجنگونو په افتخار ویل‌شوی دی :

په سر دقتل کړپرنگی ډیروکړ ارمان

شوه چیغه دخطر پسی

په سترگو یی تیاره شوه چی‌لیدل به‌یی غازیان

غم‌راغی سراسر پسی

څوك تښتی په څلوری څوك‌یی کره پکی مردار

ورتیرنه شی چملی ته

په بوتو ننوځي خلاص به نه‌شي داغل مار
مخ نـه نیسي چـملي تـه
ورسم کړل شاگرده په‌در بـا ندي سگان
اسلام کـه اخـتر پسـی
په سر دقتل کړپرنگي دیـــروکړ ارمان
شوه‌چـیغه دخـطر پســی
(شعر دنواب جان-دپښتونخوا دشعر هار اوبهار ۲۰مخ)
دخلکو په‌مغزو کی‌لا دهغـــواتلوالو جنگونو شواهد او آثـار شته کوم‌چي دآزادی بخښنو نکـوپښتنو او استعمار چیانودعسکرو په‌منځ کی پیښې شوی‌وو. هغـه‌وخت ددوی په‌منځ کی دپښتـو هغه اشعار، سندری ،قصـــی ،متلونه اونور را پیدا شول چـی دمذهب په عنعنوی جامه کی یی‌په صمیمانه احساساتو تـو لنه وښوروله. خو ددغه وخت ټـول‌اشعار مذهبی نه‌دی اود هغوټولو مذهبی گڼل لویه اشتـــباه ده.همدغه شان له اشتباه نـه ډك خصوصیت (اسلامی انسا یکلـوپیډیا) هم ورکړی دی‌چی دهغی په‌یوه مقاله کی چیرته چـی د نولسمی او شلمی پیړی د پښتو په ادبیاتو باندی سرسری کتنه‌شوی‌ده : «په پښتو کی اسا سی ایجادیات په نثر اونظم متنو نه‌دی، دچاپی آثارو اکثریـــت د پیښور اولاهور دچاپخانو څخـه‌وتلی دی. دهغوی زیـات یـــی دهنری ادبی آثارو په څیر زیات‌بدیعی ارزښت نه‌لری »له‌دغسی ادعاو سره موافقه گرانه ده ، دغسی ادعا وی په‌خپله هغه آثار ردوی چی په« قصه خوانی» کـی‌خپاره شوی دی ...

# روښانفکران په سستۍ سره په نابرابره مبارزه کی

په پښتنو کی د روښانفکری د ایډیالوژی د تشکل لار چی د حاکمو محافظه کارو غوښتنی یی د پښو لاندی کړی په پیچلی ډول منځ ته راغلی ده. د لومړنیو روښانفکرو پښتنو نظریات بیخی متضاد او غیر مرتب وو، د پښتنو منورینو چاپیریال تنګ او د فعالیت فضایی خورا محدود وه. منورینو ته الهام بښونکی منبع هغه نوی ورمه وه چی داوخت اجتماعی ژوند ته داخله شوی وه او همدا رنګه هغه عنعنوی نړی لیدو چی په مذهبی سکو لاستیک فورم کی وړاندی کیده، د نوی او زاړه عجیب یو ځای کیدل او د مختلفو عقایدو او نظریاتو مخلو طیدل په تیره بیا د هغو پخوانیو روښانفکرو پښتنو سره لیدل کیږی کوم چی د نولسمی پیړی دورو ستیو دوو، دریو لسیزو او حتی د شلمی پیړی د پیل په اوږدو کی د انفجار او تکامل ربړوونکی پروسه ګاللی ده، د هغو کسانو برخه لیک چی ځان یی د لیکوالی سخت کار ته بښنلی دی په یو ډول نه دی. د نوی حرفی د انتخاب له پاره د دوی موجبات رنګا رنګ وو. خولیکوالو نوی اجتماعی قوتو نه مجسم کړی او د دوی په آثارو کی مشترکی خواوی دی، مثلا کیدای شی د دوی په آثارو کی ګډ تمایلات د فیوډالی مناسباتو، د ناپوهی خرافات پالنی او ارتجاع په ضد د پرو تیسونو موجبات مطالعه شی. د لومړنیو روښانفکرو پښتنو لوی خصوصیت د انګریزی اشغالګرو په مقابل کی د پښتنو د آزادی غوښتنی د مبارزی نه سترګی پټول، تغافل او د امپریالیستی ضد افکارو د ښکاره

څرګندونې نښتوالي ؤ. په دغه ارتباط دلوړ یو لیکوالو آثارو
په زیاته اندازه داولسي اشعاروسره توپیر درلود، دهغو اشعارو
سره چې دمشهور و سندر غاړو له خوا ویل شوي دي چې د خپلو
سربندونکو هیواد والو اتلواله یي ستایلي وه.

تر ۱۹۰۱ کاله پورې پښتنې سیمې چې دانګریزانو له خوا نیول
شوې وې دپنجاب په ولایت پورې تړل شوې وې اود ولایت مرکزد
لاهور ښارو. په پخوا نیو وختونو کې لاهور څوځلي دشمال غرب
له خوا نیول شوي ؤ په همدې مناسبت یو لیکوال داسې لیکلي
دي (دلته په لاهور کې هرکانې او بوټې دافغاني سپه سالا رانو
دشجاعت او زړور تیا شا هدي ورکوي اود دوی دکار نا مو
یاد ګارونه یې ساتلي دي). مګر لاهور دپښتنو په منځ کې نه
یوازې له دې کبله شهرت لري چې احمدشاه دراني لښکر کشۍ
وربانډې کړې ده اود افغانانو له خوا نیول شوی دی بلکې
له دې امله هم شهرت لري چې دهند دنیمې وچې یو لوی کلتوري
مرکز دی اوتر یوې اندازې پورې یې دپښتنې ملي کلتور په
انکشاف کې مرسته کړې ده، ډیر کلونه دلاهور کتاب چاپوونکو
دپښتو آثار چاپول، بدیعي ادبیات او مذهبي مواد یې په پښتو چاپول
او حتی دپښتنو سیمو د مکتبونو له پاره یې درسي پښتو کتابونه
تیارول. په ۱۸۶۹ کال کې په لاهور کې یو کالج تاسیس
شو، داکالج بیا دپنجاب دپوهنتون له پاره اساس وګرځید کوم چې
په ۱۸۸۲ کال کې جوړ شوی دی. دپوهنتون په ختیځې فاکولته کې
پښتو ژبه لوستل کیده او دې ژبې ته توجه وه.

**ملا ګل احمد :**

دنولسمې پیړۍ په آخر اودشلمې په سر کې دلاهور سره
دپښتو دتحریری ادبیاتو د هغو نمایند ګانو دآثارو ارتباط موجود
و کومو چې دپیښور دشاعرانو (چې دقصه خواني په نامه یادیدل)
عنعنو ته ادامه ورکوله اوکوموچې دنثر په ساحه کې دمولوي
احمد لار هم تعقیبوله. دغو پښتنو لیکوالو ابتدایي تعلیم په
خپله خاوره کې کړی ؤ او بیا لاهور ته لاړل اوهلته یې

تعلیمات تکمیل کړل. بیا په‌مذهبی مدرسو کی استادان او په کالجونو کی معلمان شول او حتی پخپله دپنجاب په پوهنتون کی داستاذ انو په‌صفت وټاکل‌شول. مگرله بده مرغه ددغو لیکوالو په‌باره کی معلومات زموږ په اختیار کی لږاو نا منظم دی مثلادامشهوره‌ده چی‌دنولسمی‌پیړی په اویا یمو کلونو کی دلاهور په‌مدرسه کی ملاګل‌احمد(۱۸٤۹ - ۱۸۹۱) درس ورکاوه دی شاعر او نثر لیکونکی‌ؤ اوپه‌پښتو ژبه دمذهبی آثارو مولف دی، ده شل‌کاله دخپل هیواد نه‌دباندی تیر کړل ،دده دمسافر ی دوره او خصوصا بیا دلاهوردوره یی دآثار و په‌ګټور توب کی زیاته اغیز منه وه اوپه دغه‌وخت کی ده مفید آثار ولیکل. په‌دغه وخت کی دده شعری آثارچاپ شول چی دقصی په سبك‌او ژانر ترتیب شوی‌وو چی هغه‌دعظیم خان‌په‌باره کی‌وو،دطوطی نامی ځینی توتی وی، دمنصورحلاج په‌باره کی منظومه قصه‌وه او داسی نور په‌لاهور او ډهلی‌کی دده پښتو درسی کتابو نه څو څو واره چاپ شول‌اوهم په‌اسلامی موضوعاتو کی دده آثار چاپ شول، پښتانه ادبپوهان‌لیکی چی دملاګل احمد اشعار په زیاته اندازه دکلاسیك شاعرعبدالرحمن اشعار را په‌زړه کوی. دتیری پیړی په اتیایمو کلو نو کی ملاګل احمد دافغانستان مرکز کابل ته لاړ اود خپلو پښتو اشعارو مجموعه یی دامیر عبد الرحمن حضورته وړاندی کړه،امیر ډیر ونازاوه اودغه ادبی تحفه یی ډیره درنه وبلله .

دملا ګل‌احمد داشعارو موضوعات‌دپخوانیو کلاسیکو شا عرا نو دموضو عاتو غوندی دی، دی په‌خپلو اشعارو کی‌علم او پوهه ډیره ستایی اوخلك ورترغیبوی‌دعلم دګټور توب په‌باره کی پخوانیو شاعرانو او لیکوالو هم‌ډیر څه لیکلی دی مگر ملاګل‌احمد په ښکاره سره خپل اولس‌ته‌چغی‌وهلی دی چی‌علم زده کړی او پوهی پسی وګرځی ،دی وا یی‌چی‌علم رڼاده او ددغی رڼالاندی ژوندکول څومره خوشحالی ده. دده‌په‌عقیده‌دبی علمی اوناپوهی دوره په ختمیدو ده،ده‌په‌نثر سره‌په‌اسلامی‌اخلاقو او اسلامی موضو عا تو

کی ډیر خه لیکلی دی، دپښتـو دبدیعی نثر په انکشاف کی دده برخه دومره زیاته ده چی ارزښت یی نه‌سی تاکل کیدای. ملا گل احمد کوښښ کاوه چی په پښتو ادبیاتو کی داد یوه نوی نوعه ور زیاته کړی چی هغه دلنډو قصو نوعه ده، په پښتو ادب کی تر دغه وخته پوری دا نوعه موجوده نه‌وه. نوموړی ملا دپخوانیو بدو عادتونو په‌مقابل کی جنډه پورته کړی وه او په لومړی مرحله کی دپښتو نثر په ساحه او لیکلو کی دپښتنو منورینو په منځ کی د مخکښ په حیث منځ ته راغی مگر په ادبیاتو او د پښتنو په اجتماعی ژوند کی دلنډو قصو دژانر د انکشاف له‌پاره مناسب شرایط لابرابر شوی نه‌وو اوهم دمترقی‌او تنویری تمایلا تو له پـاره زمینه ښنگه چی لازمه وه برابره نه‌وه .

دملا گل احمد په‌یو وړوکی اثر کی چی دپښتو په‌دوهم در سی کتاب ( پښتو کی‌دوسری کتاب) کی چاپ شوی‌دی داسی راغلی‌دی (میر اکبر نامی یوسړی‌وواژه ،

دهغه خپلوان دبدل اخیستلو لـه‌پاره راپورته شول، دمیر اکبـر خپلوان هم پورته شول نـــوره‌مرگ ژوبله هم وشوه میر اکبر بندی شواو دقاتل اومقتـــول ددخپلوانو له‌خوا به‌وخت ناوخـت اخ‌وډب پیښیده اوبدی‌او دښمنی‌همداسی سلسله پیدا کړه) .

دارنگ پیښی او قصی چـی‌دمولف له‌خوا ترسیم شوی اولیکل شوی دی تولی دپښتنو دژوند نه‌را وتلی دی. دملاگل احمد لوی خدمت دادی چی دی لومړنـــی‌پښتون لیکوال دی‌چی په خپلـو لیکنو کی یی دپښتنو ژوند تـه‌مراجعه کړی‌ده اوهغه څه‌یـــی لیکلی دی چی ددوی دژوند نـه‌را وتـــلی دی. دده دآثـــا رو موضوعات اصلی دی ترجمی اودنورو اولسونو دآثـارو څخـــه اقتباسات نه دی. په ۱۸۷۸ کال کی ملاگل احمد دمعلمی وظیفـه پریښوده او خپل کلی تـه‌لاړ. اوداسی معلومیږی چی نورخپل ټول عمریی خیبر ته نژدی په خـــپل‌ځای کی تیر کړ اوبل چیرته لاړ نه‌شو .

**میراحمد شاه رضوانی :**

دلاهور دکالج دشاگردانو لـه‌جملی نه یومشهور لیکوال‌اوعالم پیښوری میر احمدشاه رضوا نی۱۹۳٤ – ۱۸٦۰ دی، ده‌هم دملا گل احمد غونډی دخپل ژونـــدمهمه برخه په‌لاهور کی تیـر ه کړی‌ده، په‌علم، تدریس او ادبی‌فعالیت کی درضوانی فوق‌العاده استعداد، دده ستر تبحر اوحکومت‌سره دده وفاداری دی ته لـــو ده‌ته دا امکان ورکړ چی کـا لج‌تکمیل کړی‌اودپنجاب په‌پوهنتون کی داستاد په حیث ومنل شی اوپه دغه علمی موسسه کی مناسب مقام اشغال کړی.دلته په‌پوهنتون‌کی ددغه عالم نه وغوښتل شول چی دپښتو ژبی‌ادبیاتو، ژبپوهنی‌اود تاریخ په‌مسایلو کی‌لکچرونه او کنفرانسونه ورکړی او خپل‌معلومات محصلینو ته وړانـدی کړی. څو کاله وروســـته ده دپرو فیسری لقب وگاټه او هـــم دشمس العلما لقب ورکړی شو .

درضوانی ډیر آثار په‌دی دلالت‌کوی چی ده‌دپنجاب په پوهنتون کی دخپلی اوږدی وظیفی پــــه‌جریان کی ډیر کارکړی دی او ډیر زیاریی ویستلی دی. پـــه۱۸۹۰ کال کی په‌لاهور پینځه ی کی دده کتاب (دپښتو گرامر )چاپ شو. دده قلم ته دیرش‌آثار منسوب دی. له‌دی جملی نـــه‌داسی نایاب کتابونه هم دی لکه (خبری په‌پښتو نظم ) ( تحقق ـ الالسنه) (آثار قدیمه ) (تاریخ کافرستان) او نور .

رضوانی په ادبی چارو کـــی‌داقوت حس کاوه چی‌دا داستادی سره لازمه اوښه مرسته کولا ی‌شی .ده ددرسی مقاصدو له پاره دوه ادبی مجموعی تیاری کړی.په ۱۸۹۸ کال کی په‌لاهور کـــی دده یوه مجموعه (بهار ستـا ن‌افغانی) چاپ شوه چی په‌هغی کی دپښتنو دکلا سیکو ادبیا تـــونمونی راوړل شوی دی‌او هـــم ځینی فولکلوری آثار پکی ځای‌شوی دی اوپه نثر سره حکایتونه پکی راوړل شوی دی، په داســی‌نثر سره چی دمحاوری ســــره مطابق دی. دغو آثارو دنـــو ی‌نثر په ظهور اومنځ ته راتگ‌کی ستر رول لوبولی دی .

که‌څه هم رضوانی نه‌یوازی دپښتون ملت بلکی دختیځ دتو لو

ملتونو دفولکلوری آثار او موضوعات را اخیستی دی او کار یې وربا ندې کړی دی، خو په دغو آثارو کې ځینې داسې نومونه او لغات راغلي دي چې دهغو په لیدلو سره لوستونکي دا ګومان کوي چې داحکایت اودا قصه چې داسې لغات پکې راغلي دي ضرور به دنورو اولسونو مال وي او دپښتو نخوا ۶ اصلي مال به نه وي حال داچې هغه به پښتني قصه وي ځکه چې لفظي جوړښت، لغوي بیان اود کلام رواني او سبک یې په دې دلالت کوي چې پښتني فولکلوری قصه بانديکار شوی دی. ترجمه اود بلې ژبې نه اقتباس نه دی . مثلا دده په یوه قصه کې (دبوډۍ غوا) د(اوقی) نوم راغلی دی. ددی نوم نه داسې معلومیږي چې دا (ترکي) قصه ده ځکه چې اوقی ترکي لفظ دی حال داچې داترکي قصه نه ده پخپله دپښتو نخوا فولکلوری مال دی. قصه داسې پیل شوې ده :

**دبوډۍ غوا :**

( یوه ورځ بوډۍ چې څه کار پسې له کوره ووتله اتفاقا له یوې خوا غوا له موږي نه خلاصه شوه اوله بلې خوا دکوټې دروازه بیرته وه، غوا کوټې ته ننوتله لره بره وګرځیده اود اوړو کولپې مخې ته ورغی، دې غوښتل چې اوړه وخوري مګر موفقه نه شوه اوکولپې یې په ښکرونو کې ونښت اوپه اوړو یې سر ککړ شو اویو عجب شی ورنه جوړ شو. کوم وخت چې بوډۍ بیرته کورته راغله چې ګوري یوعجیب شی ددې ستر ګو ته ورغی . بوډۍ ته غوا ور یاده شوه مګر دغوا سره یې مشا بهت نه درلود. دې یقین وکړ چې داپیری دی نودچغې په حال کې له وره څخه ووتله، ورو سته ښکاره شوه چې غواده او کولپې یې په ښکرونو کې نښتې دي. اوس ددې له پاره چې کولپې څرنګه خلاص کړي او څه چاره ورته وسنجوي نو (اوقی) یې دکومك له پاره ور وغوښت اوقي غوا حلاله کړه مګر کولپې هم په دې کښ و کیر کې مات شو. په دې وخت کې اوقي وژړل او بیا یې وخندل، یوچاور نه پوښتنه وکړه چې ولې دې وژړل اوولې دې بیا وخندل. ده ځواب ورکړ چې ومې ژړل ځکه که چیرې زه درکې نه وای نو تاسې به څه کول اوومې خندل ځکه

چی زه‌په‌دی تصادف پوه‌نه شو م‌چی‌ولی هم غوا لاړه‌اوهم کولپی مات شو. )

درضوانی بله مجموعه ( شکرستان افغانی ) چی‌په ۱۹۰۵ کال کی په‌لاهور کی چاپ شوی ده‌دکلا سیکو شاعرانو آثار یکی راوړل شوی‌دی. دی‌مجموعی سره‌دپښتو گرامر اود پښتو اصطلاحاتو قاموس هم ضم شوی دی.

دپنجاب په پوهنتون کی داستادی سخت فعالیت، د چاپ له پاره دتدریسی کتابو نوتیارول اوهم دلکچرونو له‌پاره مواد چمتو کول ،دغو چارو د رضوانی ډیر وخت‌نیوه مگر په دغه محدود وخت کی‌که به‌ده‌ته‌کوم فرصت پیدا شوچی ادبیاتو ته مراجعه وکړی نوده‌به شعری‌نوعی ته‌مراجعه کوله .

دده شعر به‌زیاتره عنعنوی‌شکل درلود یعنی گل اوبلبل به یکی ترسیمیدل. هو! دیوپخوانی‌منور پښتون غوندی به اجتماعی چاری هم دده په‌شعر کی منعکس‌کیدلی، ده په‌شعرکی دمعارف او پوهنی صفت کاوه او پښتانه‌یی ور ترغیبول ، شاعر به فیوډالی نظام هم گوزارو نه‌کول‌اود انتقاد لاندی به‌یی نیوه. ده په تونده لهجه جهالت ،محافظه‌کاری اود ترقی په‌مخکی خنډ کیدل غندل اوناوړه پخوا نی‌خویونه یی رسوا کول. د خپل عمر په آخرکی دوظیفی نه گوښه‌شو اوخپل کلی‌ته لاړ، په وروستیو کلونو کی‌یی خپل‌ادبی‌فعالیت هم پریښود اود ۱۹۳۴ کال په‌دسمبر کی مړشو .

د۱۹۰۱ کال داکتوبر په ۲۵ نیټه انگریزی استعمار چیانو دپښتنو سیمه په‌دوو برخوویشله : یوه یی‌شمالی‌لویدیځه برخه شوه‌چی په‌هغی کی پیښور کوهاټ ،بنو، هزاره، دیره اسماعیل ټول اداری واحدو نه‌شامل شول اوبله یی‌جنو بی چی کوټه، پښین، ژوب، لور لا یی‌اوسیوی په برتانوی بلوچستان کی ادغام شول اود آزادو قبایلو لیکه جوړه شوه .

دپنجاب دولایت په الغاء سره‌چی دپښتنوټوله‌خاوره انگریزانو یکی ادغام کړی‌وه‌دپیښور اهمیت‌زیات شو. هغه اداری مرکزو گرزید چی‌دبرتانوی هندوایسرا سره یی مستقیم روابط پیدا

شول .

د۱۹ پیړی په لومړیو کلو نوکی پیښور ته دانګریزی ملکـــی
او نظامی افرادو نیز (سیلاو) راسرشوی ؤ. دوی دداری ځا نګو
داداره کولو لهپارهرا تلل. هغوی تر دغه وخته پهسیمه یزو ژ بو
او دودونو، نه پوهیدل نو ددوی دپاره دمنشیانو دلی خدمت کاوه
کوم چی دهمدغه خدمت لهپاره دپښتنی چار پیریال ځخه روزل
شوی معلمان وو .

منشیان :

دمنشیتوب حرفی له لرغونو وختو ځخــه په ختیځ کیپه بیلو
بیلو دولونو دوام درلود .

که همدا زموږ په ورځو کیځولتړدی او یا منځنی ختیځ ته تللی
وی دیر ځله بهیی لیدلیوی چی لهشورا و ځوږهپه دکو بـازارو
نو اوګنیه ګوښه لرونکو کو ځـوکی کوم سړی په ګونډو نا ست
کومه وړه دړه یامیز ګوتی یـیپه مخ کی پروت اوقلم یی پـــه
لاس کیوی . چاته کوم لیـك، عریضه اویا بل ځهلیکی .

دمنشیتوب اویا میرزایی دغهحرفه غالبا دیره لرغونی ده.خو
داسی منشیان او میرزایان هــم وو چی دسکرتر انو پهصفت یی
وظایف اجرا کول. دهند نیـمیو چیته دانګریزانو په را تــګ
سره دمنشیا نو یوهبله و ظیفـههم زیاته شوه چیهغه بنکیلاك ګرو
افسرانو اوملکی مامورینو تـــهدسیمه ییزو ژبو ورزده کـو ل
وو .

پهدی باب مشهور انګر یـزرو سکیپل چی پـه پیښور کـــی
۱۹۰۸ ـ ۱۹۱۱ حکمرانؤ داسیوایی :

«شل حتی لس کاله دمخه موږ پښتو ژبی تهدفوق العاده سختی
ژبی پهنظر کتل. لږو اروپا یانوغوښتل دغهژبهزده کړی، تدریس
یی ددریو یا ځلورو پیښور یـومنشیا نو پهغاړه ؤ، پهوروستیو
لسو کلونو کیدپښتو پهزده کړهکی دیر لوی ګام واخیستل شو .
دزیاتیدو نکو غوښتنو سره د منشیانو پهشمیر کیهم دیـــــر
زیاتوالی راغی ».

پههمدی ترتیب په تدریج سرهدپښتنو منورینو یوه وړه ممتازه

دله منځ ته راغله چې داستعماري حکومت خاصه حمایه ورسره وه ددغو استا دانو او منشیانو په منځ کې دپښتو داسې ستر پوهان او متخصصین موجود وولکه مولوی محمد اسماعیل چې دپنجاب پوهنتون فارغ التحصیل او د معلمي دیرش کلنه سابقه یې لرله اویا لکه قاضي خیرالله چې ډیرو تالیفاتو ښښتنو او هم صاحبزاده عبد القیوم ،فیروز الدین، میزا سید محمد، قاضي رحیم الله، مولوی زین‌اله‌عبید الدین، منشي عبد الغفار، منشي عبدالرزاق، منشي عجب‌خان اونور چې‌دا ټول دتالیفا تو ښښتنان وو، درسي اوتعلیمي کتابونه یې تیارکړي وو ،اد بې مجموعي یې لیکلي وې اوقاموسونه یې ترتیب کړي وو.

دا استادانو او منشیانو په منځ کې دمختلفو نظریاتو اود مختلف سن خلك موجود وو اود مختلفواجتماعي طبقاتو استازي و اوهم ددوی دتعلیم او تخصص سو یه یوراز نه‌وه. دامعلمان د خپلو خلکو له‌خوا زیاتره تحقیر یدل‌اوپه سپکه ورته کتل کیدل‌اودا ځکه دوی داسې فکر کاوه چې‌دامعلمان او منشیان دانګریزانو مزدوران دي اوهم دامنشیان اومعلمان ډیر ځله دهغو کسانو له‌خوا هم تحقیریدل چاته چې‌دوی درس ورکاوه یعنی دخپلو انګریزي شاګردانوله‌خوا هم‌ورته‌په سپکه کتل کیدل (ځکه چې انګریزان نه‌وو) . دمنشیا نووظیفه سخته وه مګر اجرت یې دومره‌ؤ چې‌په ډیر تکلیف بـه‌قوت لایموت وربا ندې کیده، دلته دمنشیانو دتحقیر په باره‌کې یوجالب شاهد موجود دی‌چې هغه دپښتو دزده کړې په‌وخت‌کې د(هري اوایدیك )یادداشتونه دي ،دی دلومړي نړیوال جنګ‌په‌وخت کې دپښتنو په خاوره کې دااستعمار چیانو دلښکر وافسرو. دده یادداشتونه دنیو یارك په مجله (اایشیا) کې‌په ۱۹۳۰ کال د(پښتو درس ) ترعنوان لاندې چاپ شوي‌دي.له‌دې یادداشتونو څخه دلته ځینې ټکي را اخلو :

منشي یوسف خان :

( زما خصوصي معلم منشي‌یوسف خان‌و.دده دتعلیم‌پرینسیب او میتود بیخي فوق العاده اودده‌پوري مخصوص‌و اودا امکان‌نه‌ؤ

چې دعادي تعليم په سيستم کې منل شوی وای. ددی ميتود نظير په بل ځای کی نه ؤ اويو مضحك خصوصيت اورنگ يې لاره اوکله کله به يې خپگان پيدا کاوه اويو شمېل ميتود معلوميده .
يوسف خان به په اوونی کې دوه يادري ځلی زما بنگلی ته راته چې په عسکری ساحه کې واقع وه، دځينو خبرونو نه چې ما ته رسيدل داسی معلوميده چې موږ دواړه دسخت تعقيب لاندی يو اونژدی وه چې دبدو عوا قبوسره مخامخ شوی وای. دد غه عجيب ږيرور سړی چې په ستونی کی غږيده دومره زيات تگ راتگ نور په څه تعبير يدای شو؟ واقعا دشك اوترديد له پاره زيات اساسات اودلايل موجودوو خو په هر صورت زموږ که مشغوليت يوازې دژبپوهنی په مسايلو پوری مربوط ؤ.
دخپل زاړه مود په لباس کې يعنی په سپين آرت پرتوگ، په سوريو سوريو جرابو او سپينو تينسی بوټانو کی منشی بيخی يوه مجله قواره لرله اود همساسره دکوميډی دآرتيست غوندی ښکاريدؤ اوعينا داسی شکل يې لاره لکه دجنوبي افريقي معدن چې (کفر) چې لوړه دافتخار نه ډکه خولی يې په سر کړې وی .
منشی به چې بنگلی ته راغې نو په شاو خوا شيانو به يې حريصانه او تيز نظر واچاوه اوبه يې ويل : سلام صاحب !
سترې مشی !، دی سلام چې د پښتنو په منځ کې مروج اومتداول دی له بده مرغه بدفال هم لاره اوکه رښتياووايم نوزه ډير زر ددغه خپل منشی دلاسه په تنگ شوم، ده به پگړی او بوټان لری کړل اوپه چوکی به آرام کيناست دده په چاروکې يوډير بد عادت داؤ چې ده په تل (پان) ژووه اوهغه وخت به يې بس کاوه کله به چې ده په درس پيل وکړ او ور پسی به يې په اردو اوپه خپله مخصوصه انگليسی توضيحات ورکول، ده به دومره خبری کولی چې خپل مخاطب به يې ستړی کاوه، ما به غوښتل چې دده دخبرو د سيلاب مسير بلی خواته واړوم چې غلی شي مگردی کارکله امکان لاره .
ده به چې خبری کولی لاس به يې داسی پورته پورته اچاوه چې گونډی دهيواد حاکم دی،ده به ډيرزر الفاظ تکرارول اوزه هم مجبوروم چې هغه الفاظ زر زرتکرار کړم، ده به چې کوم فهرست

وړاندی کړی ؤ دهغو یادول او تکرارول سخت یا پیدا کو لــه او څرنګه فهرست بهؤ؟ غیــر ضروری الفاظ ، دقتل ،جنایت، حبس او محکومیت خبری بهوی.

برسیره پهدی ده په مختلــفوموضوعاتو کی دخبرو یوه ناکلی ذخیره لرله چی دفالبینی ښخیغوندی یی هغه دژبی په ســر یادی وی اوعند الموقع به یــیدهغو نهکار اخیست. هماغهوچی ماډیر ژردغه منشی پریښــو د اود پښتو درسی کتابونو تــه می مراجعه وکړه چیله ډیــرهحیثه ددی منشی نه ګټور وو)

داوایدیك یاداشتونه که څههم په تحقیر آمیزه اومغروره لهجــه لیکل شویدی خوکولای شی چیدمنشیانو دیوه ټن څیره تــرسیم کړی .

دټولو منشیانو قســمــت اوبرخه داسی نهوه لکه د منشــی یوسف خان، دلته په ځای دهکهوویل شی چیاو ایدیك چی پښتو یی په آخر کیدخپل ځان نهزدهکوله ده دهغه درسی کتاب نــه استفاده کوله کوم چی یوبــلمنشی فیروز الدین لیکلی ؤ. دځینو استادانو ـ منشیا نواقبالاوبخت ډیر ښهؤ .

منشی احمدجان :

چیددی جملی نه یومنشــیاحمد جان ۱۸۸۲ـ ۱۹۵۱ هم ؤ دی دیو واړه کلی ؤچی د کلاتاومقر په منځ کیپروت دی. ده پهپیښور کی دانګریزانو لو یــواو مشهورو افسرانو اومامورینو ته پښتو درس ورکاوه چی لــهدی جملی دهند دوایسرا مرستیال (اوایویلد) لارډؤ، لوی اومشهورډناروېژی ختیځ پوه ګ، مــارــ ګینستیر نی هم دمنشی احمدجانشاګردؤ اوپښتو یی ورنــه زده کوله.

منشی احمد جان لاکوچنی ؤ چی پلاریی مړشو. په غریبــی پسی روانشو اوپه دی سلسلهکیپیښور ته ورسید. ددارالا یتام لهلاری نه مبلغینو ده تهدا امکانورکړ چیپه پیښور کی مکتــب ووایی ،دهپه ښوونځی کی ډیرښه انګلیسی زدهکړه، په ۱۹۰۰ کال کی چیدی اتلس کلن ومنشیشو اودا لقبیی دژوند ترآخــره پوری وساته، استادی او معلمیدده اصلی وظیفه وه مګر نــه

یوازینی وظیفه،ده دمعلمی سـره‌دلیکوالی وظیفه هم‌مخ په‌وړاندی بیوله اوپه‌دی لارکی یې‌دپښتنودمختلفو روښانفکرا نو په منځ کی مناسب مقام اشغال کړی‌ؤ.

منشی احمدجان دلیکوالی په لومړیو کلونو کی خپله‌زیاته توجه قاموس لیکنی او ترجموته‌اړولی وه. په ۱۹۱۰ کال کی‌په پیښور کی دده انگلیسی تحت اللفظی قاموس دمولوی احمد په ترجمی پوری (دغزنو یانـــو دحکومت دوره) دضمیمی په حیث چاپ شو. همدا راز قاموس ده دمولوی احمد په‌کتاب (گنـــج پښتو) پوری هم چاپ کـــړ، داکتاب دپښتوداوسنی نثردلومړیو آثارو څخه گڼل کیږی، د مـار ـ کنستیرنی په‌قول منشی‌احمد جان ډیره موده دلهجو او محـــاوروولغتونه ټول کړل اود چاپ له‌پاره یی (دپښتو دلهجو قاموس) تیارکړ، ده‌دلهجوی قاموس د تجربو څخه دآثارو په چمتو کولـــو اوخصوصا دمختلفو موضوعا تو په ترجمه کولو کی ډیره گـــټه‌واخیسته اودا کار دده په‌لیکوالی کی ډیر موثر اومفید ثابت شو.دخپلی لیکوالی په لومړی سرکی منشی احمدجان مذهبی آثـــا رواو مذهبی ترجمو ته‌مخه کړی‌وه مگرډیر ژر دده فکر دتوماس‌مارمشهور کتاب (او تو پیـــا) تـــه واوښت اوهغه یی ترجمه کړ،په‌دغه‌کتاب کی‌ډیری داسی‌مفکوری او ایدیی شته چی‌دپښتنی ټولنی‌دروښا نفکرانو دمفکورو سره‌یی سمون خوړ، دانگلیسی هـــو رخ‌ملیسون کتاب (دافغا نســـتا ن تاریخ) هم دده له‌خوا ترجمه‌شوی‌دی . دپښتنو خیړونکو په عقیده دملیسون دکتاب ترجمه خـــو راواضحه ده .

دمنشی احمدجان لومړ نـــی‌بدیعی آثار دشلمی پیړی سر ته منسوب دی، شعری نـــوعی سره‌ده علاقه نه‌لرله. ده په‌خپل ټول ژوند کی څومره چی‌موږ تـــه‌معلومات شته نه‌کومه غزل لیکلی ده. نه کومه قصیده ویلی‌ده‌اونه‌یی کومه منظومه قصه لیکلی ده مگر ددی سره سره دپښتوادبیاتوپه انکشاف کی‌دده برخه زیا ته لویه ده. دمنشی احمـــد جـــان‌تخلیقی او ایجادی میراث حتـــی دنن ورځی دلیکوالو په آثـــاروباندی هم ژوره اغیزه کړی ده.

ده وړی وړی قصی په نثر لیکلی‌دی کومی چی‌داولس دژوند نــه راوتلی دی ااودا کاریی دمولوی‌احمد تقلید گڼل کیدای شی ځکه هغه هم داسی قصی په نثرلیکلی‌دی. منشی احمدجان په‌فولکلوری قصو باندی کارکاوه اوهغه یی‌دنثر په فورم لیکلی. ده دآدم‌خان او درخانی ، فرهاد او شیرینی،لیلی اومجنون اود جلات خان او مومندی فولکلوری قصی په نثرلیکلی دی اوپه‌دی کارکی نوموړی دچامقلد نه‌دی ځکه ترده پخــوافولکلوری مواد زیاتره په‌نظـــم لیکل کیدل اوهم ده بدیعی‌نثری‌آثار چی دپښتنی ټولنی خپل‌مال دی لیکل، په‌دی ترتیب‌وه دمنشی‌احمد جان دلیکوالی سابقـــه .

**توره بلا :**

داولسی افسانو دلیکلو موجبات‌په بنکاره سره دمنشی احمد جان په اصلی اثر (توره بلا) کـــی‌لیدل کیږی .

دقصی لومړی برخه بیـــخــی‌اسرار آمیزه ده. نامعلو مې‌مـــا وراء الطبیعیه قوی دیوکلی‌خلك‌په وحشت را وستی‌وو مکـــر وروسته بیا معلومه شوه چی‌یوی‌مینی پیغلی دغه بدبختی دکلی‌په اسیدونکو رااوستی وه اود کلـــی‌ژوند یی تریخ کړیؤ، خوك چی دغه وړوکی قصه لولی ضرور دهغو نازکو بشری احسا سا تو دتاثیر لاندی رائحی کوم چـــی‌په‌دغه قصه کی‌مندرج دی. ددغی قصی محتوی په‌زړه پوری ده . دقصی لنډمطلب داسی دی :

(دیوسف زیو په‌یوه کلی کی‌توره‌بلا پیدا شوه، دی‌بلا کلیوالو ته ډیر ضررو نه‌رسول او هیڅوك‌دخپلو کورونو نه دشپی له خوا دویری له‌کبله نه‌وتل اودا ځکه‌چی زیاتره به‌په تیاره کـــی د (ژرنګانیو) آوازونه اوریدل‌کیدل‌اوچی څومره به آواز لړزان پیدا کاوه هماغو مره به‌دخلکو ویره‌اوډار زیاتیده .

یووخت دغه کلی ته یوزلمی‌چی علی گل‌نومیده راغـــی، ده لومړی دبلاپه باره کی دکلـــی‌دخلکو په‌خبرو عقیده نــه کوله اودایی موهومات گڼل، ده هیـــڅ‌سودا نه‌کوله اوزړور به گرځیده مگر څه‌وخت وروسته دی مجبورشو چی اعتراف وکړی چی‌حقیقتا کوم عجیب موجود دشپی لـــه‌خوا دکلی نه‌گرد چاپیره گرځی. پـــه

دی وخت کی علی‌گل قصد وکړچی‌دغه توره بلاپیدا کړی اومړه یی کړی. کوم وخت‌چی ټیاره‌شروع شوه اوړنا خپل ځای‌ظلمت ته پریښود نوعلی‌گل توره ترملاکړه او یوقوی کوتک‌یی دځان سره واخیست اود کلی په آخرکی چی‌هدیره واقع وه دلاری په غاړه دبلا له‌پاره پټ کیناست اوغوږیی ونیو. دشپی دپښید و سره سم دده غوږته دگینګړ یونری آواز راغی چی گوری یوتور موجود مخامخ دده پلوته دبلادپه شان ور روان دی. په‌دی وخت کی دده غونی زیږ شو. زړه یی‌ولویده اوډار وربا ندی مسلط شو علی‌گل چی خپل‌بی زړه توب‌او ناآرامی حس کړه نو په‌خپل ځان یی لعنت ووایه اولاړی، یی‌خپل ځان ته توکړی او ځان یی رازړ ورکړ. دا بلایو ځل‌په تیاره‌کی ورکه شوه خوناڅاپه بیا د علی‌گل غوږته دگینګړیو آواز ورغی اودا ځل‌په ډیری تیزی دده خواته روانه شوه. علی‌گل‌په‌دی وخت کی دویری احساس نه‌کوی اوپه قوی زړه دبلاانتظار باسی. په‌کوم وخت کی چی بلاده ته‌ور نژدی شوه اودهدیری خواته روانه‌وه نوعلی‌گل دکوتك گوزار وربا ندی وکړاودگوزار سره سمه ولویده. دی‌چی ورنژدی شو چی گوری یوه‌ښایسته بیجوړی پیغله یه وینو کی پرته ده. ده ورته وویل چی‌ربنتیا ووایه چی څوك یی‌اوځان وښایه، دی وویل: زه دکلی د ملك لوریم اوهره شپه توری جامی اغوندم اود ملانه گینګړی‌هم تړم او هره شپه‌دی هدیری ته راځم. توری جامی ځکه‌اغوندم چی څوك می‌ونه پیژ نی اوگینګړی خو ځکه تړم چی څوك‌نژدی رانه‌شی او هدیری ته خو ځکه راځم چی‌دلته زما یو زلمی‌مین ښخ‌دی. دورځی نه‌شم راتلای خلك پوهیږی اوچی دشپی رانه‌شم نوساعت راباندی نه تیریږی زما مین ډیروخت نه‌کیږی چی‌مړدی.

ددی پیغلی ښایست علی گل‌په تعجب کی واچاوه نو قسم یی ورکړ چی نوره په‌دی لباس‌کی مه گرځه څوك به‌دی دبلا په گومان مړه‌کړی. دپیغلی هم د علی‌گل زړورتیا خوښه شوه اوده ته‌یی وعده ورکړه چی ستاخبره‌منم اونور داوضعیت پریږدم. چی سبا شو علی‌گل خپلودوستانو اود کلی نورو خلکو ته

وویل چی بلامی‌مړه‌کړه نورآزادګرځی. دخه‌وخت نه ورو ستـه
علی‌ګل چی زړه یې‌په پیغـــلی‌بایللی‌ؤ دکلی څخه ورکـشو اود
ملك لورهم ورکه شوه. وا یـی‌چی په‌کوم لری ځای‌کـی دواړه
اوسیږی اوژوند یی نیکمرغه‌دی. په‌دی قصه کی منشی احمدجان
ملی پښتنی عنعنی ته مخه کړیده، په‌دی قصه‌کی لوستونکی دمتلونو
سره مخامخ کیږی، داسی‌اصطلاح‌ګانی پکی شته‌چی په‌بله ژبه نه
شی ترجمه کیدای اود مطلـــب اظهار یی ښه څرګند دی. عبارات
یی طبیعی دی، مصنوعـــی اوتکلفی عبارات او الفاظ پکی نه
لیدل کیږی. عبارت دمطلب پـه‌اندازه دی، دمطلب نه زیات او
اوږد عبارت پکی نه‌شته اودومره‌لنډ او مختصر هم‌نه‌دی چـــی
مطلب پوره ادا نه‌کړای شی.

په‌دغه اثر کی دمنشی احمـــدجان دلیکوالی خصوصیت ښـــه
څرګند شوی‌دی. قصه‌په‌بلاغـت سره لیکل شوی‌ده. په‌قصه کـی
دمولف له‌خوا دمتلونو، محاورو،اصطلا حاتو اومنل شوو عباراتو
استعمال قصی ته ښه رنـــګ‌ورکړی دی. کوم بریالیتوبو نه
چی دلیکوالی په ساحه کی ددغه‌ستر لیکوال په‌برخه شـوی دی
دایوازی دده داستعداد له برکته‌نه دی بلکی ده دهر اثر په‌لیکلو
کی ډیر زیار ویسته اود پـوره‌غـور نه یی پکی کار اخیست
اودغه کار نوموړی منشی تـــه‌دپښتو په‌بدیعی نثرکی داستادی
ستر افتخار ورکړی دی. پـــه۱۹٤۸ کال کی منشی احمد جان
دوه افغانی لیکوالو قیام الــدین‌خادم او عبدالرؤف بینوا ته پــه
خبرو اترو کی داسی وویل :

( کلـه چی‌زه پـه دغه‌یا هغه‌اثربا ندی کار کوم نوتر ټولولومړی
دااثر مواد او عبارات پـه‌ډیـــرجدیت سره صیقل کوم بیا پـه
کوټه کی قدم‌وهم اوهغه په‌زوره‌ځان سره وایم. که‌په کومـــه
جمله کی اشتباه راته پیدا شـی‌هغه اصلاح کوم اوکه بیاهم‌شك
راته پیداشی نوهغه جمله کـوم‌ملګری ته وایم اوپوښتنه ورنه
کوم چی ددی جملی په‌معنی پوه‌شوی او که‌نه. په‌همدی ترتیب
په جملو کی‌تر هغی کوښښ کوم‌څوزما پوره قناعت ور بانـدی
حاصل شی ).

دمنشی احمد جان بډ یعی‌ــنثرونه دده په‌دوه کتابونو (هغه

دغه ) او ( دقصه خوانی گپ) کی راټول شوی‌دی. دغه دواړه کتابونه په پیښور کی د دوانی‌پیړی دشلمو کلونو په‌آخر کی چاپ شوی‌دی (۱)

دغه دواړه کتابونه انگریزانوته دتعلیمی موادو په‌حیث وقف شوی دی. د(هغه دغه) کتاب په‌لومړی مخ کی‌داسی لیکل شوی دی چی‌دا کتاب‌دانگلیسی افسرانوله پاره رسمی درسی کتاب دی اود پښتو دابتدایی کورسونودامتحان په‌وخت کی‌ورنه استفاده کیدای شی .

دمنشی احمد جان آثار دااخبارونو، مجلو ددرسی کتابونو او ادبی مجموعو په ذریعه‌دپښتنوولاس‌ته په آسانی ور رسیدلی دی هو! دمنشی احمدجان ټول ادبی‌آثار په بدیعی اوهنری فورم کی‌سره برابر نه‌دی. نیمگړتیاوی پکښی هم لری.مثلادده آثار (توره‌بلا) او (دآدم خان او درخانی قصه)واقعی ادبی شهکارونه دی اودده آثاروته یی ښکلا ورکړی ده‌خودی کمزوری آثار هم لری .

دمنشی احمدجان ایډیا لوجی‌دپخوانیو منورو پښتنو دایډیا لوجی په چوکاټ کی ځای شوی‌وه.ده دپخوانیو بدو مزخرفو عادتونو په ضد تبلیغ کاوه. ده‌ټینگار کاوه‌چی‌نوی علوم‌دپښتنو له‌پاره حتمی دی، نوی علمی‌موفقیتونه اونوی تخنیک باید پښتانه زده کاندی. دمنشی احمدجان رو ښانفکره نظریات داروپایی مفکرینو له نظریاتوڅخه تغذیه شوی‌وو اودا چی نوموړی دپښتو دترجمی له‌پاره دتوماس مار (اوتوپیا) انتخاب کړی دی داوینا تاییدوی .

منشی احمدجان خپل اجتماعی‌نظریات په‌پوره ډول سره په‌هغو مقالو او آثارو کی‌بیان کړی‌دی‌چی عنوانونه یی دی:(پښتانه او دپرمختگ اوسنی عصر) او(پښتو نولی) چی‌دقصه خوانی گپ‌کتاب کی راغلی‌دی. له‌همدی‌کبله باید وویل شی‌چی دی‌یو له هغو لومړیو لیکوالو څخه دی‌چی‌په پښتو ادبیاتو کی‌یی اجتماعی آثارو ته مراجعه کړی‌ده .

---

(۱) (هغه دغه) په ۱۹۲۹ ع کال کی او (دقصه خوانی گپ) په ۱۹۳۰ ع کی چاپ شوی دی .

دمنشي احمدجان دنوې د آثارو او ډېرو دلایلو ماهیت دادی چې (علم قوت دی). دی لیکی : (کومه چیری یو ملت علم ولری او دکمال اوج ته ورسیږی ددا سی ملت نوم او افتخار په ټولی نړی کی خپریږی او هغه ملت چی ناوړه صفتو نه لری او په ناپوهی او جهل کی شپی سباکوی تل به نورو ته محتاجوی اود آزادی مخ به و نه وینی او هیڅ وخت به احترام او سرلوړی ته و نه رسیږی، دپښتنو نا لوستی ( بیسوا ده) او بی علمه قشرته وګوری چی یو دبل وینو ته ناست دی. یو دبل سر حسد او کینه کوی اود ټولو ژوند ناآرامه اوبدمرغی نه ډک دی ).

دمنشي احمدجان دلیکوالی سبک ساده او عام فهمه دی او زیاتره لیکنی دخطاب په صورت کی کوی اود استعارو او تشبیهاتو څخه په آثارو کی استفاده کوی او شیان دمقایسی په ډول بیانوی مثلا لیکی :( وروره ! پورته او بیدار شه! سترګی وغړوه چی نور څه کوی او ته څه کوی څرنګه دجهل په تیاره کی پروت یی دعلم رڼا ته ځان وباسه اود پرمختګ په لور روان شه. چی څه پوهه او علم لری هغه په خپله مورنی ژبه بیان کړه چی ستا هیواد وال ورته ګټه واخلی او په هیواد کی دجهل تیاره ورکه شی او خلك په خپلو پښو ودریږی او نورو ته احتیاجونه باسی ).

دعلم اوپوهی تبلیغ او په ژبه او قلم دانظریه خپرول چی علم یو ملت داسارت نه خلاصوی داسی کار د استعمار په سختو شرایطو کی ددغه لیکوال یو بی جوړی زړور اقدام ؤ ځکه چی دانګریزانو په خیال کی دانه ګرځیده چی دغی سیمی ته آزادی ورکړی او ددوی دفکر په خلاف دآزادی غوښتنی وهل عادی کارنه دی. منشي احمد جان دهغه سخت بحران اوغورځنګ شاهدؤ چی دشرق اولسونو ته یی تکان ورکړ او په نوی تاریخی وخت کی یی راوپښ کړل. ددوهم جهانی جنګ نه وروسته چی ملی آزادی بخښونکی مبارزی منځته راغلی او نړیوال سو - سیالیستی نظام تشکیل شو نوورسره سم دانګلیسی استعمار ماڼی ړنګه شوه، دغه ټولی پیښی چی دپښتنو دراتلونکی بیداری سره یی پوره مرسته کړی ده او هم یی پښتو ادبیات په نو و

موضوعاتو سره بلهای کړی دی دمنشی احمدجان دنظر دډا یری نه بیرون پاتی شوی دی او دده پهآثارو کی یی کوم بنکاره انعکاس نه دی موندلی .

**راحت زاخیل :**

دپښتو په ادبیاتو کی دیو بلادبی شخصیت راحت زاخیلـــی (۱۸۸٤ - ۱۹٦۳) آثـار ځانګړی اوونلی مقام لری. دی مشهـور شاعر او نثر لیکـونکی دی، دیپښتو دعنعنوی کلاسیکو آثارو اود پښتو دبدیعی ادبیـاتـو د جریانونو پهمنځ کی دارتباط د کړی حیثیت لری. دده یو اړخ دکلاسیکو اوپخوانیو متـر قـی ادیبانو سره لګیدلی دی او بـل اړخ یی داوسنیو هنری لیکوالو سره لیدل کیږی. دمیر احمدشاه رضوانی ،مولوی احمد، منشی احمدجان او نورو پخوانیو مترقی لیکوالو سره دراحت زاخیلی فرق دادی چی هغوی دژوند تر آخـره پوری په ادبیاتو کی یوسبک او یوه لارانتخاب کړی وه او پــه همانغه یوه لار تینګ پاتی شوی دی مګرده دغه اشتـبـاه لـری کـړه دغـی اشتباه وا قـعـا پښتانه لیکوال نه پریښودل چی دادبیاتو پراخ اوعمومی ډګر ته ور داخل شی. لومړنی لیکوال لزاخیلی ؤچی دادب پراخی ورشو ته له هری خوا ورګډ شو اودادبـ هری څانګی ته یی لاس واچاوه نورو لیکوالو چی کوم اصـل اوسبك نیولی ؤ اوپه ادب کی یــی کوم پرنسیب غوره کړی و هغه ددوی له پاره ایـدیا لوجـی ګرځیدلی وه نوځکه ورنه په ځنګ کیدای نه شول .

سید راحت زاخیلی نو ښار ته نژدی دزاخیل په کلی کی زیږیدلی دی،دی په یوه مذهبی کورنی کی پیدا شوی دی او مذهبی اودینی علوم یی حاصل کړیدی. مسیحی مبلغینو غوښتل چی دی پخپلــه لار را واړوی او مسیحی مذهب یی کړی مګرده په دیـن جـرئت او قاطع ډول سره د مبلغینـوغوښتنی او کوښښونه رد کړل. ده چی دکشیـش اوده مسیحـــی مذهب دلاربنود سره دوه میاشتی مسیحی کورس ولوست نو هغه ته یی په ډاګه وویل چی ستـا کتابونو لازیات زما شعور پــهتورو لړو ولاړه لهدی وروستنه یی له کشیشانو او کلیسا سـره روابط وشلیدل .

ده په لومړی سر کې خپل ځواک او استعداد د منظومو قصو په جوړولو کې وازمایه او دا کار یې د (قصه خواني) د عنعنې په تعقیب کاوه چې هلته د منظومو قصو کار له ډېر پخوا څخه پیل شوی ؤ.
د قصه خوانۍ په لېنو ګرافي ماشینو نو باندې چې تقریباً نور د سقوط په حال کې وو. د زاخیلي څو منظومې قصې چاپ شوې چې دغه قصې بیا په راتلونکې کې بیخي ورکې شوې او په دکانونو او پلورنځایونو کې نه پیدا کیدلې. حتی د ځینو پښتنو ادیبانو د زاخیل د منظومو قصو بیتو نه په یاد و مثلا د (سیف الملوك) د افسانوی قصې نظمونه به یوه بل ته ویل. دا قصه د زاخیلي له خوا په نظم لیکل شوې وه. زاخیلي په دغو منظومو قصو باندې په ضمني ډول کار نه کاوه بلکې ده لومړی همدې نوعې او همدې ژانر ته کلکه ملاتړلې وه او په داسې عباراتو ، الفاظو او اصطلاحاتو یې بیانولې چې د پښتنو د خولې نه راوتلې او ښه ورته متوجه ؤ .
د منظومو قصو دغه ژانر چې زاخیلي ورته د خپلو آثارو لومړی برخه وقف کړې وه د سقوط په حال کې ؤ. په دغه وخت کې د ادبیاتو په ساحه کې نوي لارې او نوي آفقونه پرانیستل شوي وو .
لکه چې موږ ته معلومه ده زاخیلي د منظومو قصو د مولفینو په قطار کې وروستني مولف دی
له ده نه وروسته هیڅ پښتون لیکوال داکوښښ ونه کړ چې د منظومو قصو ژانر راژوندی کړي.(۱).
زاخیلي لا د ځوانۍ نه د شعر او ادب سره علاقه لرله. دا د تعجب خبره نه ده چې زاخیلي د نورم له حیثه عنعنوي شعري آثار و ته لکه منظومې قصې، چار بیتي قصیدې او د پخواني ادب نورو اقسامو ته مخه کړې ده بلکې ده په اشعارو کې د تعجب خبره بله ده

---

(۱) باید وویل شي چې محترم سلیمان لایق په دې وختونو کې دغه د منظومو قصو ژانر ته مراجعه وکړه او را ژوندی یې کړ او د (قصې او افسانې) په نامه مجموعه یې په همدې ژانر چاپ شوه .

مترجم

لکه چی پښتنو ادبپو هانو ورته‌اشاره کړی‌ده. مُلا عبد الروف بینوا لیکی: (راحت صاحب د اشعارو په پخوانی قالب کی نوی معنی اچولی ده اوزړه‌ناوی یی‌دوخت په‌گانه بنایسته کړی ده او باید وویل شی‌چی په پښتوادب کی‌مترقی سبک راحت صاحب ته‌منسوب دی اودا خبره‌په ځای ده‌چی دی‌دپښتو دنوی ادب ایجاد کوونکی گڼل‌شویدی).

دزاخیلی نه پخوا ادبیا نوکوښښ کاوه چی مضمون ته رنگینی ورکړی او تصنعی‌عبارات‌چی تشبیهات او استعاری ولری منځ‌ته راوړی مگرده دساده سبک‌او ساده الفاظو او عباراتو څخه استفاده وکړه او دادب ژبه یی‌داولس دمحاوری ژبی ته‌رانژدی کړه. ده په‌ادب کښی‌نوی لارووپسته اودده نه‌پخوا چی کوم کوښښو نه په‌دی لارکی شوی‌وودده سره‌یی پوره مرسته وکړه.

دسید راحت زاخیلی په‌لوم‌ړیوآثارو کی دپښتنو دلو مړی مترقی نسل دایدیا لوجی‌صبغه‌لیدل کیږی. ده کوښښ کاوه چی داسی آثارو لیکی چی عام‌فهمه اوآسان‌وی ،ده‌په فصیحه ژبه بدعادتونه وغندل چی په‌پښتنی جامعه کی‌موجود وواوهم یی ځینی فیوډالی اساسات اوخواص دتنقید لاندی ونیول ، کومو چی په‌پښتنی ټولنه کښی‌حاکمیت درلود اوهیواد والو ته یی غږوکړ چی عصری علوم حاصل کړی. ممکن‌ده په خپلو آثارو کی دخپلو ملگرو اوهمزولوآثار را اقتباس کړی اوزا وړی وی اوددی خبری یوڅلیل دادی چی‌ده په‌منشی احمدجان باندی انتقاد کړیدی چی نوموړی‌منشی په‌خپلو مجموعو ( هغه دغه) او (دقصه خوانی گپ) کښی‌دخپلو همزولو آثارنه دی راوړی منشی احمدجان دخپل تیزس د اثبات له‌پاره‌چی پښتانه‌وروسته

پاتی دی یوازی دسید راحت‌زاخیلی داشعارو څخه یوبیت راوړی دی اوبس اوهغه بیت‌دادی :

**په‌هوا دی نن بازونه اوچرگان**
خو پښتون‌دی‌چی بس پروت دی په‌میدان

سید راحت زاخیلی د پښتنو ورینو دا نظریه تایید وی چی دپښتنو په اجتماعی ژوند کـــی باید ځینی ریفور مونه راوسنل شی. دی په خپلو اشعارو کی هیوادوالو ته غږ کوی چی په سختیــو بری ومومی ، اود ترقی پـــه لارروان شی. اوغوړیدلی تولنه د ځان لهپاره جوړه کړی. دی نفاق اوددوه ورونو مرورتیا غـنــدی اوخلك حوصلی اوښه نیت تـــه رابولی. دی په یوه شعر کی داسی وایی :

خدای دی خـلاص کړی داددوه ؤ مینو جنگ
خدای دی لری کړی ددوه ؤ زړونو زنگ
دا غماز مرور کـــړی دی پخلا کـړی
خدای دی کښیینوی یو بل سره تر څنگ
یو خوتوره دال پـــخوا دی غور ځولی
بـــل تراوسه لری لاایری دجنــگ
همیشه روغ نیته خلـــك دا متل کړی
پالنگ تنگ خیر دی چی نه وی زړونه تنگ
چاخو چاته په سجدو تندی تور داغ کړ
اود چـــا دوروځو منځ دی خونی رنگ
دکعبی او بتخانی منځ کی یو گام دی
خو دشیخ اود بامڼ منځ کی فرسنگ
هو ښنیارانو دی ویلی خدای در مه کړه
زړه ورو کی ښځه بده ، پیزار تنگ
دنـــا اهلو ، بی وفاو لــــه مجلس نه
ښه شـــراب کباب دی یارباب او چنگ
که دزړه ځیگر په وینو مـــی نهال کـــړ
خو چنار نه چنار جوړشو بنگ نه بنگ
داخو ته یی په رقیب باندی عاشق یی
راحت کړلی موسلـــی در پسی لنگ

راحت زاخیلی دپښتنو دلا نجوا او سختیو په حل کی دخدای نـــه مرسته غواړی او خدای ته په ډیر اخلاص دعا کوی چی دپښتنـــو مشکلات حل کړی اوپه هغه اوراوبه توی کړی کوم چی دښمنانو

ورته بل کړی دی. ددی شعر نه معلومیږی چی دشاعر واقعی درد د ولسی درد او د اولس په غم غمجن دی .

په ۱۹۱۱ کال کی په پښتورکی په پښتو ژبه یو اخبار (افغان) په خپلو خپرونو پیل وکړ. په دی اخبار کی پښتنو لیکوالو خپلی مقالی او بدیعی آثار چاپول راحت زاخیلی ته هم بلنه ورکړه شوه چی په دغه اخبار کی برخه واخلی او مضمونونه ورته ولیکی، ده هم بلنه ومنله او فعاله برخه یی پکی واخیسته او وروسته وروسته بیا پخپله د(افغان) مدیرشو. په اخبار کی کارکولو دراحت داد بی انکشاف سره پوره مرسته وکړه او دده دادبی پلټنو او تتبع په وسعت کی یی ده سره کومک وکړ اخبار دزاخیلی سره دا مرسته هم وکړه چی ده په جدی توگه نثری نوعی ته توجه وکړه او په دی لار کی ښه موفق شو. زاخیلی په ۱۹۱۷ کال کی په (افغان) کی یوه قصه (کونډه نجلی) چاپ کړه، دی قصی نه یوازی په لروبرپښتنو کی شهرت وموند بلکی په افغانستان کی هم زیا ته مشهوره شوه او پوره هیجان یی منځ ته راوست. داچی ولی دی قصی چی دحجم له حیثه وړه ده دومره هیجان پیدا کړ اوولی تولو لرو او برو پښتنو په دومره علاقی او اضطراب سره استقبال کړه ځواب یی یودی او هغه داچی په پښتو ادبیاتو کی دا لومړی ځل دی چی دښځو په پلوی غږ پورته کیږی او د ښځو شکایت او ددوی ناوړه او زړه سوی وضعیت په ادبیاتو کی انعکاس مومی او د دوی دحقوقو څخه دفاع کیږی. ددی وروسته دښځو د خرنگوالی موضوع په کورنی او ټولنه کی دزمانی په مرور سره د تاوده بحث مورد وگرځیده او هم دا موضوع دمترقی قوتو نو او محافظه کارو عناصرو ترمنځ دشخړی د گر اود مباحثی سروټاکل شو .

په هغو سختو شرایطو کی چی لا په پښتنی ټولنه کی پخوانیو ناوړو عادتونو ، موهو ماتو ، فاسدو عنعنو او بیځایه رواجونو قوت او اعتبار لاره اوپه میرا ثوړپاتی شوی دودونه لا د توجه وړوو د کونډی نجلی دقصی غوندی قصه لیکل دلیکوال په زړور توب دلالت کوی اودا ښیی چی لیکوال دسختو محدو دیتونو سره سره

دازړه کړي‌دي چې دمزخرفاتو په‌مقابل کې ودریږي او په هره‌بیه چې تمامیږي دناوړو عنعنو سره‌مخه ښه‌وکړي او یوقدم دبشریت په‌خاطر مخ په‌وړاندي لاړ شي‌اود ښځو غږ پورته کړي .

دسید راحت زاخیلی شجاعت‌تاسي ددینه هم اټکلولای شي‌چې حتی دیرش کاله وروسته کله‌چې دښځو دحقوقو بحث‌اواقتراح په افغانستان کې پیل شــو ه (ښځه دپښتنو په‌نظرکې) ددغې اقتراح یوتن قیام الدین خــادم‌داسې اعتراف وکړ :( پخوا بــه که یوچا دښځو دحقوقو په باره‌کې‌یو حرف ووایه په‌نورو به‌دپار، تبه کیناسته). زاخیلی په خپله‌قصه کې‌دمرغی تراژیك اوفاجعی نه ډك سرنوشت ښودلی او بیان‌کړی دی. مرغی لاپه‌ماشوم توب کې میړه‌ته ورکړای شوی وه. خورا سخت‌کړاوونه هغه وخت په‌دی راغلل اوهغه وخت داز یاته‌ور بریده چې‌په ځوارلس کلنی کې‌یې میړه‌مړشو. په‌دغه وخــت‌کې دادهر چاټپ سوری شــوه‌او خولی وربانده‌ی را خلاصی شوی‌اویو ځل نیم په‌مرگ ووهل‌شوه ددې دی قسمت ته گوری کله‌چې‌دا پلارنې کورته راځي دلته هم دداسې وضعیت سره مخامخ‌کیږي‌چې دتحمل ورنه‌دی نو ځان‌دسین پستې غیږ ته سپاری او ســه‌ور سره لاهو کیږی (۱).

زاخیلی لیکی چې د کــو م سرنوشت او کړاو سره چې‌مرغی مخامخ شوی‌ده داسې چاري پـــه‌ټولنه کې یوعادی امر دی‌اودیری پښتنې په‌دی ډول قربان شــوی‌دی اوځه چې‌په ښځه دلته‌تیریږی هغه په هیڅ ځای کی نه شــته‌دلیکوال په عقیده‌دښځو دبدبختې اصلې علت دادی چې پښتنا نه په‌دوی کې دابتکار او خــلاقیــت استعداد نه وینی اوپه څه ورته‌قایل نه‌دی. دمولف خپلو ایدیـا لوژیکی نظریاتو په طبیعی ډول ددی اثر انتقادی روحیه تریوی اندازی کمزوری کړی ده. قصه‌دهنر اوبدیعی شهکاری له حیثه

---

(۱) داقصه په بشپړه تو گه‌په افغانی مطبوعاتو کې څوځایه چاپ شوی‌ده ،علاقه مندان یــی‌هلته لوستی شی .

په‌زړه پوری ده. داتلانو دیالوګ‌قصی ته لازیات خوند او مزیت ورکړی دی. په‌قصه کی داتلانوخبری طبیعی اود محاوری سره سمی دی قصه داصطلا حاتو لـه‌مخی پوره غنی ده اود شفـا هی ژبی خپل مخصوص رنـــګ اوجوړښت لری. داقصه دخپل مهم اتل (مرغی) دژوند د مختلفـــومراحلو دناولونو او مینا توریو څخه جوړه شوی‌ده. دزاخیلی نـه‌وړاندی چی‌د پښتو دنثر کـو م سبك منځ ته‌راغلی ؤ د هغــــــه‌خصوصیت او صبغه دده په اثر کی لیدل کیږی. دومره بایـــدووېل شی چی‌دزاخیلی دا قصـــه (کونډه نجلی) دمنشی احمدجا ن‌په هغو غوره آثارو پسی نه‌شی رسیدای او ورنه وروسته ده .

دلومړنی رو ښانفکر نسل‌آثاراو حیاتی چاری مستقیما داوسنیو پښتو ادبیاتو سره ارتباط لری.ددی موجوده شروع شوی دوری په ابتدا کی دپښتو تحریری‌ادب‌په داسی ژانرونو او موجبا تـو سره غنی شوی‌و کوم‌چی دوخت‌غوښتنه او تقاضا وه. هنـر ی نثر بیخی نوی شو، کلا سیـکـوقواعدو اوپخوا نیو میتو دونـو او (کنډو) چی‌په پښتو شعر کی‌دعنعنی په حیث موجـود وو او تخطی ورنه دشاعر کمزوری ګڼل‌کیده، ورو ورو اوپه تدریج‌سره یی خپل ځای نوو جریاناتـو اوسبکونو ته بریښود اود خــــو پیړیو اوږده حکمرانی یی پای‌ته‌ورسیده. دآثارو ژبه او ستیـل ساده او آسان شواو ادب دومره‌عام فهمه شوچی عام قشرونه او اولسی خلك وربا ندی وپوهیدل‌او ددوی مال او ددو ی‌داستفادی وړشی وګر ځید . رو ښانفکر ه‌عقاید او پرمختللی نظریات پښتو ادب ته ور داخل شول او نـوی‌اجتماعی موضوعات پکی ولیدل شول. مثلا دفیو ډالیزم او زورزیاتی پــه ضـد مفکوره پکـــی قوی شوه اوخلك یی ژوند تــه‌متوجه کړل. په‌همدی تـر تیب په‌ادب کی‌مهم کیفی بدلو نو نـه‌او تغییرات راغلل دهغه ادب نه چی دمنځنیو پیړیو په‌حلقو کـی‌بندؤ خبره‌هغه ادب ته راورسیده چی پوره عصری اود وخت سره‌مطابق ؤ.

## لوسړنی «دطوفان سرغان»

**دراتلونکی بیداری سمبولونه :**

پښتون اولس چې له استعمار چیانو سره نااندولی جګړې ته مجبور شوی وو په افغانستان کې یې دوروري او توکم (نژاد) له کبله مطمئن او باوري متحد ېن او انډیوالان لرل. د نولسمی او شلمی پیړیو په حدودو کی په افغانستان کی هم دوطن دوستی غورځنګ منځ ته راغی چې هدف یې دانګلیس د تاثیر نه دهیوادآزادول وو. دافغانستان حاکمو ټولنو هم داستعمار د جغ لاندی پښتنو دمخالف فعالیت حمایت کاوه. دامیر عبدالرحمان خان مامورینو قبایلو ته وسله او پیسی ورکولی خو تر ټولو زیات موثر ایډیا لوجی تبلیغا ت او د افغانانو او پښتنو ګډ تعلقات وو. په آزادو قبایلو اود پیښور په صوبه کی په زیاته اندازه هغه آثار خپریدل چې په کابل کی چاپیدل. په دغو آثارو کی له لرو اوبرو پښتنو څخه غوښتل کیدل چې خپل یووالی ټینګ کړي او خپله وروری دلاسه ورنکړی. ډیر زیات اشاعت دامیر هغو دستورانو او هغی دفلسفی نسه ؤکی رسالی (تقویم الحق) مونډلی ؤ چې پکی دامیر نظریات منعکس شوی وو. ددی نظر یا تو نسبتا درنه برخه دصوبی مسایلو ته وقف شوی وو. لا په ۱۸۹۳ – کال کی امیر عبدالرحمان خان تایید کړه: (هغه پښتانه قومونه چی دانګلیس لاس ته ورغلی دی د پښتنو دآزادو قومونو او افغانستان سره دوروری اودوستی په اتحادیه کی شامل دی په سخته او سره ورځ کی به دوی له مونږ سره وی او مونږ به ددوی سره یو ).

په ۱۸۹۵ کال کی عبدالرحمان‌خـان دشمس الا سـلام لـقـب وګـاټه پـه‌دی کار سـره ده دیو ستر روحانـی مشـر امتیازات ځان ته حاصل کـړ لدهغسی روحانی مشر چی باید ټول پښتانه قومونـه دآزا دوقبایلو په شمول هغه‌ته عقیدتـا مطیع وی، سلطنتی رژیم چی دمذهب او تقوا په‌لباس کی‌نغښتی ؤ دا تقاضا کوله چی مطلقه‌شاهی‌دی ټینګه شی اوهیواد دی یـو مرکزی قوی دولت وګرځی. په‌همدغه وخت‌کی داافغا نستا ن خلکو او دولت کوښښ کاوه‌چی‌دلاس ځخه وتلی خاوره بیر ته لاس ته راوړی .

ډیرو پښتنو او خصوصا بیـاآزادو قبایلو په‌ډیر اخـلاص او شوق سره دکابل پیغا مونه‌ومنل‌دا نظریات چی‌داسی یو دولت دی جوړ شی‌چی دپراختیا غوښتو نکی‌استعمار سره مقابله او مقاومت وکړی شی په‌ټوله معنی دپښتنودآرزو ګانو سره مطابق وو ځکه ددوی هیله داوه چی دپردیو لـه‌جغ ځخه خلاص شی. دا مشهوره ده چی پښتنو په څو پیښو کـی‌دامیر عبدالرحمن خان نه مرسته غوښتی وه.( دپښتنو مجاهدی)په کتاب کی ددارنګ مکتو بو نو او مراجعو یوه برخه راغلی ده:

( مـوږ هیڅ وخـت دانګلیس‌حکومت نه‌منو .اوس مـوږ تـه داسلام دباد شاه مرسته اوحمایه‌ضروری ده) دا مراجعه د خیبـر قومونو امیر عبدالرحمن خـا ن‌ته‌کړی‌وه. مهمه‌داده چی مکتوب کابل ته د۱۸۹۷ کال په آخرکی‌لیـږل شوی‌ؤ یعنی دعمو مـی قیام دجوش په‌وخت کی .

دنولسمی پیړی په ورو ستی‌څلورمه کی دپښتنو دمترقی‌ټولنی اود هند دهمسایه سیمو دادبـی‌او اجتماعی جریاناتو تر منځ‌یوه سلسله تماسونه ټینګ شـول ،دپښتنو په‌را بیدار شوی مـلـی شعور کی هغه پیښی بی تاثیره‌نه پاتی کیدلی چی‌دهند دګاونډیو سیمو اجتماعی ژوند یی پـــه‌غورځنګ او هیجان راوستی ؤ: دمخالفو انګلیسی ضد او ضا عوپراختیا ، خصوصا بیا په۱۹۰۵ــ ۱۹۰۸ کلونو کی، دبی شمیـره‌سیاسی، کلتوری او تعلیمـــی

موسسو ښکاره جم وجوش، د مطبوعاتو پرمختګ اوپه هندي ژبو کي دادبياتـــو داو سنـــيوژانرونو انکشاف .

په هغه وخت کي چي کـــوم اخبارونه په زيات تيراژ ســـره چاپيدل لکه (الهلال) چي د ابوالکلام آزاد له خـوا چاپيـــده او (زميندار) چي دظفر علي له خوا تاسيس شوي ؤ اود وطن دوستو مسلمانانو حلقو او راد يکـا لي ناسيو ناليستانو نظريات يـــي تمثيلول هغه پهزياته انـدا زهسره پښتنو تههم رسيدل،داخبره فضل الرحيم ساقي پههغه ليـک کي هم کړي ده چي دپيښور پـــه مجله (رهبر) کي چاپ شوي دی اوليکي چي داردو ژبو جرايد و تاثير دپښتنو په سياسي فعاليت باندي زيات ؤ. دساقي پـه قول پښتنو بيا د(زميندار) اخبارخخهزياته استفاده کولـه، له دغـه اخباره انګريزان زيات ډاريدل.په دي اخبار کي زياتره هغـــه مقالي چاپيدلي چي دپښتـــنو د آزادي دايډيالوجي سره برابري وي دعليګړ تنويري حرکت دپښتنو داجتماعي ټولنو پراخ ملاتړ جلب نه کړای شو، برسيـره پــه دي پښتنو ته دسيد احمد خان اوده دپلو يانو تبليغات بيخي ناآشناؤچي هغه انګليسي حکومت تــه اطاعت او ورسره وفاداري ده . مګر دنولسمي پيړي پهدوهمـه نيمايي کي دهند دمسلمانانو پهاجتماعي فکرکي داسي ايديا لوـ جيکي تمايلات پيدا شول چي دهغو استازو کوښښ کاوه چي دخپل تنويري او عرفاني غورزنګ سره انګليسي ضد غورزنګ هم يـو ځاي کړي، ددغو فعاليتو نو يوه مهمه نتيجه داشوه چي دډيلي سره نژدي په ۱۸٦۷ کال کي د( د يوبند ) مدرسه جوړه شوه .

ل،و، ګردون پولو نسکا يـه په خپل کتاب ( دهندو ستان او پاکستان په اجتماعي افکارو کي اسلامي جريانات) کي دديو بند دمنورينو فعاليت تهدغه لانـدي ارزښت ورکړي دی: کوم سياسي اوايديا لوژيکي حرکت چي دديوبند دارالعلوم لهخوا اداره کيده هغه تاريخ تهداسلام دبيا احيـاد(نوي جبهي) پهنوم داخل شـوي دی، ددغه حرکت امتياز دتيري دوري دحرکت نهداو چـــي دی حرکت دانګليسي ضد تبليغا تـو مرکز پهداسي تعليمي موسسه کي

جوړ کړی‌و چی هدف یی پــه‌عصری علومو دځوانانو سنبالول‌ؤ نوموړی مولف ددیو بند دحرکت‌دیو ګډون کوونکی مولانا محمود الحسن (۱۸۵۰ - ۱۹۲۰) لـــه‌خولی نه داسی لیکلی دی: چی‌د ځوانانو دروزنی او تـــر بیـــی‌اساسی مسئله داوه چی ددوی کوښښونه چی دوطن دآزادی لـه‌پاره یی کوی بریالی شی .

ددیو بند دمنورینو مفکورو که‌څه‌هم په‌خپل منځ‌کی تضا دو نه او طبقاتی او مذهبی محدودیتونه لرل بیاهم دپښتنو دسیا سی فعالیت په‌رشد اوپراختـــیا یـــی‌ښکاره تاثیر کړی‌ؤ. دغومفکورو تردیره حده دانګلیس پــه ضـــدپښتنو تیت اوپرك قیامونه پــه منظم مسلح مقاومت بدل کړل .دپښتنو مبارزه چی دخپلی‌خاوری دآزادی له‌پاره یی کوله دهـــندوملی آواز دی غوښتـــو نکـــی غوروزنګ یو اساسی اوغیر مجراجزؤ .

**هډی صاحب :**

په ۱۹۰۹ کال کی دپښتنواودیو بند دلیډرا نـــو پـــه منځ کی سیاسی تماسونه ټینګ شول د هغو لومړنیو پښتنو نه چـــی ددارنګ همکاریو ضرورت یـــی‌درك کړی‌ؤ یوهډی صاحب نجم الدین‌ؤ چی په‌شعرونو ، قصو اوادبیاتو کی ستایل شوی‌دی اونوم یی لاتر اوسه پوری په ښارو نواوکلیو کی په‌افتخار اودرنا وی سره یادیږی ، ده داستعمــا ر سره جنګونو ته‌دخپل اوږده ژوند زیاته برخه وقف کـــړی‌وه اودپښتنو قومونو دمسلحو یرغلو نو ښکاره شخصیت‌اودتولو منلی‌مشراو لار ښـــود ؤ ده خـــپلـــی میـــړا نـــی او پـــر د یـــو غاصبانو ته دنه اطاعت لــه امله حتی دانګلیسانو په‌منځ کی هـــم‌شهرت پیدا کړی‌ؤ. دوی ورته دطوفان مرغه (۱)ویله اودا لقب‌یی بی‌اساسه نه‌و ورکړی .

**دترنګیزو حاجی صاحب :**

بل انګلیسی ضد او استعمارضد شخصیت دترنګزو حـــا جی صاحب‌ؤ ،ده دانګریزانو ســر ه‌داوږدو او سختو جنګونو دتجربو

(۱) داهغه مرغه دی‌چی‌ولیدل‌شی خلك پوهیږی چی طـــو فان وریسی راځی (مترجم)

څخه ګټوره نتیجه حاصله کړې وه، ده ته دا عقیده پیدا شوی وه چې دقومونو دماتـــې اونـــه بریالیتوب مهم عامل (لهدی جملې نه د ۱۸۹۷ کال دقیام ماتې چــې په هغه کې ده پخپله ګډون کړی ؤ) دپښتنو نه یـووالی اود قیـــام کوونکو قومونو اود هنددګاونډیو سیمو دپیاوړ و وطن پرستا نوترمنځ دارتباط نشتوالی دی .

که څه هم دترنګزو حـاجــی صاحب دحاکمی فیوډالی طبقی نه راوتلی و، خو ددی سره سـره دغه لوی اجتماعی شخصیت دنوو تمایلا تو اود وخت دغوښتنـوسره ناآشنا نه ؤ، په هند کـــی داسلامی عمومی حرکت داستازوپه شان ده سره هم په نوو تاریخی شرایطو کی داسلام دسرنو شت اندیښنه اوفکرو. دی داسلا می تعلیماتو دمفکورو یوفعال مبلغ ؤددیوبند دایډیا لوجستا نـــو نظریاتو دده دشخصی نظر یـاتوسره پوره مطابقت لاره مـــګر طبیعتا اوپه خپل عملی فعا لیت کی حاجی صاحب داستعمارچیانو دظلم په مقابل کی سر تـــیری عسکرو، په حقیقت کی دده تـــول مشخص ګامونه لهدی جملی نـه ددیوبند سره دده تماسونه پـــه همدی دسر تیری په روحیه بناؤ. دادی دترنګزو حاجی صاحب پـــه باره کی عبد الروف بینوا پـــه خپل کتاب (پښتو نستان) کی څه لیکلی دی:

۲

(حاجی صاحب نه یـــوازی دپښتنو اود پښتنو دخـــاوری د آزادی لهپاره جنګونه کـــول ده دانګریزانو په ضد دهند دادآزادی په خاطر هم په ډیرو جنګونو کی دسر ښندونکی په صفت ګـډون کړی ؤ ،دهمدی هدف لهامله ده په ۱۹۰۹ کال کی دمولانا محمود الحسن سره خپل تماس ټینـګ کړ، دوی دواړو د انګریزا نـــو سره دمقابلی لهپـــاره خپـــل کوښښونه سره یوکړل اوپهګډه یی مبارزی ته دوام ورکړ ).

ددیوبند دمرکز په شان حاجی صاحب هم د (حزب اله) ګوند جوړ کړ. داپه حقیقت کی دپښتنو پهخاوره کی لومړنی سیاسی ګوند ؤ پـــه دغـــه ګـــو ند کی دپښتنو لویو عالـما نـــو، ادیبانو او اجتماعی شخصیتو نوګډون کړی ؤ .

دحزب الله دفعالیتونو مر کزدمردان سره نژدی دگودروړوکی کلیؤ، دانګلیسی ضد تبلیغا توسره یوځای پهدغه مرکز کـــی نوری تعلیمی او تنویری چاریهم اجرا کیدلی، عبدالروف بینوا په خپل نوموړی کتاب کی داسیلیکی: (حاجی صاحب تل دجهاد پهچارو کی مشغولؤ مګر ده د پښتنو دتنویر او تعلیم مفکـوره هم را منځته کړیوه. لهدیکبلهده په ۱۹۱۱ کال کی دپیښـو ر په شاوخوا کی ځودینی مدر سیجوړی کړیچی ترټولو مهمه یی د(ګودر) پهکلی کیوه ،دی کیشك نهشته چی دغه مدر ســی ددیوبند ددارالعلوم غوندی عیارشوی وی. دلته پهدغومدرسوکی اساسی توجه اسلامی دکتر یـناو تعلیماتو ته اړول شویوه مګر پهعین وختکی شاګردانو تهنویعلوم هم ورزده کیدل، په دغــو مدرسو کی لکه ددیوبند پـــهدارالعلوم کی دتعلیماتو ټـــول جریان دانګلیس په ضد و سـلهوالی مبارزی ته وقف ؤ)، بینوا لیکی: ( پهدغو مدرسو کیزیاترهدآزادی درسونه ورکول کیدل).

څه وخت چـــی استـــعمار ی‌حکو متونه پوه شولچی په دغـو مذهبی مدرسو کیپښتنوځوانانوته څه ورزده کیږی سمد ســتی یی بندی کړی مګر دترنګزو د حاجی صاحب او دده دهمفکرا نو دتنویری چارو نتیجی ډیر ژرپهښکاره توګه ولیدل شوی:دګودر او نورو مدرسو شاګردانو لهدیجملی نه خان عبدالغفار خـــان هماغه سخته لار غوره اوونیولهپه کومه چی ددوی لار ښوونکی دترنګزو بوډا روانؤ .

په حزبالله پوری د( جما عتمجاهدین ) پلویان هم پیو ست شول، دغی فرقی پهټول هنـــداوهند نه دباندی دخپلی میړانی اود انګلیسانو سره دسختـــــومبارزو له امله شهرت ګټلیو، لا دنولسمی پیړی پهشلمو کلو نو کی دانګلیسانو دفشار لـــه کبله (جماعت مجاهدین) مجبور شولچی دپښتنو په سختو او صعـب المرور ځمکو (آزاد وقبایلو)کیځانـــو نه پټ کړی، داقومړ نــی ډلـــه وه چـــی دانګلیسا نـــوسره یی سخت جنګونه کړی وو، دامبیلی په مشهور جنګ کیچیپه ۱۸۶۳ کال کی پیښ شوی ؤ دپښتنو اود سوات داخوند سرهپهیوه کتارکی اوږه پــه اوږه د

(جماعت مجاهدین) غړی هـــم جنګیدل دا جماعت داستعمــا ر چیانو په‌ادبیاتو کی دهندوستانی‌متعصبینو په نامه یادیدل .
ر، هلتون په‌خپله رساله(شمال‌لویدیځه پوله) کی په‌لنډ ډو ل لیکلی دی: (په‌دغه بوډا (مطلب‌یی دسوات صاحب مولا نـــا عبدالغفور دی) کی دمتعصبینو دنفوذ لانــدی ،ورو پـــه ورو دبرتانیی ضد احساس پیا وړ ی‌کیده اوپه یوسفزیو یی اغیــزه کوله چی د ۱۸۵۷ پاخون پـــه‌جریان اوله هغه وروسته یـی مورږته یوعالم ناخوالی راوړی )دغو هندی مجاهدینو دوسلو سره په هغه عمومی قیام کی ګډو ن کړی‌ؤ چی‌په ۱۸۹۷ کال کـی‌یی دآزادو قبایلو ټولـــه خـــاوره‌نیولی وه .
دشلمی پیــړی پـــه‌سر کی د(جماعت مجاهدین ) استازو په آزادو قبایلو کی دوه قوی‌اومنظم‌ګرو پونه لرل یودباجوړ پـــه چمرکند کی اوبل دسوات پـــه‌سمت کی. دوی پـــه‌فعال ډول سره دپښتنو دملی آزادی حرکت‌تاییداوه اوخپل حمایت یی‌ورته ښکاره کاوه اوهم دوی دپښتنو بزګرانو هغه نهضت سره‌مرستة کوله چی دفیو ډالانو په مقا بل‌کی‌یی پیل کړی‌و (مجاهد ینــو) دخپلو لوړو صفاتو: دخه‌طمعی‌نه‌لرلو اود استعمار سره دنه‌پخلا کیدو له امله دپښتنو په‌منځ کی‌زیات شهرت پیدا کړی‌ؤ .
فضل محمود مخفی :
دلومړی لوی جهانی جنـــګ‌نه مخکی کلونو کی لوی پښتون شاعر مولانا فضل محمود مخفــی‌۱۸۸٤ – ۱۸٤۷ په (حزب الــه) کی فعال ګډون لاره، مخفی خپل‌تحصیلات ددیوبند په دارالعلوم کی سرته رسولی وو، دلته دده‌استاد اولار ښود مولانا محمو د- الحسن‌ؤ، محمودالحسن بـه‌خپل شاګرد ته توصیه کوله چی‌پـــه حزب‌اله کی داخل شی. مخفی‌ډیرژر د(ګودر) په‌مدرسه کی استاد شو، اشعارو ته دده تمایل لا د ځوانی په کلونو کی‌چی دپیښور دکالج شاګرد اوبیا داګری پـــه‌مذهبی اکاډمی کی‌ؤ ،څرګنــد شوی‌ؤ، ده دتحصیل په‌وخت کی‌هم اشعار ویل، مخفی دخپل ټول ژوند په اوږدو کی هیڅ‌وخـــت‌ادبی فعالیت نه‌دی پریښی اوپه پښتنی نړی‌کی دلیریك (بزمی) شاعر په‌حیث شهرت لری .

دمخفی لیریك او تغزلی اشعار تریوی اندازی پوری عنعنوی بڼه لری. په دغو اشعارو کی هغــه خصوصیتونه مجسم شوی دی چی دمنځنیو پیړیو پښتو کــلا سیکو اشعارو لرل او هم داولسی اشعارو خصو صیتونه لیدل کیږی، دده په اشعارو کی تصنع او تکلف نه شته، ژبه یی ساده ده او احساسات او تاثرات یکی په صمیمــی او ژوره توگه څرگند شوی دی مگر نه یوازی لیریك اشعارو مخفــی ته بڼه شهرت ورکړی دی، دده په اشعارو کی په بدیعی توگه دده نظریات دحزب اله دیوفدا کــارغړی غوندی وړاندی شــوی او مجسم شوی دی ، خو متا سفا نه دده دهغه وخت آثار زموږ پــه اختیار کی نه شته. کوم شی چی زموږ په لاس کی دی هغه دیو بل شاعر عبدالاکبر اکبر ( ۱۹۰۰–زوکړی) بیو گرافی ده، په دغه بیو گرافی کی دمخفی داشعا روابتکار او ابتکاری خصو صیات هم ښکاره شوی دی. عبدالاکبر اکبر دخپلو اشعارو (خواږه تراخه) په مقدمه کی لیکلی :

(دمخفی صاحب اشــعارو دپښتنو په شعور کی انقلاب پیدا کړ اوزه چی دده داشعارو سره آشنا شوم په دی پوه شوم چــی اشعاریو ډیر اعلی شی دی خصوصا بیا که دغه هدف ولری :

اولس ته خدمت وکړی او دقوم دپرمختگ اوودی په لار کی قدم واخلی، ده دقوم دحیاتــی شرایطو په تحول او تغییر کــی ستر رول لوبولی دی.)

دمخفی داشعارو او آثــار وتوصیف چی داکبر له خوا په دا رنگ ښکاره او احساساتی ډول شوی دی دده سیما او څیره یــی په ښه شان ترسیم کړی او ښودلی ده. مخفی لومړی زړور شاعر دی چی داشعارو زوړقانون او پخوانی حاکمه عنعنه یی ماته کــړه، د حزب اله دگوند غړو چی متر قی افکاریی تبلیغ کول او عملا یــی دمعارف او تنویر چاری یی پــه غاړه اخیستی وی او ادبی فعالیت یی کاوه پــه همدغه وخت کــی دوی داسلامی شعایرو حمــا یت او تبلیغ کاوه او لومړی تو جه یی ورته وه. په هغه وخت کــی دډیرو شاعرانو او ادیبانو پــه آثارو کی مذهبی رنگ لیــد ل کیده :

خپل مذهب اوخپله مورنی ژبه وساته .

پەدوی کی اوس ستا ترقی اوغوړیدل دی.
داشعر دابو سعید فضل محمدغردی (۱۸۹۹ زوکړی) دی پـه ادب کی دراتلونکی نسل نمایندەدی، کوم اساسی فکر چیپه دغه شعر کی پروت دی دگودردمکتبدپښتنو منورینو دنظریاتو سره تطابق خوری او هماغسی روحیەلری.
دحزب‌الله داجتماعی تنـویری‌او تعلیمی فعالیت ساحه پـــه لومړی سرکی یوازی دپیښور پەشاوخوا پوری محـــدوده وه، انگریزانو لەخوا د (حزب الـــه) دتعلیمی مرکزو نو یعنی پەگودر اود صوبی په نورو سیمو کـــی داسلامی مدرسو بندولو دترنگزو په سپین بږیری اودده په ملگرودخطر سیوری وکړ اودوی یـــی دفشار او تنگسی سره مخـــا مخ کړل. پەدغه وخت کی دترنگزو حاجی صاحب مجبور شوچی دځان دنجات لەپاره په آزادو قبایلو کی پټونځی پیدا کړی. په دغـــه ځای کی‌ده دسر تیرو منظم تولگی جوړ کړل، د ۱۹۱٤ کال نه را پەدی خوا دحزب‌الله وړوکی‌مخفی گروپ چی داسلامی تعلیما تـــوافکار یی تبلیغول په تدریج‌سره په مسلحو تولگیو بدل‌شو، دغـــوتولگیو یو هدف لاره او همدغه یوه عالی هدف سره متحد کړی‌وو چی‌هغه دامپر یـــا لیستـــی حکمرانی نه دهیواد خلاصونۀ .
دسرتیرو دمقاومت مقـــر اوهـم دەمندو وړوکی کلی غازی آبادۀ، دلتەهم دگوډر دمدر سیغوندی مدرسه جوړه شوی وه، دلته په ۱۹۳۹ کال کی د( شعله)میاشتینی مجلی په خپرونو پیل وکړ، دامجله دحاجی صاحـــب اودده دمشر زوی پاچاگل (۱۸۸۷ زوکړی) پەمالی مرسته چاپیدلەپاچاگل دپښتنو مشهور شاعر دی اود بینوم پەتخلص سـره یـــیشعرونه چاپیدل، ددی مجلـــی مسؤول مدیر ترډیره پـو ر یمشهور اجتماعی شخصیت، پـــه وطن مین لیکوال صنوبر حسین کاکا جی (۱۸۹۷ زوکړی)وو چی دانگریزانو لەخوا زیاتځورید لی‌او کړیدلی و او تولو لرواوبرو پښتنو ډیر ښه پیژانده، خو نگەچی دامجله دداسی شخص پـــه مسؤلیت خپریده نو دمجلی‌هدف‌او مسلك دهمدی نه معلومیدا ی شی، صنوبر حسین اتلس کا لەدپیښور دگورنر دجا سوسا نـو څخه دآزادو قبایلو پەیوه لیری‌او غلی ځای کی ځانپټ کړیۀ.

محمد اکبر خادم :

دنومورې مجلې په مخونو کې داستعمار ضد تمایلاتو سره سره مذهبي تعلیمات هم چاپېدل او اسلامي احکامو ته ډېره پاملرنه کېده، دپښتنو دزیاتره لیکوالو په آثارو کې مذهبي احکام لیدل کیدل مثلا دپښتو په اوسني ادب کې دحماسیي ژانرونو مشهور استاد محمداکبر خادم ۱۸۸۸ ـ ۱۹۵٤ دمحلي ادبپوهانو په عقیده اساسا مذهبي مبلغ او داسلام اساسات یې حمایه کول عبدالروف بینوا دده په باره کې په خپل اثر (اوسني لیکوال) کې داسې لیکلي دي: (دده دشعر ی هنر اودده دافکارو منبع اسلامي پرنسیپونه او هدایات وو، دمثال په حیث بینوا دمحمد اکبر خادم دغه شعر (آزادي) راوړی دی :

کهمسلمان شوی تا به ښکل کړې آزادي پښتونه

ته به مولي شي نور قامونه بهشي ستا مریونه

کهمسلمان نهشوې پښتون شوې هم بهځان کړې آزاد

نهمسلمان شوې نه پښتون شوې ځکه خوری پړقونه

پښتون هغهدی چې غیرت شرم حیاوی پکې

دبې حیاو دبې شرمو خلك تــړی لاسونه

چې اخلاق پریوزي دیوقام توره تري هم پریوزي

مال یې دبل شي ملك دبل هم لاس اوښپې سرونه

دقام حیات دی په تهذیب ځان له تهذیب غوره کړه

دسپو تهذیب نهشته ځکه گرځوی طوقونه

دمحمد اکبر خادم آثار په خپل منځ کې تضاد سره لري، دده نه له اشعارو پرته نور آثارهم راپاتی دي چې دموضوع له حیثه تونداو دوخت سره برابر دي، دمحمد اکبر خادم دغو آثارو د پښتو اوسني ادب غني کړی او دغه ادب یې واقعیت ته نژدې کړیدی، خادم لکه څومره چې موږ ته معلومه ده دحزب اله په حرکت کې داخل نه و مگر دده او هــم دنورو پښتنو شاعرانو نظریات دهغو پیښو دتاثیر لاندې منځ ته راغلي دي چې دشلمې پیــړ ی

دشلمو کلونو په منځ کې یې پښتنی سیمه په‌غور ز نګ را وستی وه .

دلومړی لوی جهانی جنګ په حدودو کی دپښتنو سیمه د اسلامی ناسیو نالیزم مو ج لړزو له ،دغه موج دنړدی‌اولری ختیځ په مستعمره او محکو موهیوادو نو کی ډیرقوت پیدا کړ دافغا نستان خاوره اودهندو ستان ګاونډی سیمی هم‌دجم او جوش نه‌ډکی وی، په‌دغه دوره‌کی حاکم فکردپان اسلا میز م مفکوره وه اوداسی تبلیغ کیده‌چی ټول مسلمانان دی دتر ك دسلطان (خلیفه) ترقیادت لاندی‌سره یوشی، دعثمانی امپراتوری سر نوشت لر اود آزادو قبا یلو پښتانه په هیجان او احساسا تو راوستی وو، دبالکان جنګو نواوپه ۱۹۱۱ کال کی‌دترکیی دلاس لاندی سیمی (طرابس) باندی‌دایټالیا یرغل دسختو او تودو بحثونو موضوع تشکیل کړی وه‌اودغه موضوع پښتو ادب ته هم دیو مستقل بحث په‌توګه ورداخله شوی‌وه :

زور دکافرو په سلطا نراغی
وخت‌دمهدی آخر زمان راغی
کفر چی زور په طرابس‌ؤ کړنه
اټلی‌ظالم داسی هوس ؤ کړنه
زر یی داخل پکی لښکر کړنه
سلطان‌یی پس‌له پی‌خبر کړنه ..

دا شعر داستاد ځنګل خیل‌کوهاټی دی چی‌خان میر هلا لی په‌خپل کتاب (ننګیالی پښتنا نه‌د ۱۹۵۸ کال چاپ) کی راوړ ی دی. له‌دغو بیتونو څخه چی په‌۱۹۱۲ کال‌کی ویل شو ی معلومیږی چی شاعر دورځودپښتنوڅخه خبرو اوپوهیده چی ایټالی دانګریزانو او امپر یا لیستی‌دولتونو په‌پټه مشوره په شمالی افریقی حمله وکړه. دلته په دی‌شعر کی دتاریخی باوری حقایقو څخه استفاده شوی ده. انګلیسی‌ضد پرو پاګند په کنایی ډول بیان شوی‌دی اوله هغومسلمانانوسره همدردی ښکاره شوی ده‌چی دپښتنو غوندی استعمار ځپلی‌اود استعمار قربانی شوی دی‌او

هم داور شخه معلومیږی چې دپښتنو زړونه انګریز ته له قهر اوغصې نه ځو مره ډکوو اوځومره کرکه یې تری کوله .

دپښتنو ادب په هغو اشعارو کی چیدتریپولی دجګړی (۱۹۱۱ ۱۹۱۲ کلونه دایتالیی او ترکیی تر منځه جګړه) په باب ویل شوی دی په ګنا یاتو او د تاریخی ورته حقایقو په راوړلو سره دانګریز داستعمار دوحشیا نه تیریو پهخلاف دختیځو اولسونو پرو تبستو نه ځرګند شوی دیځو په هغو کی دپان اسلا میز م هغه افکار مجسم شویچی پښتوادب ته یی هم نفوذ کړی ؤ .

په پښتنی چاپیر یال کی چیله پخوا ځخهپکی اسلامی ایډیا لوژی اثر درلود دلومړی جهانیجګړی پهوخت کی دپان اسلامیزم دمفکوری دتقویی لهپاره ښه زمینه برابره شوه .

ځه وخت چی ترکیه دجرمن پهګټه دانګلیس سره پهجنګ کی داخله شوه نودپښتنو احسا ساتړا وپاریدل او انګلیسی ضد حرکت لا قوی شو او رو حانیو نو دغزا اعلانوکړ دډیرو سره داعقیده وه چیترکیهیوازینی هیواد دی چی نور مسلما نان داستعمار دجغ نهژغورلای شیمګر هغه وختدوی ډیر نااميده شول چی تر کیی ماتی وخوړه .

دپښتنو په خاوره کی متعد دکیني اود دولت مخالف حرکتونه دپان اسلامیزم په حرکت کی داخل اوسره متحدشول . دترنګزو حاجی صاحب چیددیوبند دخلافت اوحرکت سره یی ارتباط لاره د ۱۹۱٤ کال پهجون کی یی دانګلیسانو په ضد دجهاد اعلان وکړ، ځینو نورو چی د خلا فت کلک طرفداران وو پهدی اکتفا وکړه چی دانګلیس دحکو مت سره دی مقاطعه وشی او اداری اورسمی چاری دی پریښودلشیاود پښتنو دکیني حرکت ځینی نماینده ګان دمهاجرت داعلان د تاثیر لاندی راغلل .

په پښتنو کی دمها جر تایدیا لوګستر روحانیشخصیت مولانا عبدالرحیم پوپلزی ۱۸۸۰- ۱۹٤٤ ؤ . دی داسلام دعنعنوی نظریاتو دمدرن کو لوطرفدارو اود انګلیس داستعماری حکومت په ضد یی فعاله بر خهاخیستیوه . ده دډیلی سرهنژدی

درامپور په اسلامی کالج کی تحصیل کړی و او هم ددیوبند دمدرسی شاگردؤ. څه وخت چی دی بیرته هیواد ته راغی نودخپل معلم مولانا محمود الحسن سره یی خپله رابطه وساتله اود هغه نظریات یی په غور سره اوریدل څه وخت چی ددیوبند له خوا دا فکر خپور شوچی دانگلیس دلاس لاندی ځمکه کی ژوند کول دټولو مسلمانانو دپاره گناه ده نودیرژر دمولانا عبدالرحیم له خوا تایید شو مگر دمهاجرت حرکت دانگلیس په ضد دپښتنو دمبارزی خورا ضعیف شکل اوسست فورم دی .

دپښتنو دروحانیت مشهور نماینده مولانا عبدالرحیم په ادبیاتو کی هم لاس لاره، په ۱۹۷۲ کال کی ده په پیښور کی په خپل شخصی مصرف یوه اونیزه ددولت مخالفه جریده (سرفروش) تاسیس کړه، کوم مضامین به چی په دغی جریدی کی چاپید ل په هغو کی به داولس دخواری کښوطبقو خراب ژوند بیانیده او په پیښور او آزادو قبایلو کی دانگلیس دحکومت په رویه او سیاست باندی انتقادونه کید ل کوم اشعار به چی پخپله د مولانا عبد الرحیم له خوا چاپیدل هغو به دبلاغت او لفظی ښیگڼو له حیثه کوم امتیاز نه لاره مگر په هغو کی به دده نظریات په ښکاره ډول سره څرگندیدل :

ای په آزادی مینو پښتنو !
هیچا ته تاسی اجازه مه ورکوی

چی ستاسی عقیده خرابه کاندی
تاسی خو رښتیانی مسلمانان یی

دپښتنو په خاوره کی دپان اسلامیزم دتبلیغ دموفقیت سره تر زیاتی اندازی پوری دی کار زیاته مرسته وکړه چی دپان اسلامیزم تیوریسن او منلی لاربنود سید جمال الدین افغانی ۱۸۳۹ - ۱۸۹۷ ؤ، دی دنولسمی پیړی ددوهمی نیمایی د اسلامی شرق وتلی اجتماعی او سیاسی شخصیت اود افغانی خاوری زوی ؤ دجمال الدین افغانی پیچلو اواصلاحی نظریاتو چی دپان

اسلامیزم اساس یې تشکیل کړیؤ دنژدې اولرې شرق په هیوادونو کې یې نفوذ کړیؤ .

اود نولسمې پیړی په آخر کې یې زیات شهرت حاصل کړ. ډیرو پښتنو په وجد او خوشحالی سره دخپل هیواد وال دمترقی اود وطن دمینې نه ډکو نظریا تو استقبال وکړ اوهغه یې ومنل. دسید جمال الدین خارق العاده شخصیت ،دده کوښښونه چی داسلام وضعیت دنوو تار یخی شرایطو سره برابر کړی اودحق دحمایې اود مسلمانانو د آزادی په لار کی دده نه ستړ یکیدو نکی فعالیت دا ټول پښتنو ته معلوم وو او ممکن نه و چی دپښتنو د اجتماعی ټولنو توجه ځان ته جلب نه کړی دمختلفو اجتما عی قشرونو دګټو ترجما نانو او نما ینده ګانو کوښښ کاوه چی په خپلو وړو اهدافو کی د سیدجمال الدین دنوم اودده دمفکورو څخه استفاده وکړی اوپه دی باره کی یی لیکنی کولی چی په همدی تر تیب سره په پښتو کی په تدریجی ډول دپان اسلامیزم د موسس په باره کی زیات ادبیات منځ ته راغلل مثلا په یوه پښتو اثر کی چی ده ته وقف شوی دی داسی راغلی دی: (په کړ کیچن اوسخت وخت کی خدای یوداسی شخصیت پیدا کړ چی په یوه لاس کی یی دسیا ست توره ټینګه نیولی وه اوپه بل لاس کی یی قرآن (کریم) ټینګ کړیو اوټوله ځمکه یی له شرق نه تر غربه پوری سره یو کوله. دده افکارو داسلام تته شوی رنا وځلوله، دانو څوک ؤ ؟ دا سیدجمال الدین افغان ؤ ).

همدا رنګ دده په باره کی د پیښور دادوارد کالج پروفیسر عبدالمجید اتمانخیل ۱۸۷۲ ـ ۱۹۴۷ په ۱۹۲۱ کال کی یو اثر چاپ کړ اوهمداسی نورو .

کوم آثار چی پښتنو مولفینو دسید جمال الدین دبیو ګرافی او دده دادبی اوعلمی آثارو په باره کی چاپ کړیدی هغه توصیفی بڼه لری اود ستا ینی په لهجه لیکل شوی دی .

دپیښور داسلامی کالج پروفیسر مولانا عبدالرحیم ،ژور یالیست

او شاعر فضل حق شیدا، ادب پوه رضا همدانی، لینګو یست او ژبپوه عظیم شاه خیال بخاری او نورو ډیرو پښتنو څیړو نکو دسید جمال الدین افغانی په باره کی مخصوص آثار لیکلی دی .

دشلمی پیړی په اوایلو کی دپښتنو دورځنی ژوند په طرز کی نوی تمایلات پیدا شول، همدارنګ ددوی په اجتماعی جوړښت ،کلتور او عمومی فکر کی دغه نوی تمایلات ولیدل شول، په همدی ترتیب په همدغو کلو نوکی دپښتنو په بدیعی او هنری ادبیاتو کی مهم تغیرات منځ ته راغلل، دپخوانیو خیالاتو په ځای نوی اجتماعی آرمانونه پکی ځای شول او پښتو ادبیات دنوښت او تجدد په دوره ورګډ شول .



## دمسابقې مبارزه

### نوي او اجتماعي قوتونو ته رسيږي

۱۹۱۸ کال روان ؤ، لـو مړي‌لوی جهانی جنگ ختم شوی ؤ په منځني ختيځ او فرانسي کې چې دسختو جنگونو ځـايونه وو برتانوی هندي پوځونو چې د پښتنو په سيمو کې اجيرشوي و گډون کړی ؤ، ددوی شمير اتــه‌ويشت زرو ته رسيد. ددغـــو عسکرو زياتره برخه دتل له‌پاره‌هلته پاتې او د خپلي خاوری نــه لري ښخ شول او نوريي چــی دجنگ سختی او تکليفو نه ليد لی وو په‌هغه چالعنت وايه چی‌دوی‌يی دپښه‌وسکی غوندی‌استعمالول دپښتنو واړه گروپ قو مــــــــیتبليغات کول اوخپل غــرور او افتخار يی ښوده، ددغو افتخاراتواو قومی تبليغاتو له‌جملی نــه‌د مير رحمان غازي‌شعر دی(چاليس‌پټان) دشعر محتوا داسی ده :

دتاريــخ پاڼی پری وياړی‌نه هيريږی
دښمنان يــی‌لاتر اوسه هم لــړ زيږی
څلويښتم پښتنی غونډ پــه‌فرانسه کی
په هټلــر باندی ور دانگی نه‌ستنيږی
دا لښکر چی ديورپ له‌پاره‌وياړ دی
لا به وياړوی‌چی هرځومره وخت تيريږی
دنازی قدرت يی داسی تارپه‌تار کړ
ته به‌وايی تندرونه دی وريږی

شاعر په‌ډير طمطراق اوجوش‌سره دخپلو هغووطنوالو قهرمانی او ميړانه ستايلی ده کومو چــی‌دفرانسی په‌خاوره کی‌په جنگونو کی گډون کړی‌ؤ، داته ســـوم‌پښتنو نه يوازی دوه سوه‌ژوندی پاتی وو .

شاعر دغی پوښتنی ته ځوا ب‌نه ورکوی چی آيا دومره لــری

په پردی خاوره کی دپیسو پـــه مقابل کی دارنگ قربانی ورکول کوم سم او معقول کار دی، شاعرچی ددغو پښتنو قربانی او سر بازی وینی کوم چی مړینی تـه دپیغور نه ترجیح ورکوی نــو بیځایه په وجد او احساسا تــوراځی. شاعر خپل دغه شعر پـــه هغه مجموعه کی ځای کړی دی چی د (غازی سندره) نومیږی او په ۱۹۵۷ کال کی په پیښور کی چاپ شوی ده .

دغه شعر یوعجیب حقیقـــت وړاندی کړی دی اوهغه داچی څو تنو پښتنو په جنگ کی د امپریا ـ لیستی سړی خورو دگټو په خاطر څرنگه بی ځایه وینی توی کړی او څرنگه ناحقه ځوانی مر گـــان شول .

جنگ په خلاصیدو کی و، عسکرخپلو کورونو ته راستانه شول ، دیورپ اوآسیا په هیوادونو کی سخت بحران اوتزلزل لیده کیده او وضعیت بحرانی اوهیجانی و .

جنگ او ورپسی ډیـــر ژر د اکتوبر دستر سوسیا لیستــــی انقلاب رڼاتگ په ټوله نړی کـــی هنگامه او انگازه پیدا کړه، ددغو بنیادی تغیراتو او تحولاتو پــه باره کی آوازی آن دپښتنو تـــر ډیرو لرو سیمو پوری ورسیدی.

په ۱۹۱۹ کال کی افغانستا نخپل استقلال واخیست، تر دغه وخته پوری دهند سره په همسایه هیوادونو کی دملی آزادی حرکت ډیر قوی شوی ؤ په پیښور ،خیبراود پیښور په نورو ځایو نو کی ناآرامی وه، دپښتنو په غرو نواو دروباندی لوړی طو فـــانی بادرا الوتی و، دخیبر اخوا پښتنواو آزادو قبایلو کی پښتانه پــه غورزنگ راغلی وو، دهماغه کال په اپریل کی په پیښور کی خلک پورته شول خو په ډیره ظالما نه توگه دانگریزانو له خوا غلی کړای شول. دمی په سر کی دوزیر ستان نه نیولی ترچترال پوری ټو له ځمکه مسلح قیام نیولی وه داځلدوی دخپلو افغانی هغو ورو نو سره یوه جبهه جوړه کـــړی وه کومو چی دانگلیس سره نـــوی دریمه (انگلو ـ افغان) جگړه پیل کړی وه .

پنځوس ورځی سخت جنگونه روان وو، په یومحاذ کی دافغانانو

دلښکرو سره یو ځای دترنګزوحاجی صاحب لښکر جنګیده، ډیر پښتانه په ډلو طلبانه ډول سره‌دافغانانو دمنظم پوځ په څنګ کی داستعمار په ضد جنګید لدوی پوهیدل چی دغه سخت جنګونه چی دډکی اوتل په‌محاذونو کی روان دی یوازی د افغانستان سرنوشت نه‌ټاکی کوم‌چی دخپلواکی په‌درشل کی دی بلکی دټولی سیمی سرنو شت‌وروری ترلی دی .

هغه پرمختګ اوهغه حرکت‌چی‌دپښتنی ټولنی په‌مختلفو طبقاتو کی منځ‌ته راغلی‌و دوطن دو ستی‌اوملی اشعارو دراتلو نکی ر شد سبب‌شو. دمحمدخان میر هلا لی‌دشهادت له‌مخی چی په‌دغو تاریخی پیښو کی‌یی ګډون کړی‌ؤ، دغی‌لاندی ملی سندری ( ترانه) د جنګ په‌وخت کی ډیر زیـــا ت‌شهرت ګټلی‌ؤ، په‌دغه ترانه کی په‌ډیر شدت اوقوت سره دپښتنودیووالی او غیرت غږپورته شوی دی :

لوبی په‌سر کو م دښمــن‌پسی روان یمه زه
هغه پښتون ځوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه
زما قامی تاریخ کی شرم‌مړکیدل کټ کی

دغه جذبه ده دپښتون په‌هر کمکی غټ کی
دجهاد جوش دی دپښتون په هرعالم چټ کی
دښمنه وار وکړه راو تـــی‌په میدان یمه زه
هغه پښتون ځوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه

زما زلمو ګوزار خوړ لـــی‌چیری نه دی پــه شــا
دښمن له‌غیږ‌په‌غیږ ورغلی هرزلمی دی زما
یامړی پخپله یـــادښمن ځان نه‌کړی وړاندی فنا
دښمن دپاره قهر تندر اوطوفان یمه زه
هغه پښتون ځوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه

دآزادی غزاله وتی ننګیـــا لی‌پښتانه

ښکاره دنیـــا ته‌به‌دخپل قام‌کړی سیالی پښتانه
ددښمن سرګنی‌پندوس دابریالی پښتا نــه
تاریخ نازیږی په‌ما، فخــرددوران یمه زه
هغه پښتون‌ځوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه

دپښتون نر اوښځې تـول گنهي ایمان آزادي
پښتانه سرورکوي اخلي په‌مال ځان آزادي
دآزادي په جوش‌ناري وهي قربان آزادي
تخت یاتخته ولاړ همیش په‌دي پیمان یمه زه
هغه پښتون‌خوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه
زلمو دخپل قام په‌عزت دي‌نن قسم خوړلی
پښتون د خدای‌په‌جلالت دي‌نن قسم خوړلی
دي شاه زلمو پـه‌شجاعت دي نن‌قسم خوړلی
هرپښتون وایي په دښمن‌ګډپه تالان یمه زه
هغه پښتون‌خوان‌دمیدان هغه افغان یمه زه

ځرنګه چې دپښتنو او‌افغانانو په منځ کې دخپلوي ر یښتـــې موجودي دي، وینه‌یي یـوه ده او ګډهدف اوفکر لري نـوهمدا سبب وچې څه وخت افغا نستان‌داستعمار سره مباره کـولـه پښتانه ورسره په ټینګه‌ودریدل‌اود خیر په غـونډي کینناستل
دي سوال چې آیا افغا نستا ن به‌خپل استقلال وساتلي شـي او که بیرته به‌داګریز پنجوته‌ورشي‌څومره اهمیت دافغانانو ســره لاره په‌هماغه اندازه اهمیت یـې‌له لرو پښتنو سره‌هم لاره. په دي باره کې روسي جنګي مورخ‌سنیسار په‌خپل‌کتاب (افغانستان) کې رښتیا وینا کـړي‌ده ا ودانګریز په‌مقابل کې‌یي چې ګډ دښمن دي دپښتنو او افغانا نـویووالي تایید کړي او ښـو دلي دي : (په‌دي کې شك نه شته چې‌هر څومره‌به‌انګریزانو کوښښونه کول اوهر څومره پیسي به‌یـې‌ښندلي هیڅ فایده به‌یي نـــه کوله اوپه‌سخت وخت اود جنګ‌په دقیقو کې به‌ټول پښتـا نـه لر اوبرسیره یوکیدل اود یـوي‌کورني غونډي به سره یو موټي کیدل اوبي ګاړي به‌یکې ځـای‌نه‌شو موندای. دلته دخـپلـوي اړیکو ، ګډ تاریخ اود انګـر یزسره ددواړو خواؤ دښمني رول لوباوه اوهم دملي ګټو یووا لي‌او نور مسایل چې‌دوی یې‌اتحاد ته مجبورول په‌دي باره کې‌زیات‌موثر وو ).
په دي وروستیو کلو نو کـې‌دپښتنو په منځ کې د ورور ي‌او یـووالي اړیکو خصو صـا بیـاددریمي (انګلو ـ افغان) جګړي

نه وروسته ډېر زيات انکشا فوکړ او لر اوبر پښتانه تر بل
هر وخت ډېر سره نژدی شول. دتاريخ په ډېرو سختو اوبحرانی
وختونو کی پښتنو يو بل ته دمرستی لاس ورکړی او يوازی
يی نه‌دی پرېښی او همدا رنګ‌په‌خپل وارد هند دنيمی و چی
پښتنو هم دافغا نستان دموقف‌نه طرفداری کوله او خپله
همدردی يی په ډاګه څر ګندوله‌لرو پښتنو هغه وخت ډېرسخت
مخالفت څرګند کړچی د (۱۹۲۸)کال په‌آخر کی په افغا نستا ن
کی خپل منځی خونړی جنګو نه‌واقع شول. څه وخت چی په‌کابل
کی ارتجاعی دولت دسقاو دزوی‌په مشری منځ ته‌راغی نو دلرو
پښتنو په ټوله سيمه کی‌مظاهری‌او اعتراضو نه وشول. په هغو
مظاهرو کی چی‌په کوهاټ، بنوديره اسماعيل خان او نورو
سيمو کی وشوی اوپه زرګو نوخلکو ګډون پکی کړی‌و دانـاری
وهل کيدلی چی دسقاو په‌مقابل‌کی دی وسله واله مبارزه وشی،
پخوانی حکومت دی منځ‌ته راشی‌او آرامی دې برقراره شی .
په ۱۹۲۸ کال کی چی پـه‌افغانستان کی اخو ډب په شدت
سره روان ومشهور پښتـو ناجتماعی شخصيت ، شاعر او
ليکوال محمد خان مير هـلالی(۱۸۹۷ زوکړی) په پيښور کی
يوه جريده (همدرد افـغان)تاسيس کړه، په‌دغه جريده کی
په تفصيل سره په‌هغو پيښو رڼااچول کيده چی‌په افغا نستان کی
پيښيدلی. دلته په‌دهلالی هنری‌آثار خصوصا بيااشعار هم‌چاپيدل
چی په‌هغو کی به‌ويل کيدل چی‌دسقاو زوی ونيسی څوك چی د
غلانه راسا باچاهي ته رسيد لی‌دی. ددغو بدبختيو او کور نيو
جنګونو اودچور اوچپاو تابلو هلالی په‌يوه شعر کی ترسيم
کړی ده چی‌په ۱۹۲۹ کال کـی‌چاپ شوی دی :

ای دآرام او خوشحالی نـه‌ناآشنا وطنـه
ای په دردونواو غمـونو مبتلا وطـنه
ای سرچينی دصداقت مهرو وفا وطنه
ای بد نصيبه‌ګير غمو نوکی بيا بيا وطنه
بی‌کس وطنه ای‌غريب اوبينوا وطنه
اف داپښتون قوم خود خپله‌لاسه کور ورانوی

دحماقت په شراب مست دی دوی یی په زور ورانوی
خلکو آباد کړ خپل و طـن دوی یی لانور ورانوی
ستا دزړه سرغوځ دی په تاجوړه غوغا وطنه
بی کس وطنه ای غریب اوبینوا وطنه ...

دسقاو په خلاف تونډ او تیز مواد دلاهور په اخبار (افغانستان) کی چی په ۱۹۲۹ کال کـــی تاسیس شوی ؤ هم چاپیدل. ددغه اخبار مسؤل مدیر مرتضی احمدخان افغان ؤ. پښتو شعرو نه چی په اخبار کی ډیر چاپیدل هغـــه زیاتره دمحمد شاه خیال (۱۹۱۳ کال زو کړی) وو .

ددغه هیواد په سر نـوشـــت باندی چی لږ مخکی دانگلیـــس داستعمار نه خلاص شوی ؤ او په خپل منځ کی یی اخ و ډب شروع کړی و نورو پښتنو ادیبانو هـم او ښکی تویولی او خپل احساسات یی داداب په ځپو کی ځرگندو ل په همدی ډول دبر تا نوی هنـد دپښتنو په ادبیاتو کی په تدریج سره نوی موضوع داخله شـو ه چی هغه دپښتنو په منځ کی دیووالی غږ ؤ او ټول پښتانه یـــی یو والی اویوه هدف ته وربلل .

کیدای شی چی دنورو ډیرو هنری آثارو خصو صا اشعــا رو نوم واخیستل شی چی دافغانستان په باره کی دروانی پیړی په شلمو او دیرشمو کلونو کی دپښتنـو په مطبوعا توکی چاپ شوی دی او افغانانو سره یی خپله خـــواخوږی ښودلی ده. په دی خصوص کی دفضل رحیم ساقی شعر تـه گوته نیولی شو چی په ۱۹۳۷ کال کی چاپ شوی اود بر و پښتنو سره پکی ژوره علاقه ځرگـنده شوی ده :

تاج دمشرق رشك جنت داچمن بوستان زموږ
جوړدی له دی پاکی خاو ری دا ښکلی ځوانان زموږ
دی پوره کوی دژو ندو نکل واړه سامان زموږ
وایی په خړ پوخوکی وړ کوتی ماشو مان زموږ
دا افغانستان زموږ دی دا افغانستان زموږ
موږه پښتانه په استقلال دوطن ناز کـو و
فکر هر یـو کار کی په انجام او په آغاز کو و

ښکار په مرغوزار کې‌ددنیالکه دباز کوو
غرونو در یابو نو باندې یوشانې پرواز کوو
مځکه هم‌زموږ ده داپورته شین آسمان زموږ
دا افغانستان زموږ دی دا افغانستان زموږ

پور ته‌شي چي جمع شـــو میدان دننګیالي کي نن
قوم چي‌شي یوموټي‌هغه وی په ســو کالي‌کي‌نن
پورته له‌هرچا نه‌یو که یوشو په‌سیالي کي‌نن
ورک شوډیرقومونه‌له دنیا نه‌پر کالي کي‌نن
یووطن یوه وینه یودین دی یوایمان زموږ
دا افغانستان زموږ دی دا افغانستان زموږ

خوند کوی پښتونه ســتاژوندون دشجاعت سره
څوك تکریدای‌نه‌شي زموږه لوی طاقت سره
نوم دمشرانو به ژوندی‌کړو په همت سره
مینه ده زموږ له‌خپل وطن اوحکومت سره
قام زموږ دی‌نام زموږدی‌تخت زموږ سلطان زموږ
دا افغانستان ز موږ دی دا افغانستان زمـوږ

پورته دپښتون نشان میدان‌کی له‌دښمن دی وی
زوږ دبلبلا نودخندا ددی ګلشن دی‌وی
نوم لکه دلمر په‌شان‌روښانه دوطن دی وی
ناست دپښتنو د تخت دپاسه خپل‌خوږ من‌دی‌وی

سردی شي، اولاد دی‌شي، دولت دی‌شي قربان‌زموږ
دا افغانستان زمـوږدی دا افغانستان زموږ

ددغسی اشعارو اود دغســی‌احساساتو نه په‌ښکاره ســـره معلومیږی چی دلرو اوبروپښتنو‌ښه اوبد، افتخارات او عــنعنی سره یودی اوټول دیوتن وجودځان ګنی اود بیګانګی احساس هیڅ متصور نه‌دی .

په‌پښتو ادبیاتو کی په ښکاره‌ډول سره دتجزیه شوی او لــس دوروری او یووالی هوډو نـــه‌زیات شوی‌دی. په‌دغو ادبیا تــو کی امپر یالیستی ضد حرکا تقوی شوی‌دی اودغو ادبیا تـــو دتجزیه کوونکی استعمار ســره‌دخلکو کینه لانوره قوی کړی‌ده،

په هماغو کلونو کی دپښتنو د آزادی غوښتنی نهضت، عمومی فکر او ادبیات داتول هغو پیښو او حوادثو ته متوجه وو چی د پښتنو سره دهند دنیمی وچی په گاونډیو سیمو کی واقع کیدل. دحزب الله گوند چی منورین په کی شامل وو اود ترکانو دسلطان طرفدار ؤ داستعمار سره یی سخته کینه لرله اودښمنی یی ور سره کوله او همدغه چاری د پښتنو او هندیانو گډی همکاری او متقابل تفاهم لپاره بنسټ را ساس و. دهمدی گډی همکاری او تفاهم له مخی په ټول هند کی اود پښتنو په سیمو کی دانگریزانو دقضایی سختو قوانینو اوپه امرتسر کی دزیاتو وینو تویو لـه کبله مظاهری وشوی او میتینگونه جوړ شول او پښتنو دهندیانو سره خپل یووالی ښرگند کړ اودهند دآزادی لپاره یی مسلح قیام وغوښت اودا ځکه چی ددوی او هندیانو هدف او غوښتنی یووی اوټولو تقاضا کوله چی استعمار دی له دی سیمی نه ورک شی .

**خان عبدالغفار خان :**

په دغسی یو میتینگ کی چی دپیښور دسیمی داشنغر دښکلی او شنی دری داوتمانزیو په کـلـی کی جوړ شوی ؤ، یوقوی اندامه پښتون وینا وکړه. ده په خپله وینا کی د (بیل رولیت) په قانون اود استعمار چیانو په نـورو ظالمانه اقداماتو سخت انتقادونه وکړل، دغه عظیم انسان بـه چی هر چیری ودرید داسی دجوش او صمیمیت نه ډکی خبری به یی کولی چی په اوریدو نکو به یـی نه هیریدو نکی او قوی تاثیر کاوه .داڅوک ؤ؟ داعبدالغفار خان ؤ. په دغه وخت کی دده نوم زیاتروپښتنو ته معلوم و او دده خبری لور په لور تللی وی. ځکه ـوده وروسته بیا دده په باره کی پـه ټول هند کی خبری کیدلی اود دغی وچی خلك دده دنامه سره پوره آشنا شول .

خان عبدالغفار خان په ۱۸۹۰ کال کی داشنغر په اتمانزیـو کی پیدا شوی دی. دده پلار بهرام خان دوړو زمیندار انو څخه و اود نوو تمایلاتو اود عصـر د غوښتنو نه بی خبر نه ؤ. ده خپل زامن ددرس لپاره د(ادوارد ) کالج ته ولیږل . دعبد الغفارخان

مشر وروور عبد الجبار خان (مشهور سیاسی شخصیت ډاکتر خان صاحب) حتی په انګلستان کی خپل ډاکتری تحصیلات سرته ورسول. عبد الغفار خان باید انجنیر شوی وای مګر دمور په ټینګار او زیات اصرار په خپل وطن کی پاتی شو. د هغه وخت دخلکو دوینا لەمخی خان عبدالغفار خان دخپل اجتماعی او تنویری فعالیت په ابتدا کی دټولنی دکرغیړنو رواجونو او بدو عادتونو په ضد پەمبارزەپیل وکړ. دده مخالف کینې انقلابی نظریات دترنګزو حاجی صاحب اود (حزب اله) دحرکت د نورو مفکرینو داغیزی لاندی منځ تەراغلی وو. دی پخپله هم دحزب الله د حرکت غړی ؤ. دده مخصوصا هغه اقدامات ډیر خوش ووچی د ترنګزو دبوډا لەخوا کیدل، د ترنګزو سپین ږیری غوښتل چیدلومړی ځل له پاره دپښتنو یو سیاسی سازمان جوړ کړی او دپښتنوپه مختلفوسیموکی مدرسی او تعلیمی مرکزونه پرانیزی..

په ۱۹۱۹ کال کی دیوی‌تیزی‌وینا له کبله خان عبدالغفار خان دانګریزانو لەخوا بندی شو .یوکال وروسته چی دبند نه خوشی شو نو افغانستان ته‌یی‌سفر وکړ. دی لکه دمخالف کینې حرکت نور غړی اونور پښتنا نەمنورین سخت داسلام دتاثیر لاندی ؤ. مګر دده پەفکر کی‌لادمخکی نه دپښتنی ټولنی دانکشاف نوی متحول شرا یط‌پیدا شوی‌وو .

خان عبدالغفار خان پەحقیقت‌کی دنوو اجتماعی ګروپونو، دلیبرالی زمکو الو اود ځوانوپښتنو منورینو دګټو څرګندوی اوددغو مختلفو قشرونو لاربنوداو مشرؤ. ددەشهرت اومحبوبیت ورځ په ورځ دسیمی دمختلفوطبقاتو په منځ کی زیاتیده اوډیر ژر دپښتنو دآزادی‌دحرکت‌یوعام مقبول لیډرو ګرځید .

په هغه سخت‌وخت‌کی چی‌استعمار چیانو دخان عبدالغفار خان په وطنوالو تیری او ظلم‌کاوه او ځوکړیی جلسو اومیټنګونوته نه پریښودل دده دتعلیم اوروزنی لار غوره کړه او دده په عقیده پەهغه وخت کی‌دا د کینې‌فعالیت یوازنی قانونی اوامکانی لاروه ،دقومونوپه منځ کی‌ددښمنی‌دلری کولو اود اولس دپوهولو

او تنویرولو په غرض دده پـه‌ابتکار په پیښور کی په ۱۹۲۱ کال کی د(انجمن اصلاح افا غنه)په‌نامه یوه موسسه او سازمان جوړ شـو، څومیاشتی وروستـه‌ددغه سازمان له‌خوا په لروپښتنو او آزادو قبایلو کی یوه سلسله‌تعلیمی مرکزونه منځ‌ته راغلـل ددغه سازمان دیوه غړی سعادت‌خان جلبل دوینا له‌مخی چـــی دخان عبدالا کبر خان دکتـا ب(خواږه تراخه) په‌مقدمه کی یی لیکلی ده تهول اووه اتیا تعلیمی‌مرکزو نه پرانیستل شوی‌وو. داپه دی شاهدی ورکوی چـــی‌دپښتنو په‌سیمه کی د(انجمـــن اصلاع افاغنه) اثر او عمو میت‌زیات شوی ؤ .

آزاد سکولو نوچی تر‌ټولـــو‌مشهور یی داتمانزیو دکلی آزاد سکولؤ خلکوته یی هغه مدرسی‌وری‌په یادولی چی دحزب‌اله دگوند له‌خوا جوړی شوی‌وی. دلته د مذهبی اصولو دزده کړی سره یو ځای نور عمومی تحصیلا ت زده کیدل، ددغو تعلیمی موسسو نه خان عبدالغفار خان او دده ملگرو دمخصوصو تبلیغا تـــی مرکزو نو په‌حیث استفاده کوله‌اود استعمار په ضد یی ورنه‌کار اخیست .

انگریزان ددغه ساز مان(انجمن‌اصلاح افاغنه ) دوسعـــت او مخصوصا داحتمالی نتیجو نه‌یی‌سخت ناآرامه وو. محمد یو سف دخان عبدالغفار خان ملگری په‌خپل کتاب (سرحد خبری کوی) کی دهغو خبرو یوه ټوټه رانقل‌کړی‌ده چی دبرتانیی یـو لوی افسر دخان عبدالغفار خان سره‌دروانی پیړی دشلمو کلو په‌سر کی کړی‌وی :( تاسی آرزولری‌چی دغه پښتانه تعلیم یـا فـته کړی اوددوی دتنویر اوبیداری‌قوی هیله په‌زړه کی گـرځو ی نو بیا کومه گرنتهی موږتـــه راکولای شی، چی‌دوی به‌د تحصیل نه وروسته زموږ په ضد نه راپورته کیږی ) محمد یوسف یـو منصفانه تذکر کړی دی چـــی‌دارنگ پوښتنی دامپریالیستا نو عادت دی مگر افسر دواقعیـت‌نه‌داسی ډیرلری نه‌دی غږیدلی.

په‌دغو آزادو سکولو نـو کی‌دپښتنو دآزادی له‌پاره دسرتیرو نوی نسل روزل کیده اود نـوومنورینو نماینده گان پکی تربیه کیدل کومو چی‌دپښتو داو سنی‌ادب په انکشاف کی لویه برخه

اخیستی ده لکه عبدالاکبر اکبر، محمد خان میرهلالی، ماستر عبدالکریم، سعادت خان جلیل او نور. آزاد سکولو نه دد غو لیکوالو له پاره (چی ځوك پکی معلمان و ځوك پکی شاگردان وو) لومړنی ادبی مکتبو نه وگرځیدل او ددوی آثارو او ددوی استعداد پکی رشد وموند.

د (انجمن اصلاح افغانه) په فعالیت کی خصوصاً بیا په لومړی مرحله کی ثبات او تسلسل په پوره اندازی سره لامعین شکل نه و موندلی، لومړی انگریزانو دافکر اودا کوشش کاوه چی د نومړی انجمن فعالیت په خپله گټه وځرخوی اود ځان له پاره ورنه استفاده وکړی. په همدی غرض دپیښور دلوړ دولتی مقام له خوا ځو ځلی مخفی پولیس او مامورین اتمانزیو ته لاړل چی خان عبدالغفار خان او دده اتیا کلن پلار خان بهرام خان خپل خواته مایل کړی مگر ددوی هلو ځلو کومه نتیجه ورنکړه.

څه وخت چی انگریزان پوه شول چی ددوی خبری کومه نتیجه نه ورکوی اود خپل دغه تاکتیك ټولی لاری یی تړلی ولیدلی نو په تجاوز او تیری یی لاس پوری کړ او ورپسی یی خان عبدالغفار خان اود انجمن ټول فعال او مشهور غړی بندیان کړل او هم یی هلته مربوط آزادسکولو نه محدود کړل، په ۱۹۲۳ کال کی انگریزانو تهدیدوکړ چی ټول تعلیمی مرکزو نه به وتړی او په دی ډول به د نومړی انجمن کارونو ته خاتمه ورکړی. تردغه وخته پوری ددی سازمان وظایفو او کارونو په رادیکالی ډول سره دخلکو غوښتنو ته پوره ځواب نه ؤ ورکړی او نه یی ددوی گټی تامین کړی وی. د پښتنو دملی آزادی دغور زنگ په تاریخ کی انتقالی دوره پیل شوی وه د ۱۹۵٦ په سیتمبر کی خان عبدالغفار خان په یوه وینا کی په داسی حال کی چی د تیر وخت پیښنی یی یادولی داسی وویل: (ددوا ړو خواؤ عدم اعتماد او د انگریزانو او پښتنو په منځ کی یو په بل باندی بی باوری او نه اطمینان خبره دی ته ورسو له چی زموږ بیداری اود معارف او پوهنی احساس په سیاسی مبارزی بدل شو) په ۱۹۲۷ کال کی د (اصلاح افاغنه) په ځای نوی مخالفه پارتی (پښتون جرگه)

تاسیس شوه. ددغې پارتــــی لاربنودنه او مشري هم خــــان عبدالغفار خان پخپــله غـــاړه اخیستی وه. دا دلوړې ځل لــه پاره دپښتنو دملـــی آزادی دغور زنګ په تاریخ کی دا ســی پارتی منځ ته راغله چی پـــــه پروګرام کی‌یی په‌قطعی اوښکاره ډول سره ویل شوی‌وو چـــی د(پښتون جرګی) وروستنی هدف دآزادی لاس ته‌راوړل دی او په‌دی لارکی لازم دی‌چی ټول قوت په‌کار واچول شی .

دپښتون جرګی په پروګر‌ام کی اعلان شوی‌ؤ چی‌زموږ بیرغ به‌تور وی اودا به داستعمـــــا رچیانو سره زموږ دسیاسی‌مبارزی سمبول وی اودا تور رنګ به‌ترهغه وخته پوري وی څوچی موږ پوره خپلواکی واخلو .

دپرو ګرام په‌یوه مخصو صه‌ماده کی راغلی‌وو چی دپار تــی ټول غړی مکلف دی‌چی په‌پښتوبه لیکل اوخبری کوی اود خپل ملی هدف تبلیغ به (په ژبه و ی‌که‌په قلم) یوازی په‌پښتو وی . داهم تایید شوی‌وه چی‌په پار تی‌کی دننه ګروپ بندی او فرا – کسیون ته اجازه نه‌ورکول کیږی‌اوهم ټول غړی باید خپل ملـی کالی واغوندی. وروسته بیا په‌دغه پروګرام کی‌چی په‌رادیکالی ډول دبورژ وا ځمکو الومنورینوله‌خوا جوړ شوی‌ؤ څه تغیرا ت پیښی شول چی دغو تغیرا تونوغوښتنو ته ځواب ور کاوه مګر په حقیقت کی‌دغه غور ځنګ د خپل تاریخی انکشاف په مختلفو مرحلو کی ناسیونا لیستی‌بورژوا‌او ملاکی پا تی شوی‌دی. دد غــه غورزنګ لیډران دصوبه سرحددبزګرانو دطبقاتی مبارزو نه‌چی فیوډالی ضد صبغه‌یی لرله یوه‌اندازه ډاریدل، دغو مشرا نـــو کوم داسی مشخص پروګرام نه‌وړاندی کاوه چی دبز ګـــرا نـو ګټی .تمثیل کاندی. یوازی پــه‌مالیاتو او ځمکوپوری په‌مربوطو څینو چارو کی تخفیف په نــظرکی نیول شوی‌ؤ خو ددی ســره سره دصوبه سرحد بزګـــرا ن اود منځنی طبقی اساسی پرګنی په خان عبدالغفار خان پســـی‌روانی وی .

د ۱۹۲۹ کال په‌آخر کی پـــه‌جلسو او میتنګو نوکی چــــی‌د پښتون جرګی له‌خواجوړ شوی‌وددا‌و طلبانو صفونه لیدل کید ل

چې سره کمیسونه یی اغوستی‌وو. دوی موظف شوی ووچی د سپلین او نظم به‌ساتی. دپښتون‌جرگی مشرانو داخیال نه‌درلود چی ددغو منظمو صفونو نــه د استعمار پرضد دتودی جگړ ی کار واخلی. برسیره پــه د ی‌سرخپو شانو ته‌چی دنظا میا نو غو ندی یی ټولی او صفونه ترلی‌وو دخپلو مشرانو له‌خوا اجاز ه نه‌وه چی وسله دځــان ســــر ه‌وگرځوی .په‌هرصورت داستعمار چیانو سره ددغو غو نډو اوددغه‌نظم نه‌خوف او تشویش موجود ؤ او حتی په‌رسمی استعـــمار ی‌تبلیغاتو او پرو پاگندو نو کی خان عبدالغفار خان په‌دی متهــم‌کیده چی دبلشو یکانو خــوا ته تمایل او سیمپاتی لری نودد ی‌له‌پاره چی دغه دمفسدانو اوازی خنثی اوبی تاثیره کړ ی خـــان‌عبد الغفار خان دپارتی نـــو م وگرځاوه اود(خدایی خدمتگاران)نوم یی وربا ندی کیښود .

دپښتنو دآزادی دحرکــت دلیډرانو سره دافکر پیدا شو چی روحانیون ځان سره ملگری‌کړی‌او روحانی افکارو څخه په گوند کی زیاته استفاده وکړی ځــکه‌دغه افکار په پښتنی جامعه اود پښتنو په عمومی شعور کـــی‌دپیړیو پیړیو نه‌را په‌دی خــوا حــکمرانی لــری. داســلام حق‌لادپارتی په پروگرام کـــی ادا شوی ؤ .

دعبد الغفار خان دوینا لـــه‌مخی داسلام داصول و تبلیغ د خدایی خدمت گارانو دخواړخیزوفعالیتو نو یو اړخ تشکیلوی،په پارتی کی داسلام ستر ستـــر مبلغین داخل شـول. دوی آرزو درلوده چی دغه غورزنگ ته په‌عمومی ډول مذهبی بنه‌ورکړی.

دروانی پیړی ددیرشمو کلونوپه سرکی دبرتانوی هند پـــــه سیاسی ساحه کی دوه لــــو یی‌پارتی منځ ته راغلی چی زورور قوت ورسره‌ؤ. یوهندی ملـــی‌کانگرس ؤ چی‌په ۱۸۸۵ کال‌کی تشکیل شوی‌ؤ اوبل مسلم لیـــگ‌ؤ چی په ۱۹۰۶ کال‌کی جوړشوی ؤ . پښتنو ناسیو نالیستا نـــواو ملت پرستانو هیله در لوده چی ددواړو پارتیو دنمایند گانوسره خپله همکاری ټینگه کړی مگر دځه غورنه وروســته دوی‌دهند دملی کانگرس پارتی تــه ترجیح ورکړه او ځان یـــی ورنژدی کړ اودا ځکه چی دغـــی

پارتی ترهغی بلی زیات‌داستعمارسره په مبارزه کی خپل تسلسل ساتلی‌ؤ اوهند کی‌یی عمو میت‌لاره. دغه نژدیوالی سره کومو افسانوی پیښنو مرسته نه کوله‌بلکی دوخت واقعی تقاضــا وی موثری وی .

خلیق الزمان چودری چی د مسلم لیك قوی غړی او په۱۹۳۷ کال کی په صوبه سر حد کـی‌دغی سیاسی پارټی دځانګی د موسسینو نه‌ؤ داسی شــهاد تورکوی چی خان عبدالغفار خان دهند دملی کانګرس دمشـــرا نوسره دلومړی ځل له پاره په۱۹۳۰ کال کی ملاقات اوخبری‌وکړی. دچودری خاطری چی د( پاکستان په‌لار کی) کتاب کی‌چاپ شویدی‌دمولف دشخصی غرض سره سره په زړه پوری هم‌دی :( داملاقات‌هغه وخت‌ؤ چی کاندی په‌لکنهو کی‌ؤ. دغه ځای ته خان عبدالغفارخان راغی اوما سره میلمه شو. ده له‌مانه وغوښتل چی کاند ی‌ته‌یی معرفی کړم. ماده‌خان سره کاندی ته ور ووست او ورسره‌معرفی می‌کړ. څو ورځی یـــی ورسره خبری اولیدنی کـــتنی وکړی. په دغه ترڅ کی مـــا دا مشاهده کړه چی خان‌پـــه ډیـــراخلاص سره دخپل هیواد چـــارو ته ځان وقف کړی‌دی مګر دد ی‌سره سره دهغو مسلمانا نو د وضعیت نه پوره خبرنه‌ؤ چی دهند په‌ځینو ولایاتو کـــی یـــی اکثریت لاره. دی دهغه پیچلـــی‌جریان اوګډوډ وضعیت نـــه بی پرواؤ کوم چی په‌ولا یاتو کـــی‌پیښیده اود هند دمسلما نـــانو مستقبل یی ټاکه. وروسته بیـــادی لکه چی‌مو ږ پوهیږو ســـتر کانګرسی لیډر کیږی اود سرحدپه کاندی شهرت مومی ).

څرنګه چی دخدایی خدمتګارانو اود هند دملی کانګـــرس د مشرانو په منځ کی دنظر یـــاتو وهدفونو توافق‌ؤ اوحتی‌دسیاسی مبارزی دمیتودو نو په‌څرنګوالی‌کی‌هم ددوی یووالی موجود ؤ نودی کار داکومك وکړ چـــی‌مذهبی محدو دیتو نه له منځه یوسی او سیاسی پارټی شـــی.ددوی دډیر وخت په‌طول کی یوه ټینګه اتحادیه جوړه کړه‌اووخت‌په‌وخت یی مفاهمه سره کوله‌او د استعمار په ضد یی پلا نـــونه‌جوړول . دپښتنو منو رینوهغو نماینده ګانو چی یوازی دمذهب‌له نګاه نه‌یی فکر کاوه او پــــه

خدایی خدمت گارانو کی داخــل‌وو نوی دستورات و نه‌منل اود گونډنه ډیر ژرخارج شول مگــردومره خبره ده چی‌دغه کــار د خدایی خدمت گارانو دغو رزنگ‌اساسی هدف ته کومه صدمه‌ونه رسوله اود وطن دوستی نهضت‌اوحرکت همداسی ادامه درلوده.
یود هغو پرنسیپو نونه چــی‌خان عبد الغفار خان له‌کانگر ــ سیانو څخه را اقتباس کړی‌اودپښتنو خاوری ته‌یی په غیــــر طبیعی ډول راوړی‌و، هغه عدم‌تشددۆ. دا دگانــدی مشهـــور وضعیت ۆ اوپه دی فلسفه ټینگ‌ولاړۆ . دبرتانوی هند په‌شرایطو کی داستعمار دظلم په‌مقابل کی‌داد مبارزی یوازینی شکلۆ. د هند دملی کانگــرس مشـــهورشخصیت (راجینو راپرا ساد) په خپله بیو گرافی کی‌داسی لیکلی‌دی: (دعدم تشـــدد دمبـــارزی خاصیت دادی چی‌کوم ځوان چی‌دعدم تشدد پرنسیپ ساتی هغه ددی په ځای‌چی تکلیف اوعذا بـ‌خپل مخالف ته ورسوی په خپل ځان یی تیروی. دی‌خپل هدف‌ته‌ځان په‌دی نه‌رسوی چی مخالف متضرر اوپه کړاویی اخته کړی‌بلکی غواړی چی دمحبو بیت او خپل تکلیف له‌لاری په مخا لــف‌جانب کی‌دهمدردی، ترحـــم او انعطاف حس پیدا کړای ).
په پښتنی سیمه کی چــی په‌تدریج سره وسله وال قیـــا م احاطه کړی‌ۆ اوخو نړی پاخونونه‌پکی روان‌وو دارنگ مفـــکور ی زیات اوپراخ پلویان پیدا نــــه‌کړل. په‌دی حقیقت باندی دملــی کانگرس لیډران هم‌پوه وو او البته پخپله خان عبدالغفار خان چــی تــل به‌یـــی خپلو هیــوادوالو ته ویل چی دصبر او زغـم نه کار اخلی هم‌پوه ۆ ده‌به‌ویل:(زه ډیر خواشینی کیږم چی‌خبر شـــم خدایـــی خــد متـــگا رانود زور او تـــشدد نـــه کـــار اخیستی دی. زموږ حرکت خــودعدم تشــــدد حـــرکت دی اود محبو بیت او تواضع لــــه لاری‌مخ په وړاندی روان دی. دتشدد او زور چاری زموږ په‌قانون کی‌نه شته. زه‌تاسی ته‌حتی داوایم چی زموږ حرکت نه‌یوازی په‌عدم‌تشدد بنادی بلکی په ثبات‌اوعزم هم‌ولاړ دی) .مگر هیڅ اقدام اوهیڅ کارونه شو کړای چی‌آزاده طبیعته پښتانه دمقابلی نــه منع کړی. دپښتنو په ذهن کی‌د

پیښنور دمسلح قیام خاطره چې د۱۹۳۰ کال داپریل په درویشتمه نیټه واقع شوې ؤ لاتــازه وه. دهیریدو خبره نه ده چې ټول ښار ددوه هفتو دپاره دقیام کوونکوپه لاس کې ؤ. دهغو مړوقبرونه لاوچ شوی نه وو چې دقصه خوانی په بازار کې ټوټې ټوټې شـوی وو اوهغه زخمونه لانه وو جوړشوی چې انګلیسی عسکرو پــه برچو وهلی وؤ نوپه داسی وخت کې دعدم تشدد بلنه ناآشــنا او بی معنی ښکاریده .

دغه خلك (سرخپو شان) چــی دپښتنو له پاره یی آزادی غوښتنه هرچیری چې به وليدل شول پــه ډیر حرارت اوتوده مینه ســره به یی استقبال کیده، ددغی پارتی دفعالیت ښکلی تابلو جواهر لال نهرو په (خپله بیو ګرافی) کــی ترسیم کړی ده: ( هرچیر تــه به چې خان عبدالغفار خان او یادده مهم همکاران ولاړل هــلته به یی دلی دلی خلك جذب کول اوحوزی به یی جوړولی اوډیر ژر ټول سرحد له خدایی خدمتګارانوډك شو. داحوزی بیخی دعــدم تشدد حوزی وی اوهمدایی شعارؤ او دافکر وربا ندی تحمیل شوی ؤ که نه دوی دجنــګونو اوزوراوړده سابقه او پخوانی عنعنــه لری اوعدم تشدد ددوی دطبیعت نه خلاف کار دی اوهم دوی دیو ناآرام سرحد سره (آزاد قبا یل سره) نژدی اوسی. ددغه مــنظم حرکت چټك رشد او پر مختــګ دولت په زیات تشویش کی اچولی ؤ. زه ګومان نه کوم چې دولت به ددوی په اعلان چې دتشدد نه کار نه اخلو باور کړی ؤ، اوکه باوریی کړی هم وی داسی ساز مان ضرور دولت ته سر ګردانی اوتشویش پیدا کوی. خــدایــی خدمتګارانو یو داسی عملی قدرت مخکی کړی ؤ چې دولت ور تــه په سړه سینه کتل ).

هو ! استعماری حکومتو نــه بیداروو. دغه حرکت چې په ســر کی یی خان عبــدالغــفار خان ؤ دومره وسعت پیدا کړچی و یره او تهدید یی منځ ته راووست . دسرخپو شانو په لیکو کــی دری لکه ځوانان داخل شول. دحکومت له خوا زور اوظلم پیل شــو اود ۱۹۳۲ کال په فبروری کی یــی پوره شل زره تنه بند یان کړل اود پارتی مشران عبدالغفار خان ، ډاکټر خــان صاحب ،هــلالي ،

عبدالاکبر اکبر اونور یی په‌اوږده‌بند محکوم کړل‌مگر په‌دی باندی هم داستعماری حکومت زړه‌لا یخ‌نه شو اود همدی کال په آخرکی یی په‌صوبه سرحد کی‌پارټی اوسازما نونه غیر قانونی اعلان کړل.

دپښتنو دملی آزادی‌دغورزنگ‌دغی وقفی ډیر دوام ونه کړ اود خپلواکی اود خپل حق‌له پاره‌دپښتنو بله نوی مرحله تر پخوا پخه پیل شوه .

په ۱۹۳۵ کال‌کی دنړی په‌مختلفو هیوادونو که رصد خانو دځمکی په پاسنی قشر کی‌اختلال، تشنج اوغیر طبیعی حالت ثبت کړ. دپوهانو دتعیین له‌مخی‌دبلو چستان په کوټه کی ورانوونکی او مخربه زلزله‌وشوه‌په‌دغه سیمه کی چی‌ډیره‌وروسته پاتی سیمه ده ددی پیښی سره‌په‌یو وخت کی‌سیاسی بحران او تزلزل هم‌منځ ته‌راغی. دلته‌له بلوڅانو سره پښتانه هم اوسیږی .

د ۱۹۳۱ کال داحصایی له‌مخی‌دلته یولك او اوه‌زره پښتانه اوسیدل، پښتانه زیا تره‌دبلو چستان په‌ژوب ،کوټه په پښین، لورالای اوسیوی کی میشته دی. دوی په‌غیر طبیعی ډول دهغو پښتنو نه جدا شوی‌دی‌چی دخیبرنه ښکته او پورته اوسیږی اود آزاد و پښتنو نه‌هم بیل‌دی کوم‌چی دپښتنو دپرمختگ او بیداری دعمو می حرکت نه‌رډیره پوری په ځنگ پاتی وه.

دروانی پیړی ددیرشمو کلونو په سرکی دلته په بلو چستان کی دسیاسی او فکری بیداری‌تمایلات ولیدل شول اونا آرامی یی دلوړی ځل له‌پاره په دغه‌گوښه سیمه کی‌منځ ته‌راو وستی اوپه دی باندی دلندن مطبوعاتوهم اعتراف کړی‌ؤ. مگر کوم وړوکی مخالف حرکت به چی‌ولیدل شو ډیرژر به انگریزانو هغه په‌قطعی او ظالمانه توگه‌له منځه ووړ. مثلادکوټی دپښتنو یوی ډلی دخان عبدالصمد خان اڅکزی په‌مشری دبچه سقاو د ارتجاعی رژیم په‌مقابل کی دافغانانو حمایت وکړ. په‌دغه حرکت باندی چی ځنگه دانگریزحکومت خبر شو سمدستی یی ددغی ډلی غټ غړی‌بند یان کړل‌اوحرکت یی منحل کړ .

دغه سیاسی او اجتماعی حرکت او نهضت چی په بلو چستان کی منځ ته راغلی و دهغه دچټك فعالیت له پاره دبلو چستان نه دباندی په پنجاب اوسند کی هم زمینه برابره شوی وه، په دغو ولایتو نو کی چی نسبتا پر مختللی ولایتو نه دی پښتانه مها جرین او محصلین چی اصلا دبلو چستان څخه وو دلومړی ځل لـه پاره د آزادی دحرکت سره آشنا شول اود امپر یالیزم په ضد حرکت پوری پیوست شول. په دی توګه دسر تیرو لیکو او تولیو ته نوی پیاوړی تکمیلی قوه وارده شوه.

دروانی پیړی ددیرشمو کلونو په سر کی دبلو څانو نمایندګانو دمطبو عاتو اوادبیا تو په ذریعه خپل پراخ تبلیغات پیل کړل. خصوصا بیا دلاهور په اخبارو نو کی لکه زمیندار، انقلاب – مساوات ) ددوی مضامینو اومقالو دبلو چستان د وروسته پاتی کیدلو اود اقتصاد دخرابی اصلی عوامل او اساسات فاش کړل اوهم یی په دغه استعمار شوی توټه کی دپیر نګیا نو ظلمو نه او تیری وښودل. دمضا مینو لیکو نکی او ادبی رجال پښتا نه اوهم بلوڅان وو. دوطن دوستی ژور و احساساتو او دغی مینی چی خپل وطنوال دااقتصادی رشداو کلتوری پر مختیا په لاری روان کړی دبلوچستان دمنورینو محدود قشرونه سره یو کړل او ژبه او نژاد په نظر کی و نه نیول شول ځکه چی ددوی ګـتـی او هدفو نه سره یو وو. وګوری ،میر یوسف علی بلوڅ په خپلو کینو او انقلابی وینا ګانو کـی پښتنو ته چغی وهی، دده خطاب یوازی بلو څانو ته نه ؤ بلکی ټولو هغو کسانو ته یی خطاب کاوه چی دااستعمار او انګلیسی ضد جبهه کی ولاړ وو. دی دبلو څو دمغاسی قبیلی مشر دی چی سیوی ته نژدی پرته ده .

دهغی مقالی له کبله چـی دمساوات په اخبار کی چاپ شـوه دکلات محکمی میر یوسف علـی بلوڅ په یوولس میاشتو حبس او نغدی جریمی محکوم کـړ اودقبیلی دمشری نه هم معزول شو، دهغو بلوڅانو دسیاسی اواجتماعی فعالیت درشد په نتیجه کی چی دبلو چستان نـه بیرو ن یی تحصیل کاوه داسی اقداما ت

وشول چې دهغو په سبب دمعارف او پوهنې حرکت ته چې په ابتدا کې دبلوچستان نه دبانډې پېل شوی ؤ نوی منظم شکل ورکړای شو .

دروانې پېړۍ دشلمو اوديرشمو کلونو په حدودو کې په لاهور کې د ( بلوچستان د محصلينو اتحاديه ) جوړه شوه. دغې اتحاديې ټول هغه شاگردان سره منظم کړل او په يوه مترقي فکر يې راټول کړل کوم چې په کالجو نومدرسو اومختلفو ښوونځيو کې په تحصيل بوخت وو .

ددغې اتحاديې موسس اومبتکر مشهور پښتون شخصيت محمد هاشم غلجي (۱۹۰۸ زو کړی )و.ده په هاغو کلونو کې دلاهور په کالج کې خپل تحصيلات پای ته رسولي وو. داتحاديې تنويري اومترقي فعاليتو نو د ( پښتون جرگې )اونورو محلي وطن پالو ساز مانونو حمايت ځان ته حاصل کړی ؤ .

په ۱۹۳۰ کال کې دبلوچستان سيمو ته (له دې جملې نه هغو سيمو ته چې پښتانه پکې اوسيږي)دعليگړ دپوهنتون يو هيات لاړ اوخپل مشاهدات يې وکړل. په دې ډول دلومړي ځل له پاره د بلو چستان داجتماعي مو سسو اود هند دملي آزادي دحرکت استازو ترمنځ مستقيم تماس ټينگ شو. دغو ليدنو کتنو په ډېرو خواوکې دپښتنو او بلوڅو په رابيداري کې چې په درانه خوب ويده وو مرسته وکړه. د۱۹۳۲ کال په ديسامبر کې ديعقوب آباد په واړه ښارکې (دسند سر حد ته نژدې )دبلو چستان د مختلفو سيمو داستازو لويه جرگه تشکيل شوه. دغې جرگې هغه اساسي تغيرات دغور لاندې ونيول چې په نژدې راتلونکې کې دبلوچستان په اجتماعي ژوند کې په نظر کې وو .

جرگې دنوی اتحاديې د کارپروگرام جوړکړ چې په لومړي سرکې دتحصيل او پوهنې په چارو پورې محدود ؤ: ( داولس دعرفانې او کلتوري چارودلوړتيا تعميل، په مورنۍ ژبه ابتدا يې تعليم) دجرگې رئيس په اتفاق سره دبلوچستا ن دپښتنو مشر خان عبدالصمد خان اڅکزی وټاکل شو .

خان عبدالصمد خان :

خان عبدالصمد خان اخکز ی په ۱۹۰۵ کال کې دگلستان په کلي کې گوتې ته نژدې پیداشوی دی. دده پلار نور محمدلوی مذهبي عالم ؤ مگر دهغو عالمانوله جملې څخه نه ؤچې عصري علوم نه مني. په اته کلنې کې یی عبدالصمد خان دکوټې په رسمي مکتب کې داخل کړ .

دمعلمانو داکو ښښنونه چې عبدالصمد خان داسې وروزي چې داستعمار دگټو سره سم چلندو کړي بې فایدې اوبې نتیجې وو دده سیاسي فعالیت په ۱۹۲۸ کال کې پیل شو. په دغه وخت کې دی دیو سخت امتحان دعهدي نه راووت. دخو میاشتو بند دده دفکر دغوړیدو او روښانتیا سره مرسته وکړه. اوده ته یې دژوند سخته مگر دافتخار نه ډکه لار وټاکله .

دجرگې تعلیمي او تنو یري هدفونو دخان عبدالصمد خان شخصي نظریات هم منعکس کړل دده یوه نظریه داوه چې د بلو چستان دپښتنو دورو سته پاتې کیدلو او بدوضعیت اساسي علت دادی چې دلته تدریس په مورنی ژبه نه دی بلکې استعمار خپله ژبه په کار اچولې ده. خا ن عبدالصمد خان دروانې پیړۍ په دیرشمو کلونو کې دتعلیم اوپوهنې په برخه کې دخپل ملگري اوهمکار محمد هاشم غلجي سره چې تازه خپل هیواد ته راستون شوی ؤ اود بلو څانو ملي انجمن یی تاسیس کړی ؤ، مشوري کولې څو کاله وروسته دخان عبدالصمدخان په نظریاتو کې بنسکا ره انکشاف ،تکامل اوپو خوالی راغی. دی کارسره دده هغو شخصي تماسونو مرسته کړی وه چې ده دخان عبد الغفار خان اودسر خپو شانو دنورو مشرانوسره ټینگ کړی وو اوهم دصوبه سرحد او آزادو قبایلو د آزاد ی دحرکت سره دده آشنایي اودهند دملي نهضت سره دده معر فی په دی کار کی موثروو. خا ن عبد الصمد خان هماغه لار طی کړه په کومه چې خان عبداغفار خان اود آزادی دغور زنگ نورپیاوړی مشران روان وو. دی د برتانوی هند دمسلما نـانو د(پان اسلامیزم) پلوی هم ؤ اودا اتفاقي نه وه چې ده داردو څخه په پښتو دقرآن ترجمه ( ترجمة

القرآن) وکړه، دی ترجمی سره‌گټوری تبصری هم‌وی چې‌بیخی یی ورځنیو مسایلو ســـره اړخ‌لگاوه. ددغه تفسیر ژبه روا نه او ادبی ده اوپه پښتنی ټـولنوکی‌یی ښه انعکاس پیدا کړ. د روانی پیړی ددیرشمو کلونو په‌سرکی خان عبدالصمد خان په‌ډیر اخلاص او خـوشحالی ســـره داکانگر سیا نو مفکوره ( عـد م تشدد) ومنله. ده فکر کاوه چې‌داستعماری حکومت په شرایطو کی دتشدد نه‌ډکه مبارزه بــی‌نتیجی ده. موږ بایدعدم تشدد په فضاکی ملت‌او خلك پـوه اوآزادی ته یی‌چمتو کړو اوچـــی داکار وشو راتلو نکی مـسایـل‌پخپله حل کیږی .

دبلو چستان دپښتنو د آزادی‌دمبارزی په‌پړ مختګ کی لـوی رول د (انجمن وطن) ټـو لـنی‌چی دخان عبدالصمد خان له خوا جوړه شوی‌وه لوبولی دی دغـی‌ټولنی دتعلیمی غوښتنو په‌څنګ کی سیاسی غوښتنی هم لرلی .ددغه انجمن وروستی هدف داو چی هند دی خپله آزادی واخلی‌او استعمار دی خپل تسلط‌پد غه خاوره باندی ختم کړی.په۱۹۳۹کال کی‌دغی ټولنی د (پښتو ن جرگه) او وروسته بیادهند دملی کانگرس سره خپـل ټینگ تماسونه اوتاوده مناسبات‌قایم کړل .

دصوبه سرحد ، آزادو قبایلواوبلوچستان خواره واره او جـدا شوی پښتانه سره یوشول اویوه‌متحده ملی جبهه یی‌جوړه کـړه دپښتنو په‌خاوره کی ددغو لویوټولنو ( پښتون جرگه ـ انجمن وطن) داستازو پـه نظـر یـاتواو کارونو کی دڅه اختلاف سره سره دوی دامپر یالیزم په ضـدعمومی مبارزه په کار اچولی وه، پښتانه یی‌په مترقی ایدیا لوژی‌سنبال کړی‌وو اوپه دوی‌کی یی عمومی شعور پیدا کړی‌ؤ .

خان عبدالغفار خان، خـــا ن‌عبدالصمد خان اوددوی نـژ دی همکارانو تل هغه څه وړا نـدی‌کول چی دخلکو آواولس په گټه وو. دوی په‌ژبه اوقلم، اخبـا راومجله کی‌تنویری مواد وړاندی کول اود دوی ادبیات ډیر قوی و موثروو. په‌دوی پسی لکـــه چی ښکاره ده‌دپښتنو پراخ‌اولس‌اوعام خلك روان‌وو اود قبیلـو خانانو او ملکانو هم‌په دوی‌پسی‌اقتدا کړی‌وه. (خانانو اوملکانو

به ورڼه کله کله انحراف کاوه اما عامي پرګني ورسره تېنګــي ولاړي وي). دغه پښتانه مشران چي دمختلفو اجتماعي طبقا تـــو حمايت يي جلب کړي‌و اوزياتره‌اجتماعي ټولني يي په‌اختيار کي وي اود خپلي جهانبيني له‌نظره‌مخصوص بورژوا ناسيو نالستان وو ددی سره سره دخانـــي اومخصوص امتياز په فکر کی‌نه‌ؤ اوڼه يي لويي غوښته .

دروانی پيری په‌دير شموکلونوکی هغه موانع اوخنډونه لــری شول چي‌دهند دآزادي دغورزنګ‌دزورور بهير سره دپښــتنو د غور زنګ ديو والي په‌لار کـــي‌موجود وو. کومی مهمی پيښــی به چي‌په هندکی منځ ته‌را تللي پښتنو په اجتماعي ژوند به يي اغيزه کوله اوغوځ تاثير به يي‌کاوه. له‌دی کبله اتفاقی نـه‌وه چي په‌ټول برتانوی هند کـــي‌دراتلونکي اساسي قانـون پـه جوړولو اوهغو ريفورمونو کــی‌بحثونه کيدل چي‌بايد ترهر څه لومړی اجراشي پښتانه بی‌تفاوته پاتي نه‌شول اومظاهري يــي وکړي اوميټنګونه يي جوړ کړل‌دهنـد پـه هـر ځـای او پـه پيښور کی‌هم داچغي وهل‌کيدلي( سايمونه ! زموږ له‌خاوري‌څخه وځه . په‌هغه‌وخت‌کی دانګليسانوله‌خوا يوکميسيون دسايمون په مشري‌په( ۱۹۲۸ )کال جوړ شوی‌ؤ چي دنوی اســاسي قــا نــون له‌پاره کار وکړی. ددغه عـــمل‌په‌مقابل کی‌لويي مظاهري وشوی چي دپيښور ښاريانو اودشاوخواخلکو پکی ګډون کړی‌ؤ. په دغو مظاهرو کی‌خان ميرهلالي يـــوشعر وا وراوه چي ډير شـهرت يي پيدا کړ اود خلکو خوښ شو.دغه جمله (سايمون ګوبيك) چي په ټول هندکی ويل‌کيده ددغـه‌شعر له‌پاره قافيه شوه دشعــر لومړی بيت داسي دی :

زموږ وطن ته‌مه راځه ای‌سايمون ګوبيك
څه بستنه‌لندن ته بيا‌ای سايمون ګوبيك

په ۱۹۳۵ کال استعمار چيانودنوی قانون په جوړولو ســره ددوی په اصطلاح (دهند په‌ملتونومرحمت وکړ)، دغه قانون پــه رښتيا سره د(غلامي قانون )په‌نامه ياد شوی‌دی ځکه‌چي ټــول حکومت او قدرت دپخوا غوندی‌ددغه قانون له‌مخی د انګليسـ

حکومت په واك كې پاتې كيږي، قانون دصوبه سرحد په باره كې ځينې تغييرات راوستل. دد غـه قانون له مخې د برتانوي هند په ټولو ولايتونو كې محلي اساسبلي جوړې شوې. دغه اسامبلـــي او مجلسو نه مستقيما دګور نرانو او واليانو په اختيار كـــي وې. ددارنګ فيدرالي سيستم جوړول تر ټولو لوړې دانګليسانو پـــه ګټه وو ځكه چې په دې صورت كې لوړ رتبه جيره خواره كيدل او په حكومتي دستګاه كې اختصاز راته .

په ۱۹۳۷ كال په صوبه سرحد كې دولايتي اسامبيلي لـه پاره انتخابات وشول، انتخـا بـا ت د بې پارتي مسلما نانو وګټل، ددغو خلكو په سر كې د (انګـليس ـ پښتون اتحاد) مشهور طرفدا ر صاحبزاده عبد القيــومؤ. دې دصوبه سرحد دلومړي وزير په توګه وټاكل شو مګر دانتخا با تو نه يو كال لاتير نه ؤچې ده مـاتې وخوړه اوخپل ځاى يې د كـا نګر ـ سيانو ليډر ډاكټر خان صاحـب ته چې په دغه وخت كې داسامبيلي رئيس وپريښود .

راجند راپر شاد پـه خپلــه بيو ګرافي كې داسې ليكلي دي: د(۱۹۳۷ كال دجولاى په آخـــر كې دكانګر سيانو حكومتو نــه په شپږو ولايتو نو كې تشكيـل شول بيهار ، بمبيې ، مر كـــزي ولايتو نه، متحده ولايات اوريس او مدارس كې، څرنګه چې پـــه صوبه سرحد كې په مقننه قوه كې د كانګر سيانو اقليت ؤ هلته د بې پارټي مسلما نانو حكومت جـوړ شو مګر دغه حكومت ډير مقاومت ونه كړاى شو ځكه چې په شپږو ذكر شوو ولايتو نو كې د كانـګر سيانو حكومتو نه منځ ته راغلـل نو محلي مقننه مجلس ور څخـه سلب اعتماد وكړ اود سقوط سره مخامخ شو، زه او مولانا آزاد د كانګرس ډلې صوبه سرحد تـه ولېږل لو چې د كانګر سيانو سـره دحكومت په جوړولو كې مرسته وكړو. موږ چې راغلو كار سخت نه ؤ پخپله ډاكټر خان او خـا ن عبدالغفار خان دحكومت دتشكيل چارې پوره ترتيب كړې وې موږ يوازې هغه تصد يـق كـــړې. حكومت د كانګر سيانو لاس تـه ورغى او په سر كې يې دلومړ ى وزير په حيث ډاكټر خان صاحب وټاكل شو ).

اما كومه فيصله به چـــې د ډاكټر خان صاحب كابينې وكړه هغه به تر هغې پورې داعتماد وړ ه وه تر څو به چې په پيښور كــې

انگلیسی گورنر جارج کنینگهم تصدیق نه کړه. مثلاپه‌دیر تکلیف سره دپوهنی وزیـر مشهـور پښتون مورخ قاضی عطاءاله‌خان (٢) وکولای شول چی انگلیسـی‌حکومت ته قناعت ورکړی چـی دصوبه سرحد په ابتدا یـــی‌مکتبو نوکی دپښتو ژبی داخلول ضروری اوګټور کـار دی. دایالتی اسامبلی په غونډه کی‌چی په‌هماغی کال‌کی په ایبټ آبـادکی جوړه شوی‌وه، کومه لایحـه چی دقاضی عطاءاله خان له خوامجلس ته وړاندی شوه هغه د سختو اعتراضونو اوحملو سـره‌مخامخ شوه چی‌په نتیجه کی د صوبه سرحد په ځینو ابتـدایی‌مکتبو نوکی پښتو ژبه‌په‌تدریسی پروګرام کی ونیول شوه . ٢ ١٠١

لویو جدی او اجتماعی پرابلمونوسره چی دکانګر سیانو مخی ته پراته وو په‌هغه وخت کی څـه‌کیدل ؟ .هو! داستعماری رژیم په وخت کی‌داسی ضروری‌مسایل‌لاینحل پاتی کیدل. دلته لا پـه اسامبله اوحکومت کی طبقـا تی‌وضعیت تاثیر لاره اود بـدا ی طبقی ګټی په‌نظر کی‌نیول‌کیدلی‌حتی ځمکو الو لیبرا لانو پښتنو سره دا اندیښنه وه‌چی دعـا مواوټیټو قشرونو طبقاتی مبارزی به ددوی امتیازات او استثنا یی‌حقوق ترکومی اندازی په خطـر کی واچوی .

دانګلیسا نو ظلم اوفشـارکانګر سیان مجبور کړل چـی داستعماری حکومتونو په‌مقابـل‌کی څه تیریدنی (ګذشت) وکړی د ١٩٣٩ کال په‌آخر کی دملـی‌کانګرس دمشرانو دفیصلی لـه مخی چی دانګلیس سره همکاری‌ترك کړی دډاکټر خان صـاحب کابینی او همدا رنګه پـه نوروولایاتو کی دکانګر سیا نـو حکومتو نو استعفا ورکـړه. د کانګر سیانو حکومت دپښتنو په اجتماعی ژوند کی‌مهم تـغیرا تراوستل اولانوریی هم غوښتـل چی رایی ولی‌مګر استعمار داسی‌مترقی حکومتو نو ته خاتـمه ورکړه ځکه داسی حکو متـو نه‌داستعمار دزغم وړنه وو .

---

(١) قاضی عطاءاله چـی« دپښتنو تاریخ» دمهم اثر مـولف دی چی‌په دیرشمو کلونو کی یی‌دبنارس په‌زندان کی‌لیکلی‌و بیا دپاکستانی مرتجعو او ظالمـــوواکمنو له‌خوا شهید شو .

# دادبیاتو دنو یوالی په‌لار کی مهم پړاو

په پښتنی سیمو کی دادبـــی جریان په عمومی سیلاو کـــی دپښتنو خاصیتو نه اوممیزا ت داسی په ښکاره منعکس شول لکه په‌هنداره کی چــی شـــیان څرگندیږی.

په‌دوی کی دنوو تـــما یلا تومبارزی چی د کـــاپیتا لیستـــی مناسباتو په شرایطو کی منځ ته‌راغلی دی دعمومی ژوند پـــه مختلفو ساحو کی خورا تیـــزی‌شوی، که څه‌هم په‌دغو مبار زو کی دټولنی دعین انکشاف پـــه‌ښکاره حرکت سره ( دخوك اود چا) سوال لادمخکی نه‌حل شوی‌و،خو ارتجاعی ټولنو، محافظه کارو اوایدیالی جمال پر ســـتا نـــوهمداسی کوښښ کاوه چی‌خپـــل وضعیت وساتی اوخپل هـــد فـدلاسه ورنکړی مگر دوی او س هـــغه پخوانی قوت او قـــدرت‌نه‌لاره اونه‌یی دومره غـــوڅ او قاطع تاثیر لاره چی دټولنی فکراو پښتو ادبیات دخپل کنترو ل او اغیزی لاندی راولی او پخپله‌گته‌یی وځرخوی .

مهم اوستر بدلو نونه پـــه‌تحریری ادب کی منځ‌ته راغلـــل عبدالقیوم په‌خپل کتاب (دپښتنوپه پولوکی طلااو وسله) کی‌لیکی (دآزادی نهضت چی د ۱۹۱۹ کال‌نه راپه‌دی خواپیل شوی‌و پښتنو لیکوالو اوشاعرانو ته‌یی دژو ندخواته بلنه ورکړه اود ژوند په چارو کی‌یی فکر کولو ته‌وهڅول‌په‌ادبیاتو کی غوره تمایل مـــنځ ته راغی، ،یعنی دساده الفاظو نه‌استفاده عادت شوه، دی استفادی دا تضمین کړه چی‌په آثارو بـــه‌حتی دکوځی (نالوستی) سړی‌هم پوه‌شی اوډیر به‌عام فهمه شی ،موږ دپښتو ژبی اوادب دخـــورا ښکلی اولوړ پر مختگ په‌درشل‌کی یو) په‌یوه مقاله کی‌چی پـــه ۱۹۵٤ کال کی دپیښور دالفلاح په مجله کی‌چاپ شوی ده داسی

لیکل شوی دی: (دپښتو ادبیا تو نوی توب اوبدلون دروانی پیړی شلمو کلونو ته منسوب دی، که موږ پښتو ادبیاتو ته مراجعه وکړو او دغه ادبیات دهغو ادبیاتو سره مقایسه کړو چې په تیره پیړی کی منځ ته را غلی دی، دی نتیجی ته به ورسیږو چی دغه اوسنی ادبیات په خومراحلو سره دهغونورو نه وړاندی دی اونوی شکل اوفورم یی غوره کړی دی).

دنورو لیکوالو په عقیده خاص دروانی پیړی دشلمو کلونو په سرکی تحریری ادب اومخصوصاً بیا شعری نوعی دعنعنی اوعادت پوره تاثیرله منځه یووړ اوډژوند په لور یی خپل مسیر ته ژور تغیر ورکړ، عنعنوی اد ب چی دګل او بلبل نه عبارتؤ په ژوندی او حیاتی ادب بدل شو اودژوند دچارو سره یی ارتبا ط پیدا شو .

خان میر هلالی پخپل کتاب (ننګیالی پښتانه) کی داسی لیکلی دی: (پښتو ادبیات په داسی حال کی خپل نهایی سرحد ته دلومړی ځل له پاره ورسیدل چی بی معنی آهنګونه، سندری او نغمی یی پریښودی اود اولس خیر اوشر او بنادی اوغم ته یی مخ ستو ن کړ، اود (انجمن اصلاح افاغنه) استازو هم دهمدا راز آهنګونو پیروی اوتقلید کاوه اوپه ادبیاتو کی یی نوی فکر په کار اچاوه .

همدا اوس ډیر شاعران دخپل اولس له پاره دمبلغانو اونطاقانو حیثیت لری، دهنر اوفکر استادان په ټولنه کی اوریدو نکی دهدف اوژوند خواته تیزوی. حتی مشاعری چی په پیړیو پیړیو په عنعنوی شکل کیدلی اوشاعرانو به پکی په فصاحت او بلا غت اود شعر په سبکونو اود الفاظو په رنګینیو کی یو تر بله سره مسابقی کولی ـ اوس په بل رنګ اوښتی دی اود ژوند په باره کی پکی بحثونه او خبرې کیږی او تش د الفاظو ښکلا اوساعت تیری پکی غرض نه وی .

دروانی پیړی دشلمو کلونو په سرکی دا و تمانزیو په (آزاد سکول) کی مشاعره کیدله، د مشاعری په جریان کی ګنډون کوونکوته دا موضوع وړاند ی کیدله « ځوانان باید تل دآزادی

له پاره جگړو تهچمتو وی» کومشاعر بهچی دشعر پهڅگر کــی سبقت وکړ اوبنه اثربه یــــی اوریدو نکو ته وړاندی کــړد مخصوصی کمیتی لهخوابه نغدی انعام ورکول کیده .
دنوی جریان لهمخی چی اد بتهیی لار موندلی ده کیدای شی دخان میرهلالی شعر چیدلومړی ځل لهپاره دده لهخوا پــه ۱۹۲۳ کال کی دپیبنور پهیوه میتینگ کی لوستل شویو دقضاوتلاندی ونیول شی :

دغلام قوم نهپه دنیا کــیمختورن نشته دی
چی وی آزاد والله دهغه نه تور زن نشته دی
زموږ وطن دی او مزیپریفرنگیان کــوی
که موږ مروزموږ لهپاره یوکفن نشته دی

پښتونه پاخه خپلوطن کــهدانگریز نه آزاد
ویره اوخوف مکوهتاله دار، رسن نشـــته دی
پښتونه بیتانه هر قــوموینم آزاد وآباد
ستا دوطن پــهشان ښایستهښکلی گلشننشتهدی

دآزادی محبوبا تاتهسټــر گکو نهوهی
دآزادیدمعشوقی نهگلبدن نشته دی
دغلامی دازنار لری کړهلهغاړی ځنی
دمسلمان بیآزادینــه بل زیستن نشـــته دی

اراده کلکه، پوخ کوښښاوعمل پرله پسی
دینه کار واخله ستاپهشان پولادی تن نشته دی
زه هلالی پهدی جلسه کــیکړم پهزوره اعلان
زموږ وطن دیپکیهیڅ کار دبولتهن نشته دی

په دی شعر کیپــه پــورهوضاحت او صراحت سره او په پوره فصاحت اوبلاغت ســـره دپښتون ملت وضعیت تر سیـــم شوی اوهم ددوی مهمه او نږدیمسئله ( دتل لهپاره داستعماری ظلم ختم ) ښودل شویدی کهخههم داشعر پهعنعنوی ډول ویــل شوی دی اواستعاری، عبــار ثاوسبك یییخوانی دیمگر داکار نه یوازی داچی مانعنهشو چــیمولف دنوی عصر سره سمآثــار ولیکی اودوخت غوښتنی پکـــیخرگندی کړی بلکی دده اشعا رو

ته یی‌ستر هنری بلاغت ورکړی‌دی .

دومره خبره ده‌چی هلا لی‌په خپلو ادبی هڅو او آثارو کی ثبات نه‌لری اونه تل‌په یوه لار روان دی یعنی دده عقیده او مفکوره پوره ښکاره نه‌ده مثلاً کله چی‌ده دادوطن دوستی‌نه‌ډك شعر دپیښور په میتنګ کی په‌شور اوهیجان سره ولوست‌دهغی نه یوکال وروسته نوموړی په‌هغه میتنګ کی ولیدل شو چی دهندوانو په‌ضد په صوبه‌سرحدکی جوړ شوی‌ؤ. داد هندوانو په ضد مظاهری او میتنګو نه‌داستعمار چیانو (او د هغوی د ګوډا ګیانو) له‌خوا اود دوی په‌لمسون‌جوړ شوی‌و چی‌په‌هغو کی دمسلمانانو او هندوانو ترمنځ‌خونړی جګړی اوجنګو نه پیښ شول. دلته‌هم دهلالی وسله‌هما غه شعری سرینده وه . وروسته بیاده بی‌له تاسف اوپښیمانی نه داسی وویل: ( په ګڼه مظاهره اوجلسه کی چی‌دهندوانو په ضد وه ما دهند وانو په ضدکلك شعرونه ولو ستل‌او پښتنو ته‌می‌غږوکړ چی د هندوانو په مخالفت ودریږی ، ډاکترانو، مامورینو، دکانداړانو بډایانو او ځمکو الو ته‌می په‌میتنګ کی وویل‌چی دهندوا نو سره بیکاټ وکړی اوپه تنګسه‌یی اخته کړی. )

دروانی پیړی په‌دیرشمو کلونوکی دصوبه سرحد دآزادو قبایلو اود بلوچستان پښتنو بیدار ی اود دوی سیاسی ودی اوفعالیت په کلتوری او ادبی ساحو کی‌دنوو تمایلاتو دانکشاف سره پوره مرسته وکړه اوهم ددوی‌سیاسی رشد هغو نوو پیښو ته چټکتیا ورکړه چی ددغه ملت‌داجتماعی او اقتصادی حرکت‌په نتیجه کی منځ‌ته راغلی دی .

دروانی پیړی دیرشم کلو نه‌دپښتو ادبیاتو دانکشاف ددوه اساسی مرحلو په‌منځ کی یومهم‌سرحد ګڼل کیږی یوه ماضی مرحله ده چی‌په کلاسیکو عنعنوبناده اوبله عصری مرحله ده‌چی دشخصی اسلو بونو او سبکو نوتنوع اوغنایی خاصه‌ده‌او مختلف آثار او رنګا رنګ سبکو نه‌لری‌چی دابیا دنوو ادبی جریا نونو دتشکیل له‌پاره شرایط برابروی‌خاص په هادغه وخت‌کی د ریالیستی واقعیت او ورځنی‌ژوند څرك ولیدل شو اود خلکو

داضطراب او آرزو گانو دترسیم‌خواته دلیکوالو قاطع تمایل او بدلون منځ‌ته راغی چی‌دی کاردهنری سبکونو، طرزونو، ژانرونو او موضوعاتو نوی‌توب‌او تجدید تامین کړ. پښتو اوس دشعر اونثر په‌ساحه کی‌دبی مثله‌پر مختګ لاره وهی اونوی ژانرونه لکه ډرامی، سیاسی آثارهنری ادبیات او اجتماعی موضوعات یکی منځ‌ته راځی

دپښتو په تحریری ادبیا توکی تنویری او مترقی تمایلات اکثریت اوافضلیت‌لری، دپښتنودمنوری طبقی په ایدیا لوژی، اهدافو ،اخلاقو اواجتماعی ساحوکی مهم تحولات پیښ شوی دی. په نوو تاریخی شرایطو کی‌پرمختګ اوتنو یر چی د پښتنو داجتماعی اوسیاسی غور ز نګ‌سره ټینګ ارتباط لری او په نه شلیدو نکی توګه ددوی‌دفعالیت سره پیوستون لری اود آزادی اووطن پرستی دمفکور ی‌څخه یی الهام اخیستی دی واقعا دا‌سی پرمختګ اوتنویر پښتو‌اد بیات د خپل ا نکشا ف وروستی مرحلی ته ورسول .

لیکوال او شاعران چی‌روښا نه‌افکار لری دخپلو اسلافو غوندی دژوند په‌ټولو عینی او ذهنی‌چارو کی جمود اوخمود غندی ، فیوډالی مناسبات او پخوا نی‌ناوړه دودونه ردوی. دوی په خپلو آثارو کی‌په ډیر دقت سره‌استعماری ضد غور ځنګونو ته ادامه ورکوی ،دارنګ استعماری‌ضد تمایلات له‌پخوا څخه په‌پښتو ادبیاتو کی موجود دی .

دغو ټولو خاصیتو نو نوی‌هنری‌فورمو نه منځ‌ته راوستل اوادب دخلکو په پرګنو باندی تا ثیرواچاوه.

دپښتنو دسیاسی فعالیت پـه‌دغو بحرانی کلونو کی پخپله ژوند ادیبانو ته‌هغه لاره وښوده‌چی په هغی باندی دخلکو له پرګنو سره‌سم باید تګ وشی‌اودا تګ په‌داسی ډول وشی چی عصریی ایجابوی. په موقتی‌ډول‌په ادبیاتو کی داپخوانی سوال: ادب دادب له‌پاره که ادب دژوندله پاره وځنډید اوبحث پری نه کیده. په‌دغه وخت‌کی ادیبا نوخپل مخصوص مسؤلیت احسا س

کړ اوموثر اوګټور شعرو نه به یې ویل، شعارونه به یې ورکول، راپور ،تاژونه اوپامفلیټو نه یې لیکل، پراخو تولنو ته یې خطابي ورکولې اوآله دی لاری نه یې خدمت کاوه، لاپه هماغو کلو نو کې ډیرو ادیبانو او لیکوالو هغه مهمه لیکنه تصدیق اولاس لیك کړه چې ستر اجتماعي شخصیت خان عبد الصمد خان اڅکزي وړاندې کړې وه، ده په عقیده ادب لکه سیاست د جنګ دډګر حیثیت لري چې زورور ی مبارزې پکې کیدای شي. دی وایې چې ( لیکوال باید سپاهي وي اوقلم یې دتوري اوچاړه غوندې کار وکړي که ادب یوازې دساعت تیرې وسیله شي او ژوند ته یې مخه نه وي په دې صورت کې ادب حتی دهیواد دانکشاف او تمامیت په لار کې، خنډ وا قع کیږي اود ګټې نه به یې ضرر زیات وي او په دې تقدیر دلیکوالو شمیر کیدای شي چې لږ شي.)

دمنورو او تعلیم یافته پښتنو دایه یا لوژۍ په وده کې مهمه اغیزه دټولنې دژوند معنوي خوا اوخصوصا بیاد ادب عملي ګامو نو لرلې ده. ددې اتکل له مخې چې افکار په نړۍ حکومت کوي منورین او روښن فکران دعمومي ژوند په پیښو کې ادب حاکم ګڼي، دټولنې په بدلون او تجدید کې ادبیاتو ته دقاطع او غو ځ عامل حیثیت ورکوي اود آزادۍ په جګړو کې یې اساسي اوقوي وسله بولي ددارنګ نظریاتو انعکاس دپښتو ادبیاتو دانکشاف په وروستنیو مرحلو کې هم ښکاره ولیدل شو وتلي او مشهور لیکوال ما ستر عبدالکریم دپښتو حماسي اشعارو ته مخصوص ارزښت ورکړی دی ده داکار په هغه مقاله کې کړ ی دی چې عنوان یې دی (شاعر په ملت کې کوم مقام لري) او په (پښتون )مجله کې دروانې پیړۍ دڅلوېښتمو کلونو په سر کې چاپ شوې ده. دی لیکي ( دحما سي اشعارو ښښتن دعسکر او سر تیرې په نامه هم بلل کیدای شي، کله چې په هیواد کې سیا سي ظلم اوتیرې منځ ته راشي کله چې ددښمن عسکر استبداد او تعدی پیل کړي اود هیواد مقدسه خاوره تر پښو لاندې کړي او کله چې ملت ددښمن په مقابل کې خپل مقاومت دلاسه ورکړي په دغه حساس وخت کې شاعران راپیدا کیږي، په کوڅو ،واټونو او مهمو ځایونو کې دریږي او موثر

او اغزمن شعرونه وايي اوخپلووطن والو ته‌چغې وهي‌چې دزړور تيا اوشجاعت نه‌کار واخلي اوخپل مقاومت دلاسه‌ورنه کړي، ددوی په‌نارو سره په‌ملت کې‌په‌خپل ځان باور ټينګيږي، ملت پورته کيږي اوخپله ځمکه‌ددښمن‌څخه پاکوی اواستعمار اواستثمار ته په‌خوله سوك وركوی ).

دپورتنيو نظرياتو مطابـــق‌همدا شعردی چې‌په زياته اندازه دعمومی نهضتو نوسطح اووسعت‌تاکی اود ملی آزادی دمبارزو خاصيت منځ‌ته راولـــی مګـــردا رنګ نظرياتو اشتباه له بل هرڅه نه‌مخکی له‌دی کبله ده‌چی‌دروښانفکری داقداماتو دپلويانو لار ښوونه په‌تشو افکارو ده‌خوپه‌هر تقدير دومره خبره ده چې خاصو همدغو روښانفکرا نـــودلومړی ځل‌له پـــاره دهـــنری ادبياتو اود عينی واقعيت د يووالی تيزس په‌راسخه توګه منځ ته راوړی دی .

تنويری اوروشن‌فکره تمايلاتودروانی پيړی په‌ديرشو کلو نـــو کی دپښتو په‌تحريری ادبيـــا توکی قوی جريان درلود مګردومره خبره ده‌چې دپښتنی نهضـــت اوتنوير په‌داخل اوعمق کی‌به کله کله په‌نهايي توګه متـــضـــادی‌پديدی اوپيښی رامنځ‌ته کيد لی او ددوی ترمنځ بـــه يو والـــی‌زيانمن کيده .

حتی په‌هغه مهم‌سوال اواسا سی‌مسئله (دټولنی دانکشاف لار ) کی‌هم دافکارو وحدت موجود نه‌ؤځينی روشن فکره اواجتما عی ذوات خصو صا بيا پوخ نســـل(لکه صاحبزاده عبدالقيوم خـــان او دده ملګری) سره ددی چـــی‌دکلتوری چارو داحيا دپلوی‌دعوه يی هم‌کوله داجتماعی اصلا حاتوله‌هغو لړو ګوښتنو څخه‌يی هم ډډه کوله چی‌دوی پخپله پـــخواوړاندی کړی‌وی. دوی‌دانګليسی ضد غورزنګ اود وطن دوستی‌دنهضت دپرمختګ سره چـــی د پښتنو په‌منځ‌کی پيدا شوی ؤ دښمنانه مقابله کوله اوهم دوی داستعمار دمخالفو ســـيا ســـی‌سازما نونودفعاليت سره‌مخالفت کاوه کومو چی دپښتنو لـــه پاره‌دسياسی خپلواکـــی مفـــکو ره وړاندی کړی‌وه. مګر راد يکال‌اود کين‌اړخ منور پښتانه پـــه ضعيف موقف کی‌وو، دوی چی‌غالبا بورژ وا ځمکوال وو پـــه پروګرام اوعملی فعاليت کی يی‌داولس دپراخو پرګنو ګټی پـــه

نظر کی نه وی نیول شوی او نه‌سمی ترسیم شوی وی. لــه دی کبله ددوی هیلی چی‌په راتلونکی کی دپښتنو له(عمومی مساوات) څخه عبارت وی بی اسا ســه‌خیالات شول خودغو هیلودپښتنو دملی بورژوازی دلوړی طبقــی‌ربښتیانی اوواقعی غو ښتنــی وړاندی او منعکسی کړی .

دادبیا تو سره ددغو روښــان‌فکرو عناصرو مسلسل ار تباط هم نیمګړی‌ؤ ځکه چی‌ددوی لــه‌خوا په ادبیا تو کی تسلسل نــه مراعات کیده اونه هراړ خیــزفعالیت پکی کیده. ســره دد ی چی منورین دیو لیکوال ایجــا دپه خپل ذات کی داسی مطلــقی کتیګوری ته رسوی چی‌د پښتنوداجتماعی ژوند دمتباقی تحولاتو په منځ کی افضلیت لری بیا هم‌دغه منورین ډیر ځله دادبی‌جریان هنری ارزښت ته په‌عمومی ډول‌دومره زیاته اعتنانه کوی. لــه همدی کبله داخبره دتعجب وړنه‌ده لکه چی‌الف باوزانی وایی ډیر داسی آثار منځ‌ته راځی چــــی‌روښانه هنری وسایل پکـــی کیدای شی کله‌کله وموندل شی. هو ! باوزانی دا ارزښت دپښتو ادب دانکشاف تولی اوسنی‌دوری‌ته شامل کړی‌دی خو دده دنظریی سره امکان نه‌لری چی څوک‌موافقه‌وکړی مګر دتنویر او روښان فــکــری دوری د پــاره د اد بیا تو دا تــو صیــف او ارزیابی چی باوزانــــی ور کړی‌ده په‌تولـه معنی دقبول وړده ځکه چی‌دا معرفی‌اوبیان دادبیاتوواقعی حالت منعکس کوی .

دروانی پیړی په شلمو کلونوکی دپښتنو دو‌ طن دوستــــی ادبیاتو چی دمترقی اوروشن‌فکرشاعرانو له‌خوا منځ‌ته راغلی دی په اولس کی‌یی ډیرژر خپــــل‌محبوبیت او مقبولیت پیدا کړ. داچی اشعارو څرنګه په‌یــوه رپ‌اکی دهغه وخت مهمو سیاســـی پیښنو ته ځواب‌وایه داکار پــــه‌هغه مقاله کی بیان شوی دی چی دپیښور د (الفلاح) په مجله کـــی‌چاپ شوی‌وه: (ددی له‌پاره چی آزاد قبایل اود صوبی پښتنا نــه‌واوینیں شی‌اود انګریزا نودزو ر او ظلم په‌مقابل کی مبارزی تــه‌وا پورته شی پښتنو شاعرا نـو به انقلابی اشعار جوړول، دغــواشعارو دپښتنو په منځ کی‌زیات شهرت پیدا کړ- دهغو پښتنو په‌منځ‌کی چی دآزادی تږی دی او طبیعتا انقلا بی‌دی. په کورو نواو تولنو کی، په‌کو څواو بازارو

نو کی، په سرکونو اود پلیو په‌لارو کی، په پټیو او باغو نـــو کی‌یوازی همدا انقلابی اشعـــا ردهرچا په‌خولو کی‌وو ).
آیا داخبره قانونی اوپه ځا ی‌ده چی دغو اشعارو ته چـــی پـــه اولس کی‌دادومره پراخه تقاضاورته موجوده دهـ دبدیـــعی او هنری نیمګړ تیا ونسبت وشي؟داسوال هغه وخت بی ارادی او تکلفه حل‌کیږی چی‌څه وخـــت‌سترګی دمیتهینګو نو اومظاهرو په هغو هیجانی منظرو بـــا ندی‌ولګیږی په کومو کی‌چی شاعران په خپلو دوطن پرستی په اشعاروااوبیا نیو سره خلکو ته خطـــاب کوی. ددغو کلو نو زیاتره‌اشعارچی احساساتی او تبلیغا تی وو داولس دحافظی نه ژر ووتـــل،ورځی تیری شوی، هفتی ووتلی او میاشتی هم‌په تیریدو کی‌شوی‌چی نوی ادبیات راپیدا شول چی دموضوع ،بلاغت او فصاحـــت‌هنر، اسلوبو، استعارو، عبارا تو اوتشبیه ګانو له‌حیثه عیـــنا دهمدغو ادبیاتو غوندی وو .
شاعران ټول شعری قوا نینوته متوجه شول‌او په‌نظر کی یی ونیول، شعری قالبونه یی‌په‌کارواچول اود اشعارو له‌هغوعنعنوی فورمو نونه یی استفاده وکـــړه‌کوم چی‌دکلاسیك ادب دخزا نـــی نه‌را اقتباس شوی اواخیستـــل‌شوی دی. جدا جدا شعرونه پـــه حقیقت کی دسیاسی شعارو نـــومجموعی وګرځیدی، هو! ځینـــو تعلیمی او نصیحت آمیزه اصولوپه ډیرو اشعارو کی دفکر عمـــق اود احساساتو ژورتیا له منـــځه‌یووړه او اشعار یی دبدیعی‌هنر نه په څنګ کړل .
داسی نوی موثر وسا یـــــل‌ضرور وو چی‌تعلیمی ادبیـــا ت یی درکود او انحطاط دحالت‌نه‌راویستلی وای، دغه درکود حالت دروانی پیړی دشلمو اودیر شموکلونو ادبیاتو لاره، نژدی‌مستقبل دابنکاره کړه چی‌په ادبیاتو کـــی‌تعلیمی جریـــان نشـــی کـــولا ی چی نور دپښتنی ټولنی د هنری‌او ایډیا لوژیکی پخو غو ښتنـــو ته ځواب ووایی اوقناعت ورکا.
دروانی پیړی ددیرشمو کلوپه‌پښتو ادبیاتو کی دتنویـــری او تعلیمی جریان په څنګ‌کی نورجریا نونه هم‌موجود وو چـــــی زیـــاتره‌یی د تـــحر یر ی‌ادب اوفولکلور په‌پخوا نیو تجربوباندی

بناوو، دکویټی پهسیمه کی ښهشهرت اولسی اوعشقی شاعرانو میرا جان اومیرانګل دهغه ځای په خلکو کیپیدا کړیؤ، دوی به سمدستی اوبالبداهه اشعار ویل‌اواشعارو بهیې عشقی تغـزلی مضمون درلود. په ۱۹۲۷ کال کیخسرو اپریدی (۱۹۰٦ زوکړی) دادب اوملی قصود لیکلو میدان‌ته ورګډ شواو دغه وتلی شاعر او موزیك پوه ډیر ژر شهـرت‌اونوم پیدا کړ، دپښتنی فولکلور دوطن دوستی دادامی او جریان‌لاره مولوی محمد ظاهر وزیری (۱۹۰۸ زوکړی) تعقیب کـړه،داشعارو کومه مجموعه چی دهرا ټوله کړیده پههغی کیدانګلیسانو پهمقابل کی دوزیرودقوم قهرمانه اومسلحانه مبارزی منعکســـــیشوی اوښودل شویدی. پهلاندی راوړل شوی شعرکــی دوزیــر ودقوم نه ماتیدو نکی میړا نـــه ښودل شوی اوبیان شویدهاوهمپکی ددغه قوم دپښځهسوه ځوانانو دشهادت یاد راغلی دی چــی پــه۱۹۲٦ کال کی داستعمار چیانو پهیوه جنګ کیمړه شویوو مګرداشعر لکه چیموږیې وینوکومه تاریخچه نهده اونهدسر ښندونکوستاینه او ساندهدهبلکی دهغـه وخت خلکوته چیلاژوندی د ی اوهم هغو اوسنیو خلکو تهدشاعر سخت پیغور دیچی ډیـر یـــیدآزادی پهتمه بیله کوم جـدی فعالیت نه پراته دی.شاعر تاییدکوی چی خپلواکی پهانتظار نــه کیږی خپلواکیپهلاسونو کـــــیویستلی توری غواړی :

په وطن قربانی ور کـړهزما وروره
رنګ‌په وینوپنځه سوه ځوانـان ګوره
چی‌یې شه قربانی ور کړهپه میدان کی
ننګیا لیپښتانه هسی وی هر ګوره
غلامی دژوندون مرګ دیکه پوهیږی
که پښتون یـیځان کړهخلاص لهدی پیغوره
په دښمن چی دځان و ینهتویه نهکړی
واکدار یدوطن مهغواړ ه ای وروره
خپلواکی همیش په تور هحاصلیږی
جنت همدتیغ دسوری لاندی ګوره
که پهعیش اوپه راحـــتآزادی غواړی
شرمنده اوخالی لاس‌به ځی تر ګوره

په تعلیمي او تنویري ادبیاتو کي اسلامي احکام په ډیر شدت سره روان وو، ځینو لیکوالو لکه محمد اکبر خادم اسلامي اخلاق بیانول اود پیغمبر (ص) د دستوراتو اووینا گانو تبلیغ به یي کاوه اود یو اسلامي مبلغ په حیث به معرفي کیده، ځینو نورو به خدای ته مراجعه کوله اوو زنه غوښتل به یي چي د پښتنو سخت ژوند آسان اوآرامه کړي، پښتانه د استعمار نه خلاص کړي او پښتنو سره مرسته وکړي چي خپلوا کي ته ورسیږي اود پردیو د ظلم او تیري نه خلاص شي .

د رواني پیړي په ډیر شموکلونو کي د پښتنو په اجتماعي ژوند اود دوی په ادبیاتو کي په مستقل ډول داسي ایدیا لوژیکي جریان هم دوام درلود چي یوازي اسلامي دین څخه راوتلي او په اسلامي دین کي تغذیه شوي ؤ ، دغه جریان چي د پښتنو په معنوي ژوند یي اغیزه کړي وه په هغو سیمو کي چي ډیري وروسته پاتي وي لکه آزاد قبایل اوبلو چستان هم قدرت لاره، دغه جریان په هغه ځای کي پوره مخلصان پیدا کړل او خصوصا بیا په لویو اوپانگه والو کورنیو کي .

## عبدالعلي کاکړ :

عبدالعلي کاکړ ۱۱۸۷۲ ـ ۱۹٤٥ په خپله راسخه عقیده کلك ولاړو، دی ستر پښتو نعالم او مذهبي شخصیت ؤ، دعمر په آخر کي یي دزراعتي چاروا ستادی ته مراجعه وکړه، د پښتو دکلاسیك ادب متخصص ؤ، وتلی او مشهور شاعرؤ، داشعارو دیوان (شاخ گل) لري، دغه نه ستړی کیدو نکی متتبع ( عبدالعلي کاکړ) دافغاني ادب پوه او ستر شخصیت عبدالحی حبیبي په ملگرتیا د کانسي په کلي کي کویټي ته نژدي یو مهمه قلمي پښتو نسخه (پټه خزانه) وموندله په دغي قلمي نسخه کي د ادب پوهانو په عقیده داتمي عیسو ي پیړي اشعار راغلي دي .

دعلامه کاکړ له نامه سره لراوبر ټول پښتانه آشنادی، په ۱۹۲۲ کال کي دبلو چستان په کلات کي د معارف دچارو وزیرؤ، دده دیرو شاگردانو په منځ کي حافظ محمد کاکړ ۱۹۱٤ـ ۱۹٥٤ زیات نوم ویستلی دی. دی هم د کویټي ؤ، دی هم د اسلام په اصولو

ټینګ ولاړۍ اوهم پەژوند، ټولنەاو ادبیاتو کی دعنعنو اودو دونو پلوی او محافظ ۍ. ددنیوی اشعاروسره بیخی مخالفۍ او خصو صاً بیا پەهنری ادبیاتو کی د عشقی او تغزلی اشعارو سره چی دد غو ادبیاتو پخوانی خاصه ده سخت مخالف و مګر دوخت په تیریدو سره ددغه ستر مذهبی عالم پـەفکر کی زیات بدلون راغی اود ډیرو زړو مفکورو او ارتجا عی عقایـدو څـخه وګـر ځـیـد کـو مـو چـی پەپیړ یو پیړیـو دپښتنو په عمومی شعور کـــی حکمرانی لرله او اوس د عصـرسره اړخ نه لګوی .

دپښتنو په عمومی ژوند کی ښکاره پرمختګونو چی داو لـس دپراخو پرګنو دبیداری سره یوځای منځ ته راغلی وو اود کلتور او ادب په انکشاف کی د نـوی تدریجی را ټولو شوو تمایلا تو سره ملګری وو په صوبه سرحداود پښتنو په نورو سیمو کی یی دمطبو عاتو انکشاف راوست .

دپښتنو پەسیمه کی مجلی اوجراید :

دپښتنو پەسیمه کی دمطبوعا توظهور او پیدا ښښت پەزیا تـــه اندازه سره دادبی آثارو د چاپ ساحه پراخه کړه، لیکـــوالو او شاعرانو دا امکان وموند چـــی داخبارو نو اومجلو پـــه ذریعـه زیات لوستو نکی دخپلو آثـاروڅخه خبر کړی اوډیر خلك ددوی آثار ولولی. هغه یومانع چی دآثارو درسیدلو پـه لاره کـــی موجودو هغه دمطبو عاتو دراتګ لەکبله له منځه لاړ .

دپښتنو په سیمه کی دمطبوعاتوانکشاف دمحلی ټولنو اود نـو و اجتماعی ګروپونو حیاتی غوښتنی منعکسی او وړاندی کړی. پـه دی باب عبدالرحیم ساقی لیکی: کله چی پښتانه رابیدار شـول دوی پوه شول چـی مطبو عـا تـ دعقایدو او علومو پەنشر کـــی څومره لوی ارزښت لـری . د مجلو او اخبارونو لاپه لومړ یو ګنو کی بدیعی اوهنری آثـــارچاپ شول مګر دومره خبره ده چی دغه آثار پەپراخه اندازه خلکـوته ونەرسیدل، خلکو ورنه کتبه وانه خیسته ددی توضیع داده چی پښتانه وروسته پاتی وو او په ځینو برخو او خصوصاً بیا پـەآزادو قبایلو کی دسواد درجه په

سلو کی‌دیوه نه‌هم کمه‌وه .

درسمی احصاییی له‌مخی چی‌په سرحد کی‌په ۱۹۲۱ – ۱۹۲۲ کلو نوکی اخیستل شوی‌دی په‌دغه سیمه کی‌شپږ ویشت‌مطابعو کار کاوه چی ددی‌جملی‌نه اووه‌لس یوازی په‌پیښور کی وی. په دغه‌وخت کی‌یوازینی ورځ پاڼه‌(پیښور ډیلی نیوز) په مسلسل ډول په انگلیسی اواردو ژبو چاپیدله ،ددغی ورځپاڼی تیرا ز ۱۱۵۰ نسخی په ورځ کی‌ؤ، پایو نامعلوم علت دغه ورځپا ڼه ډیر ژر بنده شوه .

په آزادو قبایلو کی لومړنی اخبار (المجاهد) په ۱۹۲۲ کال کی په چمرکنډ کی تاسیس شو.اخبار په‌میاشت کی دوه ځلی چاپیده، لومړنی مدیریی محمدیاسین‌ؤ ، وروسته بیا مولوی بشیر (په ۱۹۳۶ کی مقتول ) مسؤل مدیرشو، دی سترروحانی شخصیت‌ؤ، ده دپښتنو د آزادی‌له غورزنګ سره ارتباط سا ته اوهم دامیر امان الله دنوی‌حکومت سره په‌تماس کی‌ؤ، ده دغه اخبار دچاپ له‌امله دافغانی‌حکومت نه مرسته اخیستله، اخبار په‌پټه اود انگریزا نو له‌اجازی پرته چاپیده او پښتنو منورینو ورنه پوره استفاده‌کوله‌سره له‌دی چی‌انگریزانو له خوا تهدیدونه کیدل اوفشا رو نه‌ور باندی اچول کیدل اوځوځلی اخطا رونه ورکړای شو له‌(المجاهد ) غږ دپښتنو په‌زیا تره خاوره کی‌په ښکاره‌توګه اوریدل‌کیده .

داخبارو نو اومجلو سره هغوتاجرانو اود کاندارا نو هم‌علا قه پیدا کړه چی کومه رسمی‌وظیفه‌به‌یی نه‌لرله اونه‌په کوم سیاسی حرکت کی شامل‌وو. دچاپ اوخپرونو سر ددوی دعلاقی یو علت داؤ چی‌په دی‌لار کی دپیسودترلاسه کولو یوښه مدرک موجودؤ. کله چی‌په ۱۹۲۵ کال‌کی تقریبا په‌یوه وخت کی دوه اخبارونه (سرحد) په پیښور کی‌او (رساله افغان) په‌مردان کی په پښتو او اردو راووتل، نو دلخصوصی او شخصی مطبو عا تو اساس کیښودل شو، دامطبو عات‌په داسی وخت کی منځ‌ته راغلل چی دمتضادو فکرونو او عقایدومبارزی سختی شوی‌وی، دنوی اوزاړه تصادم او تکرتیز شوی‌ؤاود استعمار اود پښتنو د ملی

پوهی ایډیا لوژیکی اختلاف او تضاد خپل اوج ته رسیدلی اوښه قوی شوی ؤ مګر دپښتنی مطبو عاتو دغه نوی ظهور داستعماری سانسور نه خلاص نه ؤ او نه په ټوله معنی آزادؤ. دانګلیسی ضد تبلیغا تو له کبله د(رساله افغان) برخه لیک (سرنوشت) لادپخوانه تماکل شوی اوتعین شــوی ؤ دادلومړنیو شخصی اخبارونو نه یو اخبارؤ ددی شخصی اخبارمسؤل مدیر مولانا حکیم آزاد ګل صاحب ؤ. چی دمشهوری پښتنی لیکوالی او شاعری بشرا بیګم پلارؤ هغه برخه لیك داؤ چی‌دا اخبار پــه ۱۹۱۹ کال دانګریزی حکو مت له خوا مصادره اوبـند شــو، ددا سی برخه لیك سره نــو ری ډیری شخصی خپرونی هم مخامخ شوی، مثلا دمولانا عبدالر حیــم پوپل زی جریده (سرفروش) د محمد خان میر هلالی جــریده (همدرد افغان) ،پښتو میاشتنی مجله (ستړی مه‌شی) چــی پــه ۱۹۳۰ ــ ۱۹۳۱ کلونو کــی د سید راحت زاخیلی په مسؤلیت خپریدله، اونی ایزه جــریــده (سیلاب) چی‌په ۱۹۳۱ کال کی دپښتنی ملی آزادی دغورز نــګ مشهور شخصیت صا حبــزا ده محمد اسلم له‌خوا تاسیس شوی وه(دی په ۱۹۳۵ کال‌کی د امپر ــ یالیستا نو دنماینده ګانو له‌خوا ووژل شو). دغه پورته ذکرشوی خپرونی دحکومت له‌خوا مصادره‌او وتړل شوی .

تعقیب او نظارت چی دروانی‌پیړی په ډیرشمو کلونو کی پــه شخصی اوګنو مطبو عاتو باندی‌موجود ؤ داخبارونو او مجلــو خښتنان ، مسؤل مدیــران اولیکوالان یی مجبور کړل چی په زیاته اندازه خپل وضعیت نر م کړی اوپه آثارو کی داعتدال او نرمی نه‌کار واخلی اود استعارواوکنایاتو له لاری دخپل هــدف کار وان مخ‌په وړاندی بــو ځی‌له‌دی کبله چی ظاهرا یی‌دحکومت دسیاست ســـره اړخ‌لــګاوه د(فرونت ادو وګیت) او نــیزی جریدی نسبتا اوږد ژوند وکړ ،داجریده په پیښور کی چاپیده او مسؤل مدیریی سید راحــت‌زاخیلی‌ؤ ددی جریدی دامتــیاز خښتن لالامیر چندؤ اوپه پښتو‌او اردویی خپرونی کولی. همدا رنګ دمعتدل سیاست له مخی‌میاشتنی (رهبر) مجلی ډیر ژوند

وکړ او مصادره نه‌شـــوه، ددی‌مجلی لومړی گنه په ۱۹۳۶ کال کی چاپ شوه‌اود مجلی مــد یر محمد صفدر خان صادق ؤدامجله هم په پیبنور کی چاپیده .

دروانی پیـړی د شلمـــو اودیرشمو کلونو په حدودو کـــی دپیبنور په‌دوه کالجو نو کـــی‌شخصی مطبو عاتی ارگا نـو نه منځ ته‌راغلل، دغو خپرو نـــودانگلیسی سیاست خواته تمایل لاره اوکوم مخالفت یی‌نه بنود. یوی مجلی نوم (خیبر میگزین) ووچی داسلامی‌کالج له‌خوا راوتله‌اود بلی مجلی نوم (تجلی)ؤ چـی دادواړه کالج له‌خوا چاپیدله ، دغو دواړو مجلو دصوبه سرحد ددوه اساسی تعلیمی مــو سسو(کالجو نو) دفعالیت دعمو مـی جریان سره مطابقت کاوه.مجلی‌مسلسلی نه چاپیـــدی، دخیــبر میگزین مجلی مسؤل چلوو نکی‌داسلامی کالج فار غ التحصیـل شوکت الله اکبر( ۱۹۱۸زوکړی)ؤ .

انگلیسی استعماری حکو متـ‌ـزیات کوښښ کاوه چی تـو لو پښتنی شخصی خپرونو ته دستورورکړی چی مخالفی خپرو نـی ونه کړی اونه دسیاست د ډگـ‌ـرنه هغه خوا پښه‌کیږدی .

په ۱۹۲۲ کال رسمی اخبـ‌ـار(خیبر میل) په انگلیسی ژبـــه راووت، ددی‌اخبار په مخونو کی‌دغربی ژورنالیزم هغه ترټولو بدسبکونه او میتودونه‌منعکس‌کیدل او خلکو ته‌وړاندی کیدل: دغرض نه‌ډک مواد پکی نشریدل، په شعوری ډول‌به دپیـــښو او حقایقو تحریف پکی کیده او د مخالفو حلقو اود آزادی دغورزنگ پلوستازو پوری به‌یی چـــتـــی‌تورونه، تهمتونـه او قبیـــح بهتانو نه تړل او اخترا گــا نی‌به‌یی وربسی‌کولی مگرداستعمار چیانو هیڅ کوښښ ونه شـــوکـړی چی پښتنـــی مطبو عـات دخپلی هغی لاری نه‌واړوی کومه‌چی دوی غوره کړی‌وه. نظا می په‌خپل اثر (په پا کستان کـــی‌مطبو عات) چی‌په ۱۹۵۸ کال‌کی یی په‌لاهور کی‌چاپ کـړی دی

سمه خبره کړی ده دی‌لیکی (چی‌پښتنی نشریاتو په‌هغه وخت کی دخپرونو له‌پاره کومه مستـــقله‌طریقه نه لرله اونه‌یی ددغه کار

له پاره وسایل لرل دخبرونومنابع او وسایل یوازی راد یو اود پنجاب اخبارونه وو). ددی‌سره کیدای شی‌چی داخبره هم ضم‌شی چی‌دچاپ وسایل په آخره‌درجه سره ضعیف‌وو اود کاغذ ونو کیفیت خراب ؤخودا مهم‌سوال نه‌ؤ .

پښتنی نشریات دعصر سره‌هم آهنگ اوموافق‌وو اودزیاترو پښتنو افکار، احساسات اوحالات یی منعکس کول. دروانی پیړی په دیرشمو کلونو کی دپښتنو په اخبارونو او مجلو کی دآزادی اووطن دوستی تمایلات‌لانور قوی شول‌اوشدت یی‌وموند مطبو عاتی خپرونی دپښتنو په‌تولیه سیمه کی منځ‌ته راغلی: له ۱۹۳٤ کال نه راهیسی په‌غازی‌آباد کی‌پښتو مجلی (شعله ) پـه خپرونو پیل‌کړی ؤ چی لومړی دیو مشهور پیر ترنگزو حاجی صاحب دحمایی لاندی وه. پـه۱۹۳۷ کال‌کی مولوی عبد الحی (۱۸۹۷ زوکړی) پښتو مجله (لمبه )تاسیس کړه پـه ۱۹۳۸ کال کی عبدالصمد خان اڅکزی‌په کویټه کی‌په شخصی مطبعه کی د(استقلال) په‌نامه مجله پـه‌پښتو او اردو را وو یستله ، په صوبه‌سرحد‌کی دداخلی‌سیاسی‌وضعیت دخرابی سره یو ځای ددیرشمو کلونو په دوهمه‌نیمایی‌کی دپښتنی مطبو عاتو انتقا دی جریان ډیر توند شو او شدت‌یی وموند، په ۱۹۳۷کال کـی دپیښور دولایتی اسامبلی وکیل‌محمد نواز خټك په‌خپل لگښت اوو نیزه جریده (وطن) تاسیس‌کړه، په‌دی جریده کی ډیرو مشهورو شاعرانو او لیکوا لـوگډون وکړ هغو شاعرانو او لیکوالو چی‌خپل ځان‌یی دو طن‌او اولس دآزادی‌په‌لار کی‌دمیړنو سر تیرو په‌حیث معرفی کاوه .

هو! ځوان‌اونوی پښتو ادبیات‌بی دنشر اوچاپ نه داسی ستر موفقیت او بریالیتوب ته نـه‌شورسیدای، زموږ په عقیده دا ټول کیدای شی‌چی دیوه نـا مه‌لاندی راوستل شی اویو متحد نوم ورته کیږدو (دسرخپو شانوکینمی خپرونی ) . دفعالیت‌پـه لومړی مرحله کی بورژ واز یتنویر دشخصی مطبو عاتو نـه استفاده ونه کړه اونه‌یی پـه‌لخپل اختیار کی‌راوستل، کله‌چی په‌کیفی لحاظ دآزادی دغور زنگ ه انکشاف اود نوی نړی‌لید په

تکمیل کی بله مرحله پیل شــوه دپښتنو په عمومی ژوند کــی دمطبو عاتو دنه‌رول فکر له‌منځه‌لاړ اوداچی خپرونی موثـری او ارزښتنا کی نه‌دی داسی خیال‌ته‌خاتمه ورکړای شوه. پښتنو ته تــر هــر څــه مــوثره او لوړه‌وسیله په طبیعی ډول‌دسرخپو ــ شانو خپرونی ښکاره شوی، دغوخپرونو داستعمار دجغ لانــد ی دمظلوم ملت ددفاع په‌لار کــی‌په زوره چغی وکړی اوهیوا د والوته یی‌غږ وکړ چی‌داستعماری‌نظام په‌مقابل کی پورته شی .

دیاغی او انقلابی افکــا رو دتبلیغ له کبله انګلیسی‌حکومت خان میر هلالی په‌ستر نغدی‌جرم‌محکوم کړ، دی د(زلمی پښتون) اخبار موسس دی،په دغه اخبار کی انقلابی اواحساساتی افکــار چاپیدل مګر دحکومــت لــه خوالادا فیصله نه‌وه شوی‌چی اخبا ر دی هم مصادره شی. ( ز لــمی‌پښتون) په پیښور کی د ۱۹۳۵ کال نه‌را په‌دی خوا چاپیده اودروانی پیړی ددیرشمو کلو تــر آخره پوری یی‌دوام وکړ .

دخان میر هلالی نوم دلومړی‌دوری په مطبوعاتی ارګا نــو نو اوهم په نورو کی‌راغلی‌دی کوم‌چی دسرخپوشانو په فعا لیــت پوری مربوط دی، په‌۱۹۳٤ کال‌کی دی دپیښوری مجلی ( آزاد پښتون) مسؤل چلوونکــــیؤ د دیرشمو کلونو په دوهمه نیمایی کی‌ده ته بلنه‌ورکړه شوه چــــی(درښتینی خدایی خدــمتګار ) اخــبار وچلــوی، دا اخبــار د پیــښور نــه دبانــدی هــم زیات شهرت لری اود پیښور نه‌دیر لری ځایونو ته‌یــــی نــوم تللی دی .

هغه حرکت اونهضت چی د پښتنو مشرانو پیل‌کړیؤ دصوبه سرحد دنورو توکمونو دګــروپونو دآزادی دحرکت سره ټینګ ارتباط لاره. په‌دی باره کی د (سرخ پوش) اخبار شــــهاد ت ورکړی دی .

دا اخباردروانی پیړی‌ددیرشموکلونو په‌آخر کی تاسیس‌شوی‌دی ددی اخبار مدیر چیلارام‌شوق وچی‌په ختهه پــښتون نــه‌ؤ او مرستیال یی حسین بخش کوثرغوریاخیل (۱۹۲۲زوکړی) ؤچی په راتلونکی کی ستر ژبپوه اولینګو یست اومورخ شو .

دهغو مجلو او اخبارو نـــوفهرست کیدای شي چي نور هـم زیات شي کومو چي دراده یکـالومنورینو حالات ، احسا سـا ت او افکار وړاندی کول. دغـــه‌افکار په‌ډیر څه‌کی دپښتني ملي او آزادی بخښنونکي غور زنـگ‌دلیدرانو دوضعیت سره مطابق او مشابهه دی. یعني خـــومره‌شخصي اخبارونه چي موږشمیرلي اوښودلي دی کیدای شي دهغـو تعداد له دی نه‌زیات وی . م ، نظامي په‌خپل کتاب کي‌چي پـــه‌اوسني پا کستان کي دڅوړ نالیزم دانکشاف مسایلو ته وقف شوی‌دی د(نوجوان افغان) اخـبا ر یادونه کړی ده، دغه اخبــا رد۱۹۳۸ کال نه‌را په‌دی خوا پـه مطبو عاتی ډگرکی پښه ایښی‌ده‌. اخبار چي دصوبه سـر حـد دکینې اړخ دکانگر یسیـا نـــوارگانو د سو سیا لیستـــی ځوانانو دکوښښ نتیجه وه، دی‌اخبار په‌خپلو نهایي‌کینو نظریاتو سره شهرت پیدا کړی‌ؤ او پـه‌برتانوی امپر یالیزم یي سختـی حملي کولي مگرپه پښتني سیمه‌کي خاص شهرت دسرخپو شا نو دمخالفو خپرونو دوه ارگـانو نوگتلي دی‌یو ونیزی (انگـار) او بل (پښتون ) مجلي .

دانگار جریدی په تحر یـری‌هیات کي‌چي‌په ۱۹۳۲ کال کـی تاسیس شوی‌وه امیر نواز جلیـافعال گډون کړی‌ؤ دی‌په ۱۹۱۰ کال کي‌پیدا شوی‌دی، مشهـو رپښتون ډرامه لیکو نکی اوشاعر دی اوهم ارباب محمد اسلم‌شرر (۱۹۰۵ــ ۱۹۵۷). ده‌ته په‌وروـ کتوب کښي سخت مرض‌رسیدلی‌ؤ اوهمدا وجه‌وه چي‌ده یواز ی په زنگنو باندی حرکت او تـگ‌کاوه، دی دملت دآزادی دلار ی یو سرسخت اومحکم مبارزو ،دری ځله یي‌په ژوند کي حبـس لیدلی دی، دپښتو ،فارسـی اواردو ژبو ډیر ښه متخصص ؤ اوشاعر او ترجمان ؤ، په‌دغـــه‌جریده کي‌چي کوم مواد چاپیدل دهغو دموضوع افق زښت ډیـرپراخ ؤ .

په ۱۹۳۱ کال‌کی په (انگار)اوبه توی شوی او مصادره شـو اودا په‌دی پلمه چي‌کوم ښکاره اواحسا ساتي شعر پکی‌چاپ شوی ؤ، چي‌په هغه کي په‌قهر اوغضب‌سره دهغو انگلیسي پوځیا نـــو ځناور توب اووحشت‌ښودل شوی‌ؤ کومو چي دپیښور قیام غـلي

کړیؤ، دشعر په‌آخر کی هیله‌خرگنده شوی‌وه چی (هغه وخت را نژدی شوی‌دی چی دآزادی‌باغ‌وغوړیږی هغه باغ‌چی دزړ ورو سر ښندونکو په سرو وینولړی‌شوی دی او دا بـاغ بـه ډیر ژر پښتنو ته‌خپلی په‌زړه پوری‌میوی ورکړی). دشاعر نـوم په ؤذکر شوی اود (گدا) د تخلص لاندی شعرچاپ شوی‌ؤ، پیرنگیانو پلټنی اوهلی ځلی پیل کـړی چی دغه (گدا) پیدا کړی بالاخره یی په‌آزادو قبایلو کی مولو ی‌عبدالحی ونیو، ددوی پـه قول نوموړی مولوی ددغه تو ند شعـرخښتن دی، مولوی عبدالحی یی په شپږ کاله بامشقته حبـس‌محکوم کړ مگر لږه‌موده وروسته ټولو ته‌معلو مه‌شوه چی‌دغه شعردحاجی محمد امین ۱۹۰۵ـ۱۹۵۸ ؤ چی‌دترنګزو حاجی صـا حب‌نژدی ملگری‌ؤ .

دانگار داخبار دایمی همکاران‌نه یوازی هغه لیکوال‌وو چـی په پیښور کی‌اوسیدل بلکی د آزادو قبایلو استازو او لیکوالو هم پکی گډون کاوه، دپښتـودتحریری ادبیاتو دجریان کـوم چوکات چی ډیر پخوا منځ تـه‌راغلی ؤهغه دهـغو سختـو اضطرا باتو اوکړ کیچو نو دفشارله امله وران شوچی دپښتنـو عمومی ژوند ته‌یی ټکان ورکړ ،مگر له‌دی نه وروسته پرمختللی او مترقی مفکوری دوینی شو واوچمتو شوو حلقو له‌پاره عمومی مال گرځیدلی دی اوهیڅ موانع‌نه‌شی کولای چی‌ددغو متر قـی مفکورو او نظریاتو درا تلو نکی‌وسعت مخه نوره ونیسی .

دانګـر اخبار په ۱۹۳۲ کال‌کی‌بیا خپلی خپرونی له‌سره پیـل کړی اوپه ۱۹۴۲ کی په‌ټا حفـه‌سره بیا بند شو .

**پښتون مجله :**

دپیښـور په مطـبو عاتو اوخصو صا دسرخ‌پوشانو د وطـن دوستی نه‌په ډکو خپرونو کـی‌دپښتنی مطبوعاتو بانی(پښتون) مجلی خاص مقام لاره. په دغـه‌مجله کی‌مترقی اومنورو لیکوالو او سرتیرو شاعرانو گډون‌کاوه.په همدی ډول مشهور شـاعـر عبدالمالك فدا په‌تل خپل انقلابی‌اود جوش‌نه ډك‌اشعار مجلی تـه لیږل اومجلی به‌په ډیری خوښی‌سره هغه چاپول، ده‌په یوه شعر

کی چی (پښتون نه‌ستړی مه‌شی)عنوان لری اود ۱۹۳۸ کال داپریل په پنځلسمه نیټه پــه‌مجله کی چاپ شوی دی‌مجلی ته داسی خطاب کړی دی :

بیا په وطن ستا اقتـدا ردی
تا نه‌ځاریږی موږ اوکه خوار دی
زیات له اختر نه ســتاانتظار دی
تـنده‌سره کړه له روژه داره
هـر کلـه را شـه پښتون‌اخباره
خدای دی‌ورك مه‌کړه زموږ غمخواره

دمطبو عاتو په نړی کــی(پښتون )مجله تر ټولو خپرونو مشهوره اوعامه شوه‌دی‌کار سره‌دمجلی نسبتا ارزانی بیی هــم مرسته وکړه، پښتون مجله پــه‌صوبه سرحد کی‌بنده پاتی نـه شوه بلکی همسایه افغا نستا ن‌ته‌یی هم‌نفوذ وکړ، دمجلی دایمی لوستو نکی دپښتنو دمختلفــوسیمو اوریدو نکی‌وو او هغــه پښتانه ووچی دهند په بیلوبیلوسیمو کی‌اوسیدل لکه روهیــل کنډ، ډیلی کلکته، بمبیی‌او نوروکی اوهم داقیانوس نـه هغــه خوا په‌امریکی کی اوسیدو نکـوپښتنو دمجلی سره‌خپله مینه او علاقه ښکاره کوله دامجله هلتــه‌په امریکی کی په انګلیسی‌ترجمه کیده .

دپښتنو لیکوالو په آثارو کی‌ډیر ځله داسی لیکل کیدل چــی مجله په‌خپل ذات‌کی دنوی‌اجتماعی‌غورزنګ هنداره ده اود ملــت په تاریخ کی دهیجان اواضطراب‌نه‌ډك فصل دی. دی‌مجلی‌دپخوانی ادب غوره عنعنو ته‌په ښه شا ن‌دوام ورکاوه، ددی‌سره ســره مجله په‌پښتو ژبه کی دآتــا رودموضو عاتو ،ژانرو نو اوسبکو نو دنوی پیل‌شوی جریان‌مخکښه‌وه اوله همدی کبله کوم دوجد او شعف نه‌ډك شعرچی عبدالمالك‌فدا دمجلی په‌توصیف کی ویلـی دی هغه‌په مبالغی نه‌شی حــمل‌کیدای .دغه شعر (دحق آواز ) عنوان لری اود ۱۹۳۹ کال پــه‌سیتمبر کی پــه (پښتون) مجله کی‌چاپ شویدی، شعر دادی :

چې راژوندی شو دو باره(پښتون) اخبار پښتونه !
بیا په همزو لوکی شو ستا دسیالی وار پښتونه
لکه (پښتون) ستادعــز تـه دی ذمه وار پښتونه !
داسی بل نشته په دنیا کی ستا غمخوار پښتونه
ښایسته رنگین دی مضامین دسالکانو پکی
دپاکو خلکو پکـــی تل کیږی دیدار پښتونـــه
دادب تهوله خزانه پکی موندی شی ځکه
چې ادیبان ور ته لخوا ره لیږی اشعار پښتونه
رنځ دنفاق بهدی شی ورک داتفاق په دوا
تل پری جوړیږی زخمی زړونو پرهار پښتونه
داسی بل تاسره کوم یـــو اخبار دوستی کړی ده
لکه (پښتون) چی شو ځو ځله تا نه ځـار پښتونه
ته چی دجیل تورو تنبو ته شی دننه چیری
له تانه مخکی (پښتون) وخیژی پــه دار پښتونه
چې ته بهر شی گیر چاپیره له تاگرځی مدام
په کور بهر درسره تل دی خو کیدار پښتونه
ملاپ، شهباز اوتړیبون کی دنیا تهوله گوری
خو دخپل ملك لــه حاله نشوی خبردار پښتونه
په یو پنجاب کی روزانه چــی شو اخباره ووځی
ته به هفته کی دهغو ونکړی شمار پښتونه
ستا یو (پښتون) چی پـــه لسمه ورځ په مخ ولگی
خټ ورته کوږ کړی اوخطاشی درنه لار پښتونه
سول په دوه آنی دورځی درته ښکاری ارزان
دوه پایی ورځ د(پښتون) خرڅ شو په تا بار پښتونه
که دی (پښتون) اخبار ژوندی کړو ستا ژوندون دی پکی
د(پښتون) مرگ سرخپل وشماره تیار پښتونه
ترهغی وخته پوری نــه رژ ی آرمان دفدا
چې شپږ لکه پوره نه شی خریدار پښتونه
(پښتون) مجله په ۱۹۲۸ کال کی دباچا خان (عبد الغفار خان)

له خوا تاسیس شوه اوتر۱۹٤۷ کاله پوری په‌میاشت کی یو خل چاپیده خومجلی دخپل ژوند په‌دغه موده کی دری‌وقفی لید لی دی اود استعماری حکومت لــه‌خوا دری ځلی زولنی ور اچــول شوی دی .

لومړی دامجله د(اتما نزو)په‌کلی کی‌چاپیده بیا په‌سر دریاب کی (پیښور ته‌نژدی)نشریده له.د۱۹۳۰ کال.نه‌را په‌دی خـوا د خان عبدالغفار مرستیال مشهوراجتماعی شخصیت، شاعر، ډرا ـ ماتورك حکیم عبدالخالق خلیـق(۱۸۹۵ زوکړی) وتاکل شـو .
دده په‌غاړه دمجـــلی اداری اوتخنیکی چاری وی اود مجلـــی عمومی ایدیا لوژی ،اهدا ف اوهنری پرنسیپونه پخپله د خـان عبدالغفار خان له‌خوا ټاکل کیدل.په همدی ارتباط محمد یـو سف داسی عقیده ښکاره کړی ده : دمجلی په‌تاسیس کی دخـــا ن عبدالغفار خان هدف داؤ چــی‌اولس اوقوم ته‌سیاسی رشـــد ورکړی اوپه دغه روحیه یـــــی‌وروزی .

بل سیاسی لیکوال صاحبزا ده‌عبد القیوم په‌خپل کتاب ( پـــه صوبه سرحد کی‌طلا اووسله)کی‌دمجلی توصیف چـــی خـــا ن عبد الغفار خان تاسیس کړیده‌داسی کوی: (دی‌مجلی دپښتو په انکشاف کی ستررول لوبو لــی‌دی اونه هیریدو نکی خدمت یی ورته کړیدی، له‌دغی مجلی سره‌چی دوطن دوستی مقالی اواشعار یکی په پښتو چاپیږی اود آزادی‌او اجتماعی اصلاحاتو خوا تـــه غبر کوی دلوستونکو بی سابقی‌توده مینه‌ده ).

کوم آثار چی‌په (پښتون)مجله‌کی چاپیدل هغه‌یوډول نه‌وو او په خپله نوعه‌کی مختلف‌وو، د مختلف سن‌لیکوالو او شاعرا نـو یکی گډون کاوه هغو لیکوا لــواوشاعرا نویکی اشتراك کاوه‌چی په لیکوالی کـــی داســـتادی اوپخوالی درجی ته‌رسیدلـــی وواو هم یکی هغو ادیـــبانو برخـــه‌اخیسته چی دمطبو عاتو په ډگر کی‌یی نوی قدم‌ایښی‌ؤ او خپـــل‌استعداد اوخپله قریحه یی‌تجربه کوله. ددغو لیکوالو په‌منځ کی‌ځینو دتولنی دجوړولو په بـاره کی خورا زیات رادیکالی نظریات‌لرل اود ځینو نورو په جهانبینی

کی دعنعنوی او پخوانیو افکا روبقایاوی لاموجودی وی، خودوطن دعشق احساس دوی‌تول سره‌یوکړی‌وو او په‌دی احـــساس او علاقه کی تول‌سره شریك‌وو، داستعمار سره په‌سخته کینه او نفرت کی‌هم شریك‌وو، تولـــوسره نهایی آرزوداوه چی‌دانگریزی استعماری حکومت ختم کړی اوتولو غوښتل چی‌داولس په‌مبارزو کی چی دآزادی له‌پاره یـــی کوی‌گډون وکړی اوپه دی لاره کی هرهغه څه برابر کړی‌چی ملت‌له‌پاره گتور او ضروری وی .

اوهم تول‌دی آرزو یوگړی ؤچی‌ملت سره مرسته وکړی چـــی خپله بیسوادی له‌منځه یوسی ، ناوړه دودونه او خرافات ترك کړی اوغوړیدلی اورسید لــــی‌تولنه جوړه کړی .

دډیرو مسایلو په‌حل کــــی‌لیکوالو او مطبو عاتیانو شـــك، تردد او شبهات کول خو په هــرصورت دوی میړانه، استقا مت اوعزم لاره اود وطن دو ســــتی‌احساس پکی ورځ‌په ورځ قـــوی کیده دپښتنو منورینو دد غـــه‌صفت له کبله مجلی وکولای‌شول چی داستعماری رژیم په سختـــو شرایطو کی دشلمو کلونودآخرنه را پـــه‌دی خـــوا د عقیـــد ی‌له حیثه انگلیسی ضد غور زنگ تنظیم او رهبری کړی دمجلی په‌مخونو کی‌دپښتنو دتحریری ادب دانکشاف په‌لار کی‌مهم او سترگامونه اخیستل شوی دی‌چی دی کار هغه مجرد اومبهم موضوعات‌له منځه یووړل چی دواقعی‌ژوند نه‌لری اود عمومی جریان د نوومسایلو سره ناآشنا وو .

دسرخپو شانو دنمایند گـانوپه ورځنی عملی فعالیت کـــــی کوښښ کیده چی دخپلو اسلافواو نیکونو وصیتونه دژوند په چارو کی عملی کړی اوپه درنه‌سترگه ورته وگوری. د مجلـــی مخی ته دامسئله اوپرابلم هــــمپروت ؤ چی هغه خطر له‌منځـــه یوسی چی داردو ژبی لـــه خـواپښتو ژبی ته‌متوجه‌ؤ. یعنــــی دانگریزانو له‌خوا کوښښ کیده‌چی داردو په ذریعه پښتو دعمل له صحنی وباسی، دغه دپښتنو په ځمکه کی دخیبر نه نیو لــــی تر اباسین اوهار کلی پـــوری‌داردو ژبی ترویج او وسعت انگریزا نو منځ‌ته راوستی د ی‌اوپه دی ذریعه یی غوښتل چـــی

پښتانه تضعیف اوخپه کړی اودپښتنو په کلتوری چارو کی هم مداخله وکړی .

دادی صاحبزاده عبد القیوم په خپل کتاب (په صوبه سرحد کی طلااووسله) کی څه لیکلی دی: ټول سرخپو شان په دی عقیده وو چی داستعمار چیانو دمستقیمی مداخلی له امله په کلتوری چارو کی پښتوژبه له اهمیته غورځیدلی او ټول به هغه وخت خو شحاله شی چی وو ینی پښتو خپل ور ځای نیولی دی .

د ۱۹۳۱ کال په می کی په مجله کی دخان عبدالغفار خان مقاله چاپ شوه چی په هغی کی یی پخپلو هیواد والو سخت انتقاد کړی ؤ چی دوی دعربی، فارسی، اردو، انگلیسی او نورو ژبو استفا ده کوی نه د پښتو نه ،دغه پر دی ژبی په خپلو اطفالو باندی په علمی توگه اوغور سره زده کړی نه خپله مورنی ژبه.ده دحکومت نه وغوښتل چی په پښتو ژ بو مناطقو کی دی ابتدایی معارف په پښتو شی. دی موضوع ته دعبدالمالك فدا شعرهم و قف شوی دی چی د۱۹۳۹ کال په سیتمبر کی په پښتون مجله کی چاپ شوی دی :

په انگریزی، فارسی اردو دخپله سره تیریی
دمورنی ژبی نه ولی شوی بیزار پښتو نه

دا دملامتی اوطعنی غشی عبدالخالق خلیق هم په خپل شعر کی پورته کړی دی چی مطلب یی دادی :

( ستا ژبه پښتو ده اوپه خته هم پښتون یی خوکه په پښتو مقاله ولولی نه وربانډی پوهیږی) .دوطن دوستی له مخی ددغو مستعدو او بیدارو حلقواندیښنه په ځای وه او علتونه یی لرل او یو علت یی داؤ چی استعمار پښتنو او ددوی دژبی سره ښکاره دښمنی را اخیستی وه اوپه هیڅ حق ورته قایل نه وو، دپښتنو دکلتور وده په هغه وخت کی په ډیر نامساعد ډول سره منځ ته را تلله پښتون ژبپوهانو سید بهادرشاه ظفر کاکا خیل دخپل قاموس ( ظفر اللغات) په مقدمه کی سم په وینا کړی ده دی لیکی چی انگریزانو دخپل حکومت په وخت کی قصدا نه غوښتل چی پښتانه

دی دمعارف په‌ساحه کی‌دهیواد دنورو ملیتو نوسره سیالی‌وکړی په‌داسی حال کی‌چی ( پښتون)مجلی خپلو هیواد والو ته‌غږ کاوه چی خپلی ملی عنعنی او کلتوری‌چاری ټینګی وساتی پخپله د استعماری حکومت په سیستم اورویه باندی ییهم ګوزارو نــه کول، دمجلی همکارا نواومرسته‌کوونکو دپښتو له‌پاره پــراخ تبلیغات کول اوپه ټول قــدر تــسره‌یی دملی ادب دانکشاف لــه پاره اسباب برابرول .

حقیقتا کوم آثار چی‌په مجله‌کی لیکل کیږی هغه‌په پــوره قناعت سره په‌پښتو بــا نــد ی‌انتقادونه اوحملی ردوی ځکــه دغه ژبه په‌ټوله‌معنا بدایــه اوتکمیل شوی‌ده اوبیا په‌تیره چــی په اوسنی وخت‌کی په نــو و اصطلا حاتو، مفاهیمو او محاورو سره غنی اوبډای شــوی‌ده، د پښتنی کلتور دملی لــوړتیا او استقلال له‌پاره په‌مختلفو بیانونوسره فعاله مبارزه چی داکار د مجلی په ابتکار شوی‌دی پــه دی‌شاهدی ورکوی چی دمجلی ټولنی دپرمخ تلونکو قشرو نو ملــی‌پوهی بی‌حده رشد کړیدی .

شاعرانو ،لیکوالو اواجتما عی‌رجالو چی (پښتون) مجلی سره‌یی همکاری کوله دپښتنو دټولنیــزژوند یوه بله ضروری او حیاتی مسئله هم‌میدان ته را وویستلــه‌چی هغه دپښتو دآزادی اوحقو قو موضوع وه، په‌تاریخ کی‌دلومړی‌ځل له‌پاره دپښتون مجلی پــــه مخونو کی دپښتنی لیکوا لــوښځو مضــامین چاپ شول چــی ددی جملی نه‌یوه سیده بشــرابیګم (۱۹۲۲ زوکړی) وه، دی پوره دیارلس کاله دپښتون‌مجلی‌سره همکاری وکړه اود مجلــی اداری ته‌به‌یی خپل شعرو نه اوګټور مضامین ورلیږل. ددغــه وخت نه‌را په‌دی خوا ددغی‌پښتنی‌میرمنی دګټور فعالیت دوره‌پیل شوه، دغی شاعری دځان لــه‌پاره‌ځو تخلصونه غــوره کړی‌وولکه (همشیره ) (س‌ب‌ب) او داســی‌نور .

ددی میرمنی اشعار دپښتنــوپخوانی شجاعت اوقدرت ستایــی اوهغه بیانوی، داولــس هــغه‌قربانی ښیی چی‌دآزادی په لارکی یی ورکړی دی، عشقی رمزو نه‌اود مینی احساسات څرګندو ی

اود ښځو له‌پاره دمعــارف د ضرورت او اخلاقي تربيي پـــه خصوص کي وينا کوي .

بله ليکواله (خادمه) په خپلو اشعارو کي پښتنو ته غږ کــوي چي‌يو موټي‌شي، راويښ‌شي اوويښ‌شي اود آزادي اوخپلواکي لـــه پاره وجنګيږي. دامطلب ددي په‌هغه شعر کي ښکاره شوي‌دي‌چي د(پښتون )په‌مجله کي‌د۱۹۳۱ کال‌په اکتوبر کي‌چاپ شوي‌ؤ ، پــه شعر کي دآزادي ورځي ته انتظارو ښکاره شوي دي (پخپله شعر ما پيدا نکړ خو ترجمه يې داسي ده‌مترجم) :

ای خدايه ! په هيواد بـــه‌پسرلي کله راشي

اوکله به بلبلا نڅره وړونکي آوازونه وکړي

داتورتم اود استعمار دوره‌به‌کله له‌موږه لري شي

اوکله به‌دروښانۍورځي وړانګي په‌موږ ولګيږي

چاچي دښځو دحقوقو سوال دلوموړي ځل له‌پاره منځ تـــه را اچولي دي دهغو همدو مـــره‌اقدام دستاينې دي اوبايد په‌دي ونه غندل شي‌چي هغوي ولي په‌داګه داسي غږ نه‌دي کړي چي‌هغه دکلونو کلونو جوړشوي ديوالونه‌وران کړي، چي ښځه يکې بنده ناسته ده اوهغه وضعيت تـــه‌خاتمه ورکړي چي ښځه په‌کو ر او ټولنه کي دوينځي پـــه شــان‌شپي سبا کوي ځکه‌دمجلي دغـــه وړوکي اود احتياط نه‌ډك اقدام‌هم دځينو ټولنو دمقاومـــت او عکس العمل سره مخـــامخ شو.ميا محمدشاه کاکاخيل په خپلـــه مقاله کي چي‌ددير شمو کلونو په‌آخر کي‌په مجله‌کي چاپ شوي‌وه داسي ليکلي وو: (پښتانه حتي‌په‌دي شرميږي چي دښځو دتعليم او معارف په‌باره کي خبـــري اوفکر وکړي) که څه‌هم په هغـــه وخت کي‌د ښځو په باره کـــي‌مشخص اقدامات لږ وشول خـــو دغه عاجل سوال دحل لـــه پاره‌اساس کيښنودل شـــو اودغـــي موضوع دخلکو اذهانو ته ټکا نورکړ .

( پښتون )مجلي چي دپښتنـــودوطن دوستو ټولنو رو حيا ت اوحالات ښکاره‌کړل په طبيعي‌ډول‌يې حياتي موضوع چي دخپلواکي حصول دي نه‌شوه پريښودای. داچي دمجلي له‌خوا داماموريـــت ښکاره او څومره اجرا شوي دي کيدای شي‌چي دماستر عبدالکريم

وينا دخيړني او قضاوت لاندې ونيول شي ،دې دسرخپو شانو دغورزنګ فعال غړیؤ، ده د۱۹۵۸کال په فبروری کې د پښتون د (دوران) مجلې ته يوليك ليږلیؤ اوپه هغه کې يې په ډېر افتخار سره داسې ليکلي وو : (په هيواد کې چې دسياسي حرکت نه چې موجوده کومه حمايه کيږي داکار د(پښتون) مجلې نشرا تو کړی دی ).

دپښتون مجلې دزياتره خپرونو خصوصيت داؤ چې دامپرياليزم ضد تيز اوتوند حرکت او هدف يې لاره خودليکوالو په تو لنه کې لکه په سياسي حرکت کې دمبارزې په ميتودونو اوفورمونو کې مختلف نظريات موجود ؤو .د(عدم تشدد) دمتداولې نظر يې انعکا سات په ادبياتو کې هم ليدل کيدل، ابوسيد فضل احمد غر په خپل شعر کې د(عبرت درس)چې په ۱۹۲۸ کال کې د(پښتون) په مجله کې خپور شوی ؤ خپلو ملګرو او هيواد والوته د عدم تشدد غږ کړی ؤ، ده په خپل شعر کې توصيه کړې ده چې مبارزې ته دوام ورکړي، دثبات او عزم نه کار واخلي، خو دعدم تشدد په چوکاټ کې، ده په عقيده په موجوده استعماري دوره کې عدم اتشدد د تشدد نه ګټور دی .(د فضل احمد غر شعر زماګو نو ته رانغي. مترجم ).

**عبدالاکبر اکبر :**

مګر ټول پښتانه ليکوال اوشاعران دعدم تشدد دنظر يې پلويان نه وو. مثلا عبدالا کبر اکبر چې دده استعداد د پښتو ادبياتو ددغه عمومي پر مختګ په وخت کې په مخصوص ډول روښانه وغوړيد دادعدم تشدد نظريه يې په کلکه رده کړه او دايې ګڼوره وبلله چې د تشدد نه دی کار واخيستل شي. دغه شاعر د ۱۹۳۹ کال په فبرورۍ کې يوشعر (ليډرا نو ته خطاب ) په مجله کې چاپ کړ، په دغه شعر کې ده خپله ټينګه غو ښتنه تکرار کړه چې دپښتنې ملي او آزادي غوښتو نکې غور زنګ ماهيت او خاصيت دې بدل شي،ددغه حرکت په اساس کې دعدم تشدد نظريه دخپلواکې دحصول له پاره غوره ګڼل شوې وه، هغه شعر دغه دی :

جوړونکو دوطـن د مـانۍ نوی !

موسم ښه دی پاخی زر ختېك تەلاس کړی

سر او سود دواړه په دوډ کیښودو دی

هسی نه چی بیا دسودو تېك تەلاس کړی

که څه رنګ دوحدت نـــه وینی په هند کی

خپل ز بیښلی ازمړده پټك (۱) تەلاس کړی

که شفا مو دګنګا په اوبو نه شی

راشی بیا او بودپاك اتېك تـه لاس کـړی

دجهان ژرنده پـه زور اوحکمت ګرځی

زور پیدا کړی بیایی چل تکتېك تەلاس کړی

دا جهان دزهرو ډك علا ج یی زهر

دمار ماهی په ځای(۲) چمچور لتېك ته لاس کړی

زوړ چی وران شی بیا هلـه نوی جوړیږی

په دی نیت د بیلچه بیل موتېك تەلاس کړی

داکبر عقل که خام فکـر غلـط وی

پوخته خیال(۳)دخوشحال خان ختېك تەلاس کړی

کوم آثار چی په پښتون مجلی کی چاپیدل دهغو دموضو عـاتو اهمیت ترټولو ډاډ چی دا آثـارداسی لیکوالو او شاعرا نـــو وړاندی کول چی دپښتنو دعمومی ژوند سره آشناوو اوپه فـعا ل ډول یی پکی ګډون درلود اوهم دغه لیکوال او شاعران په هغـه سیاسی مبارزه کی شامل ووچی پښتون اولس دخپلی خپلوا کی له پاره پیل کړی وه، وطن دوسته لیکوالان اوشاعران بەد عمو می مظاهرو او میتنګو نو په لومړی قطار کی روان وواود انګریزانو دعسکرو سره بەپه وســله وال تصادم کی له هرچانه مخکی وو. دوی بەکله خوشحالی احسا سـوله اوکله بەدخپګان سره مخامخ

(۱) یعنی سرخپوشی ته. سرخیوشانو بەدپټك په رنګ کی جـامی سری کولی .

(۲) یعنی دعدم تشدد په ځا ی تشدد ته لاس کړی .

(۲) مراد پښتو نولی ده .

کیدل او په دوی به سخت فشار و نه تبعید، اعدام، حبس او نور مظالم حواله کیدل .

استعماری محکمی خو ځله عبدالاکبر اکبر اود مخا لف حرکت نور فعال غړی په اویږدوحبسو نو محکوم کړل، دغه شاعر په حبس کی دتوبی او پښیما نی په فکر کی نه شو. (زما دآزاد ی خوب) دادی شاعر په بند یخا نه کی څه ولیدل، ددی له پاره چی دغه عجیب رویا دحافظی نه محوه نه شی هغه یی دشعر په لباس کی ونغښت، شاعر دا رنگ نوم (زمادآزادی خوب) دهغه شعر عنوا ن وگر ځاوه چی په ۱۹۳۰ کال کی یی دگوجرات په بند یخا نه کی جوړ کړی ؤ، هغه شعر دادی :

پروت په جیلخانه کی زه خوبونه دلیلی وینم
زه هسی تورتم کی ددی حسن تجلی وینم
کر دآزادی زما ناصح گنهی عبث په څه
زه هره دانه کی تازه گل بوټی سپرلی وینم
نن که دی غیرت په خورا ومور دوطن و نه کړ
زردی په عصمت حمله دپاکی خور ترلی وینم
تاچی کړو مزدور محروم اوهر څه دی راو نغښتل
لوټ دی په مال گډ تالا دی کور اوسرملی وینم
خوشی بی غلی کندو دی باد پکی غرا کوی
پاس چی په ممبردبی عملو قلقلی وینم
څو چی دقام لارکی مال اوتن هسی فنا نکړی
زړه می او به نه ښنی که قامیان گلی گلی وینم
کښت دآزادی تل زرغو ن شوی په سر وینو دی
هغه شی آزاد چی په میدان دچا کلی وینم

داشعارو لیریزم او خوشحالو ونکی تلون داکبر اشعارو ته مخصوص ملاحت، جذابیت او خوند ورکړی دی. دغه شاعر په خپلو اشعا رو کی یوازی دروښانه راتلو نکی په باره کی هیلی نه څر گندوی ده په ډیر قهر اوغضب سر ه استعمار په هغه شعر کی محکو م کړی دی چی عنوان یی دی «دوران دانگریز به زه هیرنه کړم» دا شعر ده د ۱۹۳۰ کال دمی په شلمه دپیښور دقیام دغلی کیدو نه

وروسته لیکلی دی شعر داسې پیل کیږی .

پایم ژوندی یامی‌وی ځنکندن روح که‌جدا شی‌له تن له‌بدن
خاوری ایری که‌شم سرپه‌کفن وی‌نو بهار یاکه وران‌شی‌چمن
دور دانګریز به‌زه هیرنه کړم

ښار دپیښور هغه‌ورځ دمحشر داخونریزی واقعات د نکـــر
ظلم‌و ستم په تمام اشـنغـر ویر دوړ و زنانـــه سرتور سر
بدل داسی بدبه په‌خیر نـــه کړم

کوم‌کوم به‌ستایم زه ظلم‌وستم دور دانګریز له‌چنګیزنه‌دی‌کم
میاشت داپریل‌اوتاریخ دوویشتم هیر به‌می نه‌شی قسم‌دی قسم
ځو چی‌دښمن زه‌خپل زیر نه‌کړم

داکبر سره یوځای نورودیرو‌پښتنو شاعرا نو داسی چغی‌وهلی اوپه ډاګه یی ویل :

په‌غلامی کی‌ژوند ممکن نه‌دی ،دغلامی ژوند غیر متصـــور دی موږ باید دمبارزی داسی لارغوره کړو چی‌په هغی کی آزادی او خپلواکی ته ورسیږو، دافکرحماسی شاعرانو په خپلو آثارو کی ځای کاوه او (پښتون) مجلی‌پخپلو مخونو کی پراخه مـوقـــع ورکوله. ددغه جریان دپلویا نوپه منځ کی داسی کسان هم وو چی دنولسمی پیړی د اولســی‌حماسی اشعارو مستقیم وار ثان وو او ادامه یی ورکوله. مـثلا حبیب‌الله کاکا دفولکلور په‌سبک شعرو نه ویل. پښتنو په ځومره‌مینه اومحبت ده ته‌کاکا ویل.دی یوسپین ږیری شاعر اودتورنګزودکلی اوســیدو نکی‌ؤ ۱۸۵۹! ــ ۱۹۲۲ زږښت او سپین ږیرتوب‌نوموړی کاکا منع نکړای شوچی دسرخپو شانو په‌مخالف حر کت‌کی فعال ګډون وکړی. دد غــه سپین ږیری شاعر مخصوص‌آثاربه زیاتره دپښتنودمخا لف‌حرکت په خپرونو کی چاپیدل مګر دده‌ادبی رابطه د(پښتون) مجلی‌سره زیاته وه. په‌دغه مجله کــــی د حبیب اله کاکا دادبی میـــرا ث مهمه برخه خپریدله اولوستونکوته وړاندی کیدله. دده دشعر په عنوان کی (موږ دی‌یو)دفولکلورداغیزی نخښی محسو سیږی. دا

شعر په ۱۹۳۹ کال کی دپښتو ټولنې دمارچ په ګڼه کی خپور شوی دی .

**عبدالمالك فدا :**

دآزادی اووطن‌دوستی مفکوری‌دعبد المالك فدا ۱۸۹۱ـ ۱۹۵۷ له‌پاره دادبی الهام سرچینه و ګرځیده ،دی دپښتو ادب پیژندو نکو دمتفق الرای توصیف‌له‌مخی داوسنیو حماسی اشعارو دلویو نمایند ګانو له جملی نه‌حساب شوی‌دی. صاحبزاده عبد القیوم په‌خپل کتاب ( په‌صوبه سرحد کی‌طلا اوسله ) کی لیکی:(دچارصدی عبدالمالك‌دمنظومو قصو او قصیدو سلسله لیکلی ده. داسلسله ډیر لوړادبی قابلیت لری. ډیر خلك ددغی سلسلی په انتظار کی دی‌په زرګونو پښتانه ددغی سلسلی غوښتنه کوی. په‌دغو منظومو قصو او قصیدو کی‌دپښتنو د ټولنی داجتماعی ریفورمو نواو اصلاحاتو مسایل وړاندی‌شوی دی). دعبدالمالك سبك اوستیل‌ساده اوعام فهمه دی. داشاعر دا استعداد او لیاقت لری چی په‌شعر سره ټول‌هغه مسایل‌تشریح او تفسیر کا کوم‌چی کانګرسیانو او سرخپو شانو وړاندی کړیدی .فدا کوم مکتب یا پوهنتون نه‌دی لوستی او نه‌یی په‌خارج کی تحصیل کړی‌دی. دځوانی په کلونو کی‌ده تجارت کاوه مګر کله چی مخالف اوکینې‌حرکت قوت پیدا کړ دی‌هم بی طرفه پاتی نه‌شو اوپه دغه‌حرکت‌پوری ملحق شو. په ۱۹۲۲ کال کی عبدالمالك فدا په ( انجمن اصلاح افاغنه )کی شامل شو ، یوازی اته کاله وروسته دپښتنوپه‌منځ‌کی یو فوق العاده مستعد شاعر. منادی اوخو لور اوجوش‌نه ډك نطاق پیداشو. دی پښتنو ته وایی وینې شی‌نو داسی‌ورته‌وایی :

وړوکتوب پریږده اوس دی‌عمر دشباب راغی
وخت دی د خپل‌حق اخیستلو په شتاب راغی
قومونه وینې شو سپین‌سبادی تاته خواب راغی
پښتونه وینې شه‌په دنیا کی‌انقلاب راغی

ځوك چې بيدار شــو واك اختيار يې دوطن شو په لاس
غافله قوم له غلامۍ دخدای عذاب راغـــی
سر په تلی کی په مورچه د استقلال وخيژه
مه کړه پروا کــه تيغ په لاس دښمن قصاب راغی

دغه شعر چې د (پښتـــون) د ١٩٤٠ کال دمارچ په ګڼه کـــی چاپ شوی دی ډيرو خلکو يـــی تقليد وکړ، دپښتنو په مختلـــفو ځايونو کی به چې مشاعري کيدلی فدا به ضرور ګډون پکی کاوه. په هغه مشاعره کی چې دمر يب آباد په کلی کی دولايتی انتخاباتی مبارزو په وخت کی د ١٩٣٧ کال په مارچ کی وشوه نوموړی شاعر خپلو هيواد والو ته په زوره وويل دآزادی اوخپلی خاوری سره مينه پيدا کړی اودا په چو کيو اوسترو والقابو مه خرڅوی اود عبدالغفار خان او دده دملګرو په لار زوان شی او هغه تعقيب کړی.

څه وخت چې عبدالمالك فــــدا مړشو نو ټوله پښتو نخـــوا ور باندی خواشينی شوه، په کابل کی پښتو ټولنی خپل تاثر ښکاره کړ او دده دمړينی په نسبت چې کوم مضمون کابل مجلی چاپ کړی ؤ په هغه کی دده په آثارو رو ښانه رڼا اچول شوی ده په مضمون کی ويل شوی دی (فدا داسی اشعا ر پريښودل چې اولس ته نژدی دی. لکه څرنګه چې اوبه يو نبوته قوت اووده ورکوی همداســـی دده اشعار اولس ته قوت او شجاعت ورکوی اوپه پښتو ادبياتو کی يی يو نوی جريان پرانست).

د (پښتون) مجلی په خپرو نـــوکی داجتماعی نابرابريو په باره کی ليکنی کمی ليدل کيږی اوهم په ارتجاعی طبقاتــو اونـــو رو اجتماعی ګرو پونو بـــانـــد ی انتقادونه لږدی اوکومو آثارو چې په دغه موضوع کی انتقادونه کړی دی دهغو انتقادی زو حيه اوهدف سست او ضعيف دی، له دغو ګروپونو اوقشرو نو ســره چې خپل امتياز اوپه ټولنه کــی خپل تفوق لاساتی دسرخ پوشانو دمشرانو مناسبات يو اړخيز اوسست وو يعنی سرخپو شـــا نو غوښتل چې دغه طبقات په انګليسی ضد حرکت کی دځان سره شريك کړی اوپه دی لارکي ورســـره مناسبات وساتی اود دوی پـــه

نورو اجتماعي چارو کې يې دومره غرض نه کاوه اونه يې ورسره په دې باره کې کوم مناسبات لرل خو بيا هم هغه مقاله کې چــــې (آرامي اوامن) عنوان لــري اوخاص دمجلې له پاره ليکل شــوې وه عبدالغفار خان دپښتنو ملکانو او خانانو وجدان فروشي او کهنه پرستي غندي اوپه هغو ملکانو اوخانانو پورې خاندي چې علاقه يې داده چې دموجوده استعماري نظام په وخت کې دې دپښتنو په منځ کې کوم حرکت ،جنبش او غور زنګ نه وي او آرام ژونــد دې تيروي . دوی زياتره وايي چې داموجوده آرامي او امن زموږ له پاره خومره ښه دي او زياتــوي که چيرې استعماري حکومت له منځه ځي موږ هم ورســـره لــه منځه ځو .

خان عبدالصمد خان اڅکزی چې دسرخپو شانو دمشرانو سره په تړله معنی متحد اويو اوددغې پارتی فعال غړی ؤ پــه ١٩٥٦ کال کې اعلان وکړ چې پـخــوا( د١٩٣٧ کال نه وړاندې) مــوږ دانګريزانو مقابل کې متفرق اوغير منظم وو، انګريزانو په موږ باندې دسياسي اختناق له مخــې تړولې هغه لارې بندولې چې موږ يې ملي رشد او اولسي پرمختګ ته رسولو خودادې بالاخره داسې وخت راغی چې زموږ دپښتنـــــی اجتماع په ګټه دې، مګر کـــوم ابتکار او اقدام چې موږ پيل کړی دی دهغه په لار کې فيوډالان ، ملکان، خانان، ستر زمکوال او نوابان ډېرې اڅوې اومــــوانع ايجادوي .

دخان اڅکزي وينا په دې شاهدي ورکوي چې دکيڼ او مخالف حرکت مشران داجتماعي پــر مختـــګ په واقعي او دايمي قانون پــوه او معتقد دي. نوي تمايلات پـــه داسې حال کې چې دورستــو او ارتجاعي پديدو دسخت او غضب نه ډک مقاومت سره مخامخ شي، خپل ځان ته په سختې لار وباسي او ځای په ځای ولاړ نــه پــاتې کيږي. دنوي اوزاړه دمبارزې په وخت کې نه شي کيدای چــې د مختلفو طبقاتو دګټو په منځ کې هم آهنګي پيدا شي اوهم امکــان نه لري چې ددوی آرمانونـــــه او هدفونه سره نږدې ـــې شي او عموميت پيدا کا. که څه هــم په نطقونو، دجرګو او ميټنګونو په وينا ؤ، په مقالو او بديعي ادبياتو کې داغږ پورته کيده چــې ټول پښتانه دې سره يو شي .

داسی معلومیږی چی ادبیا ت چی تر اوسه پوری دعمومـــی انکشاف دمهمو وسایلو نه کټل کیدل دطبقاتی قوتونو د نــوی ترتیب خواته غږ کوی اوپښتنی ټولنه کی نوی نظرغواړی. اوس دیر لیکوال ځان په دی کی محدودنه بولی چی یوازی دفیو ډا لــــی لوړی طبقی په ظلم او استبدادسخت انتقادو نه وکړی او هغه وغندی بلکی دوی اوس دا سی پراخ رسمونه کاږی چی دهغونه دټیټو طبقو دمحرو میتو نو اودوی سره دبی عدالتیو هیبــت ناکه اود خطر نه ډکه تابلو تصویراو جوړه شی اودا کار پښتـــون مجلی پیل کړیؤ اویو هدف یـــی همداؤ .

**ماسټر عبدالکریم :**

واقعی هنرمند اؤ لیکوال هغه دی چی دتیپ په جوړولو پوه وی ریالیزم او حقیقت ته تعمـــیم ور کړای شی اواجتماعی ارمانونو او هدفونو ته درسیدو په لارکی اولس سره مرستیال وی. په یوه مقاله کی چی په ١٩٥٤ کال کی دپیښور په (الفلاح) مجله کی چاپ شوی اود ادبیاتو حقیقی مقا م بنیی داسی لیکل شوی دی:« د شاعر وظیفه په بی مقایسی توګه دعکاسی دوظـــیفـــی نه لوړه او باریکه ده شاعر خپل چاپیر یـــال په داسی شکل نه څرګندوی لــکه څنګه چی هغه دی بلکی پـــه داسی ډول یی ترسیموی چی دده پــه فکر څرنګه باید شی، شـــا عرادبیات دموجوده بی عدالتیو دلری کولو اودژوند دښه کولو وسیله ګڼی» ،په ټولنه کی دلیکوال د رول ددارنګ مفهوم سره ماسټرعبدالکریم اړخ لګوی اود ادیــب دامعنی په ده تطبیق کیږی .

دماسټر عبدالکریم پــه باره کی یوه خبره نکی داسی لیکلی دی:(زه په زړور توب سره ویلی شم اوهیله ده چی لوستو نکی به هم ماسره موافق وی که چیری ماسټرصاحب په عادی کورنی کی پیدا شوی نه وای بلکی په مانۍ اوقصر کی پیدا شوی وای ده به یـــوازی لویی، جلال اوخپل عظمت پیژانداود ژوند دنورو ترخو اوخوږونه به خبر نه وای اونــه به دفقـــر اوغریبی دمفاهیمو سره آشنا وای

اونه بەده دا امکان پیدا کـړ ی وای چی دټولنی توجه دژوند دغو نیمگړتیا وته ور وګرځوی. دی ذکی ،سترګور اود ځا نـګړ ی شخصیت خاوندو او دغه خـپل استعداد یی دادبیاتو په ډګــر کی عملی کړ ).

عبد الکریم ۱۹۰۸ ـ ۱۹٦۱ دپیښور د (اوتمانزیو )پەمشهور کلی کی پیدا شویدی، دلـته ده(آزاد سکول) آخرته ورساوه او ور پسی یی دډیلی په کالج کی خپل تحصیل تەدوام ورکړ، کله چی خپل هیواد ته بیرته را غی نود ځوانانو لەپاره په آزادسکول کی استاد پەحیث ومنل شو، دەډیر کوښښ کاوه چی د تعلیـم سیستم ښەشی، دنوو مفکورو دتعمیم لەپاره یی خپل ټول قوت پەکار واچاوه او پوره زیار یی ویستە چی دوطن دو ستــــی احساسات په ځوانانو کی وروزی شاګردانو له ده سره ډیره مینه اوعلاقه لرله. ده دسرخ پو شانو په سازمان کی ډیر اعتـبار او رسوخ لاره اوپه درنه سترګه یی ورته کتل اوهمدا وجـه ده چی ده تەیی پەمکتب اود سـرخ پوشانو پەمنځ کـــی ماسـټر (استاد، عالم ،مخکښ) وایـه،ماسټر عبدالکریم هیڅ وخت په استعماری دستگاه کی کار نەدی کړی، نەداستعمار افسرو اونه یی مامور (۱) بلکی دده ټـول ژوند داولس سره ؤاو پەاولس کی ؤ .

دمعلمی سختی وظیفی دماسټر ډیر وخت نیوه مګر داکار مانع نەشو چی دی دهغه نوی جریا ن نه وژغوری کوم چی ده او دده ملګرو په اوسنی پښتو ادبیا تو کی پیل کړی ؤ، پخپله دده پــه وینا، دی لاپه ډیلی کی ؤ چـــی دادبیاتو پەډګر کی یی لومړ نی ګامونه واخیستل اوخپله اد بی قریحه یی دازمیښت لاندی ونیوه دلته دهیواد نەلری پەډیلی کی دده دایەیا لوژی دودی نوی مهمه دوره پیل شوه، دەد(ځولی ګلونه)دمجموعی په مقدمه کی چی پــه ۱۹۵۷ کال کی پەپیښور کی چاپ شوی ده داسی لیکلی دی :

---

(۱) ماسـټر صاحب پەازاد سکول کی معلم ؤ خو دااستعمار مکتب نه بلکی دسرخ پو شـا نومکتب ؤ .

(مترجم )

« په ۱۹۲۵ کال کی زه په‌ډیلی کی اوسیدم ،په کالج کی مې درس وایه، دنورو شاګردانو غوندی ماهم وړی وړی قصی او ناولونه لیکل، زیاتره آثار به‌ما په انګلیسی ژبه لوستل ، ناولونه اوډرامی به‌می په‌دغه‌ژبه کی مطالعه کول، دتولستوی اوپریم چند قصی‌ما په مینه‌مطالعه‌کولی اولازما په حافظه کی پاتی دی، زه‌په‌ډیر بنه‌شان دکارلیل،چیستیر ټون، محمدحسین آزاد، عبدالحلیم شرر، ابو الکلام آزاداود نورو دآثارو سره آشنا یم مګر زه دتولستوی اوپریم چنددآثارو لوستلو ته دنورو نه ترجیح ورکوم » .

ترکومه ځایه چی ماته معلومات‌دی دروسی ادبیاتو په باره کی دیو پښتون لیکوال او مولف دالومړی یادونه ده او دی لومړی پښتون ادیب دی‌چی اعترا فکوی چی مابا ندی روسی ادب ګټور تاثیر کړی دی .

دا خبره اتفاقی نه‌ده چی‌ماستر تولستوی اوپریم چند ته‌ترجیح ورکوی اود نورو دکتار نه یې‌را بیلوی ،ددوی دواړو په‌آثارو کی ګڼ خصوصیت شته اوپه ډیرخه کی‌سره ورته دی : ددوی په آثارو کی هومانیزم او بشردوستی ده، دحقایقو په انعکاس اوړا سپړلو کی دوی‌ریالیستی‌پرینسیپ لری، اجتماعی مظالمو اود حقوقو دنه برابری سره‌اړخ نه‌لګوی اود ساده اوخواری کښنو خلکو سره پوره‌خوا خوږی‌لری .

لکه چی لیدل کیږی ماستر عبدالکریم فیصله کړی‌وه چی په پښتو ادب کی‌هم دریالیستکو لیکوالو هنری میتودو نه‌استعمال او مروج کړی، په‌پښتو ادب کی‌تردی وخته پوری دنوو اد بی جریانونو دراجمع کولو له پاره‌په‌زیاته اندازه لازم شرایط برابر شوی او منځ‌ته راغلی‌ؤ، د۱۹۳۲کال نه راپه‌دی خوا وروسته له هغی چی ماستر دری کاله په‌بند کی‌تیر کړل دده ادبی‌ارتباط دپښتون مجلی سره ټینګ شو،په‌دغه مجله کی‌د ماستر عبدالکریم ژوندی اوتوند مضامین اوراپور تاژونه په مسلسل ډول خپریدل چی‌په هغو‌کی به‌په روانوسیاسی‌پیښو اوجریانو نو تبصری وی،

دده لیکنی په سیاسی چارو پوری محدودی نه‌وی بلکی د آثـا رو افق‌یی زیات پراخ‌ؤ، کوم شـی‌چی ده ته‌واقعی او ربښتیا نـــی افتخار ور بخښلی دی هغه دده‌دبدیعی او هنری نثر مجمو عه (ځولی گلونه) ده، دمجموعی‌ـــحجم نسبتا وړوکی دی خودقصو او ناولونو په‌نوی ژانر ســـره‌لیکل شوی‌ده .

دپښتو نثر په‌دغو میناتوریوکی چی په‌دقت سره صیقل شوی دی په‌لوړی سرکی دموضوعاتو تنوع لیدل کیږی، په هـمد ی مناسبت یو پښتون خیړو نکـی‌لیکی: ( دماسټر صاحب په‌قصو کی دآزادی سندری اوریـــدل‌کیږی، دمینی اوعشق نغمی پکی غوږته رسیږی، دمظلوم اوسیلی‌پکی ځای لری، دظالم دلا ســه چغی پکی هنگامه جوړوی، دیتیم اوښکی پکی وینو، دتارك‌الدنیا او زاهد اخلاق پکی مجسم شوی‌دی، دعیاشی ولولی او تهوږو نه پکی له ورایه ښکاری، دمستانو په کټ‌کټ خندا پکی ښه‌په زوره اوریدل کیږی، دبزگرانو خبری‌پکښی اورو، دمـزدو را نـــو اوبندیانو ستمیدل پکی اورو ،دډیر خورو اربی پکی بـــددی او مغرور او متکبر پکی په‌گوته‌شوی دی، یاپه بله ژبه‌ده دخپل درك اوخپل شان سره‌سم ژو ندپه مختلفو شکلو نو ترسیم کړی او ښودلی دی).

که ځوك په غور دا آثارمطالعه کړی پوه به‌شی‌چی مولف‌دپښتنی ژوند په‌باره کی څومره تجر به‌لری او څومره کوښښ یی‌کړی دی چی‌خپل چاپیر یال سم درك‌کړی دژوند دپیښنو په تغیر او عدم استقرار پوهیدلی دی، د مختلفو قشرونو اوطبقو داستازو په منځ کـی‌په تصادماتـــو اوتضادونو خبردی اود غریبی او استثمار شوی طبقی دتراژید ی نه‌ډك سرنوشت یی ترسیم کړی دی، دانول شیان دده دمخی نـه تیر شوی‌دی اودا خبره‌بی دلیله نه‌ده چی ماسټر صاحب دخپلـی‌مجموعی په مقدمه کی کړی ده: زمادقصو موضوعات د ژوند نـه‌راوتلی دی اوزما د شـخصـــی مشاهداتو محصول دی .

هغه سخت سرنوشت ما سټر ته ډیر ځور ورکړی دی او ډیر په‌هیجان یی راوستی دی په‌کوم کی چی دده یوغریب هیواد وال

اخته شوی ؤ، دده هیواد وال په ډیره لږه او معمولي غلا ډیــره
سخته جزا ولیده، دغه قصه ده په ۱۹۳۸ کال کې د (پښتون) په
یوه گڼه کې د (ږنده) پاچاهي ترعنوان لاندې لیکلې ده چې لنډیزیې
دادی: (خاني دخپل کور نــه لرې دمیا صاحب سره دمیاشتې
په شل روپۍ نوکر شو، خـا نـې ډیرې زارۍ وکړې چې په شـل
روپیو زما دکور گوزاره نه کیږي ده په کور کې ښځه، یوه لور او
دوه زامن لرل مگر میا صـاحب ورته وویل که په دې دې گوزاره
کیږي ډیره ښه او که نه زما لــه خوا رخصت یې بل چا سره مزدور
شه. څرنگه چې بل ځـای کــې مزدوري نه پیدا کیده دنا کامه
یې شلو روپیو ته غاړه کیښوده، دکور نه به لیك ورته راتــه او
ورته لیکل به یې چې په دې شلو کلدارو چې موږ ته یې رالیږې،
زموږ گوزاره نه کیږي، ده بــه ځان غلی نیوه ځکه بله چاره نه وه
او دځان سره به یې ویل قــوت لایموت په کار دی ځان خو نه شم
وژلی.

بله ورځ یو مخصوص لیــك ورته دښځې له خوا راغی او ورته
لیکلي یې وو چې زه ناروغه یم دعلاج له پاره پنځه روپــې
راولیږه. خاني په چرت کې شو چې داروپۍ دکومه کړي، زړه یې
راټول کړاو خپل بادار ته یــې وویل یو پنځه روپۍ قرض را کړه
چې ښځه مې ناروغه ده، هغــه ورته وویل چې دا کار نه شم کولای
داسې بې ځایه توقع له مانه مه کوه!

دمیا صاحب په څنگ کې یــو ارباب هم اوسیده خلکو به ورته
قابل ډبټي ویل او د هرچا ور باندې اعتبار ؤ، دکلي ماته گوډه به ده
روغوله، ده یو مزدور لاره چې ډیراني نومیده، دخاني او ډیراني
ډیره سره جوړه وه او کله کلــه به په وزگار وخت سره کیناستل،
خاني بله چاره و نه لیده ډیراني ته راغی او حال یې ورته ووایه
چې ښځې رانه دداروله پـــاره پنځه روپۍ غوښتې دي، میـــا
صاحب خورا نه کړې که تا سره وي رایې کړه! ډیراني هك پــك
شو او ویې ویل څه عجیب غوندې نظام دی چې څوك پیسو ته حاجت
نه لري هغو سره په پنډو پرتې وي او څوك چې ورته احتیــا ج

لری هغو سره څوك دپنځو روپیو قرض هم نه کوی، څوك له ولږی تندی څوك له ډیرو خوړو مری، معلومه شوه چی دملك نظام ناقص دی یو څو تنه پکښی ارام دی، ډیرانی جیب ته لاس کړ او پنځه کلداری یی په خوشحالی سره خانی ته ورکړی خانی نیغ په نیغ ډاك خانی ته لاړ او هغه یی بنځی ته ولیږلی.

خانی انه اودوه انی جمع کولی او ډیرانی ته یی ورکولی، دهغه قرض خلاص شو یوازی اته انی یعنی نیمه کلداره یی پاتی شوه، یوه ورځ خانی گوری چی یوسړی میاصاحب ته ډیری زاری کوی او ورته وایی دا پنځه سره روپی واخله خوزما کار را خلاص کړه، میاصاحب دغه روپی واخیستی او هغه سړی خوشحاله رخصت شو، اتردی وخته پوری دخانی دا گومان نه کیده چی گوندی میا صاحب به رشوت اخلی مگر اوس یی یقین راغی او په زړه کی یی وویل زه دشپی له خوا دغلو نه دبادار کور ساتم حال داچی پخپله په کور کی دننه غل ناست او په رڼا ورځ غلا کوی یوازی زه صادق یم او ددی صداقت نه هیڅ نه کیږی. دی په همدی چرتونو کیؤ چی میاصاحب ورغږ کړ: خانیه ! راشه دپنځو روپیو میتایی راوړه. خانی روپی واخیستی دبا زار خواته روان شو او دا زړه یی وکړ چی اتانیز ورنه اخلم او خپل قرض ورباندی لندوم، په لارکی ورته ډیرانی مخی ته راغی دمیاصاحب درشوت حال یی ورته ووایه هغه ورته وویل : عجیب ساده سړی یی داغټان ټول رشوت خوری، ارباب هره ورځ د خلکو کارونه خلاصوی او خلك ور ته ډیر څه ورکوی، نورچی هرڅه بدکارونه کوی دی ورسره شریك دی. په دی خبرو خانی نور هم زړور شو، دځلور نیمو رو پیو خوړه یی واخیسته او میاصاحب ته یی راوړه، میا صاحب دصراف له ذاته ؤ اولاس یی خالصه کنډه وه چی میټایی پورته کړه پوه شوچی کمه ده، خانی یی وواهه او بیا یی محکمی ته وسپاره، محکمی اود عدالت څښتنانو بندته ورټیل واهه، په داسی حال کی چی دڼا ورځی په سوونو غله دخپل بال بچ سره په عیش او عشرت کی ناست وو خانی

دخپلو ورو بچو په‌فراق کی په بندی خانه کی شپی سباکولی .
خانی غلا کړی‌وه خوغل نه‌ؤ، خانی گناه کړی‌وه خوگناه کار نه‌ؤ. که‌څه‌هم مو لف د قصـی‌قهر مان بی‌گناه بنودلی دی مگر په‌بند کی‌دی او هغه‌چی وا قعاغله دی، گناه گاران اومختلسین دی هغوی دعادل او منصف پـه‌لقب یادیږی او فیصلی صادروی او نور بندیا نوی .
دلیکوال سره موږهم پـه دی‌عقیده کی شریك یوچی دخلکـو له پرگنو نه به‌ذلت او بیعدالتی‌هغه وخت لری‌شی کله چی‌هغه اساسات تغییر و مومی چـی‌داسی بی عدالتی یی منځ تـه راوستی دی اونه یوازی دعدل‌محاکم اصلاح شی بلکی واکمـن سیستم په‌داسی شان وگرځـی‌چی داولس گټی په نظر کـی ونیسی .
دقصی په‌متن کی کومه‌شجاعانه‌او رادیکاله نتیجه نه‌شته اوهمدا رنگه ماستر صاحب دعبرتنا کی‌نتیجی نه‌په ځنگ دی، په‌دا سی حال کی چی‌مولف سرخوږو نکی‌او مبتزل موضوعات غندی د ی پخپله لوستونکی مجبور وی چی په پیچلو اوزیاتو ژوروموضـو عاتو کی فکر وکړی .
په یوه بله قصه کـی (دوه‌خدایی خدمت گاره ) چی پـه ۱۹۳۹ کال کی‌په (پښتون) کی‌چاپ شوی ده ماستر عبدالکریم دهر څه نه‌لومړی اخلاقی پرابلمو نو ته مخه‌کړی ده، دقصی خلاصه داسی ده :
( نور علی اوحسن علی دوه‌خوانه او ټینگ ملگری وو،دوی دحج نیت وکړ اوحج ته روا ن‌شول، یوه کلی ته‌چی ورسید ل نوحسن علی داوبو له‌پاره یـوه‌کورته ورستون شو اونور علی ته‌یی وویل چی‌ته درځه زه در پسی درغلم، دلته حسن علی په یوه غمجنه اوغریبه کورنی ورپیښ‌شو چی له‌ولږی بی سیـکه پراته وو دکور مشر مړ شـوی‌ؤاوبل کټندوی پکی‌نه‌ؤ. دکالـه زړی ښځی ورته خپل حال بیـا ناوه چی‌په همدی کی‌یی سـا وختله، ده دځان سره وویل چی‌حج همدا دی دمکی تگ‌ته‌حاجت نه شته، دحج پیسی‌یی په دغـی‌کورنی ولگولی او بیرته خپـل

کورته لاړ اوخلکوته یې پلمه وکړه چې په لار کې ناروغ شوم ځکه را ستون شوم .

نورعلي چې دکلي نه ووت نو (اودس) له پاره یوې ویالې ته ور وګرځید اوفکر یې وکړ ترڅو چې حسن‌علي راځي زه به بیرته لارې ته‌را ووځم، دې چې لارې ته راووت لږ بر یې وکتل حسن علي یې ونه لید، ده وویل هغه به مخ په وړاندې تللی وي نو چابک چابک لاړاوبل کلي تــه ورسید، هلته هم حسن علي نه‌ؤ په‌دې خیال چې‌هغه به وړا نـدې تللی‌وي، ده‌هم همداسې مـخ په وړاندې پسې لار وهله اوڅوورځې یې په‌همدې ترتیب مز ل وکړ آخر په‌دغه‌توګه مکې‌معظمې ته ورسید چې طواف کوي حسن علي یې ولید مګردستر ګو پــه‌رپ کې ورنه ورك شو، بیا چــې دصفا اومروا په منځ کې سعـــې کوي هلته یې‌هم حسن‌علي ولید مګر په ازدحام کې‌ورنه غلط شو، دجمرو په ویشتلو کې‌یې هـم ولید اوپه عرفات کې‌یې هـــم‌ولید خوورنه ورکیده به، ده‌فکر وکړ چې ګوندې حسن‌علي لـــه‌ما نه خپه شوی‌دې ځکه‌را نه‌پټیږي نور علي چې‌بیرته له‌حجه کورته‌راغی نو دواړو یارانو خپلـــې قصې اود خپلو سترګو لید لـې‌حال یوبل ته‌بیان کړ .

نور علي به‌تل خپلو ملګـروسره داخبرې کولې (چې تـــش احرام تړلو، یوازې حجرا ســـودښکلولو اود عرفات پـه غوندې دخدای په دربار کې‌زارې کولو ته حج‌نه‌شي ویلی، دهرڅه‌نه لوی حج دخدای دمخلوق خدمت دی). دحج اود حج دسفرپه بـاره کې لیکنې په‌پښتو ادب کې کوم نوی کارنه دی مثلا په دیر شمو کلونو کې دپیښور په مجلـــه (خیبر میګزین) کې د پښتـــون لیکوال سمندرد بدرښو قصــه‌چاپ شوی‌وه چې عنوان یې ؤ. (دحج په‌سفر کې حج)، ددغـــې‌قصې موضوع دعبدالکریم دقصې سره پوره نژدې وه مګر د هنراو فکر په‌لحاظ دماستر قصـــه دسمندر دقصې نه‌ډیر افضلیت‌لري، دعبدالکریم په‌قصه کې‌ټول داسې مواد اوخصلتو نه‌دي چې‌دژوند سره اړخ لګوي اودژوند نه مجرد موضوعات پکې نـه‌شته‌پوره ریالیستیك تیپونه پکـــې

ځای شوی‌دی چی خلکوته غــږ کوی چی‌دبشر دوستی له مخــی چلند کوی، دا دوجدان او ضمیر آواز اوحکم دی‌اودهرسر خپوش وظیفه ده .

داخبره بی مناسبه نه‌ده چــی‌عبدالکریم دخپلی قصی عنوا ن (دوه خدایی‌خدمت گاره) گرځولی‌دی، عبدالکریم ډیر ځله دسرخ پوشانو دفعالیت ایدیا لــــو ژی بیانوی اود دوی دفعالیت‌تبلیغ کوی مگر دده قصه په‌دغه‌موجوده‌رنگ او تعبیر سره بیا ناڅا په بل رنگ غوره کوی اوبیخی په بله لاره روانیږی .

نور علی اوحسن علی او د عبدالکریم دقصی نـور ذوا ت مشخص ملی خصلتونه څرگندوی‌ددوی په خویونو، ددوی په‌وینا گانو اوددوی دفکر په‌څرنگوالی کی ضرور پښتون مجسم کیږی. مولف دخپل ماحول اوچاپیر یال‌په‌باره کی قصی اوخبری کوی. حسن علی چی‌کلی ته ورننو ځی‌اود بیوزلی کورنی حال وینی داکار خودی په‌خپل هیــواد اوخپل محیط کی وینی‌اود کوه‌قاف نه هغه خوا خو داپیښه نه‌ده واقع‌شوی، داکار په پښتنی خــاوره کی منځ ته راغلی دی چیری‌چی اولس اوخلك دخانانو او فیوډا لانو له‌خوا په ظالمانه تــو گــه‌استثمار شوی‌دی، دقصی آخــــر بیخی په‌غیر مترقب ډول پــای‌ته رسیدلی دی: نور علی چــی کلی ته‌را رسیږی نو خلکو تــه‌وایی حــج یــوازی دا نــه دی چــی څــوك احــرام وتـــــړی‌او حجراسو دښکل کړی او پــه عرفات ودریږی بلکی واقعی حج دادی چی دخدای دمخلوق خدمت وکړی .

کیدای شی‌چی داغوږ اوفصیح‌الفاظ لوستو نکی په غفلت کــی واچوی، مولف دلته تریــوی‌اندازی پوری له‌هنره کار اخلی اوله دی لاری خپل تبلیغ کوی، دی په‌حقیقت کی‌غږ کوی چــی دریا کارانه شعایرو اومنا سکو نه ځان وژغوری اواعلان کــوی چی ځان دخلکو او اولس خدمت‌ته وقف کړی .

ماستر عبدالکریم دژوند د زیب اوزینت آرزو نه‌لرله دغــه لوی هنر مند اوستر گورلیکوال‌وکولای شول چی په فصیحو او

واضحو عباراتو داجتماعـــي تضادونو تابلو ترسيم کړی، ده په ۱۹۳۷ کال کی‌په پښتـو نمجله کی‌یوه قصه (دیتیم اختر) په توندہ لهجه اوسخت انتقـادسره لیکلی وه، دقصی لنډیـز داسی دی :

(غلام حسین چادشپی وواژه، یوه لور گلناره ورنه پاتی شوه، بله ورځ اختر راځی او گلنا ره‌داختر پیسه اومیوه نه‌لری نـو دډی له‌پاره چی وړه گـــلنـاره‌خوشحاله شی اود اختر نه‌څـــه خوند واخلی نیا ورته‌داورلگیت دبلیو درجن ورکړ چی بچیه ! دا په‌بازار کی خرڅ کړه داختر پیسی به‌دی ور باندی وشی پـه نژدی بازار کی خرڅ نه‌شو لـری بازار ته‌لاړه، په‌لاری باران‌لمده کړی‌وه او ډیره وږی هـم وه. ناوخته شو، دوکانونه و تـړ ل شول یوازی دوه دوکانونه بیرته‌وو چی دسباله پاره چی داختـر ورځ ده میتهایی، امرسی، ځلوبی‌او کتلمی پکی پخیدلی، وږی او سړو وهلی گلنگانه دکړایی لــه‌خوا سره نژدی ودریدله اوهغو ته‌یی په‌زیر زیر کتل چی‌په دی‌کی حاجی صاحب غږ کړ: «جینی څه چی دوکان‌می دنظره‌نه‌کړی» هغه بل دوکاندار هم‌پری غـــږ کړ چی (امر سی‌دی جوړی پـه‌سترگو لیدلی نه‌دی )هو ! موږ دوږی له‌حاله څه خبردی .

څرنگه چی تیاره وه جینـــی‌خپل کورته تــلای نه شــوه اود دوکاندارانو سره یی‌هم ځــا ی‌ونه شو نودحاجی صاحب‌دوکان نه‌شل قدمه وړاندی دیوی تختی‌لاندی ور ننوتله، لمده‌وه، وږی وه اود ژمی شپه‌چی سبا کید له‌یتیمه گلناره مړه‌وه، سباماشو مان ورنه راچاپیروو او چـغی‌یی وهلی: (کومه مسافره جینی مړه ده).

دگلناری مور سبا وختی په‌گلناری پسی راووتله تصا دفا په همدغه ځای رابرابره شـوه‌او هغه تراژیدی یی ولیده،مو ر یی ورته ډیری چغی ووهلی خوو‌ړی گلناری ورته سترگی نه راپورته کولی هغه خوتللی وه‌دبلار نه‌یی ځان ته‌داختر پیســـی راوړی .)

واقعی وطن دوست اود خپلو هیواد والو دسرنوشت له املـه

رنځور ماستر عبدالکريم په‌دغه‌قصه کې دلوم‌ړی ځل له پاره په پښتني ټولنه کې ژور او سخت اجتماعي تضادونه اوتوپير ونه فاش او څرگند کړل، دوه‌طبقې اودوه تيپونه دده له خوا په پوره هنري قوت‌سره مقابله‌شوی اومقايسه شوي‌دي .

دغو دوه نه‌پخلا کېدو نکو طبقو ديوالي اونژد يوا لـــې په باره کې‌به خبري څنگه‌امکان‌ولري حال داچې دايوه طبقه‌دبلي طبقې شته او مالونه لوټــوي، هغه استثماري اود هغـې وړه غوښتنه هم‌نه ترسره کوي .

ته چې‌ديتيمې گلناري دمړيني‌تاريخ لولې نوبې‌اختياره ستا فکر ته‌دامتل ( موړدوږي له‌حاله‌څه خبر دي) درځي .

ليکوال په قهر او غضب سره‌دغو هتې واالوبې رحمې اوريا کاري افشاء کړې او څرگندوي‌چې داسې کسان په‌ډير هـانـد سره عبادت کوي اود ريا کاري‌په ځای کې‌ډيري پيسې لـگوي مگر بيا دغريبانو او يتيما نـوسره داسې وضعيت کوي لکـه چې دوږي گلناري سره وشو .

دماستر عبد الکريم په‌دې‌قصه‌کې شور او هيجان نه‌شـــته او ظاهري احسا سات پکې‌نه‌ښکاري‌په عادي او رياليستـــيك ډول ژوند پکې ترسيم شوي‌دي او په‌مات زړه اوبې علاقې سره‌دقصې دقهرمان په بدمرغي اوبد بختي‌خبري شوي دي مگر دقصې پـه عمق او اجمال کې‌ژور فکـــرپروت دي په‌دې کې دهما غــه وخت نظام اوو ضعيت نه دمولف‌سخت نفرت او انزجار مخفي او پټ دي، هغه نظام چې داولس ساده خلك اوپرگني پکې وږي‌او بيځايه مړه کيږي .

ماستر عبدالکريم دخپل فکرسره سم‌د(خولې گلونه)دمجموعې په سرکې دفضل محمود مخفـي‌دوه بيتونه را اقتباس کړيدي:

سرکې‌مې دي پښتون پښتون زړه کې مې ده پښتو پښتــو
مرم به‌په دې‌دامې دي‌ژوندون آن تـر سـا دو تـو

(مرحوم مخفي)

ددغه لیکوال کوم آثار چې په دیرشمو کلونو کــــې پــــه پښتون مجله کې چاپ شوي دي هغه دده دادبي ارث یوازي یوه برخه تشکیلوي مګر دده دغــــه دقصو مجموعه (ځولې ګلو نه) دده دآثارو په اصلي اوابتکاري خاصیت شهادت ورکوي چې هغه دپښتو نولې نه پرته نـــو ر داجتماعي ژوند اساسات په نظر کې نیسي، ماسټر صاحب دا زړور اقدام ځکه کړی دی چــــې دی نسبتا نورو ته دفضل محمود مخفي دشعر په ماهیت په خورا ژوره توګه پوهیدلی او عمیقــــا یې دشعر حقیقت درك کړیدی .

ددغه لوی پښتانه نثرلیکو نکي دآثارو سره آشنایي سړی سره دامرسته کوي چې په صو بـــــه سرحد کې دپښتوادبیاتو داوسنیو جریاناتو منابع درك کړي، پــه داسې حال کې چې دغـــه لـــوی پښتون یعنې ماسټر عبدالکریم دخپل فولکلور او ادب په ملــــې عنعنو تکیه کړې ده تر یــــو ی اندازې دنورو ادبیاتو له غنــــې تجربو هم استفاده کوي، نسبت اسلافو او پخوانیو لیکوا لو تـــه دی له اولســــې محــــاورو او اصطلا حاتو زیاته استفاده کوي اوهغه عبارات راوړي چې دپښتو په ورځنیو محاورو پوري خاص دي مګر دده دقصو دمجمو عــــې ژبه او سبك دادبي منتخبا تـــو دمجموعو غوندې ساده ګــــې او آساني نه لري دېر دیالیکتیز م پکې لیدل کیږي، دبیان دوسایلو سیستم یې پیچلې دی، د قصــــو واقعات او پیښې ابتکاري اوغیر تکرار دي .

عبدالکریم په پښتو ادبیا تو کې نوی هیرو (قهرمان) را یج کړی اومنځ ته را وســـــتلی دی (دټیټې طبقې اتلان یې انتخاب کړي دي) او داځکه چې دا رنګ قهرمان دلوستو نکو عــلاقه او مینــه ژر جلبــولی شــې او په عین حال کې ماسټر په زیــا تــه اندازه سره دپښتو ادبیاتو هغه پخواني عنعنه له منځه یووړه چې دآثارو قهرمان به د لوړې طبقې نه ؤ اود ادبي بحث موضوع به په اشرافو پورې منحصره وه، دغه هنر مند دپښتنو دلوړو طبقا تو دټولنې عکاسي په ریالیستیك ډول کړې اود دوی له تصویرونو څخه یې ګالري او انځور تـــون (نقاش خانه) جوړ کړیدی .

ماستر عبد الکریم نه یوازی داچی داجتماعی تولنو ظاهری
شکل ترسیم کړی او بنود لــی دی بلکی ده کوښښ کړی دی چی
دبحث موضوع عامه کړی، خلك طبقه بندی کړی، ددوی منځ
ته ور داخــل شــی اوددوی خصو صیات او سپړی او منعکس
یی کړی په دی باب یو خیر ونکی لــیکی : ( کــه تــاسی ښــه
ځیر شی پوه به شی چی د ماستر صاحب نه پخوا زیاترو لیکوا لو
دخلکو دعملونو په یوه ابرخ رنــا اچوله، دوی به دځان له پــار ه
هغه موضوع انتخا بو له اودهغه څه نه به یی بحث کاوه چی پخپله
به وربا ندی اخته وو، که دوی به خپل مطلوب ته و نه رسیدل نــو
داسی چلونه به یی جوړول چــی حتی دشیطان به هم زده نه وو ).
همدا وجه ده چی موږ په زړورتوب سره ویلی شو چی د ماستر آثارو
له دیره حیثه پښتو ادبیات د بی معنی، منجمدو او ورستو ـــــ
عنعنا تو نه خلاص کړل اودلومړی ځل له پاره یی په دغو اد بیــا تو
کی دریالیزم دانکشاف له پــاره نوی بی شماره امکانات پیدا کړل.
دغه مشهور اوو تلی ما ستر هنری آثار همداسی په پــوره
حرارت او محبوبیت سره ادامه لری اود نیسان تاقچی تــه تــه
دی اچول شوی دپښتنو لیکوا لو یو نسل دعبدالکریم شاگرد نه دی
او نه یو نسل دده نه الهام اخلــی چی دخپلی خاوری او خپل ســرـ
گردان اولالهانـد اولس سره مینه او عشق دی (بلکی دپــښتنــــو
لیکوالو څو نسلونـــه بـــه دده شاگردان وی ).

په داسی حال کی چی دعبــدالکریم د ادبی خدمتو نو یادو نه
او توصیف کیږی باید دا هــم په نظر کی و نیول شی چی پــه
دیرشمو کلونو کی چی دده آثا ر دلوستو نکو لاس ته په پراخه توگه
ورتلل او مشهور یدل یوازینی علت یی دا و چی په هغه وخت کی
د (پښتون) مجله موجوده وه اودهمدی مجلی برکت وچی دغــو
آثارو ته یی تعمیم ور کــاوه ، د امجله په ادبیاتو کی دنــوو
تمایلا تو مخکښ وه .

یو افغانی لیکوال دسرخپوشا نو اد بیاتو ته له دی کبله هم در نښت
ور کړی دی چی دغو ادبیا تــو دپښتو دنثر په ژانرو نو کــی

مستقله مرحله پژانیستی ده اوور پسی لیکی : (په دغه دوره کی له‌مذهبی ،هنری او علمی آثارو پرته سیاسی موضوعات هم منځ ته راغلل، لیکوالو دادرك کړه‌چی باید اولس په‌دی پوه کړو چی کوم سیاست انگلیسانو چلوی هغه داولس دګټو سره ضد دی، لیکوالو هغه نیمګړ تیاوی اوهغه مفتضح عادات‌دانتقاد لاندی ونیول چی تولنه یی‌دانکشاف ته نه پریښوده.)

**په ادب‌کی ستربدلون او نوی‌ژانرونه :**

په دی‌دول ویلی شو چی دپښتو آثار زیاتره دسختیو په وخت کی منځ‌ته راغلی دی اوپه‌مبارزو کی رالوی شوی دی .

داچی دپښتنو په‌سیمه کی‌سیاسی اواجتماعی ادبیاتو کوم عکس‌العمل لاره په‌دی باره کی‌کیدای شی‌چی‌دل، ر، گر دون وینا راوړو، دی په‌خپل اثر (په صوبه سرحدکی ژور احساسات) کی لیکی :(دروانی پیړی ددیرشمو کلونو په سرکی په پیښور اود صوبه سرحد په‌نورو ښارونو کی‌یوه رساله خپره شوه. (په‌هند کی دانگریزسل کلنه حکمرانی)، په‌دی‌رساله کی لیکوال پښتنو ته‌غږ کړی وُچی انګریز دخپلی خاوری نه وباسی. په نتیجه کی دلکشمی‌مطبعی څښتن اومسؤل مدیر دانگریزانو له‌خوا محاکمی ته‌کش شول مگر درسالی مولف مولوی عبدالله دپولیسو لاس‌ته‌ورنه غی ).

په سختو شرایطو کی دپښتوسیاسی او اجتماعی خپرونو دوام درلود. هو! څومره چی‌په‌سختو شرایطو کی دغه ادبیات منځ‌ته راتلل په هماغه اندازه‌به‌یی انتقادی روحیه سختید له دبدیعی نثرونو نه به‌په پښتو نمجله‌او نورو خپرونو کی یوازی دنوو ژانرونو آثار چاپیدل : قصی‌ناولونه اوعلمی آثار. هر لیکوال به‌خپل سبك‌اوخپل‌میتود تعقیباوه اویوه به‌دبل نه‌په‌سبك کی توپیر سره لاره، چا به‌دافراطی عاطفی پلوی کوله، چابه زیات حرارت اوتوندی ښود له‌او څوك دریالیزم پلویان وو .

دروانی پیړی ددیرشموکلونو په پښتو ادبیاتو کی سبکونو، جریانونو اود میتودونو تنوع‌او رنگا رنگ توب ترتولو

لومړی په ادبی عنعنو کی اساسی تغیرات راوستل او پوره بدلون یی وموند. دپښتنو داجتماعی او ادبی انکشاف نوو شرایطو او ژوند سره دادبیاتو زیات نژدیوالی دبدیعی آثارو یوی نوعی ته چټکه وده ورکړه چی دانوعه ملی ډرامی دی کومو چی ډیر ژر محبوبیت پیداکړ او زیاتو خلکو ورسره علاقه بښوده.

**ملی اتڼ او ډرامی :**

دپښتنو په منځ کی ملی اتڼ اودغه اتڼ سره مینه ډیری ژوری او پخوانی ریښی لری مگر دتاریخ په اوږدو کی دغه اتڼ او اولسی عنعنه په هیڅ وخت کی دومره توده اودجوش په ډکه نه وی. څومره چی دجنگ اود اولس دسیاسی او معنوی بیداری په وخت کی جوش لری. لاریسه ریسنیر په خپل کتاب (افغانستان) کی دهغو پښتنو قبایلو او آزادو قومونو دنڅاؤ او سندرو تابلو رسم کړی ده کوم چی په رسمی توگه دخپلواکی دجشن له پاره په ۱۹۲۳ کال کی په کابل کی راغونډ شوی وو (دټولو هنرونو اوکسبو نو نه چی پښتنو په پیړیو پیړیو لاس ته راوړی دی د قبایلو بنایسته نڅاوی، اتڼونه او سندری ترټولو مهمی، ژوندی اوپه زړه پوری دی. دهمدی کال ۱۹۲۳ په منی کی قبایلی خلکو په کابل کی یوه هنری ننداره ترتیب کړی وه، دوی وبلل شول چی پخپله دامیر دتریبون (لوژ) په مخکی خپله ننداره او ملی اتڼ اجرا کړی، دوی نژدی سل تنه وو اوتر ټولو قوی اوښایسته ځوانان وو، ددغو ټولو په منځ کی یوازی یوتن دجسم له حیثه ضعیف معلومیده، دی (ډول چی) و، هو! څرنگه ډول چی ! ته به وایی دده دخوار مگر قوی الاعصاب وجود په هر رگ اوسلول کی دموزیك رب النوع پټه پرته ده، خبره دده په ډول کی نه ده چی اتڼ چیان په جوش اووجد راولی خبره په دی کی ده چی دی په څه عجیب کیف سره په نیم پټو سترگو داتڼ چیانو قطارونه دبنو لاندی څاری، کله دڼخا گرو یوه قطارته گوری اوکله بل ته اود ډول په تال سره یی کنترول لوی .

نڅا دقوم روح دی، نڅاپه ډېروقدمونو سره کيږي لکه ښکاري
چي دښار په وخت کيږي، دډېرو قدمونه اخلي نڅاګر په يو څنګ
او بل څنګ ته اوړي اورا اوړي او توري راوړي څني اچوي، جادو
کوي او مستيږي او داسي تاويږي لکه په تمتريي چي ګولۍ
خوړلي وي او داسي ښانګو نه اچوي لکه شاهين په لوړو غرونو
ګرځي را ګرځي .
سندري لاداتڼ نه خوند وري اوزړه پوري وي، خلك په څمکه
ورته ګرد چاپيره ناست وي ښه سندر غاړي داتڼ چيا نو
په منځ کي ولاړوي او سندر ي وايي او (ډول چي) ورسره
ملګرتيا کوي او په تغني او ترنم سره داسي وايي :
انګريز وطن را څني ونيو
په خپلو وينو به يي بيا تري ونيسونه
انګريز به داسي ريز مريز کړو
چي ترقيا مته بيا راغبرګ نه شي مينه
او ننداړ چيان سروکي تاووي، په دغه وخت کي دانګريز
سفير چي هغه هم په تريبون کي ناست دي خجالت وباسي، رنګ
يي زيړيږي اود زړه دپاسه دنوروسره يوځاي چکچکي کوي .
ترټولو مهمه خبره داده چي دپښتنو ملي اتڼونه کوم پخواني
مناسك اوشعاير نه دي اونه کومه بديعي اوهنري عنعنه ده بلکي
يو حقيقت دی، پښتانه دهرجنګ په وخت کي اتڼ نه کوي بلکي
دوی په هغه وخت کي اتڼ اچوي چي انګريزانو سره ونښلي ...)
دډرامو دهنر ځينو عنصرونو او خصوصياتو لادپخوا را هيسي
داولس ژوند اوعنعنو ته نفوذ کړی دی، نوله همدی کبله د
پښتو ډرامو له پاره يوازي دا ضرور نه ده چي خارجي عصري
ميتو دونه اود صحني هنرو نه زده شي بلکي دملي ډرامو د
موادو نه هم بايد کار واخيستل شي اورا اقتباس شي .
دنوي ژانر (ډرامو) دپيدا يښت مبتکرين داوار هغه ليکوالوو
چي دامپر ياليستي حرکت په مخالفه جبهه کي ولاړوو. لادروانی
پيړي دشلمو کلونو په نيما يي کي داوتمانزيو په آزاد سکول کي

ډرامو رواج موندلئ. د عبدالاکبر اکبر دوه ډرامې (نوی تعلیم او نوی تهذیب) او (تربور) پــه هماغو وختونو کی په نوموړی سکول کی وښودل شوی، دغو ډرامو متنونه د پولیسو لــه خوا مصادره شول اوله منځه لاړل مګر د ډرامو فکر او هدف په اذهانو کی باقی پاتی شو، مولف خوانانو ته خطاب کړی ؤ چی نوو علومو سره آشناشی، پخوانی پــو چ او جامد عادات پریږدی خصوصا د ښمنۍ هغه عادت یی مزخرف او مضر معرفی کړی ؤ چی پــه پښتنو کی د تره زامنو په منځ کی شایع دی. اکبر د ډرامو په ذریعه د ژوند ټولی اجتماعی پیښی رامنځ ته کړی او خلك یی د هغو په ګټه او زیان خبر کړی دی، دغــه مستعد شاعر یو مشهور ډرا مه لیکونکی هم وګرځید دده ډرامی خو ځله په میټنګونو او جلســو کی په آزاده هوا کی وښودل شوی د ۱۹۳۰ کال په اپریل کی څــه وخت چی داو تمانزیو په کلی کی د سرخ پوشانو درسمی کنفرانس ټاکلی برخه خلاصه شوه د اکبر ډرامه (خدایی خدمتګار) وښودل شوه چی په دی ډرامه کی دخانمیر هلالی په قول د وخت مســایــل منعکس شوی وو او د راتلو نکی انقلاب لاری پکی په ګوته شوی وی، هلالی داهم تایید کړید ه چی عامو خلکــو ته د دی ډرامی ښودل سبب شول چی د آزادی د غورزنګ ستر لیډران ونیــول شی.

همدا رنګه د ۱۹۳۰ کال په اګست کی په آزاده هوا کی ګنو خلکو ته په همدی نامه یوه بله ډرامه وښودل شوه مګــر د دی ډرامی مولف عبد الخالق خلیق ؤ د دی ډرامی د ښودلو نه وروسته سمدستی عبدالخالق خلیــق د (پښتون) مجلی مسؤل مدیر مقرر شو، دده دخصوصی یادداشت له مخی کله چی خان عبدالغفار خان د دی ډرامی سره آشنا شو دستی یی ده ته وویل چی د مجلی مسؤل پست په غاړه واخله، خلیق همدارنګه د هنری آثارو په نوی ساحه (ډرامو) کی نور کارهم کړی دی.

په ۱۹۳۵ کال کی دده یــوه ډرامه (شهیده سکینه) په ځانګړی ډول د چاپ نه راووتله، په همدغه وخت کــی دده یوه بله ډرامــه (خوږ ژوندون) جوړه کړه، دغه دواړه ډرامی د ځوانانو روز نی

ته وقف شــوی وی‌اود آزادی‌دمفکوری له‌پاره یی‌تبلیغ کاوه.
دغه ژانر ته امیرنواز جلیا هم‌مخه کړی وه، په ۱۹۳۲ کال‌کی ده د (درد) په‌نامه ډرامه‌اولیکله‌چی وروسته بیا دیوی رسالی په توګه چاپ شوه، ددغی ډرامی‌ښودلو په‌خلکو کی داسی‌طوفانی عکس العمل‌پیداکړچی انګریزانوهغه مصادره کـړه او ډرامــه ښوونکی یی‌په اوږدو حبسونــومحکوم کـړل.
داچی په‌دغو سیمو کی‌دډرامو نه وروسته څه پیښی منځ تـه راغلی په‌دی باره‌کی ل، ګردون په‌خپل کتاب (په‌صوبه سرحدکی ستری پیښی) کی‌داسی لیــکی: پښتنو ځوانانو په‌پیښور، چــار سدی اود صوبه سرحد په نوروښارونو کی د ۱۹۳۱ کال پــه پسرلی کی‌یوه ډرامه (سرخپــوشانو ته) وښوده، په‌دغه ډرامه کی په بزګرانو باندی دانګلیسی‌ماموانو ظلم، تیری اوتعــدی فاش شوی‌وه، ډرامه په‌دی ختم‌شوی‌وه چی (دچارسدی دسیمی دپولیسو مشربرنس وژل‌کیږی) دانګلیسانو دوینا له‌مخی دغــی ډرامی ته‌ډیر خلك راټول‌شوی‌ؤ. دډرامی تاثیر له‌دی نه‌معلومیدای شی چی دښودلو نه وروسته یی‌ځوځلی په برنس سوقصد وشو.
هغه لاره‌چی په‌دغو دوه‌لسیزوکی دادبیاتو په ذریعه منځ تــه راغلی ده ډیره مهمه‌ده، په‌داسی‌حال کی‌چی دلیکوالو، شاعرانو او ډرامه لیکونکو ځوان نســل‌دخپلو اسلافو نه دنولکلوری او کلاسیکو عنعنو بدلی میــرا ثـلاس ته راوړی دی هغه‌یی پــه داسی قوی اوسترخراغ بدل‌کړی‌دی چی پښتنو ته‌دښه ژوند لاره روښانه کوی اوددوی مستقبل‌تضمینوی.
## ادبی ټولنی او مشاعری:
دپښتنو په‌سیمو کی داد بــی‌ټولنو جوړښت په راتلونکی کی ادبیاتو ته‌وده ورکړه او پــوره پرمختګ پکی وشو. په ۱۹۳۳ـ کال کی‌په نوښار کی ادبی‌ټولنه (دنو ښار ادبی جرګه) جــوړه شوه ،په دغه ټولنه کی‌دهغه‌ځای‌محلی لیکوالو اود شاوخوا کلیو او ښارونو ادیبانو ګډون کاوه‌اوتینګه همکاری یی ور ســره اعلان کړی وه، ددغی ټــو لنی‌رئیس چی‌تر آخره پوری پــه

ریاست پاتیۋ حکیم عبدالخالق‌خلیق و، په ۱۹۲۷ کال کی په پیښور کی دلیکوالو تو لنـــه (بزم ادب) منځ‌ته راغله، ددغی تولنی مشر سیدراحت زاخیلیۋ دده نژدی مرستیالان حکیم بادشاه گل نیازی ۱۸۸۲ ـ ۱۹۵۰ـ او حکیم بصیر ۱۹۱۹ ـ ۱۹۵۰ وو.

دغو ادبی تولنو خپلی شخصی مطبعی نه‌لرلی اونه یی داسی وسایل لرل چی‌خپل ادبی آثـار ور باندی چاپ اوخلکو تـه یی ورسوی. ددوی یوازینـــی اواساسی چاره داوه چی‌په مختلفو ځایونو کی‌به یی مشاعری‌کولی‌اوله دی لاری نـه بـه‌یی خپله ایډیا لو جی خپروله اوخپـــل فعالیت به‌یی ښکاره کاوه، دغو مشاعرو په‌عمومی توگه دپښتنو درشد اوانکشاف سره مـرسته وکړه اوهغه یی داسی عیارکړل‌چی مستقیما دژوند په تـرسیم کی شول اوژوند سره مخـا مخ‌شول. مگر ددغو ادبی تولنـــو انعکاس اوهنگامه دومره لو یه نه‌وه او برسیره په‌دی دتـولنو غړو او خصوصا بیاد(بزم ادب) نمایندگانو کوښښ کاوه چـی دتحریری ادب نه داستفادی‌ساحه تنگه اومحدوده کړی او زیا ته تکیه په فولکلور او اولسی ادب باندی وکړی .

# لس کلنه مبارزه

هیلی او نا امیدی :

د ۱۹۳۹ کال دمنی په یوه ورځ کی (دیو کتونکی دشهادت له مخی) د پښتنو کوشی د ډېر ور پیانو (چار چیانو) چیغو نیولی وی: سبا په ټولو ټوپو په چوک یادگار کی گورنر میټنگ جوړوی چی په هغه کی به پښتنو ریانو او قبایلی خلکو ته وینا وکړی سبا مور ټول په ټاکلی وخت او په ټاکلی ځای کی سره راټول شوو. انگلیسی گورنر دا سی وویل :

(د آلمان حکومت دوهمه جهانی جگړه پیل کړه) په دی ډول پښتانه دلومړی ځل له پاره د هغه نوی اور نه خبر شول چی امپریالیستانو بل کړی دی .

ددغو پیښو دمعاصر ینو یاد داښتونه چی د ۱۹۵۸ کال دکابل داردو مجلی په پنځمه گڼه کی چاپ شوی دی د پښتنو په سیمه کی دبرتانوی هند د استعمار چیانو ریا کارانه او دوه مخیزه سیاست ښیی او هم په هغو مسایلو رڼا اچوی چی په ادبیاتو کی لږ زده شوی دی چی هغه په دوهمه عمومی جگړه کی دصوبه سرحد او آزاد و قبایلو داجیرو عسکرو گډون دی .

دپښتنو په میټنگ کی دکانینگهم گورنر وینا هماغه دامپریالستی تبلیغاتو یوه نمونه وه. ده په دغه وینا کی داسی وویل: (دالمانیانو اصلی هدف دادی چی انگلستان خپل ځان ته ایل کړی او د لندن دنیولو نه وروسته بیا خپل لاس د هند خواته را اوږد کړی او هند ونیسی، ددوی په عقیده هند دانگلیسانو مستعمره ده ، انگلیسان دلته په دی نیت راغلی دی چی په دغه سیمه کی سوله ټینگه کړی، ددوی ژوره آرزو داده چی په دغه ځای کی یو قوی

اوبانفوذه حکومت جوړ شي داسې حکومت چې دد غه هیواد حاکمیت او امنیت وساتي، زه تاسې ته په ډاگه وایم که چیرې دجرمنیا نو پښه دهند په خاوره ولگیږي نو بیا به هیڅ وخت هند ددغو استعمار چیانو نه خلاص نشي، فردي آزادي ،عمومي مساوات یعنې ټولې هغه ښیگڼې چې دهند اوسني خلك ورنه استفاده کوي هغه به د آلمان داستعمارچیانو دپښو لاندې شي او آخر به هرڅه له منځه ولاړ شي اوهند به دبد مرغې سره مخامخ شي دپور تنیو ملاحظاتو په اساس انگلیس اراده کړې ده چې د پښتنو ځوانانو نه چې په زړور تیا اوسر ښندنه کې بې مثله دي، یو مخصوص پوځې واحد جوړ کړي. او کراچې ته یې ولیږ ي چې د دښمن داحتمالي حملې په وخت دکراچې بندر نه دفاع وکړي، ددوی وظیفه دافتخارنه ډکه ده چې هغه دهیواد دفاع ده اودا خودوطن دهر فرد کاردی، دانگلیس حکومت به په مالي لحاظ هم دغه ځوانان تشویق کړي تحفې به ورکړي اوپه مختلفو مالونو اوشیانو به یې ماړه اومفتخر کړي اود ترخیص نه وروسته به دوی ته ماجب اوقانوني حقوق جاري شي .)

ښاریانو ،قبایلي مشرانو اونورو ته چې دلته حاضر وو دري ورځې میعاد ورکړی شو چې دوی خپل قاطع ځواب مقاماتو ته وړاندې کړي، ښاریانو اود صوبې نورو اوسیدو نکو بیخې منفي ځواب ورکړ او انگلیسانو ته یې په ښکاره وویل چې زموږ ځوانان داستعمار چیانو له پاره داجیرو عسکرو په حیث خدمت نشي کولای مگر په ځینو آزادوقبایلو کې بیا وضعیت په بل ډول ؤ .

دلته لاځنې داسې محلي محافظه کار او مرتجع ملکان موجود وو چې قدرت یې په لاس کې ؤ او په پښتني خاوره کې دانگلیسانو یواځینې تکیه گاه وه، په دغه ټاکلې موده کې دقبایلو په ځینو ځایونو کې جرگې وشوې ترټولو لویه اومهمه جرگه په لنډي کوتل لواړگې کې وشوه، دغې جرگې فیصله وکړه چې پښتانه ځوانانو دې برتې او داجیرو عسکرو په جمله کې دې شامل شي مگر په دې شرط چې دپښتنو ځوانانو نه جدا عسکري

پوځ جوړشي اويوالځي په کراچي کي ځای په ځای شي .

انګريزانو په ډيره بيــــړه دجرګي فيصله او غوښتنه ومنله اوپه لږه موده‌کي دپښتنـــو ځوانانو ډيوېژن جـوړشــو او کراچي ته‌ولږل شول. کــرا چي‌ته درسيدو نه‌وروسته سمدستي په بحري جنګي ترانسپورت کي‌دافريقي سواحلو ته‌روان کړ ی شول. په‌دی ډول انګريزا نــودجرګي يومهم شرط دپښتنو لاندی کړاو کومه اعتنايي ورته ونه‌کړه. پښتني ډيوېژن دانـګريز په اتم‌لمبر پوځ کي‌شامل شوکوم‌چي دليبيا اومصر په‌سرحدو نو کي په ۱۹۴۱ کال‌کي دجنرا ل رومل دعسکرو سره په‌جنــګ اخته‌وو، د۱۹۴۳ کال په‌سيتمبرکي دغه ډيوېزن دمتحدينو پــه پوځ کي وظيفه اجراکوله، دغه‌ډيوېژن دآلمان دجنوب په سيمو کي خپل‌نوم وويست او امتياز يې ترلاسه کړ. دلتـه جنـــګي عمليات په‌داسي شرايطو کي‌منځ‌ته راغلل چي‌پښتانه ورسره‌ښه آشناوو .په هغو جنګو نوکي‌چي‌دبرلين په‌لاره کي واقع شـــول يوسل اوشل تنه پښتانه ووژ ل‌شول. نو په‌دی ډول‌ويلي شوچي پښتانه که‌څه‌هم داستعمار چيانوپه لښکرکي داخــل‌وو دوی د نړيوالو په‌عمومي کارکي چــي‌دفاشيزم نه‌دنړی خلاصـول دی خپله پوره او ګټوره بــر خه‌اخيستی ده .

له هغی نه وروسته چــــي‌برتانوی هند د۱۹۳۹ کال پــه منی کي‌جهاني جګړی ته راښکودشو دانګلستان له پاره د مــالي اوبشري طاقت دمنابعو يو مهم‌تهيه کوونکي شو. دجنـــګ د سختي پيټي دهيواد داولسو نوپه اوږو پريوت او خصوصا بيا دغه بي اندازی بار دخواری‌کښو بزګرانو په شاګانو ولويدل .

په دغو حالاتو کي دهند دملي‌آزادی دحرکت ليډرانو ته ډير مسايل وردمخه شول‌چي هغـــه‌بايد حل‌کړی، جواهرلال نهـرو په‌خپل سرګذشت کي ليکــي : (موږ بايد څه‌وکړو، ډير کلونه موږ په‌دی باره‌کي فکر کړی دی‌اوخپل سياست مو ښکاره کړی دی. موږتل فاشيزم اوناز يـزم‌محکوم کړی دی اوبد مو ور ته ويلي دی اود امپرياليزم ســره‌چي موږ باندی يې‌حکومت کاوه

علاقه ښکاره کوله. آیا امپریالیزم به خپله حکمرانی وساتی او که زموږ خپلواکی به په رسمیت وپیژنی. آیا موږ ته به داحق راکړی چی خپل اساسی قانون جوړکړو او زموږ پارلمانی حکومت منځ ته راشی. انگریزی حکومت ځواب ښکاره ؤ، هغه دا چی دا حکومت به ځای په ځای وی او په هندکی به دانگلیس گټی وساتل شی. ددی ځواب په اوریدو سره دکانگرس وزیران دایالتی حکومتو نونه ووتل او خپله عدم همکاری یی اعلان کړه ځکه دوی نور په داسی شرایطو کی کار نه شو کولای).

دصوبه سرحد حکومت چی په سر کی یی ډاکټر خان صاحب ؤ هم دسقوط په حال کی شو، محلی کانگر یسانو سخت او پراخه تبلیغات کول چی دانگلیس دحکومت سره همکاری مه کوی.

دروانی پیړی د شلو یښتمو کالونو دابتدا نه دسرخ پوشانو پارتی دآزادو قبایلو دمختلفو سیمو دوطن پرستانو سره خپل ټینگ مناسبات قایم کړل، محمد یوسف په خپل کتاب (سرحد وایی) کی دغه لاندی حقایق بیان کړی دی د۱۹٤۲ کال په اگست کی عبدالغفار خان خپل ځینی ملگری آزاد سرحد ته ولیږل (مثلا عبدالملك فدایی باجوړ ته واستاوه) چی دهغه ځای دخلکو سره په مفاهمه کی شی، دغو سیمو ته دسرخ پوشانو لیږل زموږ په تاریخ کی یوه ستره پیښه وه. هغوی هلته تر۱۹٤٥ پوری پاتی شول. ښوونځی یی تاسیس کړل اوطبی کمکو نه یی وکړل. موږ په دغه موده کی په جیلخانو کی پراته وو اودانگریزانو زولنی موشرنگولی.

په ۱۹٤۲ کال کی په هندکی دملی کانگرس په ابتکار سختی مظاهری او میتنگونه وشول اودخلکو غوښتنی پکی څرگندی شوی او دغه اساسی غوښتنه پکښی (زموږ له خاوری څخه وځی) په ډیر شدت سره تکراریدله ددغو مظاهرو له امله انگریزی حکومت دکانگرس دپارتی ټول فعال غړی او مشران بندیان کړل او خصوصا بیا په پښتنی سیمه کی یی په ډیری بی رحمی سره په ټکولو، بندیانولو او ځورولو پیل وکړ حتی پولیسو خان

عبدالغفار په ډنډو سره دو مره وواهه چې پوښتنې يې ور ماتې کړلې، عبدالغفارخان، عبدالاکبر اکبر، ماسټر عبدالکريم اوددوی نور ډېر ملگري يې سختو جيلونو ته ورواچول. د(پښتون) د مشر تابه په مرکز کې تزلزل او عدم تسلسل او ځينو نورو علتو نو دسرخپو شانو په منځ کې داشك او ترديد پيدا کړ چې کو مه لاره دوی نيولی ده هغه سمه نه ده، له همدې کبله دسرخپو شانو ځينې ليډران له خپلې پارټۍ نه ووتل او په راتلونکې کې دمسلم ليك خواته متمايل شول. مسلم ليك دروانی پيړی په څلويښتمو کالو نوکی دهند دمسلما نانو په منځ کې خپل وضعيت ټينگ کړی ؤ کله چې دغې سياسي پارټۍ چې په سر کې يې په اصطلاح د اسلامی ټولنې غټان وو دايالتی اسمبلو په انتخابا تو کی ماتې وخوړه نو په خپل وضعيت يې نوی نظر وکړ اوبيخي يې پخوانی موقف بدل کړ. په ۱۹٤۰ کال کې چې مسلم ليگيانو په لاهور کې غونډه وکړه دا خبره يې غو ټه کړه چې دهيواد د تجزيې له لارې په سياسي خپلوا کې اخلو او د اسلام په نامه به (پاکستان) جوړوو. دپارټۍ فعاليتو نــــو وسعت پيدا کړ اوغړی يې مخ په زياتيدو شول .

۱۹۳۷ کال په سيتمبر کې په صوبه سرحد کې دمسلم ليـــك دپارټۍ څانگه پرانيستل شوه ،دځينو مشکلا تو له کبله چې د پښتنو دملی آزادی د حـرکت په داخل کــې پيـدا شوی وو ، پښتنو مشـرانو ونه شو کولا ی چې خپل ځان ته خپل قشرو نـه را واړوی .

پښتنی ناسيو ناليزم دديمو کراسی قوی کرکتر لاره، دا خبره گانکو فسکی اوگردون پو لــو نسکايه (د پاکستان تاريخ) کې ليکلی ده : دپښتنو ملی حرکت دمسلم ليك حکومت ونه مـانه اود امپر ياليزم او ارتجاع پـه ضد يې خپلو مبارزو تـه دوام ورکړ .

دهند ددوه ټوټې کيد لــو نظريه چې دتجزيه طلبو مسـلم ليکوله خوا وړاندې شوی وه او هم ددوی دا غوښتنه چې هغـه سيمه چې هلته مسلمانان اکثريت لری په خپل اختيار کې راولـې

او حکمرانی وربانډی و کړ ی.دپښتنو دملی ټولنو دنمایندګانو دجدی توجه وړ وګرځید ه .

ځنی محافظه کار مشران پـه‌مسلم لیکو پوری ملحق شـو ل اوهغه روحانیون چـی پـا ن‌اسلامیزم یی غوښت پـه‌دغه‌ګو ند کی شامل شول. په‌دی ډول پـه‌خلوېښتمو کالونو کی په پښتنی سیمه کی دوه رقیبی سیا سـی‌ډلی منځ ته راغلی ، ددغو ډلـو په منځ کی ژور اختلاف اوتضادموجود ؤ اوددغه تضاد اور تـه انګریزانو لمن وهله .

دغو ډلو دهرڅه نه لومـړ ی‌سیاسی مبارزه پیل کړه او هر یوی غوښتل چی‌په ایالتی خو دمختار حکومت کی‌خپل افضلیت او اکثریت لاس‌ته راولـــی اوسیاسی قدرت‌ځانته حاصل‌کړی.

ددوهم جهانی جنګ په وخت‌کی دکانګرس دوزیرا نو استعفا نه وروسته تر ۱۹۴۴ پوری په‌ایالاتو کی هغه تش په‌نامه او محقره خو دمختاری هم له منځ‌نه لاړه‌کومه چی ددیرشمو کلونو په منځ‌کی اعلان شوی‌وه. لــه‌ډیری مودی وروسته په ۱۹۴۴ کال کی دایالتی‌اسامبلی اجلاسیه‌دوره پیل شوه او‌په دغه وخـت کی محلی حکومت داورنګ زیب‌خان په مشری منځ‌ته راغی چی غړی یی دمسلم لیك دپـار تـی‌له نماینده ګانو څخه‌وو. مګرد ۱۹۴۵ــ ۱۹۴۶ کالو نوانتخاباتی‌مبارزو وښووده چی ملی‌کانګرس دصوبه سرحد په‌ایالت کی‌دخپل‌پخوانی شهرت نه استفاده وکړه او انتخابات یی وګټل. لکه چی‌یو امریکایی‌مبصر لورمان‌براون پخپل کتاب ( امریکا، هـند اوپاکستان) کی‌لیکی :

( دکانګرس پـارتـــی د ۳۴چوکیو نه‌چی صوبه سرحد تـه ورکړی شوی وی نولس چوکی‌وګټلی اوپاتی پنځلس چـو کی مسلم لیکو په‌لاس راوړی، چـی‌په دی تقدیر سرخپو شان غالب وګڼل‌شول اود حکومت کنترول‌یی په‌لاس کی واخیسـت .

او ډاکتر خان صاحب دعبدالغفارخان ورور دصوبه سـر حـد صدر اعظم وټاکل شو ).

دډاکتر خان صاحب ددو هـم‌وار حکومت تر د۱۹۴۳ کـا ل

پوری دوام وکړ داخل هم دده په کابینه کی دلومړی ځل غـو ندی قاضی عطاء الله خان گــډو ن وکړ. مگر په دومره توپیر سره چی داخل یی دمالیی دوزیر پــه حیث وظیفه انجام کړه، نــو ی حکومت دا اختیار پیدا کړ کــوم خلك چی انگریزانو بندیان کړی وو هغه خوشی کړی اودسیاست دگرته یی بیا راوباسی دپښتنو دآزادی په حرکت کی سر دوباره دپخوانیو تجربه کارو سربازانو دلی داخلی شوی اودا نهضت اوحرکت پوره قوی شو مگر څرنگه چی دغه کانگریسی او پښتنــی حکومت عجله ونه کړه اوضروری اجتماعی مسایل یی په خپل وخت کی حل نه کړل دپښتون او لـس له خوا وربانـدی سخت انتـقا دونه وشول. کله چی په ۱۹٤٥ کال کی دهند دملتونـو مبــارز وانگلیس مجبور کړ چی ددغه ځایه ووځی نودا ستعمار ددغی ماتی په نتیجه کی دوه خپلواکه هیوادونه (هندو ستان او پاکستان) منځ ته راغلل . داچی دپښتنو خاوره په کوم یو هیواد ( پـا کستــان یا هندو ستان) کی شامله شــی دا سوال به ریفرنډم حل کوی. دریفرنډم په شرایطو کی دپښتنو دخپلواکی حق په نظر کی نه و نیول شوی. دپښتنو دملی نهضت ډیرو فعالو غړو، نه غوښتل چــی په دغه ریفرنډم کی گډون وکړی. ددوی داغړ په هغه جرگه کــی پورته شو چی د ۱۹٤٧ کال پــه جون کی په بنو کی جوړه شوی وه. اوپه دغه جرگه کی خان عــد ـــ الغفار خان، خان عبدالصمدخان اڅکزی، ډاکتر خان صاحب، د صوبه سرحد داسامبلی ځیــنو وکیلانو، دسرخ پوشانو غــړو اود مختلفو پښتنو قــو مـو نو نمایند گانو گډون کړی ؤ، جرگی دپښتنو سیمی له پاره خپلوا کی وغوښته اودا سوال یی رد کړ چی پښتنه خاوره دی په کــوم بل هیواد کی شامله شی مگــر دجرگی فیصله استعمار و نــه منله اونه یی ورته غوږ کینبود.

داگست په پنځلسمه ریفرنډم پیل شو، دپښتنو ملي موسساتو ورسره بیکاټ وکړ، په ریفرنډم کې لږو خلکو ګډون وکړ، د انګلیس حکومت ختم شو، دپښتنو د تاریخ یوه ترخه دوره آخر ته ورسیده، پښتنو د استعمار سره مبارزې وکړې، شجاعت او میړانه یې ښکاره کړه او هغه ورځ یې راوسته چې د انګریزانو حکومت له منځه یوسي. (مګر امپریالیزم په شنه جامه کې خپلو هغو استازو ته دپښتنو په توره ګټلې قدرت پریښود چې د ډاتلونکې له پاره یې پوره ویسا پرې لرله ).

# ادبي خېړني مخ په وړاندې روانې دي

**دپښتو دليکوالو فعاليت :**

هغه قوتونه چې دشلمې پيړۍ په دوهمې اودريمې لسيزې کې يې دپښتنو ټولنه په حرکت راوستله اود بيدارۍ عمومي جريان ته يې داولس دمعنوي ژوند ټول وروسته پاتې فورمونه ور داخل کړل هغو دسياسي بحران په وخت کې خپله پخوانۍ قوه دلاسه نه وه ورکړې ٠

دڅلويښتمو کلونو په پښتو ادب کې دپخوا غوندې دو طن دوستي دمفکورو مهم مبلغ اودوتلو ليکوالو ،اديبانو اوشاعرانو دآثارو وړاندې کوونکي او ترويج کوونکي (پښتون) مجله وه، په دغه وخت کې نور نوي مطبوعات هم منځ ته راغلل، په پيښور کې د(جماعت سرحد) په نامه مجله راووتله چې وروسته يې بيانوم (پيغام سرحد) وگرځيد اوهم داسلامي ټولنې ارگان د(ملت) اخبار په خپرولو پيل وکړ اوپه آزادو قبايلو کې د (لمبه) مجلې په ځای په چارمنگ کې (اتفاق) په خپرولو شروع وکړه چې مديران يې مولوي عبدالحي اومحمد شعيب وو حتې دپښتنو دسيمو نه په ډېر لرې ځای (ډهلي) کې دخارجي دپار تمنت همکار مولانا عبد القادر يوه مياشتنۍ مجله په پښتو راوويستله ٠ دغه مجله په ١٩٤١ـ١٩٤٤ کلونو کې د (نن پرون) په نامه چاپيدله مگر په ١٩٤٥ـ١٩٤٧ کلونو کې يې نوم په (ژوند) واوښت ٠

دپيښور په ادبي ژوند کې دادبي ټولنو رول ډېر زيات ؤ ، څه موده وروسته د(بزم ادب ) دټولنې په مشرۍ اورياست کې تغيير اوتبديل راغی، دزا خيلې ځای اورياست دخيبر شاعر امير حمزه شينواري ونيو٠

د(بزم ادب) پخوانی سکرتر ، شاعر اولیکوال نصرالله خان نصیر (۱۹۱۹ زوکړی)چې‌ددغې‌ټولنې دفعالیتونو نه ناراضه معلومیده پخپله سیمه برتا کال‌ئې په‌خپل ابتکار سره نوی ادبی ټولنه (دبرتاکال‌ادبی‌ټولنه)جوړه کړه، دغې ټولنې یوه سلسله تنویری اوگټور مساعی‌په نظر کې ونیول‌لکه داغوښتنه:
«په ټولو ممکنه ذرایعو دې د پښتو ادبیاتو دانکشاف سره مرسته وشی، حتی المقدور دې‌په اولس کې‌بوهه اوعلم خپور شی، په‌کلیو کې‌دې کتابخانې‌تاسیس شی اود پښتو ادبیاتو په ساحه کې دې‌دگټور نثری اوشعری آثارو‌چاپ‌ته اقدام‌وشی.»
په ۱۹٤۳ کال یعنی دبرتا‌کال دادبی ټولنی دفعالیت په لومړی کال کې ددې ټولنې‌مسلکی غړو واره‌ښوونځی جوړ کړل. په‌دغو ښوونځیو کې‌پخپله همدغو غړو درس ورکاوه اود نورو ښوونکو استخدام ته ضرورت نه‌و.
تر ۱۹٤٦ کاله پوری دد غې‌ټولنې له‌خوا دپښتو څو کتابونه چاپ شول (دامب سفر)لیکونکی‌نصرالله نصر، (داسلام تاریخ) لیکونکی مولوی صاحب گل ، (دخیبر آواز)، دایوه ډرامه ده چې دانگلیسی نه رشید علی‌دهقان اونصرالله خان نصر ترجمه کړې‌ده، دا‌ډرامه د۱۹٤٦کال د (مې) په‌پنځه‌و یشتمه نیټه په برتا کال‌کې دصحنې په‌مخ عملا ښوودل شوه، په دغې ټولنې کې مشهور پښتو ن ، ډرامه تورگ رشید علی دهقان په فعال دول کار کاوه، دی په ۱۹۲۲ کال کې زیږیدلی دی،په هغو کلونو کې‌ده په‌سید محمد‌رشید سره شهرت لاره او په همدې نامه سره‌یې نشر یات کول.
له دغو ادبی ټولنو غیر په نورو مختلفو پښتنی سیمو کې هم داشعارو دعلاقه مندانو و ړوړو گروپونو په‌کار پیل‌کړی ؤ، مثلا په اکوړی (دختکو په‌ساحه ) کې دخوشحال خان په سیمه کی دپښتو دکلا سیکوادبیاتو مینانو څو تنو کو ښښ کاوه چې خپله د(بزم ادب)ټولنه‌جوړه کړی ددغې ټولنې واک دټولنې درئیس سید عظیم شاه‌اود سکرتر اجمل خټک په لاس

کیږي، د پښتو دادبي کلو په دغې مخصوصې ځانګې کار و نه تقریبا دمشاعرو په شکل واو پښتل په دغه وخت کې دشعري مسابقو اهمیت ډیر زیات شو .

یو افغاني لیکوال اومطبوعاتي شخص ددغو مشاعرو په باره کې داسې لیکلي دي :(مشاعري دپښتو ادبیاتو دفوق العاده رشد او پوخوالي نخښې دي، مشاعري هغو عوامو او اسبابو پوري اړه لري چې دپښتونستان دراتلونکو ادبیاتو له پرمختګ سره مرسته کوي، دغه پرمختګ په خپل ذات کې لکه چې زموږ ددوستانو دتعجب سبب ګرځیدلی دی همداسې یې دښمنان هم په تعجب کې اچولي دي. )

مشاعرانو مسابقې هره اوونۍ دپنجشنبې په ورځ دپښتنو په مختلفو سیمو کې بې شمار ه جوړیدلې او دا رنګ شعري کانګو رونه اوددوی خصوصیات دملي انکشاف دمبارزې په لاره کې دنوې وسلې حیثیت لري، داولس په ګرمو احساساتو باندې ددغو مشاعرو تاثیر داسې دی لکه داور لمبو ته لمن وهل .

د تاریخي وضعیت تغییر(دوهمه جهاني جګړه، دبرتانوي هند په اقتصاد کې بحران او دامپریالیزم په استعماري سیستم کې تجزیه تیا) په پښتو ادبیاتو کې داولسي عمومي غورزنګ نوي راتلونکي قوت پیدا کړ اوهم یې داسې مفکوري منځ ته را وړې چې دنوي عصر سره مطابقت خوري .

پښتانه لیکوال دزړه له درده ددوهمې جهاني جګړې په ډګرونو کې دخونړیو جنګونو په باره کې لیکنې کوي اوهغه ترسیموي بینوم چې دترنګزو دیو مشهور پیرزوی دی، ددغه جنګ په باره کې شعر لري چې لنډیز یې دادی :

جنګونو او را خیستي دي خصوصا بیا په خارکوف کې. ددواړو خواو عسکریو اتر بله سره مخامخ شوي دي، سورو او پیاده وو پکې ګډون کړی دی ، دجنګ ډګر اور احاطه کړی دی، دټولو خلکو سترګې له اوښکو ډکې او یو وحشت ناک عاقبت هلته واقع کیدو نکی دی، داجنګ پرهر چاپوري اړه لري

او زړونه لهغمه تړونې کیږي.

ددوهمې نړیوالې جګړې پهدوره کېپه پښتو شعرونو کې دوباره په لوړغږ دآزادۍ غږ پیل شوی، دپخوا غوندې دعبدالاکبر اکبر په اشعارو کې انګلیسي ضد لحن تونده شو، دمثال په ډول دلته دده هغهشعر را وړل کیږي چې د ۱۹۴۱ کال په نومبر کې یې دپیښور په بندیخانه کې لیکلی دی :

یوزوړ سپاهي دهند نهچا تپوس وکړای وروره
لهتا نه زیات کمعقل بيوقوف بلخر به وی
ویل هو! یوحکومت دی دوزیر نومیې چرچل دی
تیار میدان دجنګ کې «اوس آسونه خربوی.»

ځینې شاعران کوښښ کوي چې دجنګ خطر ناکو عواقبو ته خلک متوجه کړی مثلا دپښتو ناولس نارضایې چې دااقتصادی مشکلا تو لهکبله منځ ته راغلیده دعبدالمالك فدا پهشعر کې (ګرانه ګرانی دلته ده) ښه ترسیم شوی‌ده،داشعر په(پښتون) مجله کې د ۱۹۴۰ کال پهجنوری کې چاپ شوی دی :

توپې پهجرمن خلا صیږی ورانه ورانی دلته ده
پلار له زویه‌تښتی دقیامت نشانی دلته‌ده
مری لهلوږی تندی پخپل کورکی لوی واړه زموږ
مرګ خله یورپ تهځی دمرګ. آسانی دلته ده
ګران دی پهیورپ کی بنیا دم هرڅه ارزان دی نور
جوار اور بشی‌ګران اود سړو ارزانی دلته‌ده
ګران کهشو رنګونه ګناه نشته دجرمن ووتول
تیل په څه‌ګرانیږ ی کار خانهیې ځانی دلته ده
وسپنه راتلای نهشی لندن نه ځکه ګرانه ده
خس پهڅه ګرانیږی چې یې کل ودانی دلته ده
جوړ کړو دولتمندو خلکوقحط په بدنیتی سره
جنګ دی دیورپ پهملك کی ورانه ورانی دلته ده
تول یې مزدوران دی خان سید، ملاتړی خلاص نهدی

جوړه چې تر څو دفرنګیانو خـانې دلـته ده
ممکن داوویل شي چې دشاعر پرو تیست تکرار اویو جا نبه دی خودشعر موضوع ډیره پـه‌زړه پوری اود ورځې موضو ع ده .

دخیبر دشاعر (خسرواپریدی) دشعرونو موضوع هم په‌ارزښت کی کمه نه‌ده،،دی ددغو شعرونودویلو علت دا‌ستعماری حکو مت له خوا په‌منډیي‌ګانو کی‌دملاکانو په ګټه دنرخونو ټاکل بو لـی، دانګلیسانو دغه کار دچاپه‌ګټـه‌تمامیده ، دی دا‌سی وایی :

کنترول دحکو مت پـه‌امرجاري ؤ
خانان خوشحال‌وؤ او غریبانو ژړل
په همدی ترتیب دوی ټوله نـړی
خرابه‌کړی‌او نیستمنـه کـړی ده

داپریدی داشعارو غـوند ی‌آثار پاښښت نه‌لری ددی معنـی داده چی دا‌سی آثار پوره هنری‌ارزښت نه‌لری اوکومه موضوع چـی وړانـدی کـوی هغـه‌هـم دلږ وخـت لـه پـاره علاقمندی پیدا کوی، حـواد ث‌تغییر مومی اوهغه بالبدا هـه اشعار چی ددغو حوادثو مولو ددی سم ورسره ځی او دا سـی آثار دمحتوا او فورم لـه حیثـه‌سړی ته شبنامی را یادوی چـی دیوی ورځی مخصوص ادبـیات‌دی، دارنګ ادبیاتو په پښتنـو کی دځلوېښتمو کلونو په‌دوهمی‌نیمایی کی زیات وسعت پیـدا کړو، ددا‌سی آثارو منځ‌ته‌راتګ‌په‌دی شاهدی ورکوی چـی‌لا د ځلویښتمو کلونو دسرنه پښتوادبیاتو ترهر څه زیات‌ریالیستی واقعیت ته میلان درلود اودخلکو ورځنی ژوند ته ورنژدی کیدل،
دپښتنو دژوند ساده اوخونه یی‌راسپړل اود دوی اندیښنی او ارتیا وی یی‌مجسم کولی یعنی‌دغو ادبیاتو غوښتل چی دخوارې کښې ملت اصلی اومعنوی‌صورت بیرته له‌سره ایجاد اورا ژوندی کړی هغه ملت چی داستعمـارچیانو اوخپلو فیوډالا نو لـه‌خوا په ډیری بی‌رحمی سره ټکـول‌شوی اولوټ شوی‌دی اود هغـه مبارز ملت‌چی دخپلی غمـځپلی‌خاوری دآزادی له‌پاره ولاړ دی.
په لومړیو مراحلو کـی د ریالیستـی، رومانتیکـی او

احساساتی وسایلو بیلو بیلو عناصرو یوازی دتنـــو یـر ی ادبیاتو په داخل کی انکشاف کاوه او یوځای سره راتلل خو په دیرشمو کلونو کی دنوو بدیعـی میتو دونو دهر عنصر دبیلوالی خواته ښکاره تمایل پیدا شـو، دغو موادو راتلو نکی مستقـل پوخوالی او خپل حدته رسید ل په ښکاره ډول سره په څلویښتمو کلونو کی منځ ته راغی، له دغه کار سره په زیاته اندازه د هغو ځوانو لیکوالو او شاعرانو آثارو مرسته وکړه چی ادبیاتو ته په داسی حال کی راغلل چی دعصری علومو په اساساتو مجهزوو اود نورو اولسونو درسیدلو ادبیاتو سره آشنا شوی وو، دوی دستی دخپل ادبی فعالیت دمحك پـــه صفت دنوو لوړو آرمانو نـــو اعلان وکړ .

**فضل رحیم ساقی :**

دپښتنو لیکوالو نوی نسل په څلویښتمو کلونو کی هم دخپلـو معنوی لار ښوونکو غوره عنعنو ته ادامه ورکوله مګر ددی سره سره دوی کوښښ کاوه چی په ادبیاتو کی په عمومی ډول مهم اووطنی موضو عات داخـل کـــړی اودریالستیکو تمایلا تو په مقد ماتی موادو چی دوی دځان سـره راغونډ کړی وو ښه مساعد تا ثیر واچوی، په دغو کلونو کـــی دلیکوالی ډګرته فضل رحیم ساقی ۱۹۰٤ زوکړی داخل شوی ؤ، دی دسرخپو شانو فعال غړی ؤ، ده دعبدالمالك فدا سره یو ځا ی په باجوړ کی په ۱۹٤۲ ـ ۱۹٤٥ کلونو کی دخپل حزب له پـاره تبلیغاتی فعالیت کاوه. دسا قی له پاره دهنری او مطبو عـا تی استادی مهم مکتب په (پښتون) مجله کی دده همکاری وه .

دلته به دده لومړنی شعـــر ی او نثری آثار چاپیدل. په دغــو آثارو کی به ده دسرخپو شـــا نو نظریات خپرول، دپښتون مجله دغه حزب قوی ارګان ؤد ۱۹٤٦ کال داګست په مجله کی دسا قی یو شعر چاپ شوی ؤ، په دغه شعر کی دا تکل کړی وه چی استعماری ظلم په راتلونکی نژدی وخت کی ضرور ختمیدو نکی دی :

پښتونه وینښ شه ستا سبا راختلی دی !
تیاره کمیږی او رڼا را نژدی کـــیږی!

پورته شه اود مرگ دخطر ناك خوب نه ویښ شه !
او نړی دخپلی بی علمی نه‌خبره کړه!

نوی ریالستیك جریان چی په مشقت سره‌یی دنثر او نظم په ژانرونو کی‌په دغه ذکر شوی‌دوره کی ځان ته‌لار پیدا کړی‌ده اساسا په‌دغو ابتدایی آثارو کی تغذیه شوی اووده یی موندلی‌ده او پخوانی سابقه نه‌لری، لکه‌چی‌څومره موږ ته معلومه ده په څلوېښتمو کلونو کی دریالیستیکو تمایلا تو کوم مهم آثار منځ ته نه دی راغلی. دپښتو ادب پیژندو نکو په عقیده دهغه وخت په ادبی ژوند کی لویه پیښه دماستر عبدالکریم مکاتبه وه‌چی دهری پور دمحبس نه‌یی خپلو دوستانو اوورزمی ملگرو سره کوله دغه مکاتبه حتی دده دآثارو دوهمه مرحله گڼل کیږی وروسته بیاده قصدوکړچی‌خپل دغه‌لیکونه‌دیو ځانگړی کتاب په شکل چاپ کړی مگر مرگ موقع ور نکړه‌چی دغه خپل نیت عملی کړی .
راتلونکو کوښښونو او تجربو ته چی دپښتو نثر دنوی والی‌او تجدد په‌لار کی‌شوی دی دنصرالله‌خان نصر کتاب (دامپ سفر) منسوب کیدای شی .

دا کتاب دپښتو په اوسنی ادب‌کی دسفرو نو په‌متعلق د لومړیو امتحانی ژانرونو څخه‌دی مگر ددغه اثر په کیسه کولو قسمت بندی اوسبك کی دکلاسیکو قوی عنعنی موجودی دی.

**اجمل ختك :**

دڅلوېښتمو کلونو دپښتو ادبیاتو دانکشاف خصو صیت هغه جریان ته‌رشد ورکول دی چی دکلاسیکو اشعارو اودپښتنو دفولکلور پخوا نی عنعنی دی‌یعنی قلبی ،عشقی ،منظره یی او فلسفی غزلیات .

دلویو لویو غرو نو په خوره وره جولی کی
ددنگو دنگو څو کو په ژوره خوړ خوړی کی
دتورو تورو تړ و په ویجاړه غوندی خواکی
دغلی غلی باد سره پسته پسته گیا کی

د گورو گورو و نـو دیخ یخ سوری دلانـدی
په شنـو نـر و نـر و صافو سو تره شگو باندی
اوچت اوچت سرونو سره کـوزه کو زه پښو کـی
په گـڼو گـڼو جاړو په دلو دلو وښو کـی

پیدایم داسی پایم په ژړا یم په خندا یم
خاونده دفطر ت ! گیلی په سر په خوله ثنایم

یو غرقی غرقی کند ی جاړی جاړی یی لـمنی
بل ورانی ورانی ډبی ټولی غنی غنی غـنی
یو بره شین کـو شین دگرد شونو نه آسمـان
بل ښکته تـر نظـر ه غرونه غرونه می جهان
یا چوپه چوپیا یی لـکه اوده ټـوله فضـا وی
نری نـری وږ مـی دهوا بـوټو کی لگیاوی
یا ځای په ځای قدم په قدم رنگ په رنگ سـازو نه
په بوټو ټړو خـو کـو دغرڅه وو آوا زو نـه

دی لوړی ،دی ژوری ،جاړو، شاړوکی پیدایم
دی خوا اوشا الا بلا ته گور مه نـو پایـم

په دی ترتیب داجمل شعـــر (چینه او سپوږمی) پیل کیږ ی چی په ۱۹٤٤ کال کی ویل شوی دی په دغو بیتو نو کی ښی شکـه ددغه خوږ آهنگـی اثر خـــپل مخصوص وزن محسو سیږی ، داجمل ختیك (۱۹۲٦ زو کړی) دغه لوړ استعداد په را تلو نکی لسو کلونو کی تبارزو کړاو وتلی لیکوال شو، په ادبی ډگرکی دده لومړنی قدمونه ۱۹۳۷ کال تـه منسوب دی، په دغه کال کی دی موفق شو چی په هغه مشاعره کی گډون وکړی چی دخو شحال خان دنمانځنی له پاره وقف شوی وه.

دروانی پیړی په څلو یښتمو کلونو کی اجمل په خپـل کلـــی اکوړه کی په عنعنوی شعـــر ی مسابقو کی برخه اخیســـتله ، داسی معلومیږی چی دلتـــه ده دلومړی ځل له پاره د (سپوږمی اوچینه )شعر لوستلی وی .

په دغو پورته راوړل شـــو بیتو نو کی شاعر ژور اوصمیمی

لیریزم اود سخت او عظیم طبیعت ادراك ترسیم کړی دی،
دهغه طبیعت چی شاعر چمتودی چی احترام او درناوی یی وکړی.
داجمل ختټك دغه اثر سړی ته دمنظرو هغه شعری او بلیغ
توصیف وړپه یادوی چی پخوا په پښتو ادبیاتو کی موجود و
مګر دومره خبره ده چی آیا دغه اشعار دعنعنی دبیا تجدید دلیل
کیدای شی او ولی په دغو کلونو کی دځینو لیکوالو او شاعرا نو
په آثارو کی زیات عمو میت لیریك اوعشقی څپو پیدا کړ.
دداسی موضوعاتو سره دلیکوالو علاقه په دی نه شی تعبیریدای چی
دا کار یوازی دکلاسیك ادب دحق ادا اود کلاسیك دتقلید له پاره
شوی دی او یا یوازی په دی خاطر شوی دی چی ګوندی ځوانان لیکوال
درو مانتیکی تاثر اتو او خا موخیالاتو سره مینه لری اود ونی
دډډته یی دډه وهلی مجرد فکر کوی لکه چی دیوی مقالی مؤلف
چی دپیښنور په الفلاح مجله کی په ۱۹۵٤ کال کی خپره شوی ده
په همدی مفکوره دی، دی لیکی: (دلیریك او فلسفی جر یا ن
پلویان ژوند ته دعشقی تاثرا تو دمحدودی نړی له هند اری څخه
ګوری چی دادژوند له نـور واړ خونو اوپیښو څخه بیخی جدا
دی، کوم شی چی دوی مضطرب کوی هغه درقیبانو دسیسی او
چلونه دی، دوی هیڅ آرزو نـه لری چی خپلو قهرمانانو ته دژوند
رنګ ورکړی اویا دټولنـی دخدمت خواته خپل فکروګرځوی)
نه داسی نه ده لکه چی دا الفلاح مجله لیکی بلکی پښـتا نـه
لیکوالان او شاعران چی په اد ب کی دنوی تمایل پلویان دی ددوی
آثار دیوی ډیری عامضی پیښی په توګه زموږ مخی ته را وړاندی
کیږی، دسیاسی او اجتما عـی بحران په وخت کی چی پښتنـی
سیمه یی په خپو راوستی وه ـ په خپله دنوی ادبی جریان نهضت
په نهایی تضاد سره امتیاز لر ی چی دا تضاد بیا پـه خپـل ذات
کی دعصر دتضاد مولود دی .
دی تضاد دپښتنو منور ینـو په منځ کی چی دعـقایـدو او
اجتماعی جوړښت له مخی یو تـر بله سره مختلف الطبیعـت دی
بدبینی او ناامیدی ترسیم کړی ده اوخپل مطلب یی په پرده کی

تیر کړي‌دي. عشقي او فلسفي‌جریان نوی ایډیا لوژی اوجمالي آرمانونـه اعلان کـړید ی اودخارجي حقایقو په ځای‌یې روحي نړی، تاثراتو ، اانساني‌احساساتواود شخصي خصلت آزاد خلاقیت ته مراجعه کړیده، په‌دغه اد بی‌ارتباط کی دلیکوالو کوښښونو او هڅو داادب مخی‌ته پـرا خه فضا پرانیستلی ده او پښتو ادب پکی وسعت موندلی دی .

نوی جریان چی په څلویښتمو کلونو کی‌په پښتو ادب کی‌پیدا شوی دی له‌ډیره حیثه سړی ته(چخایه واد) ورپه یادوی،چخایه واد په‌هندی اادب کی‌یو شعـری‌جریان دی چی‌دشلمی پیړی پـه لومړیو کلونو کی دا جـریا نداروپایی ادب دڅو مختلفـــو سبکو نو لکه‌مستیزم ،رومانتیزم،سیمو لیزم څخه مرکب شویدی.

په پښتو اادب کی دبنګالی اد بدرومانتیزم یوه برخه هـم شته خصوصا بیا دټاګور اغیزه پکی‌په ښکاره ډول سره لیدل کیږی اوهم په‌پښتو ادب کی د خپـل کلاسیك اوخپل فولکلور اغیـزه محسوسیږی خو ددی سره سره‌پښتانه ادیبان مقلدین نه‌دی‌چی دادبی آثارو مختلف خارجي اوعنعنوی مکتبونه یی په ټو له معنی قبول کړیدی. ددوی‌دآثارومـو ضو عات د پښـتنی ماحول اوپښتنی ژوند نه راوتلی دی ،دوی په‌خپل پښتنی سبك روان دی او ایجادی ادیبان دی .

**غني خان‌رومانتیك ریالیست‌شاعر:**

دپښتو په شعرکی دنوی جریان‌له موسسینو نه عبدالغنی غني (۱۹۱٦ زوکـړی) دی، دی دمشهور شخصیت عبدالغفار خا ن زوی دی، خاص ده په‌پښتو ادب‌کی دلومړی ځل له‌پاره دجنون فلسفه رواج کړی او تبلیغ‌کړی‌ده، دی عینا په‌همدغه یو وخت کی دشعر دعنعنـــوی قانون اولفظی اسلوب دیو سخت مخـالف په توګه منځ‌ته راغی، دغنی‌خان آثار پخپل منځ‌کی یو تر بلـــه سره تضاد لری، خصوصا بیا په‌لومړیو وختونو کـی دده پـــه اشعارو کی کله‌کله داسی څپـی‌را پورته کیږی چی‌دهغو ټا کلو مسایلو نه مجزا دی چی د هغـو دحصول له‌پاره دده سکه پـلار

دخپل ژوند زیاته برخه وقف کړی ده، په همدی ترتیب په هغه شعر کی چی د اختلافات نومیری غنی خان داسی لیکی :

پلارمی ورک په خپل وطن | زه دخپل وطن نه ورک
دهغه خوښی دی تعلیم | زما خوښی ساګ و پالك
دهغه خوښی دی ځوا نان | ټول دقوم په جنګ روان
زما خوښی هر ګلستان | هر چمن دلو، لوړك
دهغه وطن جهان | ځای بی نوره بیابان
زماملك ښکلی آسمان
دښیسته ستورونه ډك

په دی شعر کی دنیهیلیزم عناصر هم ځای شوی دی چی په عمومی ډول سره دغنی داشعاروخصوصیت دی. په دغه صورت کی دمنفی محبوب وضعیت په خاطر شاعر دپښتنو دآزادی د حرکت سره خپل آثار مقا بله کړی دی .

دخپل پلار په پریکړه دیارلس کلن غنی دتحصیل له پاره انګلستان ته ولیږل شو، داروپا په ظاهری جلبل او رونق کی ځوان غنی داسی ژوند، ونه لیدچی دده دخپلی لری سیمی دژوند نه په سختی او تکلیف کی کم وی.

غنی به تل ادبی کلو بو نو او ټولنو ته تلو، دده درسامی دهنر سره علاقه لرله او ډیره مطالعه او لوستل یی کول. په دغه وخت کی ده خپل هنری استعداد او ادبی قریحه هم دشعر په میدان کی وازمایله، دده د ځوانی دکلونو اشعار لکه چی ماسټر عبدالکریم په باریك ډول سره توصیف کړیدی سری ته خود سره اویاغی آس ور په یاد وی چی لوړی او ژوری، ټیټ او هسك، سمه اوغر بلکی هیڅ نه وینی او همداسی مخ په وړاندی ، ټوپونه وهی اودلاری او بی لاری امتیاز نه کوی .

عبدالغنی خان په داسی حا ل کی خپل هیواد ته راستون شو چی په شعر ویلویی پیل کړیؤ. ده دهندی اشعارو ډیر محبوب ایجادات را واخیستل. دده توجه ټاګور اوغالب ځان ته جلب کړی

ده او خصوصا بیاعمر خیام ده‌ته ډیر نږدی دی، ده دخیام نه رندی، بزله گویی، عیاشی اومی پرستی اقتباس کړیده، مگــر دغنی وظیفه داستادانو په ساده تقلیدکی انحصاره نه‌ده، دی دیو پاخه ایجاد او ابتکار څښتن هم دی .

ښیی زوړ خیال نوی جامه‌کی دغنی دی‌دا صفت

خیال می دسبـادی پیدا شوی پرونی یمه

په‌دغو بیتونو کی د(نن)کلمه‌په اتفاقی ډول‌نه‌ده حذف شوی، ورځنی عادی ژوند شاعر تـــه‌داسی ښه خوند نه‌ور کوی،کله چی شاعر په فلسفی افکارو کی‌غرق شی نوبی له‌وزرو ډیر لوړ الوتل کوی اوډیر لږ‌ده هنری‌تخیل دځمکی خواته را ښکتـــه کیږی .

دژوندانه دپیښو دتر سیم له‌پاره غنی خپل مخصوص سـبك او اسلوب انتخابوی .طنز،ټوکی‌اوټکالی کوی اوهر څوك چــی دشعر په‌ډگر کی‌دده مخــی تـه‌ورغلی دی همداسی ورنه نـه دی پاتی شوی اوگــوزار یــی‌وربا ندی کړی‌دی حتی انگلیسان ،ملایان ،وطن دوستان او لسی‌بی سوادان اوعتیقه پر ستـــان دده دظرافت لاندی راغلی دی. تیز اومهم موضوعات په‌دا رنگ تعبیر سره بیانول په طبیعی‌ډول‌داشعارو انتقادی څپی کــموی، برسیره په‌دی دغنی خان دآثارو نه معلومیږی چی داولس پـــه وروسته پاتی کیدلو کی پخپله‌اولس ملامت دی .

دغنی انتقاد چی‌لا تر او سه‌دثبات حالت ته‌نه دی رسیـدلی که څه‌هم تونډ دی دماحــول اوچاپیر یال دواقعیت سره دده د عمومی نهیلیستی منا سـبا تـوخرگندوی دی، داپه حقیقت کی دنوی نسل وضعیت دی چی‌پخپلو‌اساسی پرنسیبو نــو ســـره د انتقادی ژوند دترسیم طرفـــداردی .

غنی خان چی‌دپښتنی نـږ ی‌اهل دی دخپل‌اولس، دخپل‌اولس دعادتو نو، عنعنو اوددوی‌دژوند‌دخرنگوالی سره وفادار دی دده داشعر ولولی :

مالیدلی دفرنګ ښکلی جیزونه (۱)
چی دا لاندی تری غورزنګ وهی سیندونه
مالیدلی محلونه د لندن
جینکی مستی آزادی ګل بدن
مالیدلی دټلی (۲) ښیسته ښارونه
سره یی انګور، سره یی شراب او سره ګلونه
مالیدلی دپیرس ښاپیری ښکلی
په کردار، ګفتار خوږی لکه بلبلی
مالیدلی امریکه کی د ی ښارونه
چی ور یځو ته یی رسی مکانونه
مالیدلی تاج محل غوتی دګلو
د ډهلی ښکلی ښارونه د مغو لو
خوچی وو ینم زه خپل دختو کور
رانه هیر شی محلونه ښیسته نور
دانری تنګی کوځی زمادکلی
ورته څه دی د دنیا ښارونه ښکلی
چی خړ مخی ورور پښتون سینی له درشی
درنه هیر به ټول ښایسته دبحرو برشی
خدایه شکر چی پیدا دی له دی قام کړم
دپښتون دنر وجود دی یواندام کړم
څه به کړمه دلندن لوی محلونه
دپیرس جونی ښیسته رومی ګلونه
په واله چی له جنته بهشم ستون
که کنځل پکی وانه ورم دپښتون

ژوند نوی موضوعات دغه شاعر ته پهغوږ کی ویلی دی نو

---

(۱) جهازونه.

(۲) ایتالیا.

داپوره قانونی ده چې دده په نظریاتو کې اتضاد راپیدا کیږي.

دغني دآثارو په پرنسیپو نوکې راتلونکې ژور اختلاف سره دده اجتماعي او سیاسي فعالیت هم مرسته کړې ده، په داسې حال کې چې غني داستعمارضد غورزنګ دپیل کوونکي عبد الغفار خان سکه زوی د ی داسې بنکاري چې دی کوښښ کوي چې پخپل ځان باندې دخپل پلار قوي باور او اعتماد راولي اودا چې غني لومړی دسرخپو ـ شانو په ډله کې داخلیږي او بیا دخلویشتمو کلونو په نیما یي کې دځوانانو د سازمان (زلمی پښتون) رئیس کیږي داکاریې دپلار داغیزې نه خالي نه ؤ د(زلمی پښتون) په نامه دځوا ـ نانو دسازمان وظیفه دا وه چې دټول پښتون اولس دآزادي د حرکت سره خپل حرکت متحد کړي اوګټور تاثیر وربانـدې واچوي.

په ۱۹۴۵ ـ ۱۹۴۷ کلو نوکې غني خان دکانګر سیانو لـه خوا په ایالتي اسامبله کې دوکیل په حیث انتخاب شو( دعبدالقیوم خان ځای یې ونیو) په عین همدغه وخت کې غني خان ادبي فعالیت ته هم ادامه ورکـو له مګر دده دآثارو موضوع په دغه وخت کې بله بڼه اختیار کړه او پخواني شکل یې وګرځید.

دغني خان دا شعر ولو لـي چې څومره دوطن دوستي عالي احساس پکې پروت دی :

چې خازي شني مې پـه قبر وي ولاړې
که غلام مړوم راځې توکړې پرې لاړ ې

که په خپلو وینو نـه وم لمبیدلـی
په مامه پلیتوي دجـومات غـاړ ې

چې قطرې قطرې مې پوځ ددښمن نه کا
موري مـا پسې په کوم مخ به ته ژاړې

یابه دابې ننګه ملك بـاغ عدن کړم
یابه کړ م دپښتنو کوځې ویجـاړې

ددغه شعر انګازې چې لا تـراوسه پورې دپښتنو په منځ کې اوریدل کیږي او ددوی په خوله زمزمه کیږي په ۱۹۴۱ کال کې

د(پښتون) مجلی په پښتی باندی چاپ شوی ؤ مگر په را تلو نکو کلونو کی دغنی خان په اشعا رو کی داسی متضاد تمایلات منځ ته راغلل چی دلوړ نیو نه مخالف ؤ.

دادبی نړی ستـر هنـر مند، دځلاند ه سبك ښښتن اود نـوو بلیغو تصویری وسایلو اسـتار نی خان وروسته بیا دریالیستیکو پر نسیبونو داقتباس پلوی شو. یو افغانی لیکوال چی غنی خـان داشعارو په مجموعی (پلوشی ) باندی یی تقریظ لیکلی دی داسی عقیده ښکاره کوی: دغنی خـان رومانتیزم موثر، فعال، جدی او مترقی دی اوپه یوقسم داقساموددریالیزم سره ټینگ ار تبـا ط لری .

**دبدر ښو سمندر :**

دپښتنو په عمومی ژوند کی مهم پرمختگونه، دنوی او بورژوازی ایدیا لوجی تکمیل اودلفظ او معنی له حیثه دادبیاتو و ده داټول کارونه په داسی شکل سره منځ ته راغلل چی هغه د پیړ یـو پیړیو دعمومی حکمرانی مفکوره اود پخوانیو عنعنو ریښی یـی پوره له منځه و نه ویستلی اونه یی په قطعی ډول سره هغه پخوانی ادبی قوانین مات اولری کـړل چی ډیر ځله دنوو اوپر مختللـو ابتکاراتو په لار کی خنډ واقـع کیږی .

کلیریکالی ایډیا لـو جـی (روحانی او اشرافی تسلط ) د پښتنو دمختلفو طبقاتو افکار ، حالات او ورځنی ژوند پـــه ماهرانه ډول سره دخپل کنترول لاندی ساته. په پښتنی سیمو کی که سیاسی مبارزه هر څو مـره تیزه اوقـو ی وه، دمختلفـو اجتمـاعی قشـرو نـو فـکری بیداری که هر څومره زیاته او په ټولنه اوادب کی دنوو تمایلاتو موفقیتو نه که هر څومره ډیـر اومهم وو خودغه ټول عـا دتـا داسلام داغیزی لاندی وو. دد ی خبری په تایید م،م، کلیم چـی دپښتنو په ادبی ژوند کی د نوو تمایلاتو اوغوښتنو د ظـــهو ر تصدیق کوی وایی پـه پښتـو ادبیاتو کی دغو فوق العـا د ه تمایلا تو اسلامی ټینگو ریښـو

ته چې په اولس کې يې لــه ډير پخوا نه ځای نيولی دی کومــــه ډکه ورنګړای شوه .

صاحبزاده عبد القيوم خان هم په خپل کتاب (په سرحد کی طــلا وی او وسلی) کی ويلی دی : ( که چيری ځوك داسلام پــــه تاثير او رول کی کوم وړو کــی غوندی شك کوی دهغه ځواب هغه بی حسابه اوستره مظاهــره اوغونډه ده چی په پيښور کــی په ۱۹۴۴ کال کی دافغانی فيلسوف او سياسی شخصيت سيد جمال الدين افغانی دجنازی مخی تــــه ور وتلی وه. دا دومره خــــلك داسلامی عقيدی له کبله ورته ول شوی وو).

دومره خبره ده چی دعمو مي شعور عنعنوی خاصيتو نه ديوی کتيګوری غوندی ځای پــه ځای پاتی کيدای نه شی بلکی دبدلون په حال کی دی. په نوی تــاريخی وضعيت کی که څه هم اديبا نــو پخوانی وضعيت ساتلی دی خوددوی زړه غواړی چی دعصـــر دغوښتنو سره هم اړخ ولګوی .هغه کوښښونه چی غواړی پــه عمرونو راټول شوی تصورا تاو واهيات مدرن او عصـــری کړی اودغه شيان دخلکو دخدمت په لار کی ولګوی هغه کيدای شی چی په عمومی ژوند کی تعقيــب او ولټول شی .

داسی کوښښونه چی عنعنوی کلاسيکالی جريان په نوو بديعی وسايلو اود علمی سبکو نـــوپه اسلوبو سره تجــديد کـــړ ی (سکولاستيك قناعت ايجادکړی) دا ډول کوښښونه دروانی پيړی دځلو ينښتمو کــلو نــو په پښتو ادبياتو کی مشاهده کيــــدل. ددارنګ سينتيز پلو يان تقريبا په يوه وخت کی سمندر دبدرښو سيد رسول رسا او امير حمزه شينواری وو .

ددی دريواړو اديبانو دليکوالی لار سره بيله ده اوپه مختلف ډول دوی خپل وظايف درك کړی دی مګر په يو څو شيونو کــی دو ی ســره يو تر بله اتفاق لری اودا اتفاق خصوصا ددوی دلومړ نيو آثارو په وخت کی ښه څرګندږ. هغه کارونه چی دوی وربانددی اتفاق لری اويا هغه کارونه چی دوی يې سره يو کړی دی دادی :

۱ـ په ډير اخلاص اوتــــوده مينه داسلام خدمت .

۲ـ بی‌له قید اوشرطه دکلاسیکو ادبیاتو عنعنو ته غاړه ایښودل .

۳ـ داجتماعی تصاد مسا تـوځخه ځان ساتل .

سمندر دبدرښو په ۱۹۰۱ کال کی زیږیدلی دی، ده په وړوکتوب او ځوانی کی سخت ژوند تیر کړی دی. مخ کی له دی چی مشهور لیکوال او شاعر شی ډیر مختلف کارونه یی کړی دی : مثلامزدور ؤ، ډیر یورو، شعبده بازو، کله چی سمندر دبدر ښوله دغی مظلومی او خواری نه خلاص شو ده لکه دتل له پاره دماضی سره مخه ښه وکړه او بیرته یی په تیر عمر کوم نظر وانه چاوه.

دده په آثارو کی پخوانی ژوندته کومه اشاره هم نه لیدلی کیږی ولکه چی دده په حافظه کی دځوانی ددوری دزیاتو مشاهداتو ځخه هیڅ نه وی پاتی شوی. اوس دده وظایف نور اوتوجه یی بلی خواته ده .

سمندر دبدرښو دعروض دعلم استاد دی، داشعارو ددغه عنعنوی سیستم څو آثار د دده قلم تـه منسوب دی او ددغه شاعر خپل اشعار هم په عروض برابر ویل شوی دی. دبدرښو داشعارو لومړی مجموعه (دایلیم څوکه) په ۱۹۲۷ کال کی په پیښور کی چاپ شو ه او دوهمه مجموعه یی (لیټ اولار) په ۱۹۴۰ کال کی دچاپ نه را ووتله .

**سید رسول رسا :**

سید رسول رسا په ۱۹۱۰ـ کال په بدرښو کی (نور ښار ته نژدی) پیدا شوی دی، داشعارو په ویلو یی ابله دپیښور په اسلامی کالج کی پیل وکړ .

عبدالخالق خلیق یو وخت داسی دده په باره کی ویلی وو: ده به خپل اشعار گډوډ او پـه غیر منظمه توگه لوستل خـو شاگر دانو به په ډیر غور سره هغه اوریدل او په ډیری خوښی سره به یی دده لومړنی تجر بی درك کولی .

دپښتنو په منځ کی در سادشعری آثارو دعمومی معر فی ابتدا په همدی ډول وه. دده د آثارو موضوعات مختلف اورنگا

رنگ دی، ده‌پخپلو اشعارو سره‌دخپلو اسلافو میرانه او شجاعت ستایلی دی، دبنایست مناظر یی ترسیم کړی‌دی دده‌په زیا ترو آثارو کی دتصوف او عر فـان اغیزی لیدل کیږی .

رسا لویی علمی کورنی نـه‌راوتلی دی اوداسی معلو میږی چی دده په‌جهان بینـی کـی دروحانیت دتسلط مفکوری مهم ځای نیولی دی، ور و ستـه بیا همدغـه شاعـر او لـس او اولسی ژوند ته مراجعه‌کړیده‌دغه لاندی بیتونه دده قـلم تـه منسوب دی .

خدای زما اوستا خویو د ی موږه دواړه بنده‌ګان یو
ته په‌خه باندی مالك‌شوی موږه ولی فقیران یو
ته دخدا ی دلویی ځـمکی میراث خور شوی موږ شوو ږی
اوس سجدی موستا پـه‌دردی چی‌بی وسه عاجران یو
یوزور ظلم دفرنگ دی بـل‌ستالاس په وینو رنگ دی
تاسو واړه شرمښان یی موږ بی‌ژبی تـول گـډان یو
دغه ځمکه نه‌دستا ده‌دغه‌ځمکه نه زما ده
دغه ځمکه دهرچاده موږه ټول‌یی مالکان یو

دسید رسول رسا لـومړ نی آثار په پیچلو فلسفی موضوعاتو چی دمنځنیو پیړیو لـه سـکولاستیك نه‌منځ ته‌راغلی دی ، حاوی دی. وروسته بیا ده پـه‌فیودالی نظام او استبداد باندی حملی پیل کړی اوپه آخر کی‌یی په‌خپلو آثارو کی‌دخلکو دبرابری او مساوات اعلان وکړچی دا په‌هغو شرایطو کی‌یو لوی‌کار ؤ. هو! دده دآثارو تدریجی تکامل‌په‌ډیر ښه کی دا اضدادو ښځه‌ړك دی اویوه مثبته اومشخصه لاره یی نه‌ده نیولی .

**حمزه شینواری دپښتو غزل پلار:**

دحمزه شینواری د لیکوا لـی اوشعر لار پیچلی او غامضه ده، دی دافسانوی خیبر نه راوتلـی‌دی، دخیبر دلاری په مرکـزی برخه کی دغرونو دلمنو دتجمع په منځ کی‌عسکری چونی تـه نژدی دلواړگی کلی پروت دی، دلته د ۱۹۰۷ کال‌په دیسمبر کی دقوم دمحلي مشرپه کور کـی‌راتلونکی شاعر وزیږید چی‌اوس

دپښتو نخوا دسرحدونو نه ډيرلري دده شهرت تللیدی‌دده‌پوره نوم داسی دی: ابوالمراد امیرحمزه شینواری (۱). ده په‌خپلو اشعارو سره چی‌خپل پلار نـــی‌تاتوبی ستایلی دی دخیبرشهرت او عظمت لازیات کړی دی .

صنوبر حسین یوځل دا سی‌ویلی وو: (زه فکر کوم اوپه‌دی کی‌هم شك‌نه شته چی‌خیبر بـه‌له‌دی نه وروسته نرېوالو ته نه یوازی له نظامی نظره مشهـوروی بلکی دشاعر دتوصیـــف او ترسیم له برکته که‌دلته هرڅوك راشی که څه‌هم نظامی افسر او متخصص هم‌وی مجبور دی چی‌ووایی « هو! دا هماغه خیبـــر دی چی‌دحمزه شینواری لـه‌خوا ترسیم شوی اوښودل شویدی».

په شاعر باندی قوی تـا ثیراو زیاته اغیزه دمحلی شیـــخ عبدالستار شاه تصوفی نظریاتو کړی ده، حمزه ډیر کلونه دده مرید او شاگرد و اولاس نیوی یی ورنه کړی‌دی اوهمدا وجـه ده چی‌د تصوفی نظریاتو خواته تمایل دده په‌ټولو آثـــارو اود لیکوالی دفعالیت په‌ټول جریان‌کی لیدل کیږی مگر شاعـــر د تصوفی تصوراتو په حلقه کـی بند پاتی نه‌شو اونه یی‌ځان‌گوښه او منزوی کړ. شینواری دپښتوادبیاتو ډگرته داخل شو دا کـار ده نه‌یوازی دشیخ عبدالستار له برکته وکړ چی‌توصیه یـی ورته کوله چی اشعار په پښتو ژبـــه‌لیکه بلکی ده‌ته دادبی ژوند په لوری دروازی لاهغه وخت‌آزاده بیرته شوی وی‌کله چـــی‌دی د (بزم ادب) ټولنی ته‌داخل شوی‌ؤدلته دستی دده څپاند طبیعـت تبارز وکړ، ده کوښښ کـاوه‌چی دآزادو قبایلو په‌کلو کی‌ادبی گرو پونه او ادبی ځانگی جوړی کړی .

په ۱۹٤۰ کال‌کی دامیر حمزه‌شینواری په‌ابتکار په‌لواړگی کی خورا لویه پښتو مشاعره وشوه‌په دغه مشاعره کی دپښتو نخوا دلرو لرو سیمو ادیبانو گډو ن کړی‌ؤ. په ۱۹٤۱ کال کی شاعر دلیلی اومجنون قصه په پښـتو شعر ترجمه کړه، ددغی ترجمی نه‌دپښتو دلومړی فلم لـه پـاره‌محمد رفیق دسناریو په تـو گه

---

(۱) ابوالمراد یعنی دمـراد پلار .

استفاده وکړه، فلم تیار شو او په صحنو کی وښودل شو .

شینواری دډیلی د مجلی (نن پرون) داداری سره ارتباط ټینګ کړ، دلته دده بدیعی آثار او قصی چاپیدلی، دشینواری شعرو نه د«پښتون» په مجله کی چاپیدل مګر شاعر په مخالف حرکت کی مستقیم ګډون نه کاوه.

دشینواری لو مړیو شعرو نو تعلیمی رنګ اود تجریدی فلسفی افکارو خصوصیت لاره خو دغو اشعارو دپښتنو په منځ کی دده دشهرت دزیاتوالی سره مر سته نه ده کړی بلکی داکار دده هغو اشعار وکړی دی چی دهغو په باره کی یو افغانی لیکوال ویلی دی (دحمزه شینواری اشعاردخپل هدف اوفورم له مخی دپرګنو په تیره بیا دکوچیانو دژوند سره ټینګ او نه شلیدو نکی رابطه لری ،دی دخپلو افکارو سره ټولنی ته ورګډ شوی دی، ټولنه یی دنوی ژوند نه خبره کړی ده اود هغو حرکاتو، نهضتو نو او تحولاتو څخه یی خبره کړی ده چی په نوی عصر کی منځ ته راغلی دی او دایی په داسی قالب اوداسی الفاظو کی ځای کړی دی چی خلك وربا ندی پو هیدا ی شی .)

دشاعر ادبی مو فقیتو نه خصوصا دغزل دعنعنوی ژانر په جوړښت کی خورا لوی دی .

حمزه شینواری دخو شحال کوښښو نو ته ادامه او انکشاف ورکړی دی چی په پښتو کی غزل دهغه لفظی او معنوی تاثیر له قید نه خلاصه کړی چی دفارسی تاجیکی کلاسیك شعر خاصه ده اود شعری هنردغی خورامشهوری نوعی ته داسی خصوصیت ورکا چی هغه خالص پښتنی ر نګ ولری اوهمدا وجه ده چی پښتنو حمزه شینواری ته د (غزل پلار) لقب ورکړیدی .

دشینواری په لاندی بیتو نو کی عینا پښتنی ژوند بیان شوی دی او یوازی خاص پښتنو پوری ملی خصوصیا ت ورنه محسو سیږی :

ماکو زورته لیمه کړه زما سر نه ټیټیده
شاید په محبت کی هم افغان پاتی کیدم

حسنه تهخود بين يي زه پښتون يمه
مانه‌ده‌ښودلی ګدا ستر ګو ته

دملت نمره ! زه دبر خي په خير
ستا ددي‌شو خوپلو شو سره ځم

حمزه ! سفر کهدحجاز وي نو هم
زه د پښتون دقافلو سره ځم

شرطي سمبو ليك (دموضوع نه وتل) په‌طبيعي ډول دشاعر دهغو افکارو درك سخت کړيدي‌چي په‌دغو بيتونو کي راغلي‌دي مګر عمومي‌مفکوره :وطن‌دوستي، په‌خپل اولس افتخار، په هغو پښتنو افتخار چي حتی دعشق‌جام ته‌سرنه ټيټوي، دهغه‌هيواد درد چيري چي لاينحل مسا يل‌ډير پراته دي، دده‌په شعر کي په‌ښه ډول واضحه ښودل شوي‌ده

ورو سته ورو سته حمزه‌شينواري په‌دي فکر او کوښښ کي شوچي دخپلو بديعي آثاروفورم پوره ساده کړي ولي ددي سره سره نه‌غواړي چي د قافيي‌باريك ظرافت له‌منځه يوسي او هم‌نه غواړي په‌خپلو اشعارو کي‌باريك فلسفي نظريات ځاي نه کړي. شينواري په‌هغه شعر کي‌چي (وحدت دملت) عنوان لري داسي وايي :

وحدت دعمل راشي چي وحدت وشي دخيال
کثرت دغم جمود‌دي‌چي په‌قام کي‌ځان ځاني شي
ويالي رسي سيندونو ته سيندونه سمندر شي

آخر خورسيده دي‌خوپيدا چي رواني شي
ملت شوهغه کس چي ځان يي ورك کړ په ملت کي
يوسيند شي‌سمندر په سمندر کي‌چي فاني شي
تارونه دخيال دي مختلف وي باري څه شو

نغمي ديواصول‌ته‌چي په‌تړ شي آساني شي
په باغ کي‌بوټي باغ وي بي‌له باغه په‌خپل نوم‌وي
بيلتون له‌جمعيته‌وچو بي پريشاني شي
يوفرد لکه دڅاڅکي نه پري‌لوند نه پري خړو به

سرسبزه شی چی جلوه‌لی مځکې بارانی شی
دِك کور دآینې وی دکثرت نه دعکسو نو
له خپل ځانه‌رندووته ور پاتی حیرانی شی

حمزه شینواری دراډیکلالی اوکینو نظریاتو دتبلیغ نه ځان لری ساتلی دی، ډیر ځلي په مجرد ډول دشاعر غږ پور ته کیږی مگر کوم آثار چی‌ده‌لیکلی‌دی هغه اوریژنال اوبکر دی، له ادبی تیپونو نه‌ډك دی خلکو ته نژدی اوخلك وربانډی پو هیږی لوستونکی فکر کولو ته مجبوروی، خلکو ته‌ګته رسوی اود پښتنو دملی پوهی داستحکام سره مرسته کوی. زموږ په فکر دحمزه شینواری چی شعری آثاریی ډیر ژر عمومی مال وګرځید دزیات شهرت اصلی علت همدا سی آثار دی .

دلته به بیځایه نه‌وی کـه دده‌ژوند لیك دده په‌خپل قلم چی‌په ۱۹۸٤ کال‌کی یی خپل یوه‌عزیز ته استولی دی وړاندی کړو.
(دمترجم له‌خوا)

زه په ۱۹۰۷ کی غالبا ددسمبر په میاشت کی په‌لنډی کو تـل (لواړگی) کی پیدا شوی وم زما دپلار نوم ملك باز میرخان دی. اوزه په سکه ورونو کـی پنځم او آخری هلك‌وم، زماپلار دوه ودونه کړی‌وو، دمیرنی مور نه‌می‌تر اوسه یوورور محمد عمر خان ژوندی دی چی‌ډیر اولادونه لـری .

زه ددوو کالووم چی مور می‌وفات شوه، زماحافظه یوه مثالی حافظه وه، چی اوس کـمزوری شوی ده خوچی زما عمر دیو کال نه‌هم کمؤ دهغه وخت خبری‌می‌هم یادی دی. زما دمشر ورور بلخی خان نه دریم ورور یارمحمدخان نومیده چی‌شاعر او ډیـــر ښکلی دنگ زلمیؤ هغه په‌رساله‌کی نوکرؤ اود آینه برقی په‌کار کی‌خورا ښه (ماهر) ؤ. زمـــا دپلار دهغه وخت دپولیټکل افسر صاحبزاده عبدالقیوم خان ســره‌سخت مخالفت راغلیؤ چی پــه نتیجه کی‌زما ورور یار محمد خان دصاحبزاده عبد القیوم د قتل اراده وکړه، پلارمی چی پرخبرشو یار محمدخان یی سخت ورټلو په‌دی یار محمدخان خفـه‌شو، کابل ته لاړ اوسر کاری آس

یی هم بوتلو، هلته امیرحبیب‌الله خان ډیر ونازاوه . مز کـه یی ورکړه، اوغازی امان‌الله خان یی هم دآینه برقی په‌فن کی‌شاگرد ؤ ،خو دلته حاکمانو زما په‌پلار ډیره سختی شروع کړه. نوپار محمد خان دپلار په‌خواست واپس‌راغی. دلته حاکمانو شپږمیا شتی قید کړ، دقید پوره کولو نــه‌پس‌واپس کابل‌ته لاړ، دما هی پرنه‌پاس چی‌کوم کلی (شپولی‌بابا) بنکاری په‌هغه کلی‌کی او سیده زه چی‌کله کابل‌ته ځم‌نوهغه‌وړانه گړی گورم هلته یی واده هم وکړ .

کوم وخت‌چی زما دپلار پــه‌درخواست راغلی‌ؤ اوبیا قیدشو زمانبه یا ددی‌چی ناجـوړه ؤ اوپوستکی یی اچولی‌ؤ مور مــی پړی خونی ویشلی‌ؤ بیا چــی‌دمرگ نه پس‌یی تابوت راوړی شونو زماعمر به‌دری کاله‌ؤ .

زه‌یی دپنځو شپږو کالو پـه‌عمر کی‌په‌پرایمری مدرسه کـی داخل کړم ،هغه مدرسه دلنډی کـوتل کلاکی دننـه وه چــی دپولیټیکل دفتر هم ورسره‌ؤ او بیابه ماپه تختی اـبـت لیکل شروع کړل، نویوه ورځ‌می‌دپټی‌په ځای په‌تختی باندی د بنی آدمو عکسونه را بنکودل او په‌زړه زړه‌کی خوشحالیدم چی استاد به‌ډیر داد راکړی ،خوچی استادزماتختته ولیده نوپه غصه شو اووی ویل «خبیثه دادی څه جوړ کړی دی» ددی سره‌یی لخته را واخیسته اوبیایی نونه زما سرکتواونه پښی زماپـه چـغـو د پولیټیکل ملازمان هم‌په دوراغلل‌زمایو عزیز گل زائی‌چی‌په‌څلورم صنف کی‌و را پاځید او استــادته‌یی داسی تیله ورکړه چی سر یی ددیوال سره وجنگید. اوویی‌و یـل « بــد بخــتــه، دا ماشوم خو تامړ کړ!»

بس هغه ورځ وه‌چی دسبق نــه‌می زړه تورشو، دکور نه‌به‌راتلم خو دلواړگی دکلا شاته هدیره ده‌په هغی‌کی زمادمور قبر دی‌هلته به‌ناست وم. اولابه دکلادشمالی برج په‌هغو ډیران تیمانو کـی پټ ناست‌وم، کوم‌چی یوســك‌لیونی هلته جمع کړی‌ؤ او چی دمدرسی وخت به‌تیرشو اوهلکان به کورونو ته روان شول زه به کورته راغلم .

څو ورځې پس استاد زما مشر ورور ته جواب وکړ چې حمزه سبق ته نه راځي. مشر ورورمې غوږونه راتاو کړل اوزه په ژړا شوم هغه هم راسره غریو ونیو، ځکه چې دمور دمرګ نه پس به زه هغه دځان سره څملولم، او ډیر زیات پرګران وم.

آخريي زه دپیښنور اسلامیه کالج سکول ته بوتلم او هلته یې په دویم صنف کې داخل کړم. هلته هم دسبق نه پټیدم، خو په وهلو ټکولو مې ترنهم صنف تعلیم حاصل کړ او بیا مې پریښود چې سحر به دمدرسې تلې وغړیده نو.

داسرافیل راته شپیلۍ یاده شوه

زه چې تلې دمدرسې اورم

په پنځم صنف کې وم چې په اردو کې مې رومبی غزل ولیکه مولانا عبدالقادر مرحوم چې په اتم صنف کې ؤ اصلاح راکوله. هلته ذریعه تعلیم اردووه. او په اردو کې راته کافي مهارت حاصل شوی ؤ.

اوچې تحصیل مې پریښود د پولیټیکل په دفتر کې دمحرر په حیث ملازم شوم، بیایې تورخم ته واستولم دپاسپورټ د تحصیلدار سره یې فرایض راکړل دمنګلو دجنګ په وخت زه په تورخم کې وم. خودیو تحصیلدار سره مې مخالفت راغی، هغه را باندې رعب اچولو او ما یې نه منلو. ملا زمت مې پریښود دریم ورور ملك بادرخان مې سفارش وکړ. او په ریلوې کې ټکټ چکر شوم، ما به دملنګانو او غریبانو نه ټکټ نه غوښت. خو بداېان مې بیخي نه پریښودل، نتیجه داشوه چې زما آمدن کم شو، افسرانو تهدید راکړ، مادتهدید په جواب کې سرکاري سامان ور واستولو او استعفا مې ورکړه اود یودوست سره بمبئی ته لاړم چې دفلمی دنیا شوق راسره ؤ دوه میاشتې په بمبئی کې وګرزیدم او بیا کورته راغلم. زما پلار ته به اکثر ټیکي ورکیدلې ما به یې د منشیانو سره امداد کولو خو ماته دامهمه نه وه چې زه ګنې شاعر یم. زما خیال ؤ چې هر تعلیم یافته انسان شعر جوړولی شي.

زموږ دخيبر ريلوی په‌تيکه کې يو مزدور شاعر ؤچې سمد ستی (فی البديه) به‌يی شعر جوړولو دهغه نه متاثر شوم قلم دوات می طلب کړل اود هغو په‌مخکې‌می په يونشست کی دوه چار بيتی وليکلی، خو ددی نه‌پس هم‌ماليکل په اردو کی کول ،ډيری غزلی او افسانی می‌په اردواخباروںو کی راغلی وی. چې په ۱۹۳۰ کی چی‌زما پلار وفات‌شو زه‌په پنجاب کی‌په يوه‌فلمی کمپنی کی‌وم چی‌خبر شوم‌واپس‌کورته راغلم، دهغه دفاتحی له پاره زما دورور بادرخان پير صاحب سيد عبد القادر شاه صاحب راغلی‌و. هغه څه داسی‌توجه وکړه چی دزنکدن حالا ت را باندی راغلل اوزه يی‌مر يد شوم. هغه دچشتی نظامی سلسلی سره تعلق لرلو. قوالی به يی‌ډيره اوريده د۱۹۳۰ نه‌تر۱۹۳۶ پوری زه‌هر کال ورسره اجمير شريف ته تللم، په‌تصوف کی‌يی چی کوم عجايبات محسو س کړی دی دهغو دبيان له پاره بل فرصت پکاردی. خو ددی‌پير صاحب چی‌کوم خصوصيت‌ؤ هغه داچی پښتون پيرو. په ۱۹۳۳ـ يی ماته حکم‌راکړ چی اردو پريږده او پښتو ليکه، ما ته‌داخبره ډيره گرانه ښکاره شوه خودهغه حکم‌و. په‌پښتو کی‌می‌وړومبی غزل وليکلو کلام‌يی داو :

ريږ دی دمستی نه ساغر وجد پيمانه کوی
ساقی گلر خ‌چی نظر دوی‌ته جانانه کوی

هم په‌دا ورځ می‌دويم غزل‌وليکه چی يوشعريی داو :

زه‌نسخی دمرگ ته د ژوندون خضره هوس لرم
(يعنی موتوا قبل آن‌تموتوا)
نه می شته دارروستا دحياتو په چينه کی

دژوند قصه‌می اوږده ده.چی‌ددرو دوستانو په خواست می‌په اردو کی ليکلی ده. او پښتو کی‌می پی شروع کړی‌ده. خويو څو ضروری خبری به درته‌وليکم

۱ـ څلور ودونه مـــي کړي دي، اولا دونه مې اکثرپه وروکوالي کې مړه شوي‌دي. يومراد اويوه‌لورمې پاتې دي. چې‌ديربال بچه دار دي .
۲ـ زما داشعارو تعداد به دشلو زرو نه‌کم نه‌وي. ډيررا نه ورك شوي دي .
۳ـ زما دشيخ پيش گو يـــي‌وه چې خلق به‌درته حمزه بـــابا وا يـــي هغـــه داســـــي پـــور ه‌شوه چې شاعران همراته بابايي غزل وايي .
٤ـ دافغانستان حکومت زمـــا پرکتاب غزوني دخوشحال جايزه راکړه.
٥ـ درااډيو اوتيلي ويژن له‌پاره مې‌په سلگونو ډرامـــــي او مقالي او سندري ليکلي دي .

زما تاليفات وغيره

۱ـ تجليات په ۱۹۳۷ کې‌مې‌په‌تصوف کې‌داو رومبي اثردی.
۲ـ غزوني، غزليات وغيره.
۳ـ ژوند .
٤ـ تسخير دکاينات .
٥ـ ژور فکرونه .
٦ـ يون دغزلياتو مجموعه .
۷ـ دحجاز په لور (دحج سفر نامه) .
۸ـ دخوشحال خان ختك يـــو شعر .
۹ـ انساني رڼا اوپوهه .
۱۰ـ بهير، غزليات ، نـــوی چاپ .
۱۱ـ دزړه آواز ، نعـــتيـــه مجموعه .
۱۲ـ دخيبر ورمه (ربا عيات، پښتو ټولنې چاپ کړی) .
۱۳ـ نوی څپې (ناول) .

اردو :
۱ـ انسان اور زندگی (دژوند ترجمه چی ماپخپله کړی ده).
۲ـ وجود وشهود (دشیخ احمدسر هندی په مکتو باتو انتقاد)
۳ـ رنیا اورعلم (دانسانی رنیا اردو ترجمه).
تراجم :
۱ـ دعلامه اقبال جاوید نامه په پښتو نظم.
۲ـ داقبال ارمغان حجاز پـه پښتو نظم
۳ـ دیوان عبدالرحمان بابا ـ په اردو نظم ـ دری واړه چاپ دی.

**دامپریا لیزز په ضد غورزنګ :**

دخلو یښتمو کلونو په منځ کی په پښتو ادبیاتو کی دآزادی اود امپریالیزم ضد تمایلات پیدا شول، ددوی منظم رشد، پرمختګ او انکشاف پخپله دعصر په حکم منځ ته راغی ، ددوی دحر کـت سره بی اندازی مـلا تړ ددوی افغانی ورونو کړی دی.

داستعمار په مقابل کـی د محکومو پښتنو قهر مانانه جګړی دټولو پښتنو دپـاره الـهام بخښونکی مثال وګرځید، شوروی افغان پیژندو نکو ډیر ځله پـه خپلو تحقیقاتو او تتبعاتو کـی تایید کړی ده چی دبرتانوی هند دپښتنو په سیمه کی چی کومـی پیښی واقع کیدلی هغو د ننـه په افغانستان کی په عمومـی ژوند باندی ښکاره تاثیر اچاوه او هیجان یی منځ ته راوست او هم دافغا نستان په ادبیاتو کی یی دنوو تمایلاتو دپرمختـګ أسباب برابرول، پههمدی ډول، دوریانکوف پههغه مقا له کی چی (دپښتو نستان پرا بلم او افغانی اشعار) نومیـږی د ادبیاتو دغه جریان ته اشاره کړی داسی لیکی: (دپښتو نستان د موضوع دخیړلو سره ددو هـم جنګ نه پهوروسته افغا نـی اشعارو کی په مستقیم ډول دملت او قومیت تمایلاتو انکشاف کړی دی، داکار په طبیعی ډول شوی دی ځکه دغو اشعارو له پـاره دپښتو نستان دخپلواکی دپرابلم نه بل لوی اومهم پرابلم نهو اونه دی اود قومیت دتمایلاتـو د انکشاف سرهسره داشـعارو د فورم ددیمو کراسی کولو آرزو یکی په ښکاره ډول تعقیبیږی ،

افغانی لیکوالان په‌داسی حال کی چی دپښتو نستان موضوع دغور لاندی نیسی په‌خپلو آثارو کـی ترټولو زیات اولسی شعـری ژانرونو اوملی سندرو خواته‌لکه‌لنډی، بگتی، لوبه، مقـام او چار بیتی ته‌مراجعه کوی ).

دفکر اوفورم لـه حیثـه دبدیعی آثارو دوه طرفه مبادلی دپښتنو دخورا لیرو اوپو ترپله‌جلاشوو سیمو په ادبیاتو باندی ښه مساعد تاثیر اچولی دی ، دافغـانی شاعرا نو داویـنا او آرزو چی هغـه نـړی دی نوی شی‌چی‌دبرتانوی هندپښتانه پکی اوسیږی ، ضروربی تاثیره‌پاتی شوی‌نه ده اوهغوی یی په دی فکرکی اچولی دی چی دژوندداموجوده ترتیب خامخا د تغییر وړدی اوهم دځلوپښتمو کلو نوله نیمایی نه‌را په‌دی خوا پخپله دپښتنو دادبی آثارو په مخونوکی داقوی اوشدید غږ پـورته کیږی چی منفور استعماری‌رژیم دی نسکور شی :

پورته شه خپل غریب ملگری‌سره مرسته وکړه !
کور ورته جوړ کړه اود نیک‌مرغی سره‌یی مخامخ کړه !
دغلامی په‌قسمت چی ده‌تـه‌رسیدلی دی لعنت ووایه !
یوازی دعا ورته کته‌نه‌رسوی په‌زړوره توگه فعالیت لازم‌دی.
پریږده چی‌ستا دځوانمردا نه‌فعالیت له‌امله ظالم په‌لړزه شی ملگریه ! خپله نړی‌جوړه‌کړه!

داپورته وینا دامیر نوازجلیاده، ده‌سره عبدالاکبر اکبر هـم آهنگ شوی دی، دی‌په جنگ کی‌دتحمل او ثبات توصیه کوی :
ددی نړی بنیاد دیر زړ ویجاړیدونکی دی ددمه وارخطا کیږه اومه ژاړه !

لاتردی زیات په ښکاره دول‌سره عبدالمالك فدا خپله عقیده ښکاره کړیده :
دادنیا کړه ورانه وریه سره غم کځوره کړه .
نوی دنیا جوړه کړه‌ای ربـه ددنیـا .

په دی وروستیو کلو نو کی‌په‌صوبه سرحد، قـبایلـو اود برتانوی بلو چستان په پښتنـی‌سیمو کی شب‌نامی خپری شوی

وی چی په‌هغو کی د پښتنــــو غوښتنی څرګندی شوی‌وی چی پښتنو ته‌حق ورکړی چی خپل‌سرنوشت وټاکی اوهم دا ســی شب‌نامی پیدا شوی‌وی چی‌په‌شعر باندی هغه دښنو دجرګی مشهوره پریکړه پکی لیکل شوی وه .

دپخوانی بر تانوی هــنــد دیوی پیړی دپښتو ادبیا تو دغه سخت اوزړه دردوونکی وضعیت که‌څوك دفکر له‌حیثه تفسیر او تحلیل کړی ضرور داپه فکرکی‌ورځی چی دا ادبیات دفولکلو ر اوکلا سیك ادب دعنعنو ســره ټینګ ارتباط لری خوله نــو و جریانونو اوسبکو نو څخه یی‌هم استفاده کړی ده .

پښتو ادبیاتو داستعمار پــه ټوله دوره کی دیاغی، اولــس خیالات، روحیات او آرزو ګانی ښکاره کړی او تمثیل کړیدی.

دپښتنو په اجتماعی ژوند کی‌دلوړو سیاسی پیښو دتاثیرلاندی دغو ادبیاتو داستــــمار اوداجتماعی نابرابر تیا دظلم پــه مقابل کی خپل غږ په میړا نــه پورته کړی دی، پدی ارتبـاط دپښتو ادبیاتو دعمومی خاصیت‌سره امکان نه‌لری چی‌د(باوزانی) ویناتطابق او سمون ونه‌خوری: (په‌داسی حال کی‌چی ادبیاتو د ظاهر پرستی اوجمال پسنــدی)زړی زولنی ماتی کړی د خپلـو اساسی پر نسیبونو په ذر یعه‌یی دااسلام سره دوفا داری اود هیواد سره دمینی اعلان وکړ اود آزادی له‌پاره‌یی خلك جګړی ته راوبلل چی دغه کار ادبیا تو ته ستر سیاسی او کــلتور ی ارزښت ورکړ ). دا اوضــاع سبب شول چی دفــکرو نــو ، ژانرونو او ســبکونو تلون اواورنګا رنګ توب منځ ته راغی کوم چی‌دپښتو ادبیاتو په‌عمومی‌ډول اود ځینو پښتنو شاعرانو، نثر لیکو نکو او ډرامه‌نویسانو دآثارو په جلاتوګه خاصه ده .

# نوم لیک


۱ــ ابوالکلام آزاد ــ ۷٤ ، ۱۰۹ ، ۱٤٦ ٠

۲ــ اجمل ختټک ــ هـ ، ۱۷۲ ، ۱۷۷ ، ۱۷۸ ، ۱۷۹ ٠

۳ــ احمد شاه بابا ــ ط، ۸،۹ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ٤۹ ٠

٤ــ احمد شاه سایل ــو ٠

٥ــ اخوند درویزه ــ ٤٥ ٠

٦ــ ادوارډ میرفی ــ ۳،۳۹،٤۰٠

۷ــ اسلانوف ی، ٦ ٠

۸ــ اقبال ــ ۹ ٠

۹ــ افضل خان ختټک ــ ٤۲ ٠

۱۰ــ الفت ــ ط، ۸ ٠

۱۱ــ امیر حمزه شنواری ــ۱۷۱،۱۸٦ ، ۱۸۸ ، ۱۸۹ ، ۱۹۰ ، ۱۹۱ ، ۱۹۲ ٠

۱۲ــ امیر نواز جلیا ــ ۱۲۸ ، ۱٦۱ ، ۱۹۸ ٠

۱۳ــ اورنګ زیب ــ ۱٦۸ ٠

۱٤ ــ امیر امان الله خــان ۱۲۳ ، ۱٥۸ ٠

۱٥ــ امیر عبدالرحمن خان ۲ ــ٥ ، ۷۲ ، ۷۳ ٠

۱٦ــ ایسیدور لووینتال ــ ۳۸٠

۱۷ ــباچاخان ی، ٤۱، ۷۷،۹٤،۹٥ ، ۹٦ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹ ، ۱۰۰ ، ۱۰۱ ، ۱۰۲،۱۰٦،۱۰۷ ، ۱۰۹ ، ۱۳۰ ، ۱۳۲ ، ۱۳٤ ، ۱٤۲ ، ۱٤۳ ، ۱٦۰ ، ۱٦٦ ، ۱٦۷ ، ۱٦۸ ، ۱٦۹ ، ۱۸۰ ، ۱۸٤ ٠

١٨ ـ باوزانی ـ ١١٨ ، ١٩٩ ،
١٩ـ بشرا بیگم ـ ١٢٤، ١٣٥.
٢٠ـ بهرام خان ـ ٩٧
٢١ـ بایزید انصاری ـ ١١ ، ٤٥، ٤٦ .
٢٢ـ پاچاگل بینوم ـ ٨٠،١٧٣
٢٣ـ پتریك هیوز ـ ٤٢، ٤٣.
٢٤ـ پریم چند ـ ١٤٦ .
٢٥ـ پغاندیر ـ ٣٩.
٢٦ـ پلاودین ـ ٣١ .
٢٧ـ ترنگزو حاجی صاحب ـ ٧٥ ، ٧٦ ، ٧٧ ، ٨٠ ، ٨٣،٨٩
٩٥، ١٢٦ ، ١٢٩، ١٧٣ .
٢٨ـ توکل ١٨ .
٢٩ـ تولستوی ـ ١٤٦ .
٣٠ـ تیخو نوف ـ ٢، ١٧ .
٣١ـ ټاگور ـ ١٨١ .
٣٢ ـ ټیپل ـ ٧ .
٣٣ ـ جان لیدن ـ ٣٦ .
٣٤ ـ جواهر لال نهرو ـ ١٠٢ ، ١٦٥ .
٣٥ ـ چرچل ـ ١٤، ٣٥
٣٦ ـ ځنگل خیل کوهاټی ٨٢.
٣٧ ـ خادم قیام الدین ـ ك،ل، ٦٢، ٧٠ .
٣٨ ـ خوشحال خان ختك ـ ط ٨، ١١ ، ٢٦ .
٣٩ ـ خانمیر هلالی ـ ٨٢، ٨٩، ٩١ ، ٩٧ ، ١٠٢، ١٠٨ ، ١١٢
١١٣ ، ١١٤ ، ١٢٤، ١٢٧، ١٦٠
٤٠ ـ خیال بخاری ـ ٢٧، ٣١، ٨٦، ٩٢ .
٤٠ـ خسرو اپریدی ١٧٥ .

٤١ ـ دلاور خان ـ ٣٩ .
٤١ـ دور یانکوف ـ ١٩٧ .
٤٢ ـ ډار مستتر ـ ح، ٩، ٢٠، ٢١ .
٤٣ـ ډیرانی ـ ١٤٨، ١٤٩ .
٤٤ ـ ډیورند ـ ٢ ، ٣، ١٣ .
٤٥ـ رحمان بابا ـ ط ، ٨، ١١ .
٤٦ـ راحت زاخیلی ـ ٢٩، ٦٥، ٦٦ ، ٦٧، ٦٨، ٦٩ ، ٧٠، ٧١
١٢٤، ١٦٢ ، ١٧١ .
٤٧ـ رضا همدانی ـ ٨٦ .
٤٨ ـ رنجت سنگ ـ ١٢ .
٤٩ ـ روبیرت کلارك ـ ٣٧ ، ٣٨، ٤٢ .
٥٠ ـ ریسنیر ـ ٦، ١٥٨ .
٥١ ـ ریجارد اودنی ـ ١٣ .
٥٢ـ راورتی ـ ٣٦ .
٥٣ـ راچند پرشاد ـ ١٠١، ١٠٩
٥٤ـ رشید علی دهقان ـ ١٧٢.
٥٥ـ سیف الرحمان سلیم ـ ه،و
٥٦ـ سلیمان لایق ـ ٦٦ .
٥٧ـ سعدالله جان برق ـ ه .
٥٨ ـ سلیمان (ع) ٤ .
٥٩ ـ سنیسار ـ ٩٠ .
٦٠ـ سولسبری لارد ـ ١٤ .
٦١ـ سمندرد بدربنو ـ ١٥١، ١٨٥، ١٦٨ ، ١٨٧ .
٦٢ـ سعادت خان جلبل ـ ٩٦ ، ٩٧ .
٦٣ـ سردار اقبال علیشاه ـ ٤٥
٦٤ـ سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل ١٣٤ .

٦٥- سید احمد ٧٤ .
٦٦- سید جمال الدین افغا ن- ٨٤، ٨٥، ٨٦، ١٨٦ .
٦٧- سید عظیم شاه - ١٧٢ .
٦٨- سید رسول رسا- ١٨٦ ، ١٨٧ ، ١٨٨ .
٦٩- شوکت الله اکبر -١٢٥ .
٧٠- شرر محمد اسلم ارباب -١٢٨ .
٧٠- شیخ عبدالستار پښتـو ن پیر ١٨٩ .
٧١- صدر خان ختك - ٢٧-
٧٢- صنوبر حسین کاکا جی‌ه ، ٨٠، ١٨٩ .
٧٣- صاحب زاده عبد القیو م-١٠٩،٥٦ ، ١١١، ١١٧ ،١٣٢، ١٣٤، ١٤١ ، ١٨٦ ، ١٩٢ .
٧٤- صاحب زاده محمد اسلم -١٢٤ .
٧٥ - طالب رشید -٢٦ .
٧٦- طوفان - ج .
٧٧- ظفر علی - ٧٤ .
٧٨- عبد المالك فدا ب، ١٢٩ ، ١٣٠، ١٣١، ١٣٤، ١٤١ ، ١٤٢ ، ١٦٦ ، ١٧٤ ، ١٧٦ ، ١٩٨ .
٧٩- عبدالرؤف نوښاری- ٢٦.
٨٠- عبدالرؤف بینوا - ٦٢ ، ٦٧، ٧٦، ٧٧ ، ٨١ .
٨١- عبدالصمد خان‌ی، ٤١، ١٠٣ ، ١٠٥ ، ١٠٦ ، ١٠٧ ، ١١٦، ١٢٦ ، ١٤٣ ، ١٦٩.
٨٢- عبدالغفور سوات صاحب ٥، ٧٧ ، ٧٨ .
٨٢- عبدالجبار ډاکتر خا ن صاحب- ٩٥ ، ١٠٢ ، ١٠٩ ، ١١٠ ، ١٦٦ ، ١٦٨، ١٦٩ .
٨٣- عبدالقیوم خان - ١٨٤ .
٨٤- عبدالقادر خان ختك- ٢٦
٨٥- عبد الحمید -١١، ٢٦ .
٨٦- عبد القیوم کوثر- ١٧ .
٨٧- عبدالخلیق خلیق- ١٣٢ ، ١٣٤، ١٦٠ ، ١٦٢ ، ١٨٧ .

۸۸ـ عبدالاکبر خان اکبر ـ۷۹، ۹٦ ، ۹۷، ۱۰۳ ، ۱۳۷ ، ۱۳۹
۱٤۰ ، ۱٦۰ ، ۱٦۷ ، ۱۷٤، ۱۹۸ .
۸۹ـ عبدالعلی کاکړ ـ ۱۲۱ .
۹۰ـ عبدالمجید اتمانخیل ـ۸۵.
۹۱ـ عبدالحی حبیبی ـ ۱۲۱ .
۹۲ـ عبدالحلیم ـ ۱٤٦ .
۹۳ـ عبید الدین ـ٥٦
۹٤ـ علی گل ـ٦۰ـ ٦۱
۹٥ـ عمر خیام ـ ۱۸۲
۹٦ـ غالب ـ ۱۸۱.
۹۷ـ غنی خان ـ د، ۱۸۰، ۱۸۱، ۱۸۲، ۱۸٤ .
۹۸ـ غلام جیلانی ـ ۳۳
۹۹ـ فضل رحیم ساقی ـ ۷٤ ، ۹۲، ۱۲۲ ، ۱۷٦ .
۱۰۰ ـ فیاض ـ ۲٦ ، ۲۷ .
۱۰۱ ـ فضل شیدا ـه ،و، ۸٦.
۱۰۲ ـ فیروز الدین ـ ٥٦، ٥۸.
۱۰۳ـ فلوری داوید سون ـ ۳۷ ، ۳۹ .
۱۰٤ ـ فضل محمود مخفی ـ ۷۸، ۷۹ ، ۱٥٤ ، ۱٥٥ .
۱۰٥ ـ فضل محمد غر ـ ۸۰ ، ۱۳۷ .
۱۰٦ ـ قاضی خیرالله ـ ٥٦ .
۱۰۷ ـ قاضی رحیم الله ـ ٥٦.
۱۰۸ـ قاضی عطاء الله خان ـ ۱۱۰ ، ۱٦۹ .
۱۰۹ ـ قلندر مومند ـه .
۱۱۰ ـ کیپلینگ ـ ۷ .
۱۱۱ ـ کار لیل ـ ۱٤٦ .
۱۱۲ ـ کیرو ـ ۳٦ .
۱۱۳ـ کیتوب چانریر سیل ـ٤۰
۱۱٤ ـ کوثر حسین بخش ـ۱۲۷

۱۱۵- کاکا حبیب‌الله- ۱٤۰ .
۱۱٦- گلناره - ۱۵۳، ۱۵٤ .
۱۱۷ - گیرس -ی، ك ، ل .
۱۱۸ - گیر بیرت ادوار دس-۷
۱۱۹ - گانکو فسکی - ۱٦۷ .
۱۲۰ - گاندی مهاتما - ۰-۱-۱۰۱ .
۱۲۱- لورمان براون - ۱٦۸.
۱۲۲ - ل،و گردون پولونسکایه ۷٤ ، ۱۵۷، ۱٦۱، ۱٦۷ .
۱۲۳- لالا امیر چند ۱۲٤ .
۱۲٤ - ماستر عبدالکریم -۹۷،۱۱٦ ، ۱۳٦، ۱٤٤، ۱٤۵،۱٤٦
۱٤۷ ، ۱۵۰ ، ۱۵۱، ۱۵۲،۱۵٤ ۱۵۵ ، ۱۵٦ ، ۱٦۷ ، ۱۷۷،
۱۸۱ .
۱۲۵ - محمدشاه کاکاخیل-۱۳٦
۱۲٦ - منشی احمد جان- ۵۸،۵۹ ، ٦۰، ٦۲، ٦۳ ، ٦٤، ٦۵،
٦۷ ، ۷۱ .
۱۲۷ - منشی عجب خان- ۵٦.
۱۲۸ - منشی عبدالرزاق -۵٦.
۱۲۹ - منشی عبدالغفار - ۵٦
۱۳۰- میرا جان اولسی شاعر-۱۲۰
۱۳۱ - میرانگل اولسی شاعر - ۱۲۰
۱۳۲- ماکلیس - ٤۳ .
۱۳۳- محمد هاشم علجی -۱۰۵، ۱۰٦ .
۱۳٤- ملاگل احمد -٤۹، ۵۰، ۵۱، ۵۲ .
۱۳۵- میر احمدشاه رضوانی-۵۲، ۵٤ ، ٦۵ .
۱۳٦- مولوی محمد اسماعیل -۵٦ .
۱۳۷- محمد طاهر وزیری-۱۲۰

١٣٨ ـ میرزا سید محمد ـ ٥٦
١٣٩ ـ میر رحمان غازی ـ ٨٧.
١٤٠ ـ مولوی زین الله ـ ٥٦
١٤١ ـ منشی یوسف خان ـ ٥٦ ، ٥٧.
١٤٢ ـ مارکنستیرنی ـ ٥٨، ٥٩
١٤٣ ـ محمد نواز ختك ـ ١٢٦.
١٤٤ ـ محمود الحسن ـ ٧٥، ٧٦ ، ٧٨ ، ٨٤ .
١٤٥ ـ میر یوسف بلوڅ ـ ١٠٤
١٤٦ ـ محمداکبر خادم ـ ٨١، ١٢١
١٤٧ ـ مولانا حکیم آزادګل ـ ١٢٤ .
١٤٨ ـ محمد یوسف ـ ٩٦، ١٣٢ ، ١٦٦ .
١٤٩ ـ محمد صفدر صادق ـ ١٢٥
١٥٠ ـ مولوی عبد الحی ـ ١٢٦، ١٢٩ ، ١٧١ .
١٥١ ـ محمد امین حاجی ـ ١٢٩
١٥٢ ـ ملا احمد جان ناظم ـ ٢٩.
١٥٣ ـ ملانعمت الله ـ ٢٥، ٢٨، ٢٩ .
١٥٤ ـ مولوی احمد ـ ٢٩، ٣٠، ٣١ ، ٣٢ ، ٣٣ ، ٤٣ ، ٤٩، ٥٩
٦٠، ٦٥ .
١٥٥ ـ مارتین ـ ٢٢.
١٥٦ ـ میرویس نیکه ـ ط، ٨.
١٥٧ ـ محمد جانخان غازی ١٥.
١٥٨ ـ ملیسون ـ ٤٢ ، ٥٩ .
١٥٩ ـ مولانا عبدالرحیم پو پل زی ـ ٨٣، ٨٤ ، ١٢٤ .
١٦٠ ـ محمد دین اولسی شاعر ـ ١٩، ٢١ .
١٦١ ـ میرا اولسی شاعر ـ ٢٠، ٢١ .
١٦٢ ـ مولانا عبدالقادر ـ ٢٨، ١٧١ .

١٦٣ـ نوروز اولسی شاعر ـ ٢١ .
١٦٤ـ نور شالی اولسی شاعرـ ٥ .
١٦٥ـ نیویل ـ١٢ .
١٦٦ ـ نورصاحب اولسی شاعرـ ١٥.
١٦٧ـ نعمان الدین تاجرـ ٢٣.
١٦٨ـ نصرالله خان نصر ـ ١٧٢، ١٧٧ .
١٦٩ـ نواب جان اولسی شا عرـ ٤٧ .
١٧٠ـ نظامی ـ١٢٥، ١٢٨ .
١٧١ـ هدی صاحب روحا نـــی شخصیت ـ ١٥، ١٦، ٧٥ .
١٧٢ ـ هیلتون ـ ٧٨ .
١٧٣ ـ هری اوایدیك ـ ٥٦ ،
١٧٤ ـ یونگ هوسبندـ ١٣ .

# فهرست


| | |
|---|---|
| ۱ـ دسرمحقق دوست مقد مه | الف |
| ۲ـ دمترجم مقدمه | ز |
| ۳ـ که چیری غرونو خبـر ی کولای | ۱ |
| خیبر | ۱ |
| تخت سلیمان | ٤ |
| مها بن | » |
| دپیریو په اتل کی | ۸ |
| له کانی سخت له گل نازك | ۱۳ |
| اولسی شاعران | ۱۸ |
| ٤ـ قصه خوانی یادپښتو قصو... | ۲۲ |
| منظوم داستا نو نه | » |
| ملا نعمت الله | ۲۸ |
| مولوی احمد | ۲۹ |
| ٥ـ دپښتنو په سیمه کـــی دانجیل تبلیغ | ۳٥ |
| پتریك هیوز | ٤۲ |
| ٦ـ ظاهر ته یی مه گوره ... | ٤٥ |
| ۷ـ رو ښا نفکران په سستی سره ... | ٤۸ |
| ملا گل احمد | ٤۹ |
| میر احمدشاه رضوانی | ٥۲ |
| دبوډی غوا | ٥۳ |

منشیان ۵۵
منشی یوسف خان ۵٦
منشی احمد جان ۵۸
توره بلا ٦۰
راحت زاخیلی ٦۵
۸- لومړنی دطوفان مرغان ۷۲
دراتلونکی بیداری سمبولونه »
هدی صاحب ۷۵
هترنګزو حاجی صاحب »
فضل محمود مخفی ۷۸
محمد اکبر خادم ۸۱
۹- دمسابقی مبارزه نویو ... ۸۷
خان عبد الغفار خان (باچاخان) ۹٤
خان عبدالصمد خان ۱۰٦
۱۰- دادبیاتو دنویوالی په... ۱۱۱
عبد العلی کاکړ ۱۲۱
دپښتنو په سیمه کی مجلی... ۱۲۲
پښتون مجله ۱۲۹
عبدالاکبر خان اکبر ۱۳۷
عبدالمالك فدا ۱٤۱
ماسټر عبد الکریم ۱٤٤
په ادب کی ستر بد لون ۱۵۷
ملی اتڼ اودرامی ۱۵۸
ادبی ټولنی او مشاعری ۱٦۱
۱۱- لس کلنه مبارزه ۱٦۳

۱۲ـ ادبی خیړنی مخ پــــه وړاندی ۱۷۱
دپښتنو لیکوالو فعالیت »
فضل رحیم ساقی ۱۷٦
اجمل ختتک ۱۷۷
غنی خان ۱۸۰
دبدر ښو سمندر ۱۸۵
سید رسول رسا ۱۸۷
حمزه شنواری د پښـــتـو غزل .... ۱۸۸
دامپر یالیزم په ضدمبارزه ۱۹۷
۳۱ ــ نوم لیك ۲۰۰

PROPERTY OF
ACKU
5505

# غلطنامه

| لمبر | مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|---|
| ۱ـ | الف | ۷ | مارشکلا | مارشلا |
| ۲ ـ | ب | ۱٤ | سرخ | ترخ |
| ۳ ـ | ۳ | ۲۳ | یادګار نه | یاد ګارو نه |
| ٤ ـ | ٦ | ۲۲ | دورور | دورو |
| ٥ ـ | ۲٦ | ٤ | وم | روم |
| ٦ ـ | ۱۱٤ | ۲۹ | هادغه | همدغه |
| ۷ ـ | ۱۲۲ | ۲۳ | عبدالرحیم ساقی | فضل‌الر حیم ساقی |
| ۸ ـ | ۱۷۲ | ۲ | نصیر | نصر |

یادونه :

۱ـ څرنګه چی دچاپ ماشین‌تولی یاګانی‌نه لرلی ځکه نـــو دیاګانو مراعات نه‌دی شوی .

۲ـ دکتاب په ځینو ځایو نوکی آزاده ترجمه شوی ده .